تمام ارقام پس از جمع آوری و تهیه در برنامه اکسیل، در برنامه SPSS (نسخه ۲۰) داخل، کودگذاری، پاک‌کاری شده و سپس توسط این برنامه مورد تحلیل قرار گرفت. نتایج تحلیل توصیفی توسط جدول‌ها و گراف‌ها ارائه شدند. برای محاسبه مقیاس مجموعی هر مؤلفه، ابتدا تمام کودهای سؤالات که به‌شکل منفی جمله‌بندی شده بودند، برعکس گردیدند و سپس مقیاس مجموع هر مؤلفه محاسبه شد. احصائیه توصیفی هر مقیاس محاسبه شد تا سطح چالش به اساس اوسط حسابی و میانگین قیمت حاصله برای معیار مقایسه شده بتوانند. در صورت که قیمت حاصله از ۳ به بالا حاصل شود، موجودیت مشکل را در سطح همان مؤلفه نشان می‌دهد. هم‌بستگی میان مؤلفه‌ها با استفاده از ضریب همبستگی سپیرمن (Spearman's rho) محاسبه گردید و قیمت‌های معنی‌دار ضریب هم‌بستگی در سطح الفای ۰,۰۱ و ۰,۰۵ مورد مقایسه گردید. برای دریافت رابطه میان متغیرین کیفی از آزمایش مربع کا با سطح تفاوت معنی‌دار ۰,۰۵ استفاده شد.

**نتایج تحقیق**

**معلومات دموگرافیکی شاملین تحقیق**

شاملین این تحقیق را کتگوری‌های مختلف استادان از نگاه درجه تحصیل، رتبه علمی، سن، جنس، وضع تأهل، سابقه کاری و تحصیلی تشکیل می‌داد. چنان‌چه در (شکل۱) مشاهده می‌شود، سطح تحصیل بیش از ۹۳ درصد اشتراک‌کننده‌ها ماستر و داکتر بود و ۷۷,۵ درصد این استادان تحصیلات عالی خویش را در خارج از کشور تکمیل نموده بودند. از نگاه رتبه علمی، بیش از یک سوم (۳۳,۸%) اشتراک‌کننده‌ها پوهنیار بودند و رتبه علمی بقیه (۶۲,۲%) تا سطح پوهنوال می‌رسید و هیچ یک از اشتراک‌کننده‌های این تحقیق در سطح پوهاند قرار نداشت. نزدیک به هفتاد درصد اشتراک‌کننده‌ها تا ۴۰ سال عمر داشتند و اکثریت (۸۶,۳%) آن‌ها طبقه ذکور و متأهل (۸۸,۸%) بودند.




شکل ۱: درجه تحصیلی و رتبه علمی استادان اشتراک‌کننده پوهنتون کابل در این تحقیق در سال ۱۴۰۱ هـ ش

بیست و پنج درصد استادان شامل در این تحقیق سابقه تدریس ۱-۵ سال داشتند، درحالی‌که ۷۰٪ آن‌ها بین ٦ تا ۲۵ سال تجربه تدریس داشتند و صرف ۵٪ آن‌ها بیشتر از ۲۵ سال تجربه تدریس در پوهنتون کابل را در خود داشتند، این در حالیست که ساحه دانش و تخصص ۷۳٫۸% آن‌ها را علوم طبیعی تشکیل می‌داد.

از مجموع تمام اشتراک‌کننده‌ها، ۴۲٫۵% آن‌ها پروژه‌های تحقیقی مشخص را در زمان اجرای وظیفه استادی در پوهنتون کابل انجاد داده بودند، اما صرف ۱۰٪ آن‌ها برای اجرای تحقیقات خویش بودجه مشخص را از منابع خارجی استحصال کرده بودند و صرف ۵% این استادان یادآور شده بودند که غیر از وظیفه استادی، مصروفیت بیرون از پوهنتون نیز دارند. هیچ رابطه‌یی میان درجه تحصیل و دریافت منابع تحقیقاتی از خارج پوهنتون دریافت نشد ($p$>0.05).

بیش از نصف (۵۱٫۳%) استادان اشتراک‌کننده در این تحقیق دو مضمون در یک سمستر تدریس می‌نمودند و ۳۵ درصد آن‌ها ۳ مضمون در عین سمستر داشتند و میانه ساعت درسی هفته‌وار هر استاد ۱۸ ساعت درسی بوده است.

باوجودی‌که ۷٫۵٪ استادان اشتراک‌کننده هیچ مقاله در مجلات داخلی و ۵٪ آن‌ها هیچ مقاله در مجلات بین‌المللی به نشر نرسانده بودند، ۲۵ درصد آن‌ها صرف یک مقاله داخلی و ۲۷٫۵ درصد آن‌ها صرف یک مقاله بین‌المللی نشر شده داشتند و میانه تعداد مقالات نشر شده داخلی و بین‌المللی این استادان صرف ۲ مقاله بود. از مجموع تمام استادان ۷٫۵ درصد استادان ماستر و ۹ درصد استادان داکتر هیچ مقاله داخلی نداشتند؛ ٦۰٪ استادان لیسانس، ۵۱ درصد استادان ماستر و ۲۷ درصد استادان داکتر بین ۱ تا ۳ مقاله؛ درحالی‌که ۴۰ درصد لیسانسه‌ها، ۱۳% ماستران و ۴۵٫۵% داکتران ۱۰ ویا بیشتر از آن مقاله‌های نشرشده در مجلات داخلی داشتند (شکل ۲).




شکل ۲: تعداد مقالات نشرشده استادان در مجلات داخلی با درنظرداشت درجه تحصیل آن‌ها

ارقام این تحقیق واضح ساخت که از مجموع استادان لیسانس ۴۰% هیچ مقاله، ۴۰% دیگر ۱-۲ مقاله و ۲۰% بقیه بیشتر از ۵ مقاله در مجلات بین المللی به نشر نرسانده بودند؛ درحالی‌که ۳,۸% ماستران هیچ مقاله، ۵۸,۵% ۱-۲ مقاله، ۳۵,۸% ۳-۵ مقاله و صرف در حدود ۲ بقیه بیشتر از ۵ مقاله در مجلات بین‌المللی به نشر نرسانده بودند. اما در میان داکتران، ۹% آن‌ها ۱-۲ مقاله، ۸۶,۴% دیگر ۳-۵ مقاله و ۴,۵% بقیه ۵ و بیشتر از آن مقالات علمی در مجلات بین‌المللی به نشر نرسانده بودند ($p<0.001$) (شکل ۳).




شکل ۳: تعداد مقالات نشر شده استادان در مجلات بین المللی بادرنظرداشت درجه تحصیل آن‌ها

نشر مقالات علمی در مجلات بین المللی نظربه محل تکمیل تحصیلات عالی استاد در داخل کشور ویا خارج از آن تفاوت فاهش به ملاحظه می‌رسید، طوری‌که بیشتر از ۲۲% استادانی که در داخل کشور تحصیلات عالی خود را تکمیل کرده بودند، هیچ مقاله علمی در مجلات بین المللی به نشر نرسانیده بودند، درحالی‌که استادان گروپ دوم (تحصیل در خارج کشور) حداقل یک مقاله در مجلات

متذکره به نشر رسانیده بودند. برعلاوه، ۲۷,۷% استادان که در داخل کشور تحصیلات عالی خود را تکمیل کرده بودند،
بین ۳ تا ۵ مقاله در مجلات بین المللی نشر کرده بودند، مگر ۵۳,۲% استادانی که در خارج تحصیل کرده‌اند، به این تعداد مقالات در مجلات بین‌المللی داشتند (شکل ۴).




شکل ۴: نشر مقالات علمی در مجلات بین المللی نظربه موقعیت تحصیلی استاد در داخل کشور ویا خارج از کشور

**مشکلات و چالش‌های موجود فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل**

نتایج حاصله از این تحقیق نشان می‌دهد که وسعت چالش‌های موجود در برابر تحقیقات علمی در پوهنتون کابل فراتر از حد تصور بوده و اکثریت استادان معتقد بودند که موانع مختلف اداری، مالی، قانونی، تسهیلاتی، اجتماعی و فرهنگی و در نهایت شخصی و خانوادگی در برابر تحقیقات علمی در پوهنتون کابل وجود دارند.

چنان‌چه در بخش روش تحقیق بیان شد، هرگاه برای هر مؤلفه قیمت بالاتر از ۳ حاصل گردد، نشان دهنده موجودیت چالش در همان مؤلفه است. چنان‌چه در جدول مشاهده می‌شود اوسط و میانه تمام مؤلفه‌ها بالاتر از ۳ است؛ اما موانع و چالش‌های مالی، خانوادگی و شخصی، وسایل و امکانات قانونی و اداری به ترتیب موانع عمده در برابر تحقیقات علمی در پوهنتون کابل پنداشته شده‌اند. برعلاوه، از این‌که قیمت اوسط کم‌تر از ۳ مقیاس پیشنهادات نشان‌گر موافقه اکثریت پاسخ‌دهنده‌ها به پیشنهادات ارائه شده برای رفع چالش‌ها است. ارقام حاصله در این مورد نشان می‌دهند (اوسط = ۱,۳) که تقریباً تمام استادان اشتراک‌کننده در این تحقیق به ۸ گزینهٔ پیشنهادی برای رفع چالش‌های موجود تحقیقات علمی در پوهنتون کابل موافقه کامل دارند.

جدول۱: مشخصات کلی مؤلفه‌های موانع و چالش‌های موجود در بخش طرح، تمویل و اجرای تحقیقات علمی در نظر استادان پوهنتون کابل و راه حل مشخص برای رفع همچون چالش‌ها، ۱۴۰۱ هـ ش

| مؤلفه‌ها | احصائیه توصیفی | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | اوسط حسابی | میانه | انحراف معیاری | حداقل | حداکثر |
| موانع و چالش‌های اداری | ۳,۵۲ | ۳,۴۶ | ۰,۴۴ | ۲,۵۴ | ۴,۳۸ |
| موانع و چالش‌های قانونی | ۳,۸۳ | ۳,۷۸ | ۰,۵۸ | ۲,۲۲ | ۵,۰۰ |
| موانع و چالش‌های مالی | ۴,۲۲ | ۴,۲۲ | ۰,۴۳ | ۲,۷۸ | ۵,۰۰ |
| عوامل بازدارنده وسایل و امکانات | ۳,۹۴ | ۳,۸۹ | ۰,۵۸ | ۲,۴۴ | ۵,۰۰ |
| عوامل بازدارنده اجتماعی و فرهنگی | ۳,۴۷ | ۳,۴۲ | ۰,۵۵ | ۲,۳۳ | ۴,۶۷ |
| عوامل بازدارنده اکادمیک | ۳,۶۱ | ۳,۵۶ | ۰,۳۱ | ۳,۰۰ | ۴,۳۳ |
| موانع شخصی و خانوادگی | ۴,۱۸ | ۴,۱۷ | ۰,۴۵ | ۳ | ۵,۰۰ |
| پیشنهادات مشخص برای حل چالش‌ها | ۱,۳۰ | ۱,۲۵ | ۰,۲۹ | ۱,۰۰ | ۲,۶۳ |

## مشکلات و چالش‌ها

**مشکلات و چالش‌های مالی:** تخصیص نیافتن بودجه کافی برای تحقیقات علمی در بودجه پوهنتون‌ها و بودجه ملی، نپرداختن حق‌الزحمه مناسب برای استادان و عدم پرداخت مصارف نشر مقالات بین‌المللی استادان چالش‌های عمده مالی فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل پنداشته شده‌اند. نتایج تحلیل احصائیوی در این بخش با میانه ۴,۲۲ و انحراف معیاری ۰,۴۳ را نشان می‌دهد.

**مشکلات و چالش‌های اداری فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل:** پاسخ‌دهنده‌های این تحقیق تعدد مراکز تصمیم‌گیری و بروکراسی طولانی در پروژه‌های تحقیقی، عدم ارتباط پوهنتون با مراکز تمویل پروژه‌های تحقیقی، عدم موجودیت مرکز مشخص تحلیل ارقام احصائیوی، عدم خریداری به موقع مواد و سایل لابراتواری و مشکلات دسپلینی در جریان اجرای تحقیقات ساحوی را از عمده‌ترین چالش‌های اداری فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل قلمداد کرده‌اند.

**مشکلات و چالش‌های قانونی فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل:** باوجودی‌که در سال‌های اخیر طرزالعمل‌های مختلف از طرف وزارت تحصیلات عالی و پوهنتون کابل تهیه شده و تطبیق می‌شوند؛ اما استادان اشتراک‌کننده در این تحقیق معتقداند که عدم موجودیت مقرره مشخص و برنامه جامع تحقیقاتی در کشور، عدم استفاده مؤثر از توان‌مندی‌های متخصصین در تحقیقات، عدم دست‌رسی کافی محققات به ارقام مورد نیاز در ادارات دولتی و غیردولتی، نبود تعریف واضح برای مکلفیت‌های درسی و اداری محققین و نبود جنبه‌های تشویقی مالی و معنوی برای محققین در قوانین و مقررات تحصیلات عالی سبب شده تا محققین به اجرای تحقیقات علمی کمتر علاقمندی داشته باشند و یاهم نمی‌توانند به‌شکل مناسب تحقیقات علمی را طرح و اجرا نمایند.

**عوامل بازدارنده وسایل و امکانات فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل:** کمبود وسایل و امکانات برای پروژه‌های تحقیقی مسأله بسیار جدی در بخش تحقیقات علمی به‌ویژه در ساحه تحقیقات علوم طبیعی به شمار می‌روند. استادان اشتراک‌کننده در این تحقیق باورمند بودند که دسترسی نداشتن به لابراتوارهای مجهز، نبود منابع کافی بشری و نرم‌افزارها، نبود بورد تخصصی برای حل مشکلات تحقیقی و عدم دسترسی به وسایل ترانسپورتی کافی در جریان تحقیقات ساحوی اجرای تحقیقات علمی را در پوهنتون کابل به‌مشکل مواجه ساخته‌اند.

**عوامل بازدارنده اجتماعی و فرهنگی فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل:** محققین زمانی تحقیقات مؤثر علمی را اجرا می‌نمایند که فرهنگ تحقیق در جامعه وجود داشته باشد و مسوولین به نتایج تحقیقات اعتقاد داشته و به آن عمل نمایند. از نظر اشتراک‌کننده‌های این تحقیق فرهنگ تحقیقاتی در میان جامعه و مسوولین جا نیفتیده و تصامیم کلی مسوولین بالا نیز فردی بوده و به اساس نتایج تحقیقات علمی نیست. اولویت‌های تحقیقی هربخش نیز توسط آمریت تحقیق مشخص و مراکز پالیسی‌ساز مشخص نیستند و از ظرفیت استادان نیز در پروژه‌های تحقیقات استفاده نمی‌گردند. بنابر نتایج این مطالعه فکتورهای متذکره سبب شده تا استادان به پروژه‌های تحقیقی کم‌علاقه باشند، جامعه اکادمیک به تولید علم ارزش قایل نمی‌شوند و در بخش‌های تخصصی و پالیسی‌ساز کم‌تر تحقیقات انجام دهند.

**عوامل بازدارنده اکادمیک فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل:** به اساس قوانین و مقررات تحصیلات عالی افغانستان، هر استاد پوهنتون سه وظیفه عمده دارد: تدریس، تحقیق، تألیف که بعضاً ارائه خدمات نیز که جزء از وظایف نهاد تحصیلی است، به عهده استاد گذاشته شده است. اما رویهم‌رفته این سه وظیفه عمده استاد شرایط خاص را نیاز دارد تا هر یک مطابق نورم خاص اجرا و تطبیق شوند. آن‌عده استادان پوهنتون کابل که در این تحقیق اشتراک ورزیده‌اند معتقد بودند که یک تعداد موانع عمده اکادمیک نیز اجرای تحقیقات مؤثر علمی را توسط استادان به‌مشکل مواجه ساخته است. از جمله این چالش‌ها، مصروفیت‌های بیش از حد در تدریس، کمیته‌ها و بخش‌های اداری، عدم ارتقای دوام‌دار ظرفیت استادان در بخش طرح تحقیق و تحلیل ارقام و عدم تسلط بعضی استادان به زبان انگلیسی چالش‌های عمده اکادمیک فرا راه اجرای تحقیقات علمی در پوهنتون کابل به شمار می روند.

**عوامل بازدارنده شخصی و خانوادگی فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل:** چنان‌چه در جدول (۱) مشاهده می‌شود، استادان اشتراک‌کننده در این تحقیق یک تعداد موانع شخصی و خانوادگی را نیز به‌حیث چالش فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل قلمداد کرده‌اند. به نظر آن‌ها عدم تفاوت میان استادان مبتکر و محقق خوب با سایرین، اشتغال استادان در کارهای غیر اکادمیک بیرون از پوهنتون و

نبود امتیاز کافی مالی و مشکلات اقتصادی محققین سبب شده که استادان به طرح و اجرای تحقیقات علمی کمتر علاقه نشان بدهند.

**پیشنهادات مشخص جهت رفع چالش‌ها و مشکلات فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل:** چنان‌چه مشاهده می‌شود، چالش‌ها و مشکلات فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل بی‌شمار اند و این فکتورها سبب شده که به تولید علم و مدیریت آن کمتر توجه شود. برای رفع این چالش‌ها یک تعداد پیشنهادات مشخص در پرسش‌نامه جابجا شده بود و تعداد دیگر نیز توسط استادان در بخش سؤال نهایت باز مطرح شده‌اند. ۸۵% اشتراک‌کننده‌ها تأیید نموده‌اند که پوهنتون کابل باید به پوهنتون آموزشی/ تحقیقی تبدیل گردد. تمام اشتراک‌کننده‌ها تصدیق نموده‌اند که بودجه تحقیقات علمی باید جز بودجه ملی گردد و محققین توانا در هر بخش شناسایی گردند و مسوولیت اصلی آن‌ها صرف تحقیق باشد و قوانین مشخص تهیه و تطبیق گردند تا مسوولین را ملزم سازند تا نتایج تحقیقات را عملی سازند. ضمناً مسوولیت تمام آمریت‌های تحقیقاتی ادارات دولتی و بودجه آن نیز در اختیار پوهنتون‌ها قرار گیرد. تقریباً تمام پاسخ‌دهنده‌ها باورمند بوده‌اند که امتیازات کافی برای محققین باید درنظر گرفته شود و برای محققین برنامه‌های دوام‌دار ارتقای ظرفیت عملی گردند و در گزینش مقامات شایسته‌سالاری درنظر گرفته شود.

نتایج حاصله از یک سؤال نهایت باز پرسش‌نامه نیز دارای نکات خوب برای رفع چالش‌های موجود در برابر تحقیقات علمی در پوهنتون کابل است. تدریس اصول و اساسات تحقیق برای محصلان، ایجاد یک کمیته ماهر و متخصص در بخش تحقیقات و تحلیل ارقام در پوهنتون کابل، همکاری نزدیک استادان با ادارات دولتی در بخش‌های مختلف، ایجاد لابراتوارهای تحقیقی، تدویر مستمر کنفرانس‌های علمی- تحقیقی در سطح پوهنتون، تقسیم مسوولیت‌های تدریسی، اداری و تحقیقی برای استادان متفاوت، برگزاری دوام‌دار برنامه‌های ارتقای ظرفیت استادان در بخش طرح و اجرای تحقیق و تحلیل ارقام در داخل و خارج کشور، پرداخت پول تشویقی و هزینه‌های نشر مقالات در مجلات بین‌المللی، تخصیص بودجه مشخص تحقیقاتی در سطح پوهنځ‌ها و دیپارتمنت‌ها، تهیه و علمی‌سازی مقرره تحقیق نظر به مشخصات عینی جامعه و افزایش معاش و امتیازات استادان از جمله پیشنهادات کلی پاسخ‌دهنده‌ها برای رفع موانع و چالش‌های فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل و سایر نهادهای تحصیلی بود.

**دریافت هم‌بستگی میان مقیاسات مطالعه شده**

از این‌که قیمت‌های مقیاس مجموع از متغیرین طبقه‌یی حاصل شده بود. بنابرین، برای دریافت رابطه بین مقیاسات مختلف ضریب هم‌بستگی پیرسن محاسبه و تفسیر گردید. با درنظرداشت نتایج ارائه شده در جدول ۲ میان مقیاسات مختلف هم‌بستگی قوی تا متوسط وجود دارد. به‌حیث یک اصل کلی، اگر

قیمت ضریب همبستگی بین ۰٫۱ تا ۰٫۲۹ باشد، رابطه ضعیف است؛ اگر قیمت متذکره بین ۰٫۳ تا ۰٫۴۹ باشد، رابطه متوسط بوده؛ اما اگر قیمت ضریب هم‌بستگی حاصله مساوی و یا بیشتر از ۰٫۵ باشد، هم‌بستگی بین دو متغییر قوی تلقی می‌گردد (Pallant, 2010). به‌طور مثال ضریب همبستگی میان چالش‌های اداری و قانونی ۰٫٦٠٦ (p<0.001) است که نشان‌دهنده یک رابطه قوی میان این معضل در بخش تحقیقات است، به این معنی که تغییر در یک مؤلفه سبب تغییر وضعیت در دومی خواهد شد. برعلاوه، میان چالش‌های قانونی و مشکلات مالی یک رابطه بسیار قوی (r=0.715; p<0.001) وجود دارد. اما میان مقیاسات هفت‌گانه‌ی چالش‌ها و پیشنهادات رابطه منفی موجود است، این قیمت‌ها بیان می‌دارند که رفع چالش‌های موجود زمینه را برای اجرای تحقیقات مؤثر فراهم خواهد ساخت.

جدول۲: ضریب هم‌بستگی Spearman's rho بین مؤلفه‌های مختلف مطالعه شده در مورد چالش‌ها و مشکلات فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل

| | | مؤلفه‌ها | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **مؤلفه‌ها** | | **اداری** | **قانونی** | **مالی** | **وسایل/ امکانات** | **اجتماعی/ فرهنگی** | **اکادمیک** | **شخصی/ خانوادگی** | **پیشنهادات** |
| **اداری** | ضریب هم‌بستگی | 1.000 | .606** | .475** | .494** | .382** | .059 | .404** | -.172 |
| | P-value | . | .000 | .000 | .000 | .000 | .603 | .000 | .127 |
| **قانونی** | ضریب هم‌بستگی | .606** | 1.000 | .715** | .523** | .205 | .224* | .484** | -.244* |
| | P-value | .000 | . | .000 | .000 | .068 | .046 | .000 | .029 |
| **مالی** | ضریب هم‌بستگی | .475** | .715** | 1.000 | .489** | .399** | .238* | .341** | -.376** |
| | P-value | .000 | .000 | . | .000 | .000 | .034 | .002 | .001 |
| **وسایل/ امکانات** | ضریب هم‌بستگی | .494** | .523** | .489** | 1.000 | .529** | .218 | .353** | -.156 |
| | P-value | .000 | .000 | .000 | . | .000 | .052 | .001 | .166 |
| **اجتماعی/ فرهنگی** | ضریب هم‌بستگی | .382** | .205 | .399** | .529** | 1.000 | .047 | -.124 | -.203 |
| | P-value | .000 | .068 | .000 | .000 | . | .680 | .275 | .070 |
| **اکادمیک** | ضریب ـ | .059 | .224* | .238* | .218 | .047 | 1.000 | .290** | .089 |
| | P-value | .603 | .046 | . | .052 | .680 | . | .009 | .430 |
| **شخصی و خانوادگی** | ضریب هم‌بستگی | .404** | .484** | .341** | .353** | -.124 | .290** | 1.000 | -.013 |
| | P-value | .000 | .000 | .002 | .001 | .275 | .009 | . | .906 |
| **پیشنهادات** | ضریب همبستگی | -.172 | -.244* | -.376** | -.156 | -.203 | .089 | -.013 | 1.000 |
| | P-value | .127 | .029 | .001 | .166 | .070 | .430 | .906 | . |

**همبستگی در سطح ۰٫۰۱ معنی دار است (2-tailed)؛ *همبستگی در سطح ۰٫۰۵ معنی دار است (2-tailed)

## مناقشه

فرزانه و همکاران در مطالعات که در پوهنتون اردبیل در رابطه به موانع بازدارنده تحقیق از دید اساتید انجام دادند، در بخش چالش‌ها ضعف مدیریتی، محدودیت قوانین و پالیسی‌ها و بروکراسی به نتایج مشابه دست یافتند (Farzaneh, Amani, Taleghani, & Fathi, 2016). درحالی‌که ماجوندر مهم‌ترین دشواری در پوهنتون‌های آسیایی روبه انکشاف را عوامل اقتصادی و مالی عنوان نموده است (Majunder, 2004).

پاین و سیو در مطالعات خود نشان دادند که افزایش بودجه تحقیقاتی فدرال منجربه افزایش خروجی پژوهشی بیشتر می‌شود که لزوماً به همراه کیفیت بالاتر تحقیقات نیست (Payene & Siow, 2003) . این چیزی است که در تحقیق حاضر نیز در بخش مالی هم‌خوانی دارد.

هم‌چنان از دو سؤال باز که برای اساتید گذاشته شده بود نظریات متفاوت و یک تعداد از آن‌ها به زعم خویش و از دید خویش چالش‌ها و موانع را یادآوری نموده بودند و پیشنهادات را مطرح نموده بودند. این با استفاد از روش تحلیل محتوا مورد آزمایش و تحلیل قرار گرفت که از آن جمله بی‌انگیزگی اعضای کادر علمی، محدود بودن برنامه‌های ماستری و دکتورا، مصروفیت و مسوولیت خانوادگی استادان اناث از جمله سایر عوامل بازدارنده است که دریافت گردید. مسوولیت استادان از جمله مواردی است که با تحقیقات که بیکل جی نیز انجام داده هم‌خوانی دارد (Bickel J, 2000).

به‌طور کلی یافته‌های این تحقیق نشان داد که اکثر اساتید و اعضای کادر علمی به این باور اند که مسایل مالی از عمده‌ترین چالش‌ها محسوب می‌گردد. از این رو می‌توان نتیجه گرفت که در بخش تخصیص بودیجه برای تحقیقات علمی در پوهنتون و تعیین دست‌مزد برای اجرای تحقیقات علمی جداً مورد توجه قرار گیرد. هرچند مسایل شخصی و خانوادگی را نیز نمی‌توان از نظر دور داشت. به‌همین ترتیب عدم موجودیت وسایل و امکانات برای اجرای تحقیقات علمی و عدم موجودیت قوانین و مقررات نافذ باالترتیب به ردیف‌های سوم و چهارم قرار می‌گیرند. عوامل بازدارنده‌ی اکادمیک و چالش‌های اداری نیز بی‌تأثیر در اجرای تحقیقات علمی بوده نمی‌تواند. کم‌ترین تأثیر که بالای تحقیقات علمی را نشان می‌دهد، عامل اجتماعی و فرهنگی است.

یافته‌های تحقیق نشان داد که مصروفیت مضاعف تدریسی استادان سبب کاهش فعالیت تحقیقی می‌گردد. نظری وهمکاران مطالعه مشابه را که در پوهنتون قندهار انجام دادند، به نتایج مشابه دست یافته اند که کار زیاد سبب کاهش فرصت‌های تحقیق می‌گردد و هکذا نبود فرهنگ پاداش و تشویق در برابر کارهای تحقیقی علاقمندی استادان را بار آورده و این سبب نتایج زیان‌بار برای پوهنتون می‌گردد (نظری, ابوالقاسمی, اعلام, چابکی, & قهرمانی, ۱۴۰۱). به‌همین ترتیب نتایج بدست آمده در این بخش با علمداری (Alamdari & Afshoon, 2010) و بناپارت (Bonaparte, Abbey, & Okoro, 2015) به‌صورت نسبی هم‌خوانی دارد.

موجودیت قوانین و پالیسی‌ها برای اجرای تحقیقات علمی بخش‌های اداری و مالی که در واقع حمایت لوژستیکی ارائه می‌نمایند، با دست بازتر عمل کرده می‌توانند. در مقابل نبود آن بروکراسی در امور تحقیق را افزایش می‌بخشد. در این تحقیق نیز به وضاحت دریافت گردید که می‌تواند من‌حیث یک عامل بازدارنده محسوب گردد. هوگو و موک که تحقیقات مشابه در پوهنتون‌های شرق آسیا انجام دادند، نبود پالیسی و قوانین را به‌حیث یک مانع در سیستم متمرکز می‌دانند(Horta & Mok, 2020) .

**نتیجه‌گیری**

با درنظرداشت نتایج حاصله از این تحقیق چنین می‌توان نتیجه‌گیری کرد که مشکلات مالی در سطح پوهنتون، موانع قانونی و اداری در سطح نهاد و عدم نهادینه شدن فرهنگ تحقیقات علمی در میان جامعه و مقامات موانع عمده فرا راه تحقیقات علمی در پوهنتون کابل پنداشته می‌شوند. با درنظرداشت تمام نتایج حاصله از این تحقیق پیشنهاد ذیل بخاطر رفع این موانع و حرکت به سوی پوهنتون تحقیقی ارائه می‌گردد.

**پیشنهادات**

دریافت‌های تحقیق نشان داد که پوهنتون کابل از نظر تحقیق علی‌الرغم آن‌که مقالات علمی-تحقیقی در ژورنال‌های داخلی به چاپ می‌رسانند و یک تعداد هم در ژورنال‌های بین‌المللی به چاپ می‌رسد، بازهم آن‌طوری‌که لازم است پیشرفت مطلوب نداشته است. با درنظرداشت یافته‌های تحقیق موارد ذیل به‌صورت مشخص پیشنهاد می‌گردد.

۱. مقرره تحقیقات علمی باید تدوین و بعد از طی مراحل نافذ گردد.
۲. سهم تحقیق در عواید ناخالص و هکذا سهم تحقیق در بودیجه ملی شامل و وزارت مالیه برای آن کود مشخص تعیین نماید.
۳. هر وزارت خانه و ادارات مستقل کود مشخص تحقیق داشته و حداقل ۰,۱% بودیجه در سال اول به تحقیقات علمی اختصاص یابد و همه‌ساله ۰,۰۵% به آن اضافه گردد. دیپارتمنت‌ها و پوهنځی‌های مرتبط از آن استفاده نمایند.
۴. اولویت‌های تحقیق توسط هر وزارت و اداره مستقل تشخیص و از طریق ویب‌سایت‌های مربوطه در اختیار محققین قرار گیرد.
۵. ژورنال‌های معتبر ملی شناسایی و نتایج و گزارش تحقیقات علمی استادان در آن به نشر و چاپ برسد.
٦. مکلفیت‌های تدریسی استادان کاهش یابد تا زمینه برای تحقیق مساعد گردد.

۷. میکانیزم مشخص برای استفاده از کود تحقیقات علمی تدوین تا استادان مطمئن شوند که به سهولت از آن استفاده و آن‌چه را در خارج از اوقات درسی و از طریق کارهای غیراکادمیک بدست می‌آورند، از طریق انجام تحقیقات علمی نیز بدست آورده می‌توانند.

۸. تسهیلات و امکانات تحقیقی (مشاوره‌ی تحقیقی، انترنت، دست‌رسی به ژورنال‌های معتبر، لابراتوارهای مجهز) فراهم گردد.

۹. ایجاد انگیزه در اعضای کادر علمی ایجاد و برای تحقیقات علمی دست‌مزدهای قابل قبول تعریف گردد.

۱۰.ساعات تدریس استادان باید کاهش یابد تا فرصت‌های تحقیق افزایش یابد.

۱۱.برای استادان جوان روش‌های تحقیق تحلیل ارقام در بخش علوم اجتماعی و علوم طبیعی افزایش یابد و آموزش روش‌های مقاله‌نویسی نیز افزایش یابد.

۱۲.روحیه تحقیقات گروپی در بین اعضای کادر علمی تقویت گردد.

۱۳.بانک اطلاعاتی ایجاد گردد تا استادان به آن دست‌رسی داشته و در تحقیق از آن استفاده نمایند. نتایج تحقیقات علمی با مراجع ذیربط شریک گردد.

## منابع


*Afghanistan Research and Development*) .2023 ,January 12 بازیابی از .(World Data Atlas: http://www.knoema.com/atalas/Afghanistan/Number-of-researchers-inRandD

Alamdari, A. K., & Afshoon, E. (2010). Obstacles to conducting research activities from the viewpoint of faculty members in Yasuj. *Armaghan Danish Magazine, 8*(29), 27-34.

Bickel J. (2000). Women in academic medicine. *J Am Med Womens Assoc (1972), 55*(1), 2-10.

Bonaparte, I., Abbey, A., & Okoro, E. (2015). Challenges facing beginning Faculty in the 21st Century Higher Education: Evaluating Research Productivity, Teaching Effectiveness, And Service. *International Journal of Academic Research in, 1*(4), 143-163.

Farzaneh, E., Amani, F., Taleghani, Y. M., & Fathi, A. (2016). Research barriers from the viewpoint of faculty members and students of Ardabil University. *International Journal of Research in Medical Sciences, 4*(6), 1926-1932.

Fink, R., Thompson, C., & Bonnes, D. (2005). Overcoming barriers and promoting the use of research in practice. *Journal of Nursing Administration, 3*(35), 121-129.

Horta, H., & Mok, K.-H. (2020). Challenges to research systems, academic research and knowledge production in East Asia: learning from the past to inform future policy. *Journal of Higher Education Policy and Management, 42*(2), 119-133.

Hou, & A, Y. C. (2011). Quality assurance at a distance: international accreditation in Taiwan higher education. *Higher Education, 2*(61), 179-191.

Majunder, M. (2004). Issues and priorities of medical education research in Asia. *Anals Academy of Medicine Singapore, 33*(2), 257-263.

Oosterlinck, A. (2004). The modern university and its main activities. *Reinventing the research university*, 119.

Payne, A., & Siow, A. (2003). Does Federal Research Funding Increase University Research Output? *The B.E Journal of Economic Analysis & Policy, 3*(1).

Sreshta, M., Kazemiyan, A., & Edris, F. (2010). Barriers of research form perspective of professors and Shahrekord Medical university staff. *Research Strategy Magazine, 3*(2), 5157.

*The World Bank.* (n.d.). Retrieved January 5, 2023, from 2023: http.//www.data.worldbank.org/indicator/IP.JRN.ARTC.SC

*The world Bank*. (2023). Retrieved January 3, 2023, from http.//www.data.worldbank.org/indicator/SP.POP.SCIE.RD.P6

*UNESCO Institute for Statistics (UIS)*. (n.d.). Retrieved January 1, 2023, from 2023: http://www.apiportal.uis.unesco.org/bdds

Wu, Y. K., & Chu, N. F. (2015). Introduction of the transtheoretical model and organizational development theory in weight management: A narrative review. *Obesity Research & Clinical Practice, 9*(3), 203-213.

شریفی, م. ش. (۱۴۰۰). بهبود کیفیت تحصیلات عالی: استقلالیت پوهنتون‌های دولتی. د کابل پوهنتون د ټولنیزه علومو پوهنیزه-څېړنیزه مجله, ۳(۴), ۱۱-۲۵.

شریفی, م. ش. (۱۴۰۰). مطالعه اثرات تضمین کیفیت در پوهنتون کابل. د کابل پوهنتون د ټولنیزه علومو پوهنیزه-څېړنیزه مجله, ۱(۴), ۱۱-۲۷.

نظری, ق. ا., ابوالقاسمی, م., اعلام, ف., چابکی, ر. م., & قهرمانی, م. (۱۴۰۱). بررسی چالش‌های آموزشی ، پژوهشی و سازمانیِ اعضای هیأت علمی تازه‌کار دانشگاه قندهار افغانستان. فصلنامه علمی-تحقیقی سیاست علم و فناوری, ۱۵(۳), ۱۲-۱.

# څېړنه او د علمي څېړنو ډولونه

**پوهندوی ډاکټر محمدولی سالاري[۱]، پوهنوال محمد شفیق وردک[۲]، پوهنیار خاتول شفیق[۳]**

[۱]د بایوټکنالوژي او کرنیزو تخمونو څانګه، د کرنې پوهنځی کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

[۲،۳]د عامه اړیکو څانګه، د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

ایمیل: mwalisalari@gmail.com

**لنډیز**

تحقیق یا څېړنه یوه منظمه سیستماتیکه پروسه ده، چې د نامعلومو مسألو د موندنې او یا د مسألو د ژورو درک لپاره کېږي. څېړنه اکثراً له منل شویو څېړنیزو میتودونو څخه په استفادې، یوې ستونزې ته د حللارې یا پوښتنې ته د حل موندنې په موخه ترسره کېږي. څېړنه د ساینسي پرمختګ لپاره حیاتي وسیله ده، ځکه؛ څېړونکیو ته اجازه ورکوي چې د روښانه تعریف شویو پیرامیټونو، چاپیریالونو او انګېرنو پر اساس فرضیه ثابته یا رد کړي. د څېړنې پر ډولونو پوهیدنه؛ له څېړونکي سره د خپلې څېړنیزې پروژې پر ښه پلان سربېره؛ مرسته کوي چې له تر ټولو مناسبو میتودونو او تخنیکونو څخه په استفادې باوري پایلې ترلاسه او خپلې څېړنیزې موندنې له نورو څېړونکیو سره په انلاین او یا په کتابي بڼه شریکې کړي. دا علمي مقاله د توصیفي څېړنې څخه په استفادې؛ چې اکثر معلومات یې د کتابونو او علمي مقالو څخه راټول شوي دي، لوستونکیو؛ په تېره څېړونکیو ته د څېړنو بېلابېل ډولونه ور په ګوته کوي، چې ترې په ګټې اخیستنې سره باکیفیته علمي څېړنې په ښه بڼه پلان او ترسره کړي. د دې څېړنې پایلې؛ علمي څېړنې د څېړنو د هدف، د معلوماتو را ټولونې، او د معلوماتو د څرنګوالي (د شمېرو ماهیت) پر اساس په څو برخو وېشي، چې تفصیل یې د مقالې په بېلابېلو برخو کې واضح شوی دی.

**کلیدي اصطلاحات**: خومره ییزه(کمي) څېړنه؛ څرنګیزه(کیفي) څېړنه؛ بنسټي(بنیادي) څېړنه؛ پلې ییزه(تطبیقي) څېړنه؛ توضیحي څېړنه؛ لامل څېړنه؛ تاریخي څېړنه

# Research and Research Types

**Assistant Prof. Mohmmad Wali Salari[1], Associate Prof. Mohammad Shafiq Wardak[2], Jr. Teaching Asstt. Khatol Shafiq[3]**

[1]Department of Biotechnology and Seed Production, Department of Agriculture, Kabul University, Kabul, Afghanistan

[2,3]Department of Public Relations, Faculty of Communications & Journalism, Kabul University, Kabul, Afghanistan

Email: mwalisalari@gmail.com

**Abstract**

Research is a systematic way of finding answers to unknown questions or exploring the nature of existing problems. Research is usually conducted to answer a question or solve a problem. Research is a fundamental tool for scientific inquiry, as it allows researchers to test hypotheses based on clear definitions, criteria, and procedures. Knowing the different research types will help researcher's better design research projects, select the most suitable methods and techniques to achieve valid results, and communicate their findings with other researchers online or in books. This scientific article uses the descriptive research method, which mainly gathers information from books and scientific papers, to introduce the types of research to the readers so that they can plan and carry out high-quality scientific research in the future using this information. The results of this research divide academic research based on objectives of research, data collection, and types of data into several aspects, of which details will be discussed in the following sections of this article.

**Keywords:** Quantitative Research; Qualitative Research; Fundamental Research; Applied Research; Explanatory Research; Causal Research; Historical Research

**سریزه**

څېړنه د یوې ټولنې د پرمختګ او ودې بنسټي رکن بلل کېږي. مخ پر ودې ټولنه داسې بنسټونو ته اړتیا لري، چې د څېړنې کلتور ته وده ورکړي. د یوې ټولنې همېشنی پرمختګ د علمي څېړنو له لارې ممکن دی، څکه چې علمي څېړنې د یوې ټاکلې موخې پر اساس ترسره کېږي او د څېړنې موندنې خلکو ته په ښېرازه ژوند برابرولو کې کافي مرسته کولای شي (۱). نن سبا ګورو چې د ساینس او ټکنالوژۍ له لارې شتمني او سوکالي راځي او تمه کېږي چې ساینس او ټیکنالوژي د طبیعي رازونو پر موندنې سربېره، انسانان داسې حالت ته ورسوي چې هلته سیاسي او ټولنیزې ناکرارۍ او بې ثباتۍ ختمې وي. له همدې امله د ساینس او ټکنالوژۍ پیاوړتیا او پر همدې اساس د هېوادونو د بقاء لپاره د څېړنیزو فعالیتونو ملاتړ بنسټي اهمیت لري، موږ په داسې زمانه کې ژوند کوو، چې ساینس هره ورځ خپل ځواک ښيي. موږ وینو چې د څېړنې پر اساس تولید شوی علم فاصلې رالنډې، اړتیاوې یې پوره، ناروغۍ یې کمې او پر طبیعي رازونو د پوهیدا دروازې یې راخلاصې کړې.

څېړنې د ملک په اقتصادي وده کې پاموړ رول لري، د متخصصینو په اند په څېړنه کې، د پانګونې د پیسو د هر واحد د لګښت په پایله کې، د (۳۰) واحدونو معادل ګټه ترلاسه کېږي، چې دا د هېوادونو په اقتصاد او ناخالص کورنی تولید کې پاموړ مرسته ده(۲).

پر دې سربېره؛ څېړنې د هېوادونو په ملي امنیت کې هم د امنیت او خپلواکۍ د دفاع په چارو کې، د پرمختللې ټکنالوجۍ د چمتو کونې او پلي‌ښې له لارې مهم رول لري. له کلتوري نظره هم څېړنه؛ له لوړو او عالي کلتوري اصلونو څخه شمېرل کېږي او د یوې ټولنې د کلتور په وده کې اغیزمن رول لري.

علم؛ د حقیقت موندنې وسیله او د څېړنو محصول دی. له همدې امله په اوسمهالۍ نړۍ کې څېړنې ته د یوه جدي او اړین فعالیت په سترګه کتل کېږي، څکه په پایله کې یې ساینس او ټکنالوژي، چې دا دواړه د اوسمهالۍ نړۍ د دولت او ځواک لپاره خورا اړین دي؛ رامنځته کېږي. دا مهال د علمي، سیاسي، ټولنیزو او ... چارو په ګډون د ژوند په بېلابېلو برخو کې څېړنه خورا ضروري ده، نو په دې ټولو برخو کې د هدفمن. منظم او اغېزمن پرمختګ لپاره پکار ده، چې دولت بېلابېل علمي بنسټونه اړباسي، چې څېړنې د خپل کاري مهالوېش په سر کې ځای کړي.

د یونیسکو د ۲۰۲۱ م د معلوماتو له مخې پر همدې کال، د وروسته پاتې هېوادونو په هر میلیون وګړیو کې د څېړنپوهانو او ساینسپوهانو شمېر تر سلو ټیټ، مخ په ودې هېواد کې د دوو سوو په خواوشا کې او په پرمختللیو هېواد کې دا شمېر په منځنۍ کچه تر ۴۰۰۰ لوړ و (۳).

له بده مرغه په افغانستان کې دا شمېره په هر میلیون وګړو کې تر دوو تنو هم ټیټه ده. په ځینو لویدیځو هېوادونو کې د یوه تن لپاره څېړنیز لګښت (۹۰۰) امریکایي ډالر دی، خو په افغانستان کې لا د دې برخې لپاره هېڅ بودیجه نشته. په پرمختللیو هېوادو کې د نانګه(ناخالص) تولید(۵۲،۱٪)، مخ پر ودې

هېوادو کې(۱٪) او په جاپان او متحدو ایالتونو کې(۲.۵٪) پر علمي څېړنو مصرفېږي، چې له امله يې دا هېوادونه همدومره پرمختللي هم دي(۴).

د افغانستان په پوهنتونونو او څېړنيزو بنسټونو کې لا هم څېړنه او څېړنيزې هڅې خورا ټټې دي، زياتره بنسټونه لا د دې چارو لپاره بوديجه، سمبال ودانۍ، کارپوه او متخصص کادرونه هم نه لري.

د پرمختلليو هېواد په پرتله د مخ پر ودې هغو لپاره څېړنې، ساينس او ټکنالوجۍ ته ځانګړنې پاملرنه خورا اړينه ده، په اوسمهالۍ نړۍ کې د استعمار او استثمار لپاره نوې لارې چارې او میتودونه رامنځته شوي دي، د هېوادونو د جلا کونې، يوازې پرېښودا، بېرته پاتې کېدا او له سياسي و اقتصادي پلوه د فلج کېدا له لارې د استحصال بهير ترسره کېږي، چې له امله يې له استعمار او استثمار سره د مقابلې لارې چارې هم بدلې شوي دي چې د څېړنيزو پروژو ترسره کول او د ساينس او ټکنالوجۍ توليد رانغاړي.

افغانستان ته هم بويه چې د پرمختلليو هېوادونو تخنيك او ټکنالوجۍ ته لاس تر زنې کېنني، بلکې پخپله لاس په کار او د څېړنيزو فعاليتونو له لارې علم توليد کړي.

د يادونې وړ ده، چې نن سبا بې د دولت له مالي ملاتړه هېڅ علمي- څېړنيزه پروژه عملي کېدای نشي، ځکه علمي پروژې وسايلو، بوديجې او انساني ظرفيت ته اړتيا لري، نو دولت ته پکار ده چې په دې برخه کې د کوټليو ګامونه په اخيستو سره د علمي څېړنو لپاره اړين وسايل او امکانات برابر کړي.

**دستونزې بيان**

بې له ګوتشمېر هغو؛ اکثر استادان د علمي څېړنو له ډولونو او څېړنيزو کړنلارو سره بشپړه بلدتيا نه لري.

**موخه/ موخې**

د دی څېړنې عمده موخه د څېړنو د مهمو ډولونواو د مناسبو څېړنيزو کړنلارو پېژندنه ده.

**د څېړنې کړنلار**

دڅېړنې کړنلار توصيفي ده، پدې معنی چې اکثر معلومات له کتابونو او نړیوالوعلمي مقالو څخه راټول او تر تحليل وروسته په لنډ ډول پدې مقاله کې وړاندی شوي دي.

**دعلمي څېړنی ډولونه**

علمي څېړنی په لويه کې پر درېو برخو وېشلای شو.




لومړی انځور: د څېړنو د ډولونو ویشنه

د معلوماتو یا شمېرو د راټولونې پر اساس علمي څېړنې په لاندې ډولونو ویشل کېږي (۵).




دویم انځور: د څېړنو د ډولونو ویشنه د ارقامو/معلوماتو د ماهیت پر اساس

د څېړنو ډولونه د هدف پر اساس په لاندې دیاګرام کې ښودل شوي دي. د یادونې وړ ده چې په دیاګرام کې څو عمده ډولونه چې زیاته استفاده ترې کېږي؛ ښودل شوي دي. ډېر نور ډولونه هم لري د مقالې د اوږدېدا له امله ترې تېرېږو.




درېم انځور: د څېړنو ډولونو ویشنه د څېړنموخو پر اساس (لیکوال)

د استفادې او یا کارونې پر اساس علمي څېړنې په لاندې ډولونوویشل کېږي.




څلورم انځور: د استفادی یاکارونی پر اساس د څېړنو ډولونو ویشنه

څېړنې همېشه د یوې؛ موخې لپاره ترسره کېږي. په دې مقاله کې هڅه شوې چې دا شل ډوله څېړنې چې پدې علمي مقاله کې د" د موخې پر اساس د څېړنو عمده ډولونه" ترعنوان لاندې ذکرشوي دي، پر هر ډول یې لنډ بحث وشي.

### ۱. څومرییزه(کمي) څېړنه Quantitative Research

دا ډول څېړنه؛ یوه موضوع، حالت یا واقعه د عددي معلوماتو د راټولونې او د ریاضیکي میتودونو له لارې په تېره له احصایي څخه په ګټه اخیستنې تحلیل او تشریح کوي، یانې په دې ډول څېړنه کې ارقام او شمېرې باید د یوه منلي معیار پر بنسټ د عدد په بڼه راټولې او بیا د احصایوي میتودونو په مټ تحلیل شي(٦).

دا څېړنه په څو ډولو ترسره کېدای شي، خو پنځه مهم ډولونه یې دا دي؛

- سروې څېړنه که هغه مقطعي(Cross-sectional) یا اوږدمهاله (Longitudinal) وي،
- لامل څېړنه(Causal Research)،
- ارتباطي څېړنه (Correlational Research)،
- لامل- پرتلیزه څېړنه(Causal-Comparative Research) او
- تجربوي څېړنه(Experimental Research).

### ۲. څرنګیزه(کیفي) څېړنه Qualitative Research

د څېړنې دا ډول د ټولنیزې نړۍ راسپړنه او د طبیعي تحقیقاتو یوه پروسه ده، چې د پېښو په اړه د«څه» او «ولې» پوښتنو د ځوابونې په موخه ترسره کېږي. دا ډول څېړنه یوازې له کیفي ارقامو سره تړاو لري، چې پر بېلابېلو مفکورو، نظرونو او تجربو د پوهېدو لپاره د غیر عددي(متن، انځور، اډیو، ویډیو او...) معلوماتو راټولونه او تحلیل یکې شامل دي. کیفي څېړنه د معلوماتو او معلومات راټولونې لپاره پر لومړنیو سرچینو تکیه کوي. په کیفي څېړنو کې د معلوماتو (ارقامو) د راټولونې لپاره معمولاً له دریو

میتودونو (کتنې /مشاهدې، مرکې او د اسنادو له تحلیل) څخه استفاده کېږي. د بیلګی په توګه، که یو څېړونکی د مرکې له لارې یوه کیفي څېړنه ترسره کول وغواړي باید دا پړاوونه په پام کې ونیسي: د مرکې ډول (structured, semi-structured or unstructured)؛ د مرکې د پروټوکول ډیزاین، د مرکې ثبت؛ د مرکې کوډونه، د شاخصونو غوراوی؛ د شاخصونو چاڼ او اصلاح او د شاخصونو د وروستي لیست جوړونه. د یادونې وړ ده چې په کیفي څېړنه کې اکثراً نمونه اخیستنه کېږي، یانې چې له هغه نفوس څخه چې څېړنه پرې کېږي، بېلګه یا نمونه اخیستل کېږي او بیا د هغې د پایلو پر بنسټ اټکلونه او پرېکړې کېږي. البته په کیفي څېړنه کې د نمونې اخیستنې لپاره له بېلابېلو طریقو څخه ګټه اخیستل کېږي، که تر مطالعې لاندې موضوع ډېره عامه او عمومي وي، د نمونې اخیستنې لپاره د سنوبال نمونې طریقه کاریږی. که د مطالعې موضوع په یو ځانګړي سازمان یا یوه ځانګړې ساحه کې وي، د نمونې اخیستنې لپاره د هدفي نمونې طریقه کارېږي. پر کمي او کیفي څېړنو د لابنه پوهېدا لپاره دواړه څېړنې په لاندې جدول کې یو له بل سره پرتله شوي دي.

لومړی جدول: د کمي اوکیفي څېړنو ترمنځ مهم توپیرونه

| | کیفي څېړنه | کمی څېړنه |
|---|---|---|
| موخه | د نظرونو تحیل | مشخصې فرضیې یا پوښتنې |
| د څېړنې میتود | کتنې (مشاهدې) تفسیر او تحلیل | اندازه کول او بیا ټیسټ کول |
| د معلوماتو (ارقامو) راټولونې میتود | د مشاهدو، مرکو او اسناد تحلیل | په ګټګوریو ویشل او عددي ارقام په لاس راوړل |
| د څېړونکي خپلواکي | څېړونکی ازاد نه دی او پایلې ذهني دي | څېړونکی ازاد دی او پایلې عیني دي |
| نمونه | کوچنۍ نمونې | لویې نمونې |
| اکثریت استفاده | د سپړنې څېړنې ډیزاین | تشریحي او علتي څېړنې ډیزاین |

کیفي څېړنه هم لکه د کمي هغې په څو ډوله ترسره کېدای شي، خو شپږ مهم ډولونه یې دا دي؛

- **د توکمپوهنې طریقه (Ethnography method)**: ایتونوګرافیک د کیفي څېړنې میتود دی، چې د خلکو سیستمتیکه مطالعه د دوی په طبیعي چاپېریال کې ترسره کوي او د ژوند طریقې او ځانګړنې یې مطالعه کوي.
- **داستاني طریقه(Narrative method)** : دا میتود د کیفي څېړنې یوه بڼه ده چې څېړونکی پکې پر یوه ځانګړې موضوع تمرکز کوي او د قضیې مطالعې، سروې، مشاهدو یا نورو ورته میتودونو څخه راټول شوي معلومات (ارقام) تحلیلوي.
- **فینومینولاجیکل طریقه (Phenomenological method)**: دا ډول څېړنه یوه موضوع یا حادثه له مختلفو زاویوڅخه څېړي او تحلیلوي.

- **د ځمکي تیوري طریقه (Ground theory method)**: دا د کیفي څېړنې یوه کړنلار ده، چې معلومات پکې له تجربوڅخه را ټولېږي او د تحلیل په پایله کې ترې تیورۍ (نظریې) جوړېږي (۷).
- **د قضیې مطالعې طریقه(Case study method)**: دا د کیفي څېړنې یو ډېر کارنده میتود دی چې په ټولنپیژندنې، مدیریت، انسانپیژندنې، ارواپوهنې او داسې نوربرخوکې په پراخه پیمانه کارېږي.
- **تاریخي طریقه(Historical method)**: ددې میتود په کارونې سره څېړونکی تېرې پېښې او واقعې څېړي، له مخې یې روان حالت درک او راتلونکي په اړه وړاندوینه کوي.

### ۳. بنسټي/ اساسي څېړنه(Basic/Fundamental Research)

بنسټي څېړنه د پېښې سپړنې او پوښتنو ته د ځواب موندنې یو ساینسي میتود دی چې اصلي موخه یې د پوهې پراخونه، په پېښو کې د موجوده نظم پوهاوی، د تیوریو پراختیا او د هغې پایلې دي(۲). دا ډول څېړنې ډېر وخت او ډېرو مالی سرچینو ته اړتیا لري او معمولاً د پوهنتونونو او علمي مرکزونو په واسطه ترسره کېږي. دا ډول څېړنې د څېړنې د نوعیت پر اساس کېدای شي په څو ډولو لکه سروې(Survey)؛ مرکې(interview)؛ تمرکز ګروپونو (Focus Group)، لابراتوار (Laboratory) او د قضیې مطالعاتو(Case Study) ډیزاینونو په کارولوسره ترسره شي. دا څېړنه عمدتاً څو پړاوونه لري چې په لاندې شکل کې تشریح شوي دي.




پنځم انځور: د بنسټي څېړنې عمده پړاوونه

**۴. تطبيقي څېړنه (Applied Research)**

د څېړنيز ډيزاين يو ډول دی چې د يوې ځانګړې ستونزې د حل هڅه کوي يا هغو مسألو ته چې وګړی، ډله يا ټولنه ورسره لاس و ګرېوان وي؛ حل لار مومي. د څېړنې د اډول ډېر کله د قراردادي څېړنې ساينسي مېتود په توګه پېژندل کېږي، ځکه د ورځنيو ستونزو لپاره پکې د ساينسي مېتودونو په کارونې پر حل موندنه تمرکز کېږي(۸). په تطبيقي څېړنه کې ډېر تمرکز د ستونزې پر تشخيص (پېژندنه) کېږي، د ستونزې تر تشخيص وروسته فرضيه ټاکل کېږي او د فرضيې د ازموينې لپاره د تجربې له لارې مخکې ځي، چې ستونزې ته حل ومومي. په زياترو مواردوکې، د څېړنې دا طريقه د عملي ستونزو د حل لپاره تجربوي مېتودونه کاروي، ځينې وختونه د يوې ستونزې د حل په لټه کې د مستقيم چلن له امله غير منظم تحقيقات ګڼل کېږي. دا څېړنه عموما د بنسټي څېړنو موندنې نورې هم څېړي او د ستونزو په حل کې ترې په عملي بڼه ګټه پورته کېږي.

دا ډول څېړنې؛ د څېړنې د نوعيت له مخې په څو ډولو لکه سروې(Survey)؛ تجربې(Experiment)؛ مرکې(Iterview)؛ تمرکز ګروپونو (Focus Group)، د قضيې مطالعاتو(Case Study) او د اسنادو د تحليل(Documents Analysis) ديزاينونو په کارولوسره ترسره کېدای شي. ددې ډول څېړنې د مېتود مهم پړاوونه په لاندې شکل کې ښودل شوي دي.




شپږم انځور: د تطبيقي څېړنې عمده مرحلې

د يادونې وړده چې اکثراً تطبيقي او بنسټي څېړنې يوله بل سره ورته والي لري، خو ځينې مهم توپيرونه يې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي.

دویم جدول: د بنسټي او تطبیقي څېړنو ترمنځ مهم توپیرونه

| | بنسټي څېړنه (Basic Research) | تطبیقي څېړنه (Applied Research) |
|---|---|---|
| موخه | - په بېلابېلو برخوکې د پوهې پراخونه<br>- څېړنې پایله( په مختلفو علمي برخو کې) د نړیوالوڅېړنیزو پروټوکولونو او پروسو رامنځته کیدنه ده<br>- په ټولیزه توګه ټولنې ته د اهمیت او ارزښت موندن | - د ځانګړې ساحې د پوهاوي پراخوالی<br>- د یوې ځانګړې ستونزې حل<br>- نوې پوهه په ستونزو پورې محدوده ده |
| شرایط | - دا ډول څیړنه تنها د پوهنتون کادرې غړي اوپیژندل شوې څیړنیزه بنسټونه ترسره کوي<br>- د موضوع او اهدافو انتخاب د څیړونکي لخوا ټاکل کیږي<br>- اکثرآ ځنډمن وي او ډیروخت ته ضرورت لري. | - دواړه د پوهنتون کادرې غړې او نور سازمانونه یې هم ترسره کولی شي<br>- اهداف د څېړنې دغوښتونکی سره په خوښه انتخابیږي<br>- ډیروخت نه نیسی او باید ژر ترسره شی |

## ۵. مهالنی(مقطعي) سروې څېړنه(Cross-sectional Survey Research)

په دی ډول سروې څېړنه کې معلومات یا ارقام له مختلفو اشخاصو یا ګروپونو څخه د وخت په یوه ټاکلي مهال( مقطع) کې را ټول او تحلیلیږي. پدې ډول څېړنه کې څېړونکی پر متغیراتو(Variables) هیڅ ډول اغېز نه لري او نه یې تغیرولای شي. د اقتصاد، ارواپوهنې، طب، ایپیډیمولوژي، او نورو ټولنیزو علوموکې له دې ډول څېړنې څخه استفاده کېږي. د مثال په ډول د طب استاد غواړي د نفوسو په یوه ټاکلې برخه کې د یوې ساري ناروغی خپرېدا معلومه کړي، نو له دې ډول سروې څخه استفاده کولای شي (۹).




اووم انځور: د انځور په ژبه دمهالنی(مقطعي) سروې څېړنه

**٦. اوږدمهاله سروې څېړنه(Longitudinal Survey Research)**

دا ډول سروې څېړنه د مهالنۍ(مقطعي) سروې څېړنې پرعکس ده. په دې څېړنه کې د ډېرو ګروپونو او یا اشخاصو پر ځای د اشخاصو په یوه خاص ګروپ په مکرر ډول د یوې اوږدې مودې لپاره څېړنه کېږي(۱۰؛۱۱). دا ډول څېړنه ډېر کله د اشخاصو پر یوه کوچني ګروپ تمرکز کوي.

اوږد مهاله سروې څېړنه

د عین ګروپ مقایسه په دوامداره شکل سره




اتم انځور: د تصویر په ژبه اوږدمهاله سروې څېړنه

د مهالنۍ(مقطعي) څېړنې برعکس اوږدمهاله څېړنه ده. دا په دی معنی چی په مقطعي څېړنه کې مطالعات په یوه وخت کې د مختلفو اشخاصو او یا ګروپونو څخه ارقام را ټولېږي، پداسې حال کې چې په اوږدمهاله څېړنه کې د یوه مشخص ګروپ څخه په مکرر ډول ارقام یا معلومات راټولیږی. دا ډول څېړنه ډېری وخت د افرادو پر کوچنۍ ډلې تمرکز کوي چې له یوې عامې ځانګړنې سره تړلي دي.

سروې ګانې اکثراً له نمونې اخیستنې څخه په استفادې ترسره کېږي، ځکه چې اکثر وختونه تر مطالعې لاندې نفوس زیات وي او د ټول نفوس مطالعه ډېرو امکاناتو (وخت، پیسو او نورو منابعو) ته اړتیا لري او یا هم د ټول نفوس په سطح سروې ممکنه نه وي، نو څېړونکی باید له نفوس څخه نمونه واخلي. نمونه باید په داسې بڼه غوره شي، چې د ټول نفوس استازي وکړي(۸ تصویر). نمونه د نفوس یوه فرعي ټولګه ده، چې د ټول نفوس په اړه د انعکاس کولو لپاره مطالعه کېږي، نو د نمونه اخیستنې مېتودونه باید مناسب وي چې ډاډ ترلاسه شي چې نمونه کره یا استازې ده.




نهم انځور: دنمونې اخیستنې یوه وړه بیلګه

دنمونې اخیستنې مېتودونه په لاندې جدول کې ښودل شوي دي(۱۲).




لسم انځور: دنمونه اخیستنې ډولونه

لکه په پورتنی جدول کې چې ښکاري، نمونه اخیستنه معمولاً په درې عمده ډولونو یعنی شونې/ احتمالي(Random)؛ ناشونې/ غیر احتمالي (Non-random) او ګډه/ مختلطه (Mixed) ده، چې بیا هر ډول یې ځان له په څو نورو فرعي ډولونو ویشل کېږي.

### ۷. توصیفي څېړنه(Descriptive Research)

توصیفي څېړنه؛ د سپړنېزې څېړنې ترسره کولو یوه طریقه ده. دا څېړونکیو ته ورتیا ورکوي چې په دقیق او میتودیک ډول وضعیت یا پېښه په تفصیل سره تشریح کړي(۱۳). لکه له نامه چې یې معلومیږي، توصیفي څېړنه د ټولنې، وضعیت، یا پېښې ځانګړنې بیانوي بې له دې چې په متغیراتو کې لاس وهنه وکړي. په دا ډول څېړنه کې یوه پېښه بې د فرضیې له ازموینې مطالعه کېږي. داډول څېړنه کېدای شي

د سروې، مشاهدې مطالعې، او د قضيې مطالعې ميتودودنو په کارولو سره ترسره شي. د معلوماتو (ارقامو) راټولولو لپاره دواړه کميتي او کيفيتي ميتودونه کارېدای شي. معمولاً داڅېړنه په شپږو عمده پړاوونو کې ترسره کېدای شي چې عبارت دي له: د ستونزې پېژندنه؛ مخينه؛ د څېړنې د ګډونوالو يا پېښې او څېړنيزو وسايلو غوراوی؛ د معلوماتو راټولونه؛ د معلوماتو تحليل؛ او د څېړنې پر موندنو راپور ليکل.




يوولسم انځور: د توصيفي څېړنې د ترسره کولو مهم پړاوونه

### ۸. پرتلېزه څېړنه (Comparative Research)

د څېړنې يو ډول ميتود دی، چې د ورته واليو يا توپيرونو د موندنې په موخه پېښې يا حالات تحليلوي(۱۴). دا څېړنه معمولاً په لويه او کوچنۍ پيمانه د ټولنيزو واحدونو( سيمو، ملتونو او ان لويو وچو) تر منځ د ورته والیو او توپيرونو؛ مطالعه کوي. د بېلګې په ډول د دو سيمو يا دوو هېوادو په کچه کلتوري توپير او ورته والی، يا يې د خلکو او ټولنيز ژوند ترمنځ توپير اوورته والی او داسې نور. پرتليز تحليل په څومريز(کميتي)، څرنګيز(کيفي) او سيمه ييز (فازي) برخو وېشل کېدای شي(۱۵). څومريز پرتليز(کمي مقايسوي) تحليل پر متغير او څرنګيز پرتليز(کيفي مقايسوي) تحليل پر قضيه راڅرخي او سيمه ييز پرتليز(مقايسوی فازي) چې دا بيا له دواړو (کمي او کيفي) ميتودونو څخه په ګټنه؛ يعنې مخلوط ډول ترسره کېږي، ټوليز محور دی. دا ډول څېړنه په څو پړاوونو کې لکه: د پرتليزو واحدونو(ټولنې يا ګروپونو) غوراوی ؛ د پرتلنې دلايل(ولې مو دا دوه ټولنې او يا ګروپونه غوره کړل، د پرتلنې لپاره ممکن نور فکټرونه هم وو، هغه مو ولې غوره نه کړل او دا مو غوره کړل)؛ د ګروپونو او ټولنو تر منځ د فکټرونو غوراوی يانې کوم شيان بايد يو له بله سره پرتله شي؛ د ارقاموتحليل او راپور ليکنه.




دولسم انځورم: د پرتلېزې څېړنې عمده مرحلې

### ۹. موندیزه(اکتشافي) څېړنه (Exploratory Research)

موندیزه(اکتشافي) څېړنه؛ د څېړنې یوډول دی، د څېړنې هغه پوښتنې؛ چې د مخه په ژوره توګه نه وي څېړل شوې؛ څېړي(۱٦). دا ډول څېړنې اکثراً کیفي وي او دا چې له یوې لوی نمونې سره په اکتشافي ډول ترسره کېږي، کېدای شي کمیتي هم وي. دا څېړنه په څو پړاوونو کې ترسره کېدای شي چې عبارت دي له: دستونزې پېژندنه؛ د ستونزې د حل په اړه د مناسبې لارې وړاندیزیوول؛ د څېړنیز میتود د ډیزان غوراوی؛ فرضیو جوړونه؛ د معلوماتو(ارقامو راټولونه او تحلیل)؛ راپورلیکنه او وړاندیزونه.




دیارلسم انځور: د موندیزې(اکتشافي) څېړنې د ترسره کولو عمده پړاوونه

### ۱۰. توضیحي څېړنه(Explanatory Research)

دا ډول څېړنه د یوې پېښې لامل څېړي، په تېره چې د پېښې په اړه کافي معلومات موجود نه وي. دا څېړنه؛ له څېړونکي سره د پېښو پر اصلي لاملونو او په راتلونکې کې د ورته پېښو د مخنیوي د لارو چارو په اړه مرسته کوي. دا ډول څېړنې د لامل څېړنې په نامه هم یادېږي، څکه زیاتره وخت پکې د علت معلول له ماډل څخه استفاده کېږي(۱۷). دا څېړنه زیاتره پر «څنګه» او «ولې» پوښتنو تمرکز کوي او له اکتشافي څېړنې(Exploratory Research) سره ډېر لږ توپیر لري. یو مهم توپیر یې دادي چې په

توضیحي څېړنه کې موضوع په ژور ډول څېړل کېږي ولې په اکتشافي څېړنه کې اکثراً د څېړنو ابتدایي پړاوونه ترسره کېږي یعنې موضوع دومره په ژوره توګه نه څېړل کېږي.




څورلسم انځور: د توضیحي څېړنې د ترسره کولو عمده پړاوونه

د توضیحي او اکتشافي څېړنو عمده پړاوونه چې ډېر کم توپیر لري، په لاندې شکل کې ښودل شوي دي.

درېم جدول: د توضیحي او اکتشافي څېړنو توپیرونه

**د اکتشافي او توضیحي څېړنو توپیرونه**

| اکتشافي څېړنه | مرحلې | توضیحي څېړنه |
|---|---|---|
| د ستونزې پېژندنه | ۱ | د ستونزې پېژندنه |
| دستونزې دحل په اړه دمناسبې لارې وړاندیز | ۲ | د فرضیو تنظیم |
| د څېړنیز میتود د ډیزاین غوراوی | ۳ | د څېړنیز میتود ډیزاین غوراوی او د ارقامو راټولونه |
| د ارقامو راټولونه او تحلیل | ۴ | د ارقامو تحلیل |
| راپور لیکنه او د راتلونکیو څېړنو په اړه وړاندیزونه | ۵ | د څېړنې راپور لیکل |

پنځلسم انځور: داکتشافي او توضیحي څېړنو توپیرونه

### ۱۱. لامل څېړنه(Causal Research)

لامل څېړنه دا ارزوي چې آیا دوه متغیر(یو خپلواک اوبل تړلی) سره د علت او اغیزې اړیکه لري که نه؟ دا څېړنه زیاتره په مارکیټي مطالعاتو کې کېږي(۱۸). د سوداګرۍ په برخه کې لامل څېړنه ډېر اهمیت لري. بازار موندونکي او سوداګر د لامل څېړنې په مټ پر پېرونکیو او بازار د سوداګرۍ ماډل یا په محصولاتو کې د دوی د بدلونونو اغیزې څېړي. ډېرې بېلګې شته چې لامل څېړنه له سوداګرو سره د بېلابېلو متغیرونو(پلور، عاید، لګښتونو، محصولاتو، تغېراتو...) تر منځ د لامل او اغېزو د اړیکو په مشخصونه کې مرسته کوي. د بېلګې په ډول یو شرکت غواړي د محصول پر پلور د نوموړي محصول په ځانګړنو کې د بدلانه اغېزې( اندازه، رنګ یا نورې ځانګړنې) وګوري، بله سناریو د بیې راټیټونه وي او اغیزې یې پر پلور ګوري. ددې ډول څېړنې عمده برخې له فرضیې، د متغییرونو له غوراوي، ناڅاپي نمونه اخیستنې، د ارقامو له تحلیل او موندنې، راپورلیکنې او وړاندې کونې څخه عبارت دي.




شپاړسم انځور: دلامل څېړنې د ترسره کولو عمده پړاوونه

### ۱۲. ارتباطی څېړنه(Correlational Research)

دا ډول څېړنه یوازې د دوو متغییرونو ترمنځ د اړیکو د اندازې ښودنه کوي له علت و معلول سره کار نه لري. د دا ډول څېړنې یوازینۍ موخه د دې معلومول دي چې کوم متغیر په مثبت یا منفي لوري کې له بل کوم متغیر سره تړاو لري او د تړاو درجه یې څومره ده(غښتلې، کمزورې یا هېڅ د پامنیوي وړ نه ده)(۱۹). دا څېړنه معمولاً له دې پوښتنو(د دوو متغییرونو تر منځ اړیکه شته؟ که وي جهت یې مثبت دی که منفي؟ د دې اړیکې اړندازه څومره ده؟) سره کار لري.




اوه لسم انځور: په ارتباطي څېړنه کې د متغییرونو ترمنځ تړاو او اندازې یې

ارتباطي څېړنه معمولاً لکه نورو څېړنو په شان په څو پړاوونو کې ترسره کېږي چې په لاندی ډول دي؛

- د ستونزې پېژندنه

۱. ایا دوه متغیرونه (X او Y) یوله بله سره ارتباط لري؟

۲. که یی لري د ارتباط درجه یې څومره ده؟

- له نفوس څخه باید نمونه انتخاب شي او نمونه هم باید تر ۳۰ مشاهدو کمه نوي.
- د څېړنې ډیزاین او مېتود مشخص شي.
- ارقام باید راټول شي او هغه باید په دوه ګروپونو پورې تعلق ولري په لاندې جدول کې یې نمونه ښودل شوي ده. مثلاً د قد او وزن ترمنځ ارتباط.
- د ارقامو تحلیل
- او د څېړنې راپور یا موندنې برابرول .

څلورم جدول: د ارتباطي څېړنې د ارقامو راټولولو او په جدول کې د تحلیل د پاره د چمتو کولو طریقه ښیي

| نوم | قد | وزن |
| --- | --- | --- |

### ۱۳. لامل- پرتلیزه څېړنه(Causal-Comparative Research)

دا ډول څېړنه؛ چې د پېښې د لاملونو تر منځ پکې اړیکه څېړل کېږي، معمولاً تر پېښې وروسته کېږي. څېړونکي پکې په مستقل متغیر کې لاسوهنه نشي کولای او نه یې کنټرولولای شي، ځکه چې پېښه مخکې رامنځته شوې وي (۲۰). په دې ډول څېړنه کې لږ تر لږه دوو پرتلیزو ګروپونو ته اړتیا ده، چې د یوه ټړلي متغیر پر بنسټ له یو بل سره پرتله شي. د مثال په ډول استادان غواړي محصلین په دوو ګروپو ووېشي، یو هغه ګروپ چې د لوړ استعداد خاوندان دي له بل ګروپ سره چې استعداد یې ډېر لوړ نه دی د معیاري IQ ازموینې پر اساس پرتله کړي او دا ومومي چې پر دوو ګروپونو د محصلینو ویشل سم وو او کنه؟ دا ډول څېړنه معمولاً څو مرحلې(د عنوان غوراوی، د څېړنې مخینه، د څېړنې فرضیې، د څېړنې د ګروپونو غوراوی او نمونه اخیستنه یې، د څېړنې د ارقامو راټولونه او وسایل یې، د ارقامو تحلیل) لري. دا ډول څېړنه کې معمولاً له ANCOVA،t او Chi-Square ازموینوڅخه ګټه اخیستل کېږي. که دوه اوسطونه پرتله کېږي د t ازموینې، که له دوو زیات اوسطونه پرتله کېږي بیا دANCOVA ازموینې او که د مشاهدې له پاموړ پایلو سره پرتلنې ته اړتیا وي، بیا له Chi-Square څخه استفاده کېږي. ډېر ځله ځینې کسان د لامل او لامل پرتلیزې څېړنو ترمنځ توپیر کې تېروځي، علت یې دادی چې دواړه ډوله څېړنو کې دوه متغیرونه په پام کې نیول کېږي. اصلي توپیر دادی چې په لامل څېړنه کې د متغییرونو(که دوه یا هرڅو وي) ارقام باید مقداري وي. خو په لامل پرتلیزه څېړنه کې یو متغییر کټګوري او بل مقداري وي. بل عمده توپیر دادی چې په لامل څېړنه کې ارقام د سکاټر پلاټ او ضریب همبستګي چې اکثرا د ۰ او ۱ یا د ۱ او ۱۰۰ ترمنځ وا قع کېږي، ښودل کېږي. په داسې حال کې چې په لامل پرتلیزه څېړنه کې تفاوتونه د جدول په بڼه ښودل او یا تشریح کېږي.

### ۱۴. تجربوی څېړنه(Experimental Research)

هغه څېړنه ده، چې ارقام یې د تجربو له لارې راټول او بیا له ثابتو متغیرونو سره پرتله کېږي چې تر مطالعې لاندې پېښې لاملونه او یا اغیزې مشخصې شي(١٦). د تجربوي څېړنې یوه بیلګه په لابراتوار کې د وینې معاینه ده چې د ناروغ د روغتیا د حالت لاملونه روښانه شي. په دې ازموینو کې د ناروغانو د وینې نمونی څېړل کېږي او ترلاسه شوي پایلې د منل شویو نورمالو وینو له پایلو سره پرتله کېږي. پدی ډول څېړنه کې اکثراً دوه ډوله متغییرونه؛ چې یو یې ثابت او بل یې هغه دی چې پایلې یې له ثابت متغییر سره پرتله کېږي، په پام کې نیول کېږي. دا ډول څېړنه اکثراً کمي ده یعنې ارقام یې په مقداري ډول راټولېږي. البته دا ډول څېړنې په مختلفو مسلکونو کې په متفاوت ډول ترسره کېږي. د بیلګی په توګه په طب کې دا ډول څېړنه په لابراتوار کې خو په کرنه کې په ازاد محیط کې ترسره کېدای شي. د بیلګی په توګه د یوی نوې ورایټۍ حاصل د بومي(ځایي) ورایټۍ له حاصل سره پرتله کېږي. دواړه له

لابراتواره بهر په ازاد محیط کې کرل کېږي او حاصل يې پرتله کېږي. هدف دا دی چې تجربوي څېړنه يوازې په لابراتوار پورې محدوده نه ده، بلکې هر هغه تجربه چې ارقام يې مقداري وي او په لومړي ځل را ټولېږي، تجربوي څېړنه بلل کېږي. څېړنيز مېتود يې په شرايطو او مسلک پورې اړه لري، يعنې که دا تجربه په طب کې کېږي تجربوی مېتود به يې له بل مسلک سره ډېر متفاوت وي. په همدې خاطر مو يې دلته مشخص پراوونه رانه وړل.

**۱۵. د تيوري ازموينې څېړنه(Theory-testing Research)**

تيوري ازموينې څېړنه دا څرګندوي، چې په تجربه یا يوه نمونه کې په لاس راغلې بېلګې د موجوده تيورۍ ملاتړ کوي که نه، ياني تاييدوي يې که نه؟ دا ډول څېړنه په دوه طريقو (مېتودونو) ترسره کېږي چې يو يې په يوه قضيه کې د تيوری ازموينه ده("theory-testing single case study") اوبل د يوی قضيې په نمونه کې د تيورۍ ازموينه("theory-testing sample case study"). د تحقيق ميتود يې خورا ساده دی اومعمولاً په ۷ مرحلوکې ترسره کېږي. دا مرحلې عبارت دي له: د مناسب عنوان انتخاب؛ د قضيې غوراوی (selection of case)؛ د فرضيو مشخصونه؛ د فرضيو ازمويل؛ د څېړنې د موندنې راپورول او د راپور د موندنو ارزونه چې آيا موجوده تيوري تاييدوي او که نه. دڅېړنې مراحل په دواړو( يوه قضيه کې د تيورۍ ازموينه ("theory-testing single case study") او د يوې قضې په نمونه کې د تيورۍ ازموينه("theory-testing sample case study") کې يوشان دي(۲۱). د دا ډول څېړنې عمده مراحل په لاندې شکل کې ښودل شوي دي.




اتلسم انځور: د تيورۍ ازموينې څېړنې عمده مرحلې

### ۱۶. د تیوري جوړونې څېړنه(Theory-Building Research)

د مفاهیمو د رامنځ ته کولو او د هغې د بیان هغه پروسه ده، چې دا راښیي چې یوه حادثه یا واقعه ولې پېښېږي، په بله ژبه تیوري جوړونه د تولید، تایید، پلي کولو روانه پروسه او په عمل کې د هغې تطبیق ته ویل کېږي(۲۲). پروسه په خلص ډول په لاندې شکل کې ښودل شوې ده.




نولسم انځور: د تیوري جوړونې څېړنې عمده مرحلې

### ۱۷. چار څېړنه(Action Research)

چار څېړنه، د څېړنې له هغه میتودنو څخه ده، چې موخه یې په ورته وخت کې د یوې مسألې څېړنه او حل دی. په دی ډول څېړنه کې څېړونکی پر یوه وخت څېړنه هم کوي او موندنې یې هم عملي کوي(۲۳). دا څېړنه لومړی ځل د کورت لیون لخوا په ۱۹۴۴ م کال کې معرفی شوه. ددې څېړنې څېړنیز دوران په لاندې شکل کې ښودل شوی دی(۲۴).




شلم انځور: د چار څېړني څېړنيز دوران(George, T. (2023, April 21

**۱۸. کوازی څېړنه (Quasi-experimental research)**

دي ډول څېړني ته نيمه تجربي څېړنه هم وايي، ځکه چې پدې ډول څېړنه کې (Randomization) يا په تصادفي ډول تريتمنتونه( هغه څه چې څېړونکی يې په تجربوي واحدونو/ګرپونو کې پلي کوي) په واحدونو يا ګرپونوکي نه پلي کېږي(۲۵). او دا کار ځکه نه کېږي چې هغه ګروپونه چې د ټريټمنټونو اغېزې پرې څېړل کېږي، يو شان نه دی. له دی ډول څېړني څخه هله استفاده کېږي چې د افرادو/ګروپونو/ واحدونو انتخاب په تصادفی ډول ممکن نه وی او يا په مستقل متغير کی لاسوهنه آسانه نه وی. پدی څېړنه کې کنترول ګروپ نه وی او معمولاً تر تجربي د مخه او وروسته ماډل څخه استفاده کېږي. پدی معنی چی عينی ګروپ يو ځل تر تجربي د مخه او بيا تر تجربي وروسته ارزيابي او موندني يې سره پرتله کېږي. دا تجربه معمولاًکمي ده يانې ارقام يا معلومات چې راټولېږي د اعدادو په بڼه وي. دا څېړنه ډېر ډولونه لری ولی مهم يې عبارت دی له نابرابر ګروپي ديزاين( Nonequivalent

group design) او تر تجربي مخکې یا وروسته ډیزاین (Pretest-posttest design)(۲٦). یو ډول دوران د څېړني په لاندې شکل کې ښودل شوی دی.




یوویشتم انځور: دکوازي څېړني څېړنیز دوران

### ۱۹. تاریخي څېړنه (Historical research)

دا ډول څېړنه؛ د یوې ځانګړې موضوع په اړه، چې په تېر مهال او ځانګړي وخت کې پېښه شوې وي، کېږي. دا څېړنه د تېرو پېښو یا نظرونو په اړه د معلوماتو راټولولو او تشریح پروسه ده، څېړونکی هڅه کوي چې د معلوماتو په راټولولو، ارزولو او د معلوماتو د کره والي له لارې پخواني حقایق ومومي او د دې حقایقو په پامنیوي د راتلونکي لپاره معقولې او مثبتې تګلارې وړاندیز کړي (۲۷). ددې ډول څېړنې اساسي اصل د څېړونکي ناپېیلتوب دی، حقایق باید بې له هر ډول (کلتوري، قومي، سمتي او...) تبعیض څخه راټول کړي (۲۸). تاریخي څېړنه دا پړاوونه لري: د موضوع یا څېړنې د پوښتنو غوراوی؛ د ستونزې بیان؛ د فرضیو جوړول/ تدوین یانوي کول؛ مخینه؛ تاریخي توصیف/ د معلوماتو راټولول (یعنی دا واقعه چیرې، څه وخت او څنګه منځ ته راغله)؛ تحلیل او د څېړنې را پور جوړول.




دوه ویشتم انځور: د تاریخي څېړنې عمده مرحلې

**۲۰. تر واقعې وروسته څېړنه(Ex post facto (after-the-fact) research)**

دا تر واقعي څخه وروسته ترسره کېدونکې څېړنه ده(۲۹). پدې ډول څېړنه کې موخه پر تړلي متغییر د خپلواک هغې د اغېز موندنه ده. دا ډول څېړنه کوازيQuasi-experiment ته ورته څېړنه ده، توپیر یې دادی چې دا تحقیق تر واقعې یا حادثې وروسته ترسره کېږي او څېړونکی په متغیرونو کې گوتې وهلای نشي. تر واقعې وروسته څېړنه دا پړاوونه لري.




درویشتم انځور: تر واقعې وروسته څېړنې عمده پړاوونه

**پایلې**

د یوه هېواد د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره څېړنه حیاتی وسیله ده، ځکه د څېړنو له امله اکثراً نامعلومو مسألو او یا شتو ستونزوته حل پیداکیږي. څېړنې معمولاً له منل شویو څېړنیزو میتودونو څخه په استفادې، د یوې ستونزې حل راباسی، له بده مرغه په افغانستان کې څېړنې ډېرې نه کیږي او لامل یی هم له څېړنو او څېړنیزو میتودونو سره د خلکو نه بلدتیا او کله کله په بېلابېل برخو کې د مسلکي او پیاوړیو څېړنپوهانو نشتوالی دی. باید ومنو چې بې له ګوتشمېر هغو؛ د افغانستان د پوهنتونونو او څېړنیزو مرکزونو زیاتره کادرونه له څېړنو او بېلابېلو څېړندودونو سره پوره بلدتیا نه لري. همدې ټکي ته په پام، دا مقاله چې د څېړنې پر ډولونو او څېړنیزو کړنلارو یا څېړندودونو را څرخي.

پر څېړنه او څېړندود پوهېدا له کادري غړیو او نورو څېړونکیو سره، د خپلو څېړنیزو پروژو پر مهال د تر ټولو مناسبو میتودونو او تخنیکونو د کارونې، د باوري پایلو په ترلاسي او د ستونزو د دایمي حل لارو په رااېستو کې مرسته کوي. په دې مقاله کې څېړنه د موخو له مخې پر شل عمده او تر ټولو ډېر کارنده ډولونو وېشل شوې او بیا د هر میتود لپاره څېړندود په ګوته شوی دی. پر دې سربېره پکې څېړنې د معلوماتو د راټولونې او څرنګوالي له مخې پر څو برخو وېشل شوي دي. یوه موضوع چې د مقالې په وړاندیزونو کې هم راغلې ده، خو ارزښت ته یې په پام، پرې دلته بیا ټینګار کېږي، چې که د لوړو زده کړو وزارت او نور څېړنیز بنسټونه غواړي چې د څېړنو له لارې شتو ستونزو ته همېشنۍ حل راوباسي نو پکار ده چې د احصایې(شمېر پوهنې) یا (Statistics) په برخه کې؛ چې د څېړنې ژبه باله شي، د علمي او تحقیقي کاردونو ظرفیت لوړونې ته پاملرنه وکړي، چې د یوه مناسب ډېزاین په کارونه سره معلومات راټول او بیا یې د یوه مناسب احصایوي میتود له لارې تحلیل کړي.

**ستونزې**

ستونزې ډېرې دي ولې عمده خنډونه چې په هېواد کې د علمي څېړنو د مخنیوي سبب شوي دي په لاندې ډول ذکرکیږي.

- د څېړنو د اهمیت په هکله د خلکو کم پوهاوي.
- د څېړنو لپاره د کافي بشري ځواک او بودیجې نشتوالی.
- د څېړنو د اجراء لپاره د مناسب میکانیزم نشتوالی.
- د څېړنو لپاره د کافي انګیزې نشتوالی.
- د څېړنیزو مرکزونو ترمنځ نه همغږي.

**سپارښتنې**

که لاندې ټکیوته توجه وشي نو څېړنې به نه یوازې په ملک کې دود شي بلکې د هېواد د اقتصادي او اجتماعي پرمختګ سبب به هم شی.

- نظام باید د څېړنو سکتور ته ځانګړې پاملرنه وکړي

- که افغانستان غواړي اقتصادي او ټولنیز پرمختګ وکړي، نو باید د څېړنیز سیستم او ټولنیز- اقتصادي سیستم ترمنځ اړیکې په سمه توګه درک کړي او د خپلې ټولنې د هر اړخیز پرمختګ په بهیر کې دقیق او اړین متوازن پلان رامنځته کړي.
- پوهنتونو ته د څېړنو لپاره بودیجه ځانګړي کړي. د پرمختللو هېوادونو په کالنی بودیجه کې په اوسط ډول د څېړنې برخه شاوخوا ٤٪ ده، په داسې حال کې چې په افغانستان کې دا شاخص ۰٪ دی. حتی اکثریت خلکوته په څېړنو پیسې لګول هسې سیند ته تبی ښکاري.
- د څېړنو په هکله بشري ظرفیت لوړ کړي چې ښې او معیاري وشي.
- د څېړنو پایلې باید په انلاین بڼه له نړۍ سره شریکې شي دا به په اکاډمیک ډګر کې د هېواد وقار لوړ کړي. دڅېړنو نتایج دې له اړوندو وزارتونو او ادارو سره شریک کړای شي چې د هېواد د ښېرازۍ لپاره ترې په لوړه کچه ګټه واخیستلای شي.

## سرچيني


(1) Jones CI, Williams JC. Too much of a good thing? The economics of investment in R&D. Journal of economic growth. 2000 Mar; 5:65-85.

(2) Economics F. Rates of return to investment in science and innovation. A report prepared for the UK Department for Business. Innovation and Skills (BIS). 2014.

(3) https://ourworldindata.org/grapher/researchers-in-rd-per-million-people?tab=chart&time=1996..2020

(4) Data OE. Gross domestic spending on R&D. Retrieved Mai. 2017;14.

(5) Creswell JW. Research: Qualitative, quantitative, and mixed methods approaches. California. EUA: Sage. 2003.

(6) Sridhar MS. Introduction to research methodology: Problem selection, formulation and research design. Lulu. com; 2010.

(7) Fielding NG, Blank G, Lee RM. The SAGE handbook of online research methods. The SAGE Handbook of online research methods. 2016:1-684.

(8) DePoy E, Gitlin LN. Introduction to research E-book: understanding and applying multiple strategies. Elsevier Health Sciences; 2019 Oct 23.

(9) Connelly LM. Cross-sectional survey research. Medsurg nursing. 2016 Sep 1;25(5):369.

(10) Method approaches. A framework for design. Sage Publications, Inc. Second Edition

(11) Chawla D, Sondhi DN. Research Methodology Concepts and cases–Vikas Publishing House Pvt

(12) Alvi M. A manual for selecting sampling techniques in research.

(13) Kothari CR. Research methodology: Methods and techniques. New Age International; 2004.

(14) Esser F, Vliegenthart R. Comparative research methods. The international encyclopedia of communication research methods. 2017 Apr 24:1-22.

(15) Ragin C, Zaret D. Theory and method in comparative research: Two strategies. Social forces. 1983 Mar 1;61(3):731-54.

(16) Mishra SB, Alok S. Handbook of research methodology.

(17) George T. Exploratory Research| Definition, Guide, & Examples. Scribbr.

(18) Iacus SM, King G, Porro G. A theory of statistical inference for matching methods in causal research. Political Analysis. 2019 Jan;27(1):46-68.

(19) Ratner B. The correlation coefficient: Its values range between+ 1/− 1, or do they?. Journal of targeting, measurement and analysis for marketing. 2009 Jun 1;17(2):139-42.

(20) Schenker JD, Rumrill Jr PD. Causal-comparative research designs. Journal of vocational rehabilitation. 2004 Jan 1;21(3):117-21.

(21) Dul, J., Hak, T. & Goertz, G.. Testing necessary condition hypothesis with cases. Proceedings of the 15th international annual EUROMA conference, Groningen, the Netherlands, (2008) June 15-18.

(22) Lynham SA. The development of “a theory of responsible leadership for performance”. University of Minnesota; 2000.

(23) Vahidov R, editor. Design-Type Research in Information Systems: Findings and Practices: Findings and Practices. IGI Global; 2012 Feb 29.

(24) Burns A. Action research in the field of second language teaching and learning. In Handbook of research in second language teaching and learning 2011 Jan 25 (pp. 237-253). Routledge.

(25) Cook TD, Campbell DT, Day A. Quasi-experimentation: Design & analysis issues for field settings. Boston: Houghton Mifflin; 1979 Jul.

(26) Price PC, Jhangiani RS, Chiang IC, Leighton DC, Cuttler C. 8.2 Non-Equivalent Groups Designs. Research Methods in Psychology. 2017 Aug 21.

(27) Porra J, Hirschheim R, Parks MS. The historical research method and information systems research. Journal of the association for information systems. 2014;15(9):3.

(28) Connelly LM. Cross-sectional survey research. Medsurg nursing. 2016 Sep 1;25(5):369.

(29) Simon MK, Goes J. Ex post facto research. Retrieved September. 2013; 25:2013.

# د شرعیاتو پوهنځیو په درسي منهج کې د متونو ارزښت- ځانګړتیاوې او غوښتنې

**پوهنوال ډاکټر محمد مزمل اسلامي**

د تفسیر او حدیث دیپارتمنت، د اسلامي علومو پوهنځي، د ښوونې او روزنې پوهنتون، کابل، افغانستان
ایمیل: mmislami@gmail.com

**لنډیز**

متونه؛ نېغ په نېغه په درسي منهج (نصاب) پورې کوم چې د تحصیلي نظام د ملا تیر جوړوي تړلي او د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو د درسي منهج منځپانګه جوړوي. په دغه مقاله کې د متونو ارزښت، ځانګړتیاوې او غوښتنې په توصیفي میتود باندې په خپلو معتبرو او اصلي سرچینو کې څېړل شوي دي؛ په پای کې موندل شوي چې متونه یو لړ علمي ځانګړتیاوې لري، چې په درسي منهج کې د هغو اړتیا ته یې خورا ځانګړی ارزښت بښلی دی. د الفاظو پوخوالی او ایجاز، علمي عمق او ژورتیا، د افکارو ځنځیري تسلسل، د ژبې اصالت او د دیني علومو له اصلي سرچینو سره یې تړلی قدامت د متونو له مهمو ځانګړتیاوو څخه دي چې ځانته ځانګړې او مشخصې غوښتنې او مقتضیات لري چې باید په دقیقه توګه د درس او د تدریس په بهیر کې په جدي توګه په پام کې ونیول شي چې د تدریس پروسه خپلو موخو او هدفونو ته ورسیږي.

**کلیدي اصطلاحات**: شرعیاتو پوهنځی؛ درسي منهج او نصاب؛ متونه؛ ارزښت؛ ځانګړتیاوې؛ غوښتنې

# قيمة المتون في المناهج الدراسية لكليات الشريعة- ميزاتها و مقتضياتها

**الأستاذ الدكتور محمد مزمل اسلامي**

محاضر بقسم التفسير والحديث، كلية العلوم الإسلامية، جامعة التعليم و التربية، كابل، افغانستان
الايميل: mmislami@gmail.com

**ملخص**

المتون لها صلة مباشرة بالمناهج الدراسية التي تمثل عمودا فقريا للنظام التعليمي، و هي تشكل صلب المواد الدراسية في المناهج الدراسية في كليات الشريعة و العلوم الإسلامية. درس هذا المقال قيمة المتون، و ميزاتها، و مقتضياتها في المناهج الدراسية لكليات الشريعة والعلوم الإسلامية في مصادرها الإصليلة؛ فوجد أن لها ميزاتها العلمية قد وهبت لضرورة وجودها في المناهج الدراسية أهمية خاصة. إيجاز الألفاظ و صلابتها، و عمقها العلمي، و تسلسل أفكارها، و أصالة لغتها، و اتصالها المباشر بمصادر العلوم الشرعية من أهم ميزات المتون والتي تقتضي اهتماما خاصا لمراعاتها في عملية التدريس بدقة و جدية كي تصل عملية التدريس إلى أهدافها المرسومة.

**الكلمات المفتاحية**: كليات الشريعة والعلوم الإسلامية؛ المناهج الدراسية؛ المتون؛ قيمة؛ مقتضيات

**سریزه**

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد:

د علم زده کړه او ښوونه یوه شرعي فریضه، غوره عبادت او الله پاک ته د قربت او نږدې کېدو تر ټولو ښه وسیله ده. د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو محصلینو ته چې د علم په ښه زده کړه کې ښه مرسته کولی شي هغه یو مناسب درسي منهج او نصاب دی. د اسلامي او شرعي علومو په منهج او نصاب کې د محصلینو د علمي نبوغ او پیاوړتیا لپاره تر ټولو زیات مؤثر مضامین هغه علمي مختصرات او متونه دي چې حفظ شي او ښه زده کړی شي. ځکه نو محصلینو او طالب العلمانو ته په ځانګړې توګه په شرعي علومو کې اړین دي څو یو شمېر مروج متون حفظ او ښه زده کړي. د همدې له پاره د شرعي علومو متخصصینو د دیني مدارسو او اسلامي علومو پوهنځیو په درسي نصابونو او مناهجو کې یو لړ متونه مقرر کړي دي.

درسي منهج او نصاب د علمي موادو د تدریس او تطبیق له هغه دستور او تګلارې څخه عبارت دی چې تحصیلي او تعلیمي نظام پرې ولاړ دی.

پخواني مناهج او نصابونو ډېرې ساده او تقلیدي طریقې او تګلارې لرلې چې استاذ او ښوونکی به پکې واکوال و او د تدریس او تطبیق عملیه به غالبا طالب العلم ته په تلقین باندې ولاړه وه. خو منهج په نوي مفهوم سره ټول هغه علمي مواد او عملي مهارتونه او وړتیاوې دي چې تحصیلي او تعلیمي مؤسسه یې د محصلانو او طالب العلمانو د مرستې په موخه د مؤسسې په د ننه او بهر کې تنظیموي، چې پکې تر ډېره حده د زده کوونکو میلان، اړتیاوې او د هغوی اهتمامات او پاملرنې په نظر کې نیول کیږي، هغوی ته واک ورکول کیږي څو دوی سره مناسب تربیوی مهارتونه او وړتیاوې انتخاب کړي او له استاذانو سره په ګډه یې د برابرولو او لاسته راوړلو لپاره کار وکړي.

څرګنده او بدیهي ده چې ښوونیز او تعلیمي مناهج او نصابونه د یو شمېر بدلونو له کبله - لکه: د انساني نظریاتو تنوع او اختلاف، د پوهنې او معارفو پرمختګ او پراختیا، په تکنالوژۍ او تخنیکي وسایلو کې بې کچې پرمختیا، دېولنو په فرهنګي، ثقافتي او فکري ډګرونو کې تحولات اوبدلونونه او داسې نورو- ورځ له بلې توپیر مومي، نوې انساني اړتیاوې پیښیږي او پدې توګه مناهجو کې تغییر راځي، پرمختګ کوي او پراختیا مومي. د دې لازمې غوښتنه داده چې وخت په وخت مناهج او نصابونه له سره وکتل شي او لازم نوښت پکې راوستل شي. پدې تېرو څلورو لسیزو کې افغاني ټولنه د پورتنیو بدلونونو او پرمختګونو ښه بیلګه ده. مهمه داده چې د مناهجو په پرمختګ او پراختیا کې علمي مختصرات او اصلي

متنونه د کميت او کيفيت له مخې کمزوري نشي چې په پايله کې به بيا د تعليمي او تحصيلي مناهجو موخې متضررې شي.

په دغه لنډه مقاله کې د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په درسي منهج کې د متنونو ارزښت، د هغو ځانګړتياوې او غوښتنې څېړل کيږي.

**د مسئلې بيان**

د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په درسي نصاب کې د مقرر شويو علمي مختصراتو او متنونو زده کړې او تدريس ته هغسې چې ښايي پاملرنه نه کيږي. د دغو مختصراتو او متنونو علمي اغېزه کمه شوې، د محصلينو په علمي مستوی کې يې مثبتې نښې لږې ښکاري.

د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو محصلين د مختصراتو او متنونو پوهېدو کې ستونزې لري، د هغو له تدريس څخه شکايتونه لري او هغه ورته په زړه پورې ندي او په ازموينو کې په نوموړو مضامينو کښې ښې نمرې نشي اخستی چې د دې ټولو په پايله کې د فارغانو علمي دقت کمزوری او د عربيت، بلاغت او فصاحت مستوی په مطلوب حالت کې نه وي.

**د موضوع ارزښت**

له کومه ځايه چې متنونه په مستقيمه توګه تر درسي منهج او درسي نصاب (curriculum) پورې تړلي دي کوم چې د تحصيلي نظام د ملا تير جوړوي نو ځکه موضوع خورا ځانګړې ارزښت لري. درسي نصاب او منهج پورې اړوند هره غټه او وړه، او مثبته او منفي موضوع نيغ په نيغه په تحصيلي او تعليمي بهير او د هغه پر پايلو او نتائجو اغېزه لري.

جوته ده چې دشرعياتو او اسلامي پوهنځيو کې اصلي متون د درسي منهج او نصاب منځپانګه جوړوي. او دا چې مناهج د ټولنيزو هر اړخيزو بدلونونو له کبله د بدلون او پراختيا په حال کې دي نو د متنونو برخليک بايد روښانه، ډاډمن او د زياتې پاملرنې وړ وي.

متنونه په تعليمي مناهجو او نصابونو کې له پخوا زمانو راهيسې موجود وو که څه هم د متن په نامه نه پيژندل کېدل بلکې مختصرات بلل کېدل[۱].

پدې توګه متون له نسلونو، نسلونو راپاتې ميراث او علمي شتمني ده چې زمونږ علمي سرچينې او فکري مراجع جوړوي او تل زمونږ د مناهجو او نصاب منځ پانګه وي او په هيڅ صورت کې ترې مستغني کيدلی نشو.

---

۱. إسماعيل عبد عباس،۲۰۱۹م، تعريف المتون وأقسامها (علمي مقاله).

د شرعي علومو د زده کوونکو په اعداد او چمتو کولو او په هغو کې د فقهي ملکې پیدا کولو کې د متونو او مختصراتو د حفظ او یادولو ارزښت تر هېچا پټ ندی. هغه متونه کوم چې ډېرو سترو علماوو د خپلو عمرونو په قیمت باندې د دین او علم د خدمت په موخه لیکلي دي؛ خو په خواشینۍ سره چې نن سبا د زده کوونکو پاملرنه ورته کمه شوې ده، په ځانګړې توګه د لسانس د مرحلې او جامعي تعلیم په زده کړه کې[۲].

متن د یوه علم مدخل دی چې محصل او طالب العلم په لږ وخت او اسانۍ سره پرې د علم تل ته لاره کولی ش؛ متن هغه بنسټ او تاداو ته ورته دی چې دنګې ماڼۍ پرې ودانیږي او متن د یو علم لپاره داسې دی لکه د ونې له پاره تخم او زړی چې را زرغون شي او ورځ تر بلې یې ښاخونه غټیږې او څانګې یې خپریږي.[۳]

د متونو په اړه د علماوو دغه اقوال را نقل شوي دي:

من حفظ المتون... حاز الفنون

من حفظ الأصول... ضمّن الوصول

من لم يتقن الأصول... حُرم الوصول

د پورتنیو ارزښتونو له امله متونو په علمي او اکادمیک ډګر کې د تاریخ په اوږدو کې خپل رغنده او اغېزمن رول لوبولی او لا لوبوي یې.

له پخوا راهیسې د اسلامي امت په اسلافو کې د قوي، علمي او مختصر متن د لیکلو سیالۍ شتون درلود، چې یونوعه ډیر اغېزمن علمي او سالم رقابت و چې د استعدادونو په ښېرازۍ کې یې ارزښتناک رول لوباوه.

له بل پلوه دغو متونو ته پاملرنه هم یوه علمي سالمه سیالي وه چې د علماوو ترمنځ خورا ګرمه او توده وه. پر متونو باندې شرحې، حاشیې او تعلیقات لیکل د علماوو او پوهانو ترمنځ د علمي سیالۍ خورا ډیره سلنه جوړوي. مونږ داسې متونه هم لرو چې په لسګونو شرحې، حاشیې او تعلیقات پرې لیکل شوي دي. نن سبا د پخوانیو متونو علمي تحقیق او کره کتنه د ماسترۍ او دکتورا د رسالو پراخه سیمه ده.

**څېړنموخه**

څېړنه دوه ډوله موخې لري: اصلي موخه او فرعي موخې.

[۲] - أمين صالح غماز،۲۰۱۵م، المتون العلمية و دورها في إعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله).

[۳] - أبي مالك،۲۰۰۷م، لماذا ينصحُ أهلُ العلم بحفظ المتون؟ (علمي مقاله).

**اصلي موخه**

د څېړنې اصلي موخه داده چې د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په درسي نصاب کې د علمي مختصراتو او متونو ارزښت او اهميت جوته او روښانه شي.

**فرعي موخې**

۱- د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په نصاب کې د متونو د ځای کولو موخه څرګندول.

۲- د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په نصاب کې د متونو علمي ځانګړتياوې په ګوته ګول.

۳- د متونو په زده کړه او تدريس کې د متونو او مختصراتو غوښتنې جوتول.

**د څېړنې پوښتنې**

کولی شو د څېړنې پوښتنې اصلي او فرعي ته ووېشو او پدې توګه يې مطرح کړو.

اصلي پوښتنه: د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په نصاب کې متونه څه ارزښت لري؟

**فرعي پوښتنې**

۱- د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په نصاب کې د متونو د ځای کولو موخه څه ده؟

۲- د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په نصاب کې متونه کومې ځانګړتياوې لري؟

۳- د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په نصاب کې د متونو غوښتنې کومې دي؟

**د څېړنې مخينه**

په علمي نصابونو او عامو علمي ډګرونو کې د مختصراتو او متونو په اړه په عربي ژبه د کتاب او مقالو په بڼه عمومي ليکنې شوې دي چې ځينو يې يوازې د متونو منثور او منظوم انواع او اقسام ټول کړي او معرفي کړي، ځينو د هغو د حفظ او له ياده زده کولو ګټې او فائدې بيان کړي، او ځينو يې د طالب العلمانو په علمي وده او پوخوالي کې د هغو رول څېړلی دی؛ لکه:

۱- عبد العزيز بن إبراهيم بن قاسم، ۱۴۲۰هـ، الدليل إلى المتون العلمية (کتاب).

۲- محمد بن عبد الله المقشي،(...)، سلم المتون في مختلف الفنون (علمي مقاله).

۳- اسماعيل، ۲۰۱۹م، تعريف المتون وأقسامها (علمي مقاله).

۴- اسماعيل، ۲۰۱۹م، فوائد حفظ المتون (علمي مقاله).

۴- أمين صالح غماز، ۲۰۱۵م، المتون العلمية و دورها في اعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله).

خو د لسانس په کچه د د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په درسي منهج او نصاب کې د متونو د ارزښت، ځانګړتياوو او غوښتنو په اړه په پښتو ژبه زما د معلوماتو پر بنسټ کومه څېړنه نده تر سره شوې.

## د څېړنې منهج

د موضوع طبیعت ته په کتو سره د څېړنې منهج او تګلاره استقرائي او توصیفي غوره شوې ده.

## د متونو پېژندګلوي

### متن د لغت له مخې

(متن) دمیم په فتحې او د تاء په سکون سره د لغت له مخې په ډېرو معناوو اطلاق کیږي چې ځنې له هغو څخه په لاندې توګه دي:

قسم (لوړه)، نکاح، په تازیانه وهل، په ځمکه کې سفر، راګاږل او کشول، د ځمکې کلکه او لوړه برخه، غښتلی شخص، لفظ او داسې نور[٤].

دلته مراد له متن څخه الفاظ مراد دي، که څه هم ټولې معناوې سره نږدې دي؛ ځکه په ټولو کې د قوت، متانت او صلابت معنا پرته ده[٥].

### متن په اصطلاح کې

متن په اصطلاح کې ګڼو علماوو په مختلفو او سره نږدې عباراتو تعریف کړی دی چې دلته د ښې روښانتیا او ښې استفادې له پاره هغه ټول عبارتونه ذکر کیږي.

۱ - د یوفن مبادي او اصول چې په وړو رسالو کې راټول شوي او عادتا له هر ډول استطراداتو څخه لکه شواهد او مثالونو خالي وي.

۲ - متن هغه اصل کتاب چې د مسائلو اصول پکې لیکل کیږي، چې مقابل ته یې شرح ویل کیږي.

۳ - هغه علمي مختصرات چې بنسټي او اساسي مسایل پکې ځای پر ځای شوي وي.

۴ – د اهل علمو تر مینځ متداول مختصر کتاب.

۵ - هغه لیکنه چې شرح او حاشیه ولري؛ لکه د هدایې متن، چې مراد ترې بدایة المبتدي ده نه هدایه.

٦ - د هغه کتاب الفاظ چې شرح کیږي او حواشي پرې لیکل کیږي.

پدې توګه د (متن) اصطلاحي مفهوم له پورتنیو تعریفونوڅخه روښانه او مشخص کیږي چې ویلی شو متن عبارت دی له: په وړه رساله کې راټول شوې مختصر کلمات چې ښکلي عبارتونه لري، په اسانه لوستل کیږي، الفاظ یې لنډ وي، معناوې یې زیاتې وي، له تفصیلاتو او استطراداتو پاك وي که د نظم په بڼه وي او که د نثر په بڼه.[٦]

---

٤ - ابن فارس، (متوفی۳۹۵هـ)، معجم مقاییس اللغة ۲۹۴\۵، ابن منظور (متوفی ۷۱۱هـ)، لسان العرب ۳۹۸\۱۳.

٥ - ابن فارس، (متوفی۳۹۵هـ)، معجم مقاییس اللغة ۲۹۴\۵. ودې کتل شي: إسماعیل، ۲۰۱۹م، تعریف المتون وأقسامها(علمي مقاله).

٦ - عبد العزیز بن ابراهیم، ۱۴۲۰هـ، الدلیل إلی المتون العلمیة: ص ۴۰، أمین صالح غماز، ۲۰۱۵م، المتون العلمیة و دورها في إعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله).

**د متنونو ډولونه**

متنونه ځانته متعدد او مختلف اعتبارونه لري چې دهغو له مخې سره ويشل شوي دي.

د زده کونکو د مستوی په اعتبار سره متنونه په درې ډوله دي:

۱ - د مبتدئينو او لومړنيو زده کوونکو لپاره په يوه ځانګړي علم کې ليکل شوي متنونه. چې غالبا لنډ، اسانه او د دوي له مستوی سره مناسب وي.

۲ - د متوسطينو لپاره ليکل شوي متنونه چې له لومړي ډول څخه پکې معلومات او تفصيلات نسبتا زيات وي.

۳ - د متقدمينو (المنتهينو) لپاره ليکل شوي متنونه چې د يو علم په هکله پکې له مخکينيو دواړو ډولونو څخه پراخ او ژور معلومات ځای پر ځای شوي وي.

متنونه د وخت او زمانې له مخې په دوه ډوله دي:

۱ - پخواني او قديمي متنونه.

۲ - نوي او معاصر متنونه.

متنونه د ليکنې د بڼې او طبيعت له مخې په دوه ډوله دي.

۱ ـ نثري متنونه يا منثور متنونه، چې دا ډيری دي.

۲ ـ منظوم متنونه په شعري بڼه چې دې ډول ته تعليمي شعر هم ويل شوی.

منظوم متنونه په دوه ډوله دي.

په يو مستقل علم کې ليکل شوی متن او په څو علمونو کې ليکل شوی متن.[۷]

**په مناهجو کې د اصلي متونو د ايښودو موخه**

د متنونو او مختصراتو د ليکلو موخه د کوم نفلي عمل ترسره کول يا د علمي هوس پوره کول نه، بلکې يوه ستره موخه او ستر مقصد دی چې هغه دعلم په زده کړه کې د تدرج او پړاويزتوب اصل او اساس پامنيوی دی، کوم چې د تعليم او تحصيل له ثوابتو څخه دي. د متنونو او مختصراتو موخه د لومړنيو اسانه مسايلو راټولو دی څو دعلم په طلب کې يوه ګټوره پيلامه وي[۸].

**پر متنونو نيوکه**

ابن خلدون صاحب (متوفی ۸۰۸هـ) د خپل تاريخ په شپږ دېرشم فصل کې په تعليم کې د مختصراتو قضيه څېړلې ده او د متأخرينو د زيات شمېر علماوو پر متنونو باندې يې نيوکه کړې او هغه يې د يسر او

---

[۷] - محمد بن عبد الله المقشي، (...)، سلم المتون، ص:٦٦-٦٥، عبد العزيز، ۱۴۲۰هـ. الدليل إلى المتون العلمية، ص: ۴۰، أمين صالح غماز،۲۰۱۵م، المتون العلمية و دورها في اعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله).

[۸] - إسماعيل عبد عباس،۲۰۱۹م، فوائد حفظ المتون (علمي مقاله).

بلاغت پر خلاف او د مبتدیانو په ضرر ګڼلي دي، لکه په فقه او اصول فقه کې د ابن حاجب مصري (متوفی۶۴۶هـ) متنونه، په عربیت کې د ابن مالك اندلسي (متوفی ۶۷۲هـ) متنونه او په منطق کې د افضل الدین خونجي (متوفی۶۴۶هـ) متنونه.[۹]

خو د ابن خلدون صاحب د نیوکې سره، سره متون لاندې ښیګڼې لري.

۱. متنوع، ډېر او ژور معلومات او د هغو محکم ترتیب له ځان سره لري.
۲. د یوه فن اجمالي تصویر وړاندې کوي چې زده کوونکی کولی شي په لږ وخت کې یې په ذهن کې کېنوی.
۳. دغه متنونه ځانګړي جهد غواړي چې په زده کوونکو کې ځانګړې علمي ملکه رامنځته کوي.
۴. متنونه ډېر علمي حقیقتونه په څو پاڼو کې راټولوي چې په اسانۍ سره حفظ کېدای شي او هر وخت او هر ځای کې ترې استفاه ممکنه ده.
۵. د متنونو په حفظ سره د طالب العلم بلاغت، فصاحت، بیان، او لغوي او انشائي اړخونه تقویت مومي.
٦. په ذهن کې د معلوماتو پاتې کېدل، او د دې ګټه هلته څرګندیږي چې کله کتاب ورك شي، یا تیاره وي او رڼا نه وي او یا سترګې ړندې یا کمزورې شي او یا کومه بله ستونزه وي چې لیکلي معلوماتو ته لاس رسی ګران وي.
۷. په بیړه او اسانۍ سره معلومات استحضارېدل. په کره توګه د علم ضبط، ورسره د حافظې غښتلتیا، د هوښیارۍ وده او د وخت سپما.
۸. متن د یوه علم مدخل دی چې په لږ وخت او اسانۍ سره پرې زده کونکی د علم تل ته لاره کولی شي.
۹. متن هغه بنسټ او تاداو ته ورته دی چې دنګې ماڼۍ پرې ودانیږي.
۱۰. څوك چې متن حفظ کړي هغه تر نورو زیات د ابتکار، ابداع او اجتهاد وړتیا تر لاسه کولی شي.
۱۱. د متن په حفظ سره طالب العلم سل په سلو کې په خپله خبره باوري او ډاډمن وي.
۱۲. پدې عصر کې چې جعلي او د درواغو اسناد ډېر دي د متن حفظ تر ټولو ښه سند او شهادتنامه ده[۱۰].

---

[۹] - ابن خلدون، (متوفی۸۰۸)، تاریخ ابن خلدون: ۷۳۳\۱

[۱۰] - عبد العزیز، ۱۴۲۰هـ، الدلیل إلی المتون العلمیة، ص: ۷۰، أمین صالح غماز، ۲۰۱۵م، المتون العلمیة و دورها في اعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله)، أبو مالك العوضي، ۲۰۰۷م، لماذا ینصحُ أهلُ العلم بحفظ المتون؟ (علمي مقاله).

**د مختصراتو او متني مضامينو ځانګړتياوې**

د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په تعليمي منهج او نصاب کې اصلي متون ګڼ شمېر ځانګړتياوې لري چې د نوموړو متونو په تدريس کې ځانګړې غوښتنې لري چې که هغه په نظر کې ونه نيول شي او مراعات نکړی شي نو تدريس به خورا بې کيفيته او بې مزې وي او منهج به خپل هدفونه ترلاسه نکړی شي.

دلته په لنډه توګه لومړی د دغو متونو له ځانګړتياوو او ورپسې د هغوله تدريسي غوښتنو څخه يادونه کېږي:

**لومړی: ځانګړتياوې**

**۱- تاريخي لرغونتيا او قدامت**

دمتنونو لومړنۍ ځانګړنه او مشخصه د هغوی تاريخي لرغونتيا او قدامت دی. تاريخي قدامت او وړاندې والی په ډېرو مسايلو کې خورا مهم ارزښت بلل کېږي. له نيکه مرغه د شرعياتو او اسلامي علومو پوهنځيو په خپل درسي منهج او نصاب کې د پېړيو پېړيو پخواني متونه لري چې له هماغه وخته تر نن پورې په منظمه توګه تدريس کيږي.

**۲- د ژبې اصالت**

په عمومي توګه ژبه د وخت په تيريدو تغيير مومي او د خلکو او ټولنې له هراړخيزو بدلونونو او پرمختګونو سره بدلون مومي، که تاسو د پښتو او دري د څو پيړيو مخکې کوم متن پيدا کړئ نو په ګرانه به يې ولولئ او په معنی به يې پوه شئ. دا ځکه چې مونږ د پښتو او دري ژبو ډير څه له لاسه ورکړي دي، خو عربي ژبې خپله اصيله بڼه ساتلې ده چې پدې کې مهم او اساسي رول همدغو متنونو لوبولی دی.

**۳- د افکارو او تجاربو ځنځيري تسلسل**

د شرعي علومو متونه او په مختلفو پړاوونو کې د هغو شروح، حواشي او تعليقات په مجموع کې د پخوانيو علماوو د تجاربو، افکارو، تصوراتو، عواطفو، مشاعرو او استعدادونو ځنځيري تسلسل دی چې د علم او پوهې پرمختيايي او انکشافي توريث او تداوم يې جوړکړی دی.

**۴- د الفاظو قوت او د عبارت پوخوالی او ايجاز**

قوي الفاظ او کلمات، لنډ او موجز ترکيبات او د لوړې مستوا علمي عبارتونه د متونو بل هغه ځانګړی ډګر دی چې که له يوې خوا د هغوی د مؤلفينو د لوړو استعداد، علمي دقت، وړتياوو او عالي افکارو

څرګندونه کوي، له بلې خوا په جوامع الکلم کې اصول راټولول او له تفصیلاتو او جزئیاتو څخه ډډه ده څو د حفظ او له یادو زده کولو لپاره مناسب وي.

د یادونې وړ ده چې زمونږ د امت دسترو عالمانو زیاته اتکاء پر حفظ باندې وه څکه نو هغوی د اسلامي علومو په هره څانګه کې یو شمېر مختصر متونه د حفظ لپاره جلا کړي وو. زمونږ د سیمې علماوو هم څانته د حفظ لپار څانګړي متونه لرل؛ لکه چې وایي:

کافیه با شافیه، تلخیص، سلم، حسامي این پنج یاد کن که شوي مولوي جامي.

زما په یاد دي چې په مدرسو کې به څنو طالب العلمانو د ابن حاجب صاحب کافیه او د میر سید شریف جرجاني (متوفی۸۱٦هـ) صرف میر له یادو زده کوله!

حقیقت دادی چې د اسلامي علومو یو شمېر متونه، د هغو لیکنه او حفظول د اسلامي امت د متقدمینو پوهانو دلوړ همت، پراخو حوصیلو او پیاوړو ارادو څرګندونه کوي چې متاسفانه نن سبا مونږ وینو چې د قرآن کریم د مفصلو سورتونو د قصارو حفظ هم په څنو باندې بوج وي!

**۵ - ثابت او واحد مرجعیت**

متونه هغه اصیل او ثابت مراجع دي چې زمونږ فکري او علمي مرجعیت ته یې وحدت او ثبات وربښلی دی او په عامه توګه یې د امت د علمي او فکري وحدت په مسئله کې خورا مهم رول لوبولی دی، په افریقا کې د مصري عالم امام طحاوي رحمه الله (متوفی ۳۲۱هـ) د (العقیدة الطحاویة) متن د دې خبرې یو غوره شاهد دی چې په ټوله اسلامي نړۍ کې لوستل کیږي.

نن سبا د امت په فکري او علمي ډګرکې یوه اساسي تشه د فکري او علمي مراجعو تشتت او بې ثباتي ده چې امت یې وېشلی، په جګړو یې اخته کړی او بلا فتنې او بدمرغۍ یې زېږولي دي.

**د متونو یو شمېر مشهور مثالونه**

العقیدة الطحاویة د امام طحاوي او جوهرة التوحید د ابراهیم لقاني مصري (متوفی ۱۰۴۱هـ) په عقیده کې.

سفینة النجاة د سالم الحضرمي (متوفی ۱۲۷۱هـ) او د أبي شجاع (متوفی ۵۰۰هـ) متن (الغایة و التقریب) په شافعي فقه کې.

الورقات د امام الحرمین جویني (متوفی۴۷۸هـ) په اصول فقه کې.

کافیه د ابن حاجب مصري (متوفی٦۴٦هـ) په نحو کې.

شافیه د ابن حاجب مصري (متوفی٦۴٦هـ) په صرف کې.

الفیه د ابن مالك اندلسي (متوفی ٦۷۲هـ) په نحو کې.

مختصر التحرير لابن النجار فتوحي مصري (متوفی۹۷۲هـ) په حنبلي اصول فقه کې.
الآجرومية د ابن آجروم (متوفی۷۲۳هـ) په نحو کې.
بغية الباحث عن جُمل الموارث (متن الرحبية) د موفق الدين رحبي (متوفی۵۷۷هـ) په ميراث کې.
المقدمة الجزرية د ابن الجزري دمشقي (۸۳۳هـ) په تجويد کې او داسې نور.
زمونږ په سيمو کې الفقه الاکبر امام أبوحنيفه رحمة الله عليه (متوفی ۱۵۰) ته منسوب کتاب، مختصر القدوري د ابو الحسن قدروي بغدادي(متوفی ۴۲۸هـ)، کنز الدقائق د ابوالبرکات نسفي (متوفی ۷۱۰هـ)، اصول الشاشي د نظام الدين شاشي (متوفی۳۴۴هـ)، حسامي د حسام الدين اخسيکثي (متوفی۶۴۴هـ)، نظم مائة عامل – دري- د کمال الدين محمد هروي (متوفی۸۷۵هـ) او صرف بهايي دبهاء الدين آملي (متوفی ۱۰۳۰هـ) له خورا مهمو متونو څخه شمېرل کيږي.

## دوهم: د متونو د يادولو او تدريس غوښتنې

د متني کتابونو د زده کړې او تدريسي تګلاره په تيرو وختو کې په دوه مهمو ستنو ولاړه وه: ساده وسايل او علمي څواک:

۱. د وسايلو ساده ګي: په طبيعي توګه په پخوا زمانو کې د وسايلو کمښت و او دا يوه مثبته نکته هم بللی شو چې تدريس اسانه او ساده و او تر وسايلو پورې ډېر نه وتړلی. د يوې موضوع د زده کولو او د تدريس لپاره يواځې کتاب، قلم، کاغذ او کله کله خو يواځې کتاب هم کفايت کاوه چې استاذ او طالبان به يې سره راټول کړي وو چې دا بيخي ساده او لومړني وسايل دي.

۲. علمي څواک: له بلې خوا د وسايلو کمښت په علمي څواکمنۍ او ژورتيا سره جبيره شوی و، هر څوک شيخ او مدرس کيدی نشو، او هر څوک طالب العلم کيدی نشو. څو پورې به چې يو تن په ټولو مختلفو علومو کې متبحر نه و د تدريس پر مسند نشو کښيناستی، هلته د نن په څير علوم تجزيه او پر تخصصاتو دومره نه وو ويشل شوي، بلکې سره ګډ وو.

مونږ ګورو چې زمونږ متقدمين علماء هر يو يې د دائرة المعارف حيثيت درلود، او ډېرو يې د شيخ الاسلام، شمس الاسلام، شمس الأئمه امام، فريد عصره، ليس له نظير، جامع المنقول والمعقول . . . القاب خپل کړي وو.

مخکنيو علماوو د متونو د يادولو لپاره د هغو دغوښتنو د رعايت په هکله خپل اصول توصيات لرل:

۱. امام نووي (متوفی۶۷۶هـ) ويلي دي: طالب العلم ته ښايي چې په هر فن کې يو لنډ متن حفظ کړي او له خورا مهم څخه پيل وکړي، مثلا له فقهي او نحوې پيل وکړي، بيا حديث او اصول فقه، بيا ورپسې نور، او وروسته له هغه د محفوظاتو په شرح او توضيح باندې بوخت شي. هغه زياتوي: طالب العلم به

لومړی د قرآن کریم په حفظ پیل کوي ځکه همدا تر ټولو مهم علم دی، او سلفو علماوو به د حدیثو او فقهې علم هغه چاته ورښووه چې قرآن به یې حفظ کړی و.

۲. هغه متن غوره شي چې علماوو ورته ډیره پاملرنه کړې وي، د یادونې وړ ده چې منظوم متنونه ښه او ژر زده کیږي.

۳. د متنونو په حفظ کې باید تدرج – پړاویزتوب – او منطقي ترتیب رعایت شي؛ ټول څه په یو وخت کې حفظول یا بې ترتیبه حفظول د سلفو له لارې مخالفت دی او ښه پایله نه لري.

۴. له پای څخه به پیل نه کوي او په حفظ کولو کې به بیړه هم نکوي؛ ځکه څه شی چې په بیړه حفظ شي په بیړه هیریږي هم، نو د لومړني متن له پخېدو وړاندې به بل متن نه پیلوي. که له حفظ نه وروسته د هغه مراجعه او پخول ونه شي زده کړی متن به له یاده ووځي.

۵. له متن څخه مخکې به شرح او له مختصر څخه مخکې به مطول نه لولي، بلکې لومړی به متن او مختصر لولي او له یو تن استاذ څخه به یې ځان په معنی او مفهوم ښه پوه کوي او بیا به له هغه وروسته شروحو او مطولاتو ته ورځي.

۶. مبتدي طالب العلمان دې له ډېرو لنډو او ډېرو سختو مختصراتو څخه ډډه وکړي کوم چې معنی او مفهوم یې نشي درک کولی. ځکه د وخت له ضیاع سره، سره پرې مفاهیم ګډوډېږي او له علم څخه زړه تورن کیږي.

۷. چې د کوم متن لوستل پیل شول نو هغه دې په بشپړه توګه تکمیل کړي، او دا فکر دې نه کوي چې په دوهم ځل به یې پوره ولولي! بلکې داسې دې انګېرې چې دا کتاب بیا هیڅکله نه لولي؛ نو همدا ښه فرصت دی او ټول مسایل دې ولولي او زده دې کړي.

۸ . د یوه متن د لوستلو پر وخت دې د بل علم متن ورسره یو ځای نه لولي تر څو یې ذهن متشتت نه شي.

۹ . ښه داده چې طالب العلم لومړی قرآن کریم حفظ کړي او له هغه نه دې د نورو متنونو په حفظولو نه بوختیږي. ځکه قرآن کریم د دیني علومو اصل او بنسټ دی[11]

## موندنې او مناقشه

د څېړنې په بهیر کې د موضوع په اړه یوشمېر موندنې په لاس راغلې چې په لنډه توګه یې یادونه کوو:

[11] - امام نووي، (متوفی٦٧٦هـ)، المجموع شرح المهذب: ٣٨/١، محمد بن عبد الله المقشي (...)، سلم المتون، ص:-٦٥ ٦٦، عبد العزیز، ۱۴۲۰هـ، الدلیل إلی المتون العلمیة، ص: ۴۰ – ۷۰.

۱. د متن په اصطلاحي تعريف کې که څه هم مختلف او متعدد عبارتونه مخې ته راغلل خو کولی شو چې هغه ټول په لاندې عبارت کې راټول او يو جامع تعريف ترې وکړو:

په وړه رساله کې راټول شوې مختصر کلمات چې ښکلي عبارتونه لري، په اسانه لوستل کيږي، الفاظ يې لنډ وي، معناوې يې زياتې وي، له تفصيلاتو او استطراداتو پاک وي؛ که د نظم په بڼه وي او که د نثر په بڼه متن بلل کيږي.

۲. د متنونو متعدد او مختلف ډولونه ذکر شوي چې ظاهرا يو ډول تناقض ښکاري؛ خو کله چې له هر تقسيم سره د هغه ځانګړی اعتبار په نظر کې ونيول شي نو بيا تناقض دفع کيږي. لکه د زده کونکو د مستوی اعتبار، د زماني اعتبار، د ليکنې دبڼې او طبيعت اعتبار او داسې نور.

۳. علامه ابن خلدون په تعليم او تدريس کې د ځينو متأخرينو پر متنونو باندې نيوکه کړې او هغه يې د يسر او بلاغت پر خلاف او د مبتديانو په ضرر ګڼلي دي، خو که مونږ د زده کوونکو د مستواوو له مخې د متنونو وېش په نظر کې ونيسو نو د ابن خلدون انديښنه ورسره رفع کېدلای شي. ځکه متنونه چې کوم غموض او سختي لري هغه څه عيب ندی، بايد زده کوونکی له يو عادي شخص نه يو څه امتياز ولري. خليل بن أحمد (متوفی ۱۷۰هـ) ويلي: که غوښتلی مو چې مسايل داسې شرح کړو چې غبنتلی او کمزوری پکې دواړه برابر وي نو کولی مو شول، خو پکار ده چې تر مونږ وروسته د زده کونکو د جهد او کوښښ امتياز څرګند وي.

۴. متنونه او مختصرات د شروحو او مطولاتو په نسبت يو شمېر ځانګړتياوې لري؛ لکه:

۱. تاريخي قدامت

۲. د ژبې اصالت

۳. د افکارو اوتجاربو ځنځيري تسلسل

۴. د الفاظو قوت او دعبارت پوخوالی او ايجاز

۵. ثابت او واحد مرجعيت.

خو که دغو ځانګړنو ته ژور نظر وشي نو درک به شي چې له اختصار پرته نورې ځانګړنې يو شمېر شروح او مطولات هم له ځان سره لري، په ځانګړې توګه کله چې د متن او مختصر مؤلف په خپله خپل متن شرح کړی وي او يا يې په عين موضوع کې بل مفصل کتاب ليکلی وي، لکه د (بداية المبتدي) متن او (هداية) دهغه شرح چې دواړ د برهان الدين مرغيناني (متوفی۵۹۳هـ) رحمه الله ليکنه ده.

خو کیدلی شي چې نومړې ځانګړتیاوې په متونو کې زیاتي او اغلبې وي او په شروحو او مطولاتو کې بیا د هغو په نسبت کمې وي. والله اعلم.

۵. امام نووي او یو شمېر نورو علماوو د متونو د زده کړې او تدریس په اړه په خپلو توصیو کې دا هم ویلي چې: طالب العلم ته ښایي چې په هر فن کې یو لنډ متن حفظ کړي او له مهم څخه پیل وکړي، مثلا له فقهې او نحوې پیل وکړي، بیا حدیث او اصول فقه، بیا ورپسې نور، او وروسته له هغه د محفوظاتو په شرح بوخت شي. همداسې لومړی به طالب العلم د قرآن کریم په حفظ پیل کوي او وروسته له هغه به حدیث او فقه وایي، له متن څخه مخکې به شرح او له مختصر څخه مخکې به مطول نه لولي، په یو وخت دې دوه مختلف متونه نه لولي.

خو په پام کې مو وي چې د متونو په اړه پورتنۍ ډېری لارښوونې د مبتدئینو طالب العلمانو لپاره دي چې دلسانس مرحلې له محصلینو سره توپیرونه لري. په همدې توګه پخوا دغسې تحصیلي او تعلیمي مؤسسې دومره نه وې چېرته چې نن سبا په یو وخت کې پکې په لسګونو متخصص استاذان شتون لري او د یوه ګڼ او دقیق تقسیم اوقات له مخې په یو وخت کې ګڼ او مختلف مضامین تدریس کیږي.

نورې لارښوونې او توصیات بیا نن سبا په ټولو تعلیمي او تحصیلي مؤسساتو کې د رعایت او التزام وړ دي.

نن سبا چې له یوې خوا د وسایلو پرېمانې ده او لاس رسی ورته هم تر ډېره بریده اسانه دی، او له بلې خوا د علمي ودې او پراختیا له کبله د درسي منهج او نصاب له پاره متونه، شروح، حواشي، تعلیقات، تنقیحات، اختصارات، تهذیبونه ... په ښه توګه چمتو شوي او د کتاب او برېښنایي لیک په بڼه تر لاسه کیږي. نو ښایي چې د متونو تدریسي بهیر د هغو د ټولو تخنیکي او علمي غوښتنو په نظر کې نیولو سره تر هر وخت زیات په زړه پورې او نتیجه ورکونکی وي.

د شرعیاتو او اسلامي علومو په پوهنځیو کې د متونو د تدریس په بهیر کې زده کوونکي او استاذان ښایي لاندې نکتې په نظر کې ونیسي:

- زده کوونکي دې د متن مهمې برخې حفظ کړي.
- زده کوونکي دې هر نوی درس له پخوا څخه ځان سره ژور ولولي، که یې ستونزې لرلې په تکرار سره دې ولولي او ښه فکر دې پکې وکړي.
- که یې خپله ونشو کولی ستونزه حل کړي نو کوښښ د وکړي د متن له حواشیو څخه په استفادې سره د ستونزې حل پیدا کړي.

- که يې بيا هم ستونزه حل نه کړی شوه د نوموړي متن شرحې ته دې مراجعه وکړي او له هغې څخه په استفادې سره دې ستونزې حل کړي.
- که ستونزې حل نه شوې، ستونزې دې په نښه کړي او د درس په بهير کې دې ورته ځانګړې توجه وکړي؛ که ستونزې بيا هم حل نشوې له استاذ سره دې مستقلا مطرح کړي.
- استاذ دې کوښښ وکړي متن پر زده کوونکو باندې ولولي څو پوه شي چې زده کونکو درس په کوم حد کې مطالعه کړی؟ څومره پوهيدلي او کومو ځايو کې ستونزې لري؟
- استاذ دې د عربي ژبې او د هغې د قواعدو په رڼا کې د متن الفاظ تحليل او توضيح کړي پداسې توګه چې مفهوم يې په ټوله معنی روښانه او هيڅ ډول ابهام پکې پاتې نشي.
- که نوموړی متن شرح ولري استاذ دې ارومرو شرح ورسره وګوري او خپل ټاکلی تدريس دې ترې چمتو کړي.
- که متن شرح نه لرله نو استاذ دې په همدغه موضوع کې نسبتا تفصيلي کتاب ته مراجعه وکړي.
- که متن منظوم وي کوښښ دې وکړي چې که همدغه موضوعات په منثوره بڼه موندل کيدل نو هغه دې ورسره وګوري.
- که عين موضوع د دوو تنو له خوا ليکل شوې وه استاذ دې کوښښ وکړي دوهم متن ته هم مراجعه وکړي.

**پايلې**

د (شرعياتو پوهنځيو په درسي منهج کې د متونو ارزښت- ځانګړتياوې او غوښتنې) تر عنوان لاندې پورتنۍ لنډې او ځغلندې څېړنې څخه لاندې پايلې په لاس راغلې:

۱. د علم زده کړه يوه شرعي فريضه، غوره عبادت او الله پاک ته د قربت تر ټولو ښه وسيله ده. محصلينو او طالب العلمانو ته چې د علم په زده کړه کې ښه مرسته کولی شي هغه د درسي منهج او نصاب د يو لړ علمي متونو حفظ او ښه لوستل دي.

۲. په مناهجو او نصابونو د بدلون او پراختيا په حال کې دې د متونو برخليک روښانه، ډاډمن او د زياتې پاملرنې وړ وي.

۳. د شرعي علومو د زده کوونکي په اعداد او په هغوی کې د فقهي ملکې پيدا کولو کې د متونو او مختصراتو د حفظ او يادولو رول خورا څرګند دی.

۴. متن د يوه علم مدخل دی چې زده کوونکی په لږ وخت او اسانۍ سره پرې د علم تل ته لاره کولی شي.

۵. د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په تعلیمي منهج او نصاب کې اصلي متونه ګڼ شمېر ځانګړتیاوې لري چې د نوموړو متونو په تدریس کې ځانګړي غوښتنې را مینځ ته کوي او د منهج د مؤثریت او افادیت لپاره یې رعایت اړین دی.

٦. تاریخي قدامت، د ژبې اصالت، د افکارو او تجاربو ځنځیري تسلسل، د الفاظو قوت، د عبارت پوخوالی او ایجاز، ثابت او واحد مرجعیت د علمي متونو او مختصراتو له مهمو ځانګړتیاوو شمېرل کیږي.

۷. مخکنیو علماوو د متونو د یادولو لپاره د هغو د غوښتنو د رعایت په هکله خپل مهم او ګټور توصیات لرلي دي چې کولی شو د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په نصاب کې د متونو په زده کړه او تدریس کې ترې ستره ګټه پورته کړو.

۸. نن سبا چې له یوې خوا د وسایلو ډېرښت او پرېماني ده او لاس رسی ورته هم تر ډېره بریده اسانه دی، او له بلې خوا د علمي ودې او پراختیا له کبله د درسي منهج او نصاب له پاره متونه، شروح، حواشي، تعلیقات، اختصارات، تهذیبونه... په ښه توګه چمتو شوي او پرېمانه تر لاسه کیږي نو د متونو په تدریسي بهیر کې د هغو د ټولو تخنیکي او علمي غوښتنو په نظر کې نیول د هغو د لا افادیت او مؤثریت له پاره تر هر وخت زیات اړین دي.

**سپارښتنه**

د شرعیاتو د متخصصو استاذانو یوه کمیټه جوړه شي څو د شرعیاتو پوهنځیو د درسي نصاب لپاره مناسب متونه غوره او له خپلو غوښتنو سره د نصاب برخه وګرځول شي.

**سرچينې**

ابن خلدون عبد الرحمن بن محمد بن محمد، ابن خلدون أبو زيد، ولي الدين الحضرمي الإشبيلي (المتوفى: ٨٠٨هـ)، ديوان المبتدأ والخبر في تاريخ العرب والبربر ومن عاصرهم من ذوي الشأن الأكبر (تاريخ ابن خلدون)، المحقق: خليل شحادة، الناشر: دار الفكر، بيروت، الطبعة: الثانية، ١٤٢٠هـ.

ابن فارس أحمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي، أبو الحسين (المتوفى: ٣٩٥هـ)، معجم مقاييس اللغة، المحقق: عبد السلام محمد هارون، الناشر: دار الفكر، ١٣٩٩هـ.

ابن منظور محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى ٧١١هـ)، لسان العرب، الناشر: دار صادر– بيروت، الطبعة الثالثة - ١٤١٤هـ.

عبد العزيز بن إبراهيم بن قاسم، الدليل إلى المتون العلمية، الناشر: دار الصميعي للنشر والتوزيع، الرياض - المملكة العربية السعودية، الطبعة: الأولى، ١٤٢٠ هـ -.

محمد بن عبد الله المقشي، سلم المتون في مختلف الفنون (پرته له نورو مشخصاتو).

النووي أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى ٦٧٦هـ)، المجموع شرح المهذب - مع تكملة السبكي والمطيعي-، المؤلف: الناشر: دار الفكر.

أبو مالك العوضي، لماذا ينصحُ أهلُ العلم بحفظ المتون؟ مقال: (على صفحته في موقع الألوكة)

إسماعيل عبد عباس، تعريف المتون وأقسامها، تاريخ الإضافة: ٢٠١٩\٢\٥ ميلادي – ١٤٤٠\٥\٢٩ هجري، رابط الموضوع https://www.alukah.net

إسماعيل عبد عباس، فوائد حفظ المتون، تاريخ الإضافة: ٢٠١٩\٢\١٢ ميلادي – ١٤٤٠\٦\٦ هجريhttps://www.alukah.net

أمين صالح غماز٢٠١٥م، المتون العلمية ودورها في إعداد طالب العلم الشرعي.مقال علمي بصفحة قسم الدراسات الاسلامية بكلية العلوم والآداب للبنات بتهامة، جامعة الملك خالد.

# تحقیق سازمانی و نقش آن در انکشاف نهادهای تحصیلات عالی

**پوهنوال اسدالله صمدی**

دیپارتمنت پاراکلینیک، پوهنځی علوم وترنری، پوهنتون کابل، کابل، افغانستان

ایمیل: assad.samadi@gmail.com

**چکیده**

نهادهای تحصیلات‌عالی معتبرترین مراکز طرح و اجرای تحقیقات‌علمی اند و جامعه توقع دارد تا نتیجۀ این تحقیقات شرایط اجتماعی- اقتصادی مردم را بهبود بخشد. اما، سؤال عمده در این است که آیا تمام فعالیت‌های نهادهای تحصیلات‌عالی مطابق نیاز جامعه عیار گردیده اند؟ یگانه رویکرد که می‌تواند به این سؤال پاسخ دهد، تحقیق‌سازمانی است. تحقیق‌سازمانی مجموعۀ فعالیت‌هایی است که برعلاوه از ارزیابی فعالیت‌های عادی نهاد، رابطۀ یک نهاد و محیط آن‌را جهت برنامه‌ریزی مؤثر، انکشاف پالیسی‌ها و گرفتن تصمیمات درست، مورد مطالعه قرار می‌دهد. زیرا نهادهای تحصیلات عالی معاصر با چالش‌های جدید مانند مشکلات اقتصادی، تغییر ساختارهای اکادمیک، تکنولوژی‌های سریعاً در حال تغییر، افزایش نیازمندی‌ها برای اعتباردهی و این‌که چطور مأموریت‌های تدریس، تحقیق و خدمات را متوازن سازند، مواجه اند. بنابرین، اکثر علما تحقیقات‌سازمانی را به حیث هوش‌سازمانی و مرکز پشتیبانی تصمیمات سازمان تلقی نموده اند. در این مقاله مروری مشخصات تحقیقات‌سازمانی و نقش آن‌ها در انکشاف نهادهای تحصیلات‌عالی به بحث گرفته شده است.

**اصطلاحات کلیدی:** تحقیق‌سازمانی؛ هوش ویا درک سازمانی؛ انکشاف؛ برنامه‌ریزی؛ نهادهای تحصیلات عالی

# Institutional Research and Its Role in the Development of Higher Education Institutions

**Associate Prof. Assadullah Samadi, DVM, MVSc**

Department of Paraclinic, Faculty of Veterinary Sciences, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: assad.samadi@gmail.com

**Abstract**

Institutions of higher education stand as the most dependable bastions for the conception and execution of scientific research, and society anticipates that the outcomes of these endeavors will enhance the socio-economic well-being of its populace. However, a fundamental query arises: Have all the activities of higher education institutions been harmonized with the societal needs of the moment? The only framework capable of addressing this inquiry effectively is institutional research. Institutional research encompasses a comprehensive array of activities focused on scrutinizing the interplay between an institution and its surrounding environment, aiming to facilitate strategic planning, policy development, and informed decision-making. In the contemporary landscape, higher education institutions grapple with numerous novel challenges, including economic constraints, evolving academic structures, rapid technological advancements, heightened quality assurance demands, and the delicate equilibrium between the imperatives of teaching, research, and service missions. Consequently, many scholars regard institutional research as the fulcrum of organizational intelligence and as pivotal in offering decision support to institutions. This review article elucidates the defining characteristics of institutional research and underscores its paramount role in nurturing the growth and advancement of higher education institutions.

**Keywords**: Institutional Research; Organizational Intelligence; Development; Planning; Higher Education Institutions

## مقدمه

نهادهای تحصیلات عالی فعالیت‌های مختلف تدریس، تحقیق و ارائه خدمات را برای بخش‌های متفاوت افراد جامعه در سطوح مختلف انجام می‌دهند. این مراکز با تربیه‌ی متخصصین و افراد مسلکی و اجرای تحقیقات مختلف بنیادی و کاربردی شرایط زندگی را برای موجودات روی زمین بهود بخشیده و زمینه‌ی رفاه جوامع بشری را فراهم ساخته اند. در حال حاضر بیش از ۲۳۶۵۴ نهاد تحصیلات عالی در سطح دنیا فعالیت می‌نمایند (*Erudera,* 2023 ) که نزدیک به ۲۳۵ میلیون محصل در آن‌ها در سطوح مختلف لیسانس و فوق لیسانس مصروف تحصیل‌اند (*UNESCO,* 2023). از نگاه تعداد نهادهای تحصیلات عالی در سطح جهان، هند با داشتن ۵۲۸۸ نهاد تحصیلات عالی در صدر کشورهای جهان قرار دارد که به تعقیب آن ایالات متحدهٔ آمریکا (۳۲۱۶)، اندونیزیا (۲۵۹۵) و چین (۲۵۶۵) موقعیت دارند (*Statista,* 2023). در افغانستان نیز ۳۹ نهاد تحصیلی دولتی و ۱۴۰ نهاد تحصیلات عالی خصوصی فعالیت می‌نمایند که از جمله تا حال (۹ دلو ۱۴۰۱ هـ.ش) صرف ۹ پوهنتون دولتی و ٦ پوهنتون خصوصی توانسته‌اند اعتبار داخلی را کسب نمایند؛ اما هیچ نهاد تحصیلی موجود در افغانستان تا حال نتوانسته است اعتبار خود را از کدام نهاد بین‌المللی اعتباردهی اخذ نماید (صفحه اصلی |وزارت تحصیلات عالی n.d.,).

نهادهای تحصیلات عالی معاصر در سطح جهان با چالش‌های جدید مانند مشکلات اقتصادی، تغییر مدیریت و ساختارهای اکادمیک، تکنولوژی‌های سریعاً در حال رشد، افزایش نیازمندی‌ها برای اعتباردهی و رتبه‌بندی پوهنتون‌ها و این‌که چطور مأموریت‌های تدریس، تحقیق و خدمات را متوازن سازند، مواجه‌اند (Webber & Calderon, 2016). محصلان در شرایط امروز تفاوت بسیار زیادی با گذشته دارند؛ چنان‌چه در میان آن‌ها تنوع وسیع از نگاه سن، جنس، دیدگاه، و سایر مشخصات موجود است. طوری‌که اوسط سن محصلان نسبت به گذشته به‌ویژه در بخش شبانه و برنامه‌های فوق لیسانس بالا رفته است. اکثر آن‌ها در حالی‌که دارای وظیفه اند، با تکنوژی‌های روز نیز آشنایی دارند. اکثر آن‌ها موبایل‌های هوشمند و کمپیوتر و موتر شخصی دارند و خود را به حیث مشتری پوهنتون‌ها تلقی می‌نمایند (Muller et al., 2016). باتوجه به این نکات، سبک‌های قدیم برنامه‌ریزی و مدیریت دیگر کارا نیستند و تصامیم و برنامه‌ریزی‌ها باید تحقیق‌محور گردند و ارقام و معلومات لازم و مؤثر نهاد و محیط آن باید همیشه در اختیار مدیران بلندرتبه و تصمیم‌گیر قرار گیرند تا زمینه‌ی فعالیت‌های تحقیقی را برای پلان‌گذاری‌های مؤثر در نهادهای تحصیلی محقق سازند (Swing, 2016).

تحقیق سازمانی یک حوزه‌ی وسیع فعالیت‌های است که در مراکز تعلیمی و تحصیلی (مانند مکاتب، انستیتوت‌ها، کمیونیتی‌کالیج‌ها و پوهنتون‌ها) بخاطر گرفتن تصامیم درست و برنامه‌ریزی منظم در

ساحات اداری، مالی، ارزیابی نصاب تحصیلی، مدیریت ثبت نام، فعالیت کارمندان، رضایت محصلان، مدیریت لیلیه‌ها، امکانات و تسهیلات، مسائل ورزشی و اتحادیه‌های محصلان اجرا می‌گردند. بنابرین، محققین سازمانی ارقام کمی و کیفی را در مورد محصلان، استادان، کارمندان، نصاب درسی، کورس‌های ارائه شده و نتایج یاددهی و یادگیری مراکز متذکره جمع‌آوری، تحلیل، گزارش‌دهی و ذخیره می‌نمایند (Muller et al., 2016; Nel, 2016; Volkwein, 2008).

به‌طور معمول هر نهاد علمی باید یک مرکز تحقیقات سازمانی داشته باشد تا نتایج تحقیقات خود را برعلاوه از مقامات نهاد متذکره، به وزارت تحصیلات عالی و سایر ادارات مربوطه، جامعه و مراکز ملی نشر ارقام مانند؛ اداره ملی احصائیه ارائه نمایند. در بعضی حالات یک نهاد علمی- تحقیقی نتایج تحقیقات خود را با نهادهای علمی دیگر شریک می‌سازد تا مشابهت و تجارب یک‌دیگر را تحلیل و در برابر موانع موجود راه‌حل‌های مناسب و مشترک ارائه نمایند. افزون برآن، تحقیق سازمانی مهم‌ترین منبع ارائه‌کننده‌ی معلومات برای اداره تضمین کیفیت و اعتباردهی در سطح ملی، منطقوی و بین‌المللی است و به اساس نتایج تحقیقات آن‌ها تصمیم گرفته می‌شود که معیارات موجود اعتباردهی را نهاد علمی مربوطه تکمیل نموده‌اند یا خیر (Nel, 2016). بنابرین، ترنزینی (Terenzini, 1993) تحقیقات سازمانی را به حیث هوش سازمانی و سوپه آن‌را به حیث حمایه تصمیمات نهاد تلقی نموده‌اند (Muller et al., 2016; Volkwein, 2008). باوجودی‌که تحصیلات عالی در یک کشور ممکن دارای قواعد و مشخصاتی باشد که از دیگر ساحات جغرافیایی متفاوت باشد؛ اما اکثر اهداف عمومی و عناصر سازمانی آن‌ها مشترک است. در این زمینه، محققان سازمانی دانش و مهارتی دارند که مؤسسات تحصیلات عالی را در ارائه‌ی پشتیبانی در تصمیم‌گیری پیرامون موضوعات مختلفی که دنیای تحصیلات عالی معاصر را به چالش کشانیده، به شکل ماهرانه کمک و حمایه نمایند (Webber & Calderon, 2016).

دفتر و یا مرکز تحقیقات سازمانی در پوهنتون‌ها و کشورهای مختلف به نام‌های متفاوت یاد می‌گردد؛ اما در کل این مرکز به نام‌های ذیل یاد می‌شود: تحقیقات سازمانی، تحقیق و معلومات، تحقیق و پلان‌گذاری/ برنامه‌ریزی، برنامه‌ریزی استراتژیک، برنامه‌ریزی اکادمیک و برنامه‌ریزی سازمانی، برنامه‌ریزی و تضمین کیفیت، معلومات سازمانی، تحقیق سازمانی و برنامه‌ریزی اکادمیک، برنامه‌ریزی سازمانی و تحقیق، تحقیق و نوآوری (Muller et al., 2016)؛ بنابرین، دفتر متذکره به حیث یک شبکه‌ی متحد و بهم‌پیوسته عمل نموده و تمام ارقام مرتبط را جمع‌آوری، تحلیل و تفسیر می‌نماید و معلومات مورد نیاز را برای تمام مقامات در همه سطوح ارائه می‌دارد (Swing, 2016).

با وجودی‌که اصطلاح تحقیق سازمانی در اخیر دهه ۱۹۵۰م رایج شد؛ اما اساساً این رویکرد از زمان ایجاد اولین نهاد علمی در سطح تحصیلات عالی به شکلی موجود بوده و در همچو مؤسسات عملی می‌شده است. تحقیق سازمانی اساساً ابتدا در کشورهای غربی به‌ویژه در ایالات متحدهٔ آمریکا در سال ۱۹۶۰م شروع شد و سپس در آسترالیا، انگلستان و دیگر کشورهای اروپایی به شکل مسلکی آن عملی شد (Rice, 2011)؛ اما در حال حاضر در اکثر پوهنتون‌های مشهور و اعتباردهی شدهٔ جهان تطبیق می‌گردد (Swing, 2016).

اهداف عمومی تمام تحقیقات سازمانی این است تا اولویت‌های مدیریتی، تدریسی، تحقیقاتی، مالی و ارائه خدمات مؤثر به جامعه را برای سازمان مشخص نماید. برعلاوه، نتایج تحقیقات سازمانی یگانه منبع مؤثر و با اعتبار برای انکشاف پالیسی‌هاست تا زمینه را برای پلان‌گذاری‌ها و استراتژی‌های تحصیلی فراهم ساخته و سازمان را در تطبیق و ارزیابی پلان‌های متذکره حمایه نماید (Webber & Calderon, 2016). هم‌چنان، محققان سازمانی باید دانش و آگاهی خویش را در مورد عمل‌کردهای سیاسی و مدیریتی سازمان افزایش دهند تا صدای محصلان را به شکل مؤثر به گوش پالیسی‌سازان برسانند (Delaney, 1997). افزون برآن تحقیق سازمانی رابطه بین یک نهاد تحصیلات عالی و محیط آن‌را جهت دانستن این‌که چطور نهادها با چالش‌های مغلق برخورد نمایند، مورد مطالعه قرار می‌دهد (Nel, 2016; Peterson, 1999; Swing & Ross, 2016) (شکل۱). بنابرین، لازم است تا تمام نهادهای تحصیلات عالی مراکز و یا دفاتر تحقیقات سازمانی را برای پیشبرد بهتر امور ایجاد و تمام تصامیم و پلان‌های خود را به اساس نتایج تحقیقات این مرکز طرح و اجرا نمایند.

در این مقالهٔ مروری مشخصات تحقیق سازمانی، محقق سازمانی، پروسه‌های جمع آوری و تحلیل ارقام، مسوولیت‌های دفتر تحقیقات سازمانی و نقش آن‌ها در انکشاف تحصیلات عالی به بحث گرفته شده‌اند.

**میتودولوژی دریافت مقالات**

برای دریافت مقالات علمی نشر شده پیرامون تحقیق سازمانی، دیتابیس‌های Google Scholar، CABI، Scopus، Wiley Online Library، NCBI و Science Citation Index در یک محدوده‌ی زمانی ۱۹۹۰ تا ۲۰۲۲ مرور گردید. برعلاوه، یک تعداد عناوین و مقالات مرتبط با موضوع از بخش منابع مقالات مرور شده نیز شناسایی و اصل مقاله دریافت شد. واژه‌های کلیدی مورد استفاده در زمان بررسی و دریافت مقالات قرار ذیل بودند: تحقیق، تحقیق سازمانی، سازمان، نقش تحقیق سازمانی، انکشاف تحصیلات عالی، پلان‌گذاری و تحقیقات سازمانی. این اصطلاحات با ترکیب‌های مختلف و با استفاده از عملگرهای "OR" و "and" و به هر دو زبان فارسی و انگلیسی استفاده شدند تا وسعت دریافت

مقالات افزایش یابد. مقالات دریافت شده ابتدا مرور شدند و سپس مقالات بیشتر مرتبط به شکل هدف‌مند انتخاب گردیدند و از آن‌ها معلومات مشخص استخراج و در این مقاله استفاده شدند.

**اشکال درک و یا هوش سازمانی**

محقق سازمانی زمانی می‌تواند تصامیم و برنامه‌های نهاد تحصیلی را به شکل مؤثر حمایه نماید که درک کافی از سازمان داشته باشد. سه سطح متفاوت؛ اما دارای اهمیت مشابه و مستقل درک سازمانی قابل شناسایی‌اند:

۱. درک و یا هوش تخنیکی و تحلیلی؛
۲. درک مشکلات؛
۳. درک ساختاری یا قراین.

توانایی یک فرد در تطبیق سطح بالاتر نیازمند درک کافی از سطوح پایین است و چنان‌چه در(شکل ۲) دیده می‌شود، یک محقق سازمانی زمانی می‌تواند مشکلات موجود در سطح بالاتر را شناسایی و حل نماید که درک و مهارت کافی از سطوح اولیه داشته باشد (Nel, 2016; Terenzini, 1993).

**سطح اول: درک تخنیکی و تحلیلی**

Sandewall, E. (2006). A hybrid system of peer review. In Nature.

Schafner, A. C. (1994). The future of scientific journals: Lessons from the past. Information Technology and Libraries 13:239-47.

Scott, P. (2000). Globalisation and higher education: Challenges for the 21st century. Journal of Studies in International Education, 4(1), 3-10.

Scott, P. (2007), "From Professor to 'Knowledge Worker': Profiles of the Academic Profession", Minerva 45:2, pp. 205-215.

Smith, R. (1999). Opening up BMJ peer review. BMJ 1318:4-5.

Teichler, U. (1996). Research on academic mobility and international cooperation in higher education: An agenda for the future. In P. Blumenthal, C. Goodwin, A. Smith, & Teichler, U. (2007). (Eds.), Academic mobility in a changing world (pp. 338-358). London: Jessica Kingsley.

Teichler, U. (2004). The changing debate on internationalisation in higher education. Higher Education, 48(1), 5-26.

Teichler, U. (2005). Research on higher education in Europe. European Journal of Education, 40(4), 447-469.

Van Rooyen S., Godlee, F., Evans, S., Black, N. and Smith, R. (1999). Effect of open peer review on quality of reviews and on reviewers' recommendations: a randomized trial. BMJ 318:23-27.

Ware, M. and Mabe, M. (2012). The STM Report. 3rd edn. The Hague: International Association of Scientific, Technical and Medical Publishers.

# کانکور ازموینه، ستونزې او حل لارې

**پوهندوی عبدالرحمن عثماني**

زولوژي څانګه، د بیولوژي پوهـــــنځی، د کابل پوهنتون، کابل، افغانستان
ایمیل: aosmani.ku@gmail.com

**لنډیز**

کانکور ازموینه چې له ۱۳۴۰هـ.ل راهیسې د هېواد په کچه، د دولسمو ټولګیو له فارغانو اخیستل کېږي، په دې وروستیو کې یې د ښه والي او روڼتیا په موخه رغنده ګامونه پورته شوي، خو لا هم یو لړ ستونزې لري چې باید څرګندې او حل لارې یې په ګوته شي. دا څېړنه په همدې موخه؛ د ازموینو ملي اداره او کابل پوهنتون کې په سیمه‌ییز میتود سره شوې، اطلاعات یې د پوښتنلیک په مټ را غونډ او په کیفي ډول تحلیل شوي دي. د څېړنې پایلې ښيي چې د کانکور ازموینې عمومي والی، د پوښتنو د کیفیت ټیټوالی، د ښوونیز نصاب د یو شمېر مضمونونو د پوښتنو نشت، د پوښتنو د شمېر زیاتوالی، د وخت کمی او تخنیکي ستونزې، د کانکور ازموینې بنسټي ستونزې دي، چې د حل په موخه یې کانکور ازموینه باید په ټولنیزو او ساینسي برخو وویشل شي، د تعلیمي نصاب ټول مضمونونه پکې ځای شي، د پوښتنو شمېر یې کم او وخت یې زیات شي او د ازموینو بهیر د لا ښه والي لپاره اړین تقنیني اسناد تدوین او د ازموینو سیستم پر نویو تخنیکي وسایلو سمبال شي.

**کلیدي اصطلاحات:** کانکور ازموینه؛ د پوښتنو کیفیت؛ ښوونیز نصاب؛ روڼتیا؛ تقنیني اسناد

# Konkor Exam, Its Problems & Solutions

**Assistant Prof. Abdul Rahman Osmani**

Department of Zoology, Faculty of Biology, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: aosmani.ku@gmail.com

**Abstract**

Since 1962, the university entrance examination has been administered to high school graduates nationwide. Recent efforts have been made to enhance its transparency and effectiveness, yet it grapples with a range of persistent challenges that require explicit identification and resolution. This study was conducted to address these issues. Data were collected from the National Examination Authority and Kabul University through a questionnaire, and qualitative analysis was applied to the gathered information. The research findings highlight several fundamental problems associated with the entrance examination, including its broad scope, the quality of questions, gaps in subject coverage aligned with the educational curriculum, an excessive number of questions, time constraints during the exam, and technical obstacles. To facilitate these challenges, several recommendations are proposed. These include restructuring the entrance examination into distinct Social and Natural Science sections, ensuring comprehensive coverage of all subjects in the educational curriculum, reducing the number of questions, extending the exam duration, and establishing the necessary legislative framework for ongoing improvement.

**Keywords:** Konkor Exam; Quality of Questions; Educational Curriculum; Transparence; Legislative Documents

**سریزه**

کانکور ازموینه چې په ټول هېواد کې د دولسمو ټولګیو له فارغانو اخیستل کېږي، له هغو ملي پروسو څخه ګڼل کېږي، چې له څو کلونو راهیسې پکې پاموړ شفافیت رامنځ ته شوی او تر ډېره پکې د فساد مخه نیول شوې ده، خو ځینې برخې یې لا هم له ستونزو او ننګونو سره مخ دي، د دې لپاره چې ازموینې د شفافیت ترڅنګه له اغېزمنتیا څخه برخمنې شي او د ګډونوالو لپاره لا ډېرې اسانتیاوې رامنځ ته شي، نو پکار ده چې په اړه یې یوه علمي څېړنه ترسره شي، چې په همدې موخه نوموړې څېړنه په پام کې نیول شوې. دا څېړنه چې د کانکور په اړه پکې هر اړخیز اطلاعات راټول شوي دي، د کانکور ازموینو ستونزې او ننګونې به څرګندې کړي. په دې څېړنه کې د ستونزو د له منځه وړلو او د کانکور ازموینو د کیفیت د لوړولو لپاره په اړینو حل لارو هم غور کېږي چې اړوند مسؤلینو او بنسټونو ته به د کانکور ازموینو د ښه والي لپاره د ګټورو طرحو د وړاندې کولو او اړینو بدلونونو د راوستلو لپاره لاره هواره کړي. باوري یم چې دا څېړنه به د کانکور د ستونزو په له منځه وړلو کې اغېزناکې پایلې وړاندې کړي.

**ازموینه او ارزونه**

که د ازموینو تاریخي بهیر ته لنډه کتنه وکړو، ویلای شو چې ازموینه اوږد تاریخ لري. له رسمي زده کړو مخکې، ازموینې په تقریري ډول وې. د رسمي تعلیماتو او زده کړو له پیل سره، رسمي ازموینه پیل شوه. په نولسمه پېړۍ کې لیکنۍ ازموینې د شفاهي ازموینې ځای و نیو. لومړنۍ لیکنۍ ازموینه پر ۱۸۵۰ کال په امریکا کې واخیستل شوه. په ۱۹۵۵ میلادي کال عیني ازموینه رامنځته شوه. د روزنیزې ارواپوهنې په رامنځته کېدا، ازموینو پرمختګ وکړ او د ازموینو په واسطه ذکي، متوسط او ضعیف زده‌کوونکي مشخص شول او ځانګړو ټولګیو ته وروپېژندل شول(رؤف، ۱۳۸۲).

روزنیزه ارزونه؛ د روزنیزو علومو یوه ځوانه تخصصي څانګه ده چې اوسمهال د پوخوالي عمر ته رسېدلې ده، دغې څانګې په (۱۳۴۰ هـ.ش- ۱۹۶۰ م) لسیزه کې د ماشومتوب دوره تېره کړه، په (۱۳۵۰ هـ.ش- ۱۹۷۰ م) لسیزه کې بلوغ ته ورسېده او په (۱۳۶۰ هـ.ش- ۱۹۸۰) لسیزه کې یې پاموړ وده او پرمختګ وکړ. د یویشتمې میلادي پېړۍ په درشل کې روزنیزې ارزونې او ازموینو، د ښوونیزو–تحصیلي نظامونو د کیفیت په لوړوالي کې پاموړ رول و لوباوه (بازرګان، ۱۳۹۵).

ارزونه د یو شي د ارزښت(value) موندلو یا د ارزښت په اړه قضاوت (value judgement) ته وایي. په اصطلاح کې ارزونه د اطلاعاتو او معلوماتو د را ټولونې، تحلیل او تفسیر یو منظم بهیر ته وایي، په ټوله کې، د یوې موضوع، شي او فرد په اړه د قضاوت (پرېکړې) او تصمیم نیونې په موخه په منظم ډول د

اطلاعاتو ثبت، تحليل او تفسير دی (بازرگان و فراستخوا، ۱۳۹۶). ازموينه بيا هغه پوښتنې دي چې زده کوونکيو ته د ځوابونې لپاره ورکول کېږي (خپلواک، ۱۳۹۸).

ارزونه چې په هر موقعيت او ځای کې ترسره کېږي، د يوه ارزښتي قضاوت سره مله وي او په ښوونه او روزنه کې بايد دغه ارزونه د عيني اطلاعاتو پر بنسټ ترسره شي(لطف آبادي، ۱۳۷۵).

د زده کوونکو د تعليمي – تحصيلي پرمختګ اندازه کولو وسيلی(ازموينې ـ پوښتنې) په ټوله کې په دوه ډوله دي: لومړی، د ښوونکي لخوا جوړې شوې پوښتنې يا ازموينه. دويم، معياري يا سټنډرډ پوښتنې يا ازموينه. د ښوونکي لخوا جوړې شوې پوښتنې يا ازموينې هغه پوښتنې او ازموينې دي چې ښوونکی/ استاد يې د خپلو زده کوونکو د ښوونيز پرمختګ لپاره جوړوي او د ښوونيزو دورو په اوږدو يا پای کې يې له خپلو زده کوونکو اخلي، دا پوښتنې د دقيقو موخو پر اساس د زده کوونکو د بری د اندازه کولو لپاره چمتو کېږي؛ نو د دې پوښتنو په جوړولو او ليکلو کې بايد له پوره غور څخه کار واخيستل شي، چې په زده کړه ييزو پرېکړو کې له پوره ارزښت څخه برخمنې وي. د دې په وړاندې معياري يا سټنډرډ پوښتنې- ازموينې دي او هغه پوښتنې – ازموينې دي چې د ازموينو اخيستلو دولتي يا نادولتي ادارو، مؤسسو، ښوونيزو او علمي مرکزونو لخوا د لوی شمېر ګډونوالو( زده کوونکو) د زده کړې د پرمختګ، عقل، استعداد او شخصيت د کچې معلومولو لپاره جوړېږي او ازموينه‌يې اخيستل کېږي لکه کانکور ازموينه(خپلواک، ۱۳۹۸).

هوګان (۲۰۰۷) د سټنډرډ ازموينې په اړه وايي: په پيل کې د سټنډرډ اصطلاح د امتحان اخيستلو او د نمرو ورکولو په يو شان طريقو تاکيد کوي، په‌دې معنا چې امتحان په ټولو حالاتو کې بايد د ټاکل شويو طريقو پر اساس واخيستل شي او نمرې هم بايد له وړاندې ټاکل شويو قوانينو او اصولو په رڼا کې ورکړل شي. بل دا چې امتحان بايد د برابرۍ(انډول) لرونکی وي، چې په اصل کې د برابرۍ په پامنيوي د امتحان اخيستلو ته سټنډرډ کول وايي(خپلواک، ۱۴۰۰).

**کانکور ازموينه**

کانکـــور اصلاً له يوې فرانسوي کليمې (Concours) څخه اخيستل شوی چــــــې معنی يې د ارزونه يا ازموينه ده او معمــــولاً له هغو زده کوونکو څخه اخيستل کيــږي چـــــې له دولسم ټولګــي څخه فارغ وي او پوهنتـــــونونو ته ازموينه ورکوي چــې په ايران، تــرکيه، چيـــن او ځينې نورو هېوادونو کـــې اخيستل کېـــږي (https://abadis.ir/fatofa). همـــداراز کـــانکور (Concours)، د ( A Public Competition) يعنې عمومي ســـيالی په معنی هــــــم راغلی (https://www.merriam-webster.com/dictionary/concours).

کانکور ازموینه په ایران کې د علومو وزارت له لوري په لومړي ځل په ۱۳۴۸ کال کې واخیستل شوه، په دغه ازموینه کې ۴۷۷۰۳ کسانو ګډون کړی و او پوښتنې یې په لنډ ډول جوړې شوې وې (https://fa.wikipedia.org).

د نړۍ په ځینو هېوادونو کې اوسمهال د کانکور ازموینه له منځه تللې ده، ولې بیاهم په یو شمېر هېوادونو کې اخیستل کېږي، خو هر کال یکې د معیارونو په پامنیوي بدلونونه راځي. د بېلګې په توګه په ترکیه کې د کانکور ازموینو لپاره د پوهنتونونو له لوري مضامین د مضمونونو مهمې برخې او د پوښتنو شمېر په ګوته کېږي (https://fanarstudy.com/en/blog/university-entrance-exams-in-turkey).

افغانستان ته د کانکور طرح لومړی ځل په ۱۳۴۰ هـ.ش کال کې د کابل پوهنتون د ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځي استاد عطاءالله رؤف لخوا له امریکا څخه کابل ته راوړل شوه او د ازموینو لپاره یوه کمیټه جوړه شوه، چې مرکزیې د کابل پوهنتون مرکزي کتابتون و. د وخت په تېرېدو سره د ازموینې د ګډونوالو شمېر زیات شو، نو ځکه نوموړې کمیټه امریت ته لوړه او له کابل پوهنتون څخه د لوړو زده کړو وزارت ته ولېږدول شوه، چې د ګډونوالو په زیاتېدو سره له آمریت څخه ریاست ته لوړه شوه. په ۱۳۹۷ کال کې د ازموینو ملي ادارې په نامه د یوې خپلواکې ادارې په توګه رامنځته شوه چې اوسمهال په ټول هېواد کې د دولسمو ټولګیو پر فارغانو سربېره د څورلسم پاسانو، طبي شورا اګزیت ازموینه، د لوړو زده کړو وزارت د کادري روغتونونو د تخصص لپاره، عامې روغتیا وزارت لپاره د تخصص د بشپړاوي، د پولیسو اکاډمي، دفاعي پوهنتون، طبي انستیتیوټونو او د علماو د سویې د تثبیت ازموینې اخلي (www.nexa.gov.af).

## د کانکور اوسني وضعیت ته لنډه کتنه

د دولسمو ټولګیو د زده کوونکو کانکور ازموینه د پوهنې وزارت د لسم، یوولسم او دولسم ټولګي، د لسو مضمونونو (ریاضي، فزیک، کیمیا، بیولوژي، تاریخ، جغرافیه، دیني علوم، پښتو، دري او جیولوجي) څخه اخیستل کېږي. ازموینه ۱۶۰ پوښتنې لري؛ چې ۴۳ یوازې د ریاضي برخې، ۴۲ پوښتنې د طبیعي علومو له برخي، ۳۹ پوښتنې د ټولنیزو او دیني علومو له برخې او ۳۶ پوښتنې د پښتو، دري او جیولوجي اړوند دي.

د کانکور ازموینه کې د ګډون لپاره دوه شرطونه( تذکره او د دولسم ټولګي شهادتنامه) په پام کې نیول شوي دي.

د کانکور ازموینې بهیر د هغو فورمونو په ډکولو سره پیلېږي چې د ازموینو ملي ادارې د انسجام ریاست لخوا دهېواد ټولو ښوونځیو ته لېږل کېږي، د دولسمو ټولګیو د فارغانو لخوا تر ډکېدو وروسته دغه

فورمې د ښوونځي او اړونده ولایت د پوهنې ریاست له لوري له تایید او په رسمي توګه د ازموینو ملي ادارې ته لېږل کېږي او د تخنیکي خدماتو ریاست د انټري څانګې لخو تر ثبت کېدو وروسته د ازموینې هر ګډونوال ته په سیستم کې ځانګړې (ID) جوړېږي، په همدې ID سره د ګډونوال لپاره کارت، پوښتنپاڼه، او د ځوابونو پاڼه چاپ او له ازموینې مخکې ورته کارت او د ځانګو د کوډونو پاڼې ورکول کېږي او بیا بایومټریک کېږي.

د ازموینې پوښتنپاڼې د ازموینو ملي ادارې په چاپخونه کې چاپ او د ګډونوالو له ID سره سم په صندوقونو کې په محرم ډول د استخباراتو د غړي په شتون کې ولایتونو ته استول کېږي. په ولایتونو او مرکز کې مهر شوي صندوقونه د چارواکو له لوري پرانیستل کېږي او ازموینه په رسمي توګه پیلېږي. د مرکز ازموینې په کابل، طبي، پولي تخنیک او ښوونې و روزنې په پوهنتونونو کې د کانکور ادارې او د نوموړیو پوهنتونونو د استادانو او په ولایتونو کې د کانکور ادارې او اړوندو پوهنتونونو د استادانو لخوا اخیستل کیږي (مقرره کانکور- وزارت تحصیلات عالی، ۱۳۹۶).

د افغانستان په کانکور ازموینه کې ټولې پوښتنې څلور ځوابه راځي؛ په داسې حال کې څلور ځوابه پوښتنې د زده کړې ترټولو ټیټه کچه اندازه کوي. په دې اړه، ښوونیز کارپوهان په دې ټینګار کوي چې د سنجش او ارزونې مېتودونه او وسیلې(پوښتنې) باید په داسې ډول جوړې او وکارول شي چې درک او پوهېدا، د مسئلې حل، استدلال، تفکر او د زده کړل شویو مواردو کارونه په واقعي ژوند کې و ارزوي (سیف، ۱۳۹۴).

**څېړندود**

دا څېړنه یوه توصیفي- تحلیلي څېړنه ده چې په ساحوي توګه ترسره شوې او اطلاعات یې د ازموینو ملي ادارې له مسؤلینو او د کابل، پولي تخنیک، طبي، ښوونې و روزنې پوهنتونونو له استادانو سره د مرکو پر بنسټ راټول شوي. د دې لپاره چې د کانکور ازموینې په اړه ټول استادان هر اړخیز معلومات نلري، نو د بیلګې لپاره له کوم فارمول څخه استفاده نه ده شوې او په غیر تصادفي توګه له هغو پنځوسو تنو مسؤلینو او استادانو څخه اطلاعات تر لاسه شوي چې د کانکور په اداره کې یې دندې ترسره کړې دي او یا اوس هم دندې لري. د مرکو پر بنسټ را غونډ شوي اطلاعات په کیفي توګه تحلیل شوي دي؛ د هرې پوښتنې د ځوابونو د لا روښانتیا په موخه له ډیاګرامونو هم ګټه اخیستل شوې او په پای کې یې د هرې پوښتنې ځوابونه تحلیل شوي دي.

**د څېړنې موندنې**

دا څېړنه چې اطلاعات یې د مرکو پربنسټ راټول شوي، په کیفي توګه تحلیل شوي چې د هرې پوښتنې د ځوابونو تحلیل یې په دې ډول ښودل کېږي؛

**د کانکور علمي ستونزې**

۱. د کانکور ازموینو ځینې پوښتنې له یو بل سره ډېر لږ توپیر لري او ځینې مهال په یوه فورم کې دا ډول څو پوښتنې راځي، خو په بل فورم کې بیا دا ډول پوښتنې نه راځي چې دا توپیر شفافیت ګواښي او په ازموینو کې د عدالت مخه نیسي.

۲. د پوښتنو په جوړولو کې کیفیت د کمیت قرباني دی، تر ډېره یې شمېر ته پام کېږي، نه کیفیت ته، حتی داسې پوښتنې جوړېږي چې په هغې سره زده کوونکي په سمه توګه نه ارزیابي کېږي. د اکثرو پوښتنو ځوابونو څخه بیا پوښتنې جوړې شوې، چې دې کار هم د پوښتنو کیفیت خراب کړی دی، د ځینو پوښتنو ځوابونه له یو بل سره ډېر نژدې او یا ډېر لرې وي او حتی ځینې ځوابونه له پوښتنې سره هم یو ډول علمي او منطقي تړاو نه لري.

۳. په پوهنتونونو کې ډېر مهم پوهنځي دي، خو له اړوندو مضمونونو څخه یې په کانکور کې یوه پوښتنه هم نه راځي، مثلا زیاتره محصلین اقتصاد پوهنځی انتخابوي، خو په کانکور کې د اقتصاد مضمون څخه یوه پوښتنه هم نه راځي، همدې ته ورته زراعت پوهنځی چې خورا زیات ارزښت لري خو په کانکور کې یې یوه پوښتنه هم نه راځي، همدا ډول د حقوق او کمپیوټر ساینس یادونه کولای شو چې په کانکور کې یې اړوندې پوښتنې ځای نلري.

۴. د کانکور پوښتنې میخانیکي زده کړې ته اړتیا لري، کوم کورسونه چې فعلا د کانکور د چمتوالي لپاره جوړ شوي دي، یوازې د فورمونو حلول زده کوونکو ته ښیي، په کانکور کې لوړې نمرې اخلي، خو په علمي لحاظ د زده کوونکي سویه ټیټه وي. یعنې یوازې ګټه‌یې په میخانیکي لحاظ ده او د منځپانګې له پلوه کوم اغېز نه لري، دا هغه څه دي چې د وخت په تېرېدو سره د زده کوونکیو او محصلینو علمي سویه را ټیټوي، چې منفي اغېزې یې عملا د هېواد په پوهنتونونو کې لیدل کېږي.

**د کانکور تخنیکي ستونزې**

۱. د کانکور اداره معیاري سرورونه نلري.

۲. د سیستم انحصار؛ کوډ (Source Code) د بهرنۍ کمپنۍ په واک کې دی.

۳. د سیستم او شبکې لپاره د امنیت لازم تدابیر په پام کې نه دي نیول شوي، چې معلومه شي یو محصل څو ځلې امتحان ورکړی دی.

۴. کانکور پرمختللي تخنیکي وسایل نلري.

**د کانکور تقنیني ستونزې**

د ازموینو ملي اداره په ۱۳۹۷ کال کې له لوړو زده کړو وزارت څخه بېله او د یوې خپلواکې ادارې په توګه رامنځته شوه، خو تر دې مهاله قانون نلري، خپلې چارې د لوړو زده کړو وزارت د قانون پر بنسټ د کانکور د مقررې له مخې پر مخ وړي چې اوس مهال د ازموینو ملي ادارې غوښتنو او اړتیاوو ته ځواب ویونکې نه ده.

**د کانکور ازموینو د ښه والي او کیفیت لوړولو په موخه کومې چارې باید ترسره شي؟**

د کانکور ازموینو د ښه والي په موخه تر ټولو لومړی باید ساینسي او ټولنیزې برخې له یو بل څخه جلا شي، د کانکور ګڼ شمېر ګډونوال چې په ریاضي او ساینسي علومو کې خورا زیات مهارت لري، خو د ادبیاتو، تاریخ، جغرافیې، جیولوجي او نورو مضمونونو د پوښتنو د نه حلولو په صورت کې په کانکور کې ناکامېږي او عینا ګڼ شمېر نور ګډونوال چې په دیني او ټولنیزو علومو کې خورا زیات مهارت لري، د ریاضي، فزیک، کیمیا او بیولوژي مضمون د پوښتنو د نه حل کولو په صورت کې په کانکور کې نه بریالي کېږي، نو پکار ده چې د کانکور ازموینه پر دوو برخو (ساینسي او ټولنیزو علومو) وویشل شي، په داسې ډول چې ۷۵ سلنه پوښتنې تخصصي او ۲۵ سلنه یې غیر تخصصي په پام کې ونیول شي، چې د کانکور ټول ګډونوال د خپلې خوښې پوهنځیو ته بریالي شي او په خپله برخه کې پاموړ پرمختګ وکړي، د کانکور اداره باید پرمختللي ټکنالوجیک وسایل ولري، چې د بهرنیو مؤسساتو له انحصار څخه خلاصه او خپلې ستونزې په اسانۍ سره حل کړای شي. بایومټریک سیسټم د محصلینو له سیسټم سره نه دی نښتي، باید ونښلول شي او همدارنګه باید د ماشینونو (Maintenance) په ټاکلې وخت وشي، چې د ازموینې پرمهال ګډونوال د کومې ستونزې سره مخ نشي.

د سرورونو او OMR ماشینونو لپاره معیاري خونې نشته، باید معیاري خونې ورته جوړې شي. د انلاین ازموینو لپاره اړین امکانات نشته، باید پوره پاملرنه ورته وشي او ټولې اړینې اسانتیاوې ورته رامنځته شي. نوي مضامین باید کانکور کې شامل شي، چې د ځومره والي (کمیت) قرباني شوی څرنګوالی (کیفیت) بېرته خپل حالت ته راوګرځي، د مثال په توګه د کرنې، اقتصاد او نورو پوهنځیو اړوند مضمونونه باید په کانکور کې ځای شي او هغه پوهنځی چې انګریزي ژبې ته پکې زیاته اړتیا وي، د انګریزي پوښتنې یې باید په ازموینه کې شاملې شي او د شرعیاتو پوهنځی او اسلامي تعلیماتو پوهنځی لپاره باید په کانکور کې د عربي ژبې پوښتنې هم راشي.

په سرور کې باید ټیمپلیټونه اضافه شي چې د موضوع د ارزښت سره سمې پوښتنې غوره او د ازموینو د ګډونوالو ترمنځ یوازې یو ډول ارزونه وشي، د مثال په توګه د ازموینې لپاره پوښتنې په تصادفي توګه انتخابیږي، زیاتره وخت له یوې موضوع څخه پنځه پوښتنې راځي، خو له بلې موضوع څخه هېڅ پوښتنه نه راځي، نو د دې لپاره چې د هر مضمون د ټولو برخو څخه پوښتنې جوړې شي، باید د مضمون ټیمپلیټ ور اضافه شي، مثلا د ریاضي په برخه کې په یو فورم کې د انتیګرال پنځه یا زیاتې پوښتنې راځي، خو په همدې ورځ په بل فورم کې د انتیګرال یوه پوښتنه راځي یا حتی یوه پوښتنه هم نه راځي، چې په دې ډول سره عدالت نه پلی کېږي. د کانکور ازموینې لپاره باید وخت زیات شي، کوم وخت چې اوس مهال د ازموینې لپاره ټاکل شوی بس نه دی او ګڼ زده کوونکي په ازموینه کې له ستونزو سره مخ کېږي همدا راز د ازموینې د پوښتنو شمېر باید کم شي. هغه استادان چې د ازموینې په ورځ ګمارل کېږي د هغوی لپاره باید له ازموینې وړاندې د ازموینو د بهیر څرنګوالي او د ازموینو په بهیر کې له ګډونوالو سره د چلن په اړه یو روزنیز پروګرام ترتیب شي، چې د ازموینې پرمهال زده کوونکو ته د روحي فشار لامل نشي؛ د محصلینو سره پوره همکاري وشي او د هرې ځانګې د ارزښت په اړه ورته لنډ معلومات ورکړي.

د کانکور ازموینو د پراختیا او سمون په موخه اړینه ده چې تقنیني اسناد پر خپل وخت جوړ او پلي شي، که څه هم کانکور په تېره یوه لسیزه کې خورا زیات پرمختګ کړی خو د قوانینو په برخه کې پاموړ کار نه دی شوی، مثلا که یوڅوک د نوملیکنې پر وخت، د ازموینې پر مهال یا وروسته له هغې کوم جعل او تزویر کوي، جزا یې روښانه نه ده هغه برخې چې د ګډونوالو حق پکې تلف کېږي، د تقنیني اسنادو جوړېدو ته یې باید پوره پاملرنه وشي، کېدای شي جعل او تزویر ډېر اړخونه ولري، ولې هر یو یې باید ټاکلې جزا ولري، د بیلګې په توګه په لاندې حالتونو کې جزا په پام کې نه ده نیول شوې:

۱. ګډونوال د نوملیکنې پرمهال قصدا خپل شهرت ناسم درج کوي.
۲. ګډونوال د نوملیکنې پر مهال پر فورمه غلط عکس لګوي.
۳. د پوهنې وزارت په تېروتنې سره د یوه ګډونوال ناسم شهرت تاییدوي.
۴. د کانکور اداري کارمندان د فورمونو د ثبت پرمهال تېروتنه کوي.
۵. ممتحن استاد د ازموینې پرمهال تېروتنه کوي.
٦. ګډونوال په لوی لاس د ازموینې بهیر ته ټیلیفون وړي.
۷. ګډونوال پر خپل ځای بل څوک امتحان ته لېږي.

**پایلې**

له پورتنیو معلوماتو څخه دې پایلې ته رسېږو چې د کانکور ازموینو پر وړاندې داسې ستونزې او ننګونې شته چې د کانکور ازموینو اغېزمنتوب‌یې راکم کړی او په سمه توګه ګډوډنوال نشي ارزولای. د کانکور یوه مهمه ستونزه له علمي برخې سره تړاو لري، په علمي برخه کې باید لازم بدلونونه راشي، ځکه که په یاده برخه کې بدلون رانشي، د وخت په تېرېدو سره علمي سویه راټیټېږي او هغه ډول چې پکار ده، د زده کوونکو زده کړې د هېواد په پرمختګ کې اغېزناک رول نشي لوبولای.

د ازموینو ادارې تخنیکي برخه هم ستونزې لري چې اړین بدلونونه باید پکې راشي، ځکه روانه پېړۍ د تکنالوژۍ پېړۍ ده، په دې برخه کې هر کال، هره میاشت او هره ورځ بدلون رامنځته کېږي.

د ازموینو ملي اداره د بنسټونو په برخه کې هم یو لړ ستونزې لري، د انلاین ازموینو لپاره اړینې اسانتیاوې نه لري، همدا راز د سترو ازموینو د اخیستو لپاره مناسب او معیاري تالارونه نه لري. د اړینو تقنیني اسنادو نشت د کانکور ازموینو پر وړاندې یوه بله ستره ستونزه ده چې د حل په موخه‌یې باید کوټلي ګامونه پورته شي.

اداري برخه هم د کلیدي برخو څخه ده چې هر کار بشري ځواک ته اړتیا لري او بې له هغې ناممکن دی چې سرته دې ورسیږي.

**وړاندیزونه**

۱. د پوهنې وزارت باید په نصاب کې لازم بدلونونه راولي.

۲. د ازموینو ملي ادارې د پوښتنو بانک سیستم باید په پرمخ تللو وسایلو سمبال شي.

۳. د کانکور اداره دې د پوښتنو برخې ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د هرې برخې ارزښت ته په کتو سره باید پوښتنې جوړې شي، یعنې هر مضمون باید د موضوعاتو ته په پام سره په څو ټمپلیټونو وویشل شي.

۴. د کانکور یوه بله ستونزه د اړینو تقنیني اسنادو نشت دی چې له امله‌یې ځینې مهال چارې ټکنۍ کېږي، د دې مسئلې د حل په موخه باید اړین تقنیني اسناد رامنځته شي.

۵. کانکور اداره باید انلاین سرورنه ولري، چې وکولای شي، په ازموینه کې معلوم کړي چې کوم برحال محصل د کوم زده کوونکي پرځای ازموینه ورنکړي او علاوه له دې نه د عامه پوهاوي لپاره کوټلي ګامونه واخلي چې زده کوونکي د کانکور ازموینې پرمهال د کومې ستونزې سره مخامخ نشي.

۶. د لوړو زده کړو وزارت دې د پوهنتونونو ټولې علمي څانګې تعریف او په اړونده سایټونو او ټولنیزو رسنیو کې دې خپرې کړي، چې د هېواد ټول وګړي او په ځانګړې توګه فارغان یې په سمه توګه وپېژني او په غوراوي کې یې دقیق فکر وکړي.

۷. د لوړو زده کړو وزارت دې د کار او ټولنیزو چارو وزارت او نورو اړونده ادارو سره په همغږۍ په هره علمي څانګه کې د کار د بازار له اړتیا سره سم د محصلینو د جذب ظرفیت په پام کې ونیسي.

**سرچينې**

بازرگان، عباس و فراستخوا، مقصود. (۱۳۹۶). نظارت و ارزشیابی در آموزش عالی. چاپ دوم. تهران: انتشارات سمت.
بازرگان، عباس. (۱۳۹۵). ارزشیابی آموزشی. تهران: انتشارات سمت.
خپلواک، محمد طاهر. (۱۳۹۸). روزنیزه ارزونه. دویم چاپ. کابل: سلېمان ماکو خپرندویه ټولنه.
خپلواک، محمد طاهر. (۱۴۰۰). سنجش و ارزیابی تربیتی(اصول، مفاهیم و الگوهای کاربردی). کابل: انتشارات سلیمان ماکو.
رؤف، عطاالله. ( ۱۳۸۲) ارزیابی تربیتی. طبع دوم. کابل مطبعه عمرزی.
سیف، علی اکبر. (۱۳۹۱). اندازه گیری، سنجش و ارزشیابی آموزشی. ویرایش ششم. تهران: نشر دوران.
سیف، علی اکبر. (۱۳۹۱). سنجش فرآیند و فرآورده یادگیری(روشهای قدیم و جدید). چاپ پنجم. تهران: نشر دوران.
لطف آبادي، حسین. (۱۳۷۵). سنجش و اندازه گیری در علوم تربیتی و روانشناسی. تهران: انتشارات سمت.
مقرره کانکور- وزارت تحصیلات عالی سال ۱۳۹۶.

# مروری بر نقش برنامه فارم دی در انکشاف نصاب تحصیلی رشته‌های فارمسی

**پوهنوال آقا محمد ژکفر[۱]، پوهنمل احمد تمیم غفاری[۲]**

[۱]دیپارتمنت فارمسیوتیک، پوهنځی فارمسی، پوهنتون کابل، کابل، افغانستان
[۲]دیپارتمنت فارمکولوژی، پوهنځی فارمسی، پوهنتون کابل، کابل، افغانستان
ایمیل: tamim.ghafari@yahoo.com

## چکیده

نصاب تحصیلی معیاری و منطبق با نیازهای جامعه از جمله اهداف ستراتیژیک وزارت تحصیلات عالی کشور می‌باشد. انکشاف نصاب تحصیلی یک پروسه دینامیک بوده که در آن فرصت‌های یادگیری، مواد، تجهیزات و سایر منابع به‌طور مداوم جهت ایجاد تغییرات مثبت در برنامه‌های آموزشی برنامه‌ریزی، ارزیابی و بازنگری می‌شوند. انکشافات روزافزون جامعه نیاز به نصاب‌های تحصیلی که پاسخ‌گوی نیازمندی‌های حال و آینده یک کشور باشند، دارد. یکی از بخش‌های عمده نصاب‌های تحصیلات عالی را برنامه‌های مسلکی (Professional degrees) تشکیل می‌دهند که شامل رشته‌های اختصاصی- مسلکی بوده و محصلان را با دانش و مهارت‌های مورد نیاز در ساحه عمل آراسته می‌سازند. فارم دی(.Phar.D) یا داکتر فارمسی (Doctor of Pharmacy) از جمله همین رشته‌های مسلکی بوده که محصلان را با دانش و مهارت‌های کلینیکی و خدمات مریض‌محور جهت استفاده معقول ادویه آماده ساخته و نیاز مبرم جهت همگام بودن با انکشافات و معیارات بین‌المللی این رشته می‌باشد. هدف این مقاله که از مآخذ معتبر علمی استفاده گردیده، مروری برنامه فارم دی و اهمیت آن در انکشاف نصاب تحصیلی رشته‌های فارمسی کشور می‌باشد. یافته‌ها نشان‌دهنده‌ی آنست که برنامه فارم دی بصورت جهانی رو به انکشاف است و اکثریت از کشورهای جهان برنامه‌های بی فارم (B. Pharm) خود را به برنامه‌های فارم دی ارتقا داده اند.

**اصطلاحات کلیدی:** فارم دی؛ فارمسی؛ مریض‌محور؛ نصاب تحصیلی؛ انکشاف

# A Review on the Role of Pharm. D Program in the Development of Pharmacy Programs Academic Curricula

**Aqa Muhammad Zhakfar[1], Ahmad Tamim Ghafari[2]**

[1]Department of Pharmaceutics. Faculty of Pharmacy, Kabul University, Kabul, Afghanistan
[2]Department of Pharmacology, Faculty of Pharmacy, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: Tamim.ghafari@yahoo.com

## Abstract

One of the Ministry of Higher Education's primary strategic aims is to provide standard academic curricula that meet the demands of our society. Curriculum development is a dynamic process in which learning opportunities, materials, equipment, and other resources are designed, assessed, and revised continually to create advantageous improvements in educational programs. The ever-increasing growth of society requires educational curricula that match a country's current and future demands. Professional degrees, which provide students with practical knowledge and skills, are crucial to higher education curricula. Pharm.D, or Doctor of Pharmacy, is one of these professional fields that prepares students with the clinical expertise and skills needed for patient-centered care and the judicious use of medications. This article aims to provide an overview of the Pharm.D program and its significance in the development of the country's pharmaceutical educational programs. It can be stated that the number of Pharm.D programs is growing internationally, and the majority of countries have updated their B. Pharm degrees to Pharm.D programs.

**Keywords:** Pharm.D; Pharmacy; Patient-centered; Curriculum; Development

**مقدمه**

انکشاف روزافزون تحصیلات عالی، سبب افزایش محصلان جهت فراگیری علوم در رشته‌های مختلف شده و قرار گزارشات، نفوس جهانی محصلان تا سال ۲۰۲۵ میلادی تا ۲۶۲ میلیون محصل تخمین گردیده که دو چند نفوس محصلان در حال حاضر می‌باشد. یکی از فکتورهای عمدۀ که برنامه‌های تحصیلات عالی را متأثر می‌سازد، رابطه بین برنامه تحصیلی و میزان کاریابی بعد از فراغت است. معمولاً فارغان با مهارت‌های عملی در ساحه کاری می‌توانند زودتر صاحب وظیفه شوند که این نیازمندی می‌تواند با رشته‌های مسلکی (Professional Degrees) مرفوع گردد (۱).

همگام بودن با انکشافات روزافزون علوم و رقابت‌های تحصیلی نیاز به انکشاف نصاب‌های تحصیلی به‌شکل دوامدار دارد. انکشاف نصاب تحصیلی یک پروسه دینامیک بوده که در آن فرصت‌های یادگیری، مواد، وسایل و منابع جهت تغییرات مثبت برای بهبود برنامه‌های تحصیلات عالی طرح، ارزیابی و بازنگری می‌شود (۲). انکشاف کریکولم‌ها تنها برای رشد و انکشاف پوهنتون‌ها و مؤسسات تحصیلات عالی نبوده، بلکه در یک مفهوم کلی ارتباط مستقیم با پیشرفت یک جامعه و بالاخره با پیشرفت یک کشور دارد.

یکی از رشته‌های مسلکی کلیدی رشته فارم‌دی (Pharrm.D) یا داکتر فارمسی (Doctor of Pharmacy) می‌باشد که اکثراً در کشورهای رو به انکشاف به آن کم‌تر توجه صورت گرفته است. این رشته که برای اولین بار جهت ارایه خدمات مریض‌محور و دخیل ساختن متخصصین ادویه در پروسه مواظبت‌های دوایی که همانا فارمسستان هستند، ایجاد شد. این رشته که در بیش‌تر از ۳۰ کشور جهان تدریس می‌شود، محصلان را با مهارت‌های عملی- مسلکی آراسته ساخته تا خدمات مریض‌محور را ارایه نموده و در پروسه تداوی در چارچوب مسئولیت‌های از قبل تعیین‌شده جهت افزایش نتایج مطلوب تداوی و استفاده معقول ادویه دخیل گردند. ولی متأسفانه اکثری از نهادهای مسئول در کشور هنوز هم از اهمیت این رشته کلیدی بی‌خبر اند. به‌همین لحاظ در این رساله در مورد اهمیت برنامه فارم دی و نقش آن در انکشاف نصاب تحصیلی رشته‌های فارمسی بحث صورت گرفته است.

**نصاب تحصیلی و انکشاف آن**

اصطلاح نصاب یا کریکولم (Curriculum) اولین بار در سال ۱۶۳۳ میلادی در پوهنتون‌های اسکاتلند استفاده شد. از نظر معنی لغوی نصاب یا کریکولم به‌معنی به راه اندازی، کورس عملکردها و یا عمل به راه‌اندازی آمده است. در مفهوم تحصیلات، نصاب یا کریکولم مجموعه از برنامه یا کورس‌های درسی در یک نهاد تحصیلی می‌باشد. به‌عباره دیگر، نصاب یا کریکولم مجموعه از فرصت‌های آموزشی قبلاً طرح شده برای محصلان می‌باشد (۳). در کل می‌توان گفت که کریکولم باید دارای ۵ اصل عمده ذیل باشد:

۱. چی باید آموخته شود؟
۲. چرا باید آموخته شود؟
۳. چگونه باید آموخته شود؟
۴. چی وقت و در کجا باید آموخته شود؟
۵. طرح تطبیق آن.

نصاب تحصیلی منطبق با نیازهای ملی و همگام با تقاضای پیشرفت‌های جهانی اساس و بنیاد تحصیلات عالی کشور را تشکیل می‌دهد. نصاب تحصیلی در واقع منعکس‌کننده سطح دانش و مهارت‌های فارغان نهاد تحصیلی بوده و تعیین‌کننده چگونگی پیشرفت یک کشور است. بازنگری و انکشاف نصاب‌های تحصیلی اساس رشد نهادهای تحصیلی را نشان می‌دهد. انکشاف نصاب‌های تحصیلی یک پروسه دینامیک بوده که نظر به تقاضا و انکشاف علوم برای همگام بودن با انکشافات علوم باید در دوره‌های زمانی معین بازنگری و تجدید گردد (۲). انکشاف نصاب‌های تحصیلی دارای ۴ اصل که شامل پلان گذاری، تعیین اهداف و محتویات، تطبیق و ارزیابی می‌شود، می‌باشد (۱).




شکل ۱: مراحل انکشاف نصاب های تحصیلی

یکی از اجزای کلیدی نصاب‌های تحصیلی را رشته‌های مسلکی (Professional Degree) تشکیل می‌دهد. نظر به تعریف Abbot عملکرد مسلکی (Professional Practice) از سه اصل اساسی که شامل شناسایی مشکل، مداخله و اقدام برای حل آن می‌باشد، گرفته شده و یا در اصطلاح طبی، شامل تشخیص، مداخله و تداوی است. هم‌چنان به‌عباره دیگر عملکردهای مسلکی عبارت از تطبیق دانش،

علم، تکنالوژی و تیوری‌ها در ساحه عمل جهت ارایه خدمات می‌باشد (۳). رشته‌های مسلکی نیازهای فارغان را برای ارایه خدمات در ساحه عمل مرفوع ساخته و مهارت‌های عملی و مسلکی آن‌ها را افزایش می‌دهد. رشته‌های مسلکی اکثراً رشته‌های دکتورا یا داکتری یا Doctorate بوده که باید از Doctor of Philosophy (PhD) که یک رشته دکتورای اکادمیک است، متمایز گردد. عمده‌ترین رشته‌های مسلکی شامل داکتر علوم وترنری، داکتر علوم طبی، داکتر فارمسی، داکتر حقوق (Juris Doctorate) و داکتر آموزش (Education Doctor) می‌شود.

برنامه فارم دی به‌صورت جهانی رو به انکشاف است و اکثریت از کشورها مثل آمریکا، کانادا، هنگری، ایتالیا، جاپان، کوریای جنوبی، پاکستان، عربستان سعودی، تایلند، کامرون، کانگو، سنیگال، نایجریا و گانا برنامه‌های بی فارم (B. Pharm) خود را به برنامه‌های فارم دی ارتقا داده اند (۴).

**نگاهی بر وضعیت برنامه‌های آموزشی فارمسی**

قسمی‌که قبلاً تذکر داده شد، داکتر فارمسی یا فارم دی یک رشته تحصیلی دوکتورای مسلکی که بیش‌تر بالای دانش و مهارت‌های ضروری با توجه به تقاضاهای کیفیت‌مداری صحت و مبتنی بر اساسات پیشرفتهٔ علمی است، متمرکز می‌باشد (۵،۴). برنامه فارم دی را برای بار نخست در سال ۱۹٦۰ میلادی چند پوهنتون محدود در ایالات متحده آمریکا راه اندازی کردند تا این‌که در سال ۲۰۰۰ میلادی تقریباً تمام پوهنتون‌های فارمسی ایالات متحده آمریکا برنامه بی‌فارم را به فارم دی ارتقا داده و فعلاً تنها فارغان رشته فارم دی می‌توانند خدمات فارمسی را انجام دهند (۵). در جاپان رشته فارم دی در پهلوی رشته بی فارم در سال ۲۰۰٦ میلادی جهت افزایش ظرفیت فارمسستان برای مواظبت‌های دوایی ایجاد شد که یک دوره ٦ ساله است. در کوریای جنوبی این رشته نظر به کم‌بود فارمسستان با دانش کلینیکی در سال ۲۰۰۵ میلادی معرفی و در سال ۲۰۰۹ میلادی تمام رشته‌های بی فارم به فارم دی ارتقا داده شد. به‌طور مشابه در سال ۲۰۰۴ میلادی پاکستان دورهٔ بی فارم ۴ ساله خویش را به دورهٔ ۵ ساله فارم دی ارتقا داد (۴). در هندوستان برنامه ٦ ساله فارم دی در سال ۲۰۰۸ میلادی راه اندازی گردید. هم‌چنان در افریقای جنوبی در سال ۱۹۹٦ میلادی رشته فارم دی برای افزایش کیفیت خدمات فارمسیوتیکی معرفی گردید (۵). در حال حاضر در بیش‌تر از ۳۰ کشور جهان رشته فارم دی تدریس می‌گردد و علت ارتقای بی فارم به فارم دی، در اکثر کشورها افزایش دانش و مهارت‌های کلینیکی فارغان و معرفی برنامه کلینیکی بوده است. قابل ذکر است که موجودیت بی فارم برای تربیه ظرفیت‌های که مستقیماً با مریض سروکار ندارند، مانند کار در صنعت فارمسی و بازاریابی نیز ضروری پنداشته می‌شود (۴).

**بررسی وضعیت برنامه تحصیلی پوهنځی فارمسی**

در افغانستان رشته فارم دی برای اولین بار در سال ۱۳۸۴ هجری شمسی در پوهنځی فارمسی پوهنتون کابل با سعی و تلاش خسته‌گی‌ناپذیر هیئت رهبری و اساتید این پوهنځی ایجاد گردید. این تصمیم بعد

از یک نیازسنجی دو ساله در سطح ملی و با همکاری سازمان جهانی صحت و وزارت صحت عامه با یافته‌های ملموس مبنی بر چنین گذار صورت گرفت. گفتنی است که رشته فارمسی در گذشته در سیستم صحت نقش منفعل، ضعیف و منجمدی داشت که در نتیجهٔ آن استفاده از ادویه در کشور و سیستم خدمات دوایی در بدترین و اسفناک‌ترین وضعیت قرار داشت. نیازسنجی انجام شده متکی بر دو هدف زیر بود:

۱. تغییر توجه از محصول فارمسیوتیکی به مریض با درنظرداشت ایجاد تصور جدید کلینیکی و ایجاد پوتنسیل عرضه مؤثر خدمات دوایی و مواظبت فارمسی و طرح نصاب مبتنی بر نیاز جامعه
۲. تغییر کلی در نصاب با درنظرداشت مسئولیت‌های مشخص در فارمسی (٦).

در این مدت این رشته در این پوهنځی پله به پله انکشاف چشم‌گیر نموده تا فارمسستان با مهارت‌های مسلکی و کلینیکی به جامعه تقدیم کردند. مضامین مختلف کلینیکی جهت رشد مهارت‌های کلینیکی محصلان در اثر سعی و تلاش اساتید پوهنځی فارمسی شامل کریکولم این رشته گردید که از آن جمله می‌توان مضامین فارمکوتراپی، فارمسی کلینیکی، فارمسی شفاخانه، بیوشیمی کلینیکی، مایکروبیولوژی کلینیکی و تغذی کلینیکی را نام برد. با ارتقای بی فارم به فارم دی، تغییرات در کاریابی فارغان، افزایش در توانایی‌های فارغان و تغییرات ملموس در ارائه خدمات دوایی کشور به‌وجود آمده است. علاوه بر آن بعد از سعی و تلاش خسته‌گی‌ناپذیر این پوهنځی، برای اولین بار طرح مرحله‌وار ایجاد دیپارتمنت فارمسی کلینیکی در شفاخانه‌های کادری به وزارت محترم تحصیلات عالی پیشنهاد گردید.

فارم‌دی بیشتر متمرکز در ساحات فارمسی کلینیکی، فارمسیوتکل انالیز، فارمسی شفاخانه، مواظبت‌های دوایی، تغذی کلینیکی و مایکروبیولوژی کلینیکی می‌باشد. در حالی‌که بی فارم فاقد اهداف واضح بوده و بیش‌تر به‌طور انتزاعی فارمسی را تعقیب می‌نماید.

۱. **فارمسی کلینیکی:** یک بخش عمده از فارمسی بوده که یکجا با تیم صحی در پروسه تداوی مستقیماً جهت بهبود مؤثریت و مصئونیت تداوی دوایی شامل می‌باشد. فارمسی کلینیکی مسئول ارزیابی مشکلات صحی مریض و جستجوی راه‌حل یکجا با سایر اعضای تیم صحی می‌باشد.
۲. **فارمسیوتیکل انالیز:** مسئول تشخیص، تعیین، تجزیه و خالص‌سازی مرکبات مختلف که برای فورمولیشن‌های دوایی استفاده می شوند، می‌باشد.
۳. **فارمسی شفاخانه:** یک بخش از فارمسی می‌باشد که شامل انتخاب، تهیه، نگهداری و توزیع درست ادویه و وسایل طبی می‌باشد. هم‌چنان فارمسی شفاخانه خدمات چگونگی استفاده معقول ادویه و محصولات صحی را برای طبیب، نرس و مریض ارایه می‌نماید.

۴. **مایکروبیولوژی کلینیکی:** تمرکز بالای شناسایی و بیان اوصاف عوامل انتانی جهت انکشاف ادویه و تداوی درست آن می‌نماید.

۵. **تغذی کلینیکی:** یک بخش از فارمسی کلینیکی بوده که در وقایه، تشخیص و تداوی امراض تغذی و میتابولیک سهم می‌گیرد.

اهداف فارم دی با توجه به نیازسنجی‌های انجام شده و تجارب کشورهای مانند افغانستان عبارتند از:

۱. سهم فعال در تورید، تولید، توزیع و کنترول ادویه و غذا بر مبنای روش‌های عصری، علمی و تخنیکی (Industrial Pharmacy)؛

۲. پیش‌برد امور فنی و مسلکی دواخانه‌های دولتی، شفاخانه‌ها (Hospital Pharmacy) و فارمسی شهری (Community Pharmacy)؛

۳. سهم فعال در عرصه تدارک و عرضه خدمات دوایی، مواظبت دوایی(Pharmaceutical care)، سیستم معلوماتی و قانون‌گذاری پیرامون دوا؛

۴. پیش‌برد امور فارمسی کلینیکی (Clinical Pharmacy) و ارزیابی تداوی دوایی در وارده‌های شفاخانه‌ها؛

۵. اجرا و تفسیر معاینات بیولوژیکی، سهم فعال در مجادله با امراض انتانی و مقاومت‌های میکروبی؛

۶. تحلیل و تجزیه کیفی محصولات غذایی و مواد آرایشی در لابراتوارهای تجزیه مواد غذایی و آرایشی؛

۷. مطالعه و تحقیقات پیرامون گیاهان طبی، استفاده و جستجوی طرق بهتر عرضه و بهره‌برداری از فلورای گیاهی کشور؛

۸. نقش فعال در مطالعه و تحقیقات اپیدیمیولوژیک و امور مربوط به فارمسی؛

۹. توانایی در قسمت تحقیق، شناخت، تداوی و وقایه مواد سمی، تحلیل و تجزیه نمونه‌های توکسیکولوژیک در طب عدلی، فابریکات صنعتی، تولید ادویه و غذا (٦).

عمده‌ترین هدف رشته فارم دی ارایه خدمات مریض‌محور با انجام مواظبت‌های دوایی (Pharmaceutical Care) است. مفهوم مواظبت‌های دوایی که توسط هپلر و استرند به‌عنوان "ارائه مسئولانه تداوی دوایی به‌منظور دست‌یابی به نتایج مشخصی که کیفیت زندگی مریض را بهبود می‌بخشد" تعریف شده است. مواظبت‌های دوایی از جمله وظایف کلیدی فارمسست بوده و عبارت از ارائه مستقیم و مسئولانه مراقبت‌های مرتبط با دوا به‌منظور دست‌یابی به نتایج مشخصی است که کیفیت زندگی مریض را بهبود می‌بخشد (۷). مواظبت‌های دوایی نشان‌دهنده یک رویکرد سیستماتیک است که به مریضان اطمینان می‌دهد که دواهای درست را با دوز مناسب برای استطباب مناسب دریافت می‌کنند. این شامل

فارمسست‌های است که مدیریت دوا را با همکاری طبیب، مریض و پایواز تعدیل می‌کنند. مداخلات تحت رهبری فارمسست مانند بررسی دوا، انتقال هماهنگ از شفاخانه به مرکز مراقبت طولانی مدت و مشاوره فارمسست به مریضان و طبیبان نشان داده شده که به‌طور مؤثری تجویز نامناسب و حوادث نامطلوب دوایی را کاهش می‌دهد (۸). اصول کلیدی مواظبت دوایی شامل جمع‌آوری اطلاعات، ارزیابی اطلاعات، طرح پلان‌های دوایی، تطبیق پلان و نظارت از آن می‌باشد (شکل ۲).




شکل ۲: اصول کلی مواظبت دوایی

**نتیجه‌گیری**

نصاب تحصیلی عنصر عمدۀ تحصیلات عالی کشور را تشکیل می‌دهد که انکشاف آن جهت همگام شدن با انکشافات و ترقی روزافزون، ضروری و حتمی پنداشته می‌شود. نصاب تحصیلی باید همواره با توجه به نیازهای جامعه در حال تغییر و انکشاف باشد. نصاب‌های تحصیلی رشته فارمسی باید استوار به اصول خدمات دوایی و کلینیکی هدف‌مند و مبتنی بر نیازهای کشور و انکشافات علمی باشد. یکی ازین برنامه‌ها فارم دی (Doctor of Pharmacy) بوده که فارغان را با دانش و مهارت‌های عملی ضروری و مریض‌محور با تأکید بالای استفاده معقول ادویه، ارتقای کیفیت تداوی و هم‌گرایی بهتر با خدمات صحی در کشور تواناتر می‌سازد. این رشته خوش‌بختانه در پوهنځی فارمسی پوهنتون کابل از سال ۱۳۸۴ هجری شمسی بدین طرف رشد چشم‌گیر نموده و بازده آن به جامعه درخور توجه می‌باشد.

## منابع


(۱)کوریکولم فارم-دی. پوهنځی فارمسی، پوهنتون کابل. ۱۳۹۵.

(2) Garbett C. Comparing Professional and Academic Qualifications as a Route to Institutional Curriculum Change. Journal of Perspectives in Applied Academic Practices. 2016;4(2):55-61.

(3) Ayeni OO. Curriculum Development for Developing Countries. ISPRS Commission VI. 1989:227-32

(4) Hicks O. Curriculum in higher education: Confusion, complexity and currency. HERDSA Review of Higher Education. 2018; 5:5-30.

(5) Supapaan T, Low BY, Wongpoowarak P, Moolasarn S, Anderson C. A transition from the BPharm to the PharmD degree in five selected countries. Pharmacy Practice. 2019 Jul-Sep;17(3):1611.

(6) Yu P, Wilson BJ, Bobbins AC, Srinivas SC, Yin G. Pharm D Program: Is it Necessary in BRICS? Indian Journal of Pharmaceutical Education and Research. 2020 Jul 1; 54(3):517-25.

(7) van Mil JW, Fernandez-Llimos F. What is 'pharmaceutical care' in 2013? Pharm Pract (Granada). 2013 Jan;11(1):1-2.

(8) Hepler CD, Strand LM. Opportunities and responsibilities in pharmaceutical care. Am J Hosp Pharm. 1990; 47(3):533–43.

# د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پیاوړتیا څرنګوالی

**پوهندوی میرویس ستانکزی**

اسلامي ثقافت څانګه، شرعیاتو پوهنځی، سید جمال الدین افغان پوهنتون، کونړ، افغانستان
ایمیل: stanikzai_mirwais@yahoo.com

**لنډیز**

په دې مقاله کې په تحصیلي بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو څرنګوالی او د پیاوړتیا لارې چارې په تحلیلي مېتود څېړل شوي، د افغاني ټولنې له پاره د دیني او ملي ارزښتونو پالنه اړینه ګڼل کېږي، د څېړنې له پایلو ښکاري چې تحصیلي بنسټونو کې له دیني او ملي ارزښتونو څخه موخه د دین په رڼا کې دنیوي اړتیاوې په معقول ډول تنظیمول او پیاوړي کولو غوره لاره یې په تحصیلي نصاب کې د دیني لارښوونو ځای پر ځای کول دي؛ چې د دیني او ملي ارزښتونو په پیاوړي کولو سره د ژمنو او وړ کادرونو روزنه وشي او راتلونکي نسلونه د دیني فکر او ملي هویت په ګاڼه سمبال شي، دا راز په متوازن ډول ورته پاملرنه نه کول ناخوالې له ځانه سره لري.

**کلیدي اصطلاحات:** تحصیلي بنسټونه؛ دینپالنه؛ دیني ارزښتونه؛ کلتور؛ لوړې زده کړې؛ ملي ارزښتونه

# Strengthening Religious and National Values in Higher Education Institutions

**Assistant Prof. Mirwais Stanikzai**

Department of Islamic Culture, Faculty of Islamic Law, Sayed Jamaluddin Afghani University, Kunar, Afghanistan
Email: stanikzai_mirwais@yahoo.com

**Abstract**

This article delves into the nature of religious and national values within higher education institutions, aiming to identify strategies for their enhancement. The study adopts an analytical approach, recognizing the preservation of religious and national values as a fundamental prerequisite for Afghan society. The research findings underscore that integrating Islamic teachings into the educational curriculum is pivotal in aligning worldly needs with religious principles. This approach serves as a means to reinforce religious and national values, ultimately contributing to the cultivation of committed and proficient individuals. Such an approach fosters a national identity and nurtures a religious sensibility within future generations. Conversely, neglecting these considerations may lead to undesirable consequences.

**Keywords:** Educational Institutes; Religiousness; Religious values; Culture; Higher Education; National Values

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین، و الصلاة و السلام علی خیر خلقه محمد و علی اله و اصحابه اجمعین و بعد:

د پوهې او څېړنې پر مټ د ارزښتونو پیاوړتیا او پرمختګ په اوسنۍ نړۍ کې د تمدنونو ترمنځ د سیالي هغه ډګر دی، چې کومو ملتونو ورته پاملرنه کړې ده، هغوی یې سرلاري او چا چې پکې ناغیړې کړې ده، په حقیقت کې یې له خپلو ارزښتونو سره لوبې کړې دي.

د بشري هویت د تکامل له پاره دیني او ملي ارزښتونه بنسټي عناصر ګڼل کېږي، له همدې امله د ژوند په ټولو ډګرونو کې د دې پیاوړتیا یوه اړتیا او په خپل ځای ارزښتمن ګڼل کېږي، دغه اړتیا او ارزښت تر نورو ډېر په تحصیلي بنسټونو کې کار کېدای شي، ځکه په دې بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د تحقق په اړه پلټنې او څېړنې کېږي او د حل لارې ورته په ګوته کېږي، چې غوره تحصیلي نظام، ځوان نسلونه او پر دیني او ملي ارزښتونو ژمن کادرونه د دې بهیر فعالې برخې دي.

په دې څېړنیزه مقاله کې هم په تحصیلي بنسټونو کې د ملي او دیني ارزښتونو د پیاوړتیا څرنګوالي باندې بحث شوی دی.

**د ستونزې بیان**

دا چې تحصیلي بنسټونه د ځوان نسل د روزنې او راتلونکي د جوړونې پیلامه ګڼل کېږي؛ نو ځکه د اسلامي او افغاني ارزښتونو د دښمنانو له لورې د خپلو ارزښتونو، کلتور او د ژوند بڼې ته زموږ د ځوانانو د لېواله کولو له پاره ډېر کار شوی او کېږي او دا ځکه چې د اسلامي او افغاني ارزښتونو دښمنان په تحصیلي ماحول کې د دیني ارزښتونو او د ځوانانو د تدین له رول او تأثیر څخه په وېره کې دي، د افغانستان په پوهنتونونو کې څرنګه چې لازمه ده په کافي اندازه د اسلامي او ملي ارزښتونو د ترویج او ودې لپاره کار نه دی شوی، همدا سبب و چې په پوهنتونونو کې د نوښتګرو او پر دین او وطن مینو کادرونو پر ځای زمونږ له تحصیلي بنسټونو څخه ځینې داسې څېرې ټولنې ته وړاندې شوې چې د دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو د پوره کولو پر ځای د ټولنې د اوږو بار شول، او د ماده پرستۍ پر فکر روزل شوي؛ چې د نورو د ګټو او اړتیاو د پوره کولو پر لار به روان و.

**د څېړنې ارزښت**

دې کې شک نه شته چې تحصیلي چاپیریال د ځوان نسل د دیني، اخلاقي او ټولنیز جوړښت پیلامه ده، پیل چې څنګه او په کومه انګیزه وشي، هماغه به د هغه ولس په دیني، اخلاقي او ټولنیز جوړښت کې څرګندېږي، که مو پوهنتوني چاپیریال د دینپالنې او خپل منل شوي کلتور په خوږه روحیه سمبال وي، نو پکې روزل شوی نسل به هم د خپل ولس ارزښتونو او د هغه ټولنیز جوړښت ته ژمن وي او که

د پردیو پر فکر او انګیزو وروزل شي، نو روزل شوي افراد به یې هم پردیو ته وفادار او د هغوی پر لاره روان وي، د هر ملت د پاینښت، ازادۍ او د سرلوړۍ د خوندیتوب اسباب او عوامل د هغه ملت پر دیني او کلتوري ارزښتونو کې نغښتي وي او هر ولس چې خپل دیني او کلتوري ارزښتونه له لاسه ورکړي، هغه خپل شتون هم له لاسه ورکوي، هغه ملت بیا نه له نورو ملتونو سره سیالي کولای شي، او نه هم په نورو کې له منحل کېدلو څخه ځان ژغورلای شي.

**څېړنموخې**

په دې څېړنې کې لاندې موخو ته د رسېدلو هڅه شوې ده؛

اصلي موخه: د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پیاوړتیا څرنګوالی او لارې چارې په ګوته کول.

فرعي موخې

۱. د لوړو زده کړو د بنسټونو پېژندنه.

۲. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو ارزونه.

۳. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو پر وړاندې ننګونې.

۴. د لوړو زده کړو بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو لارې چارې.

**د څېړنې پوښتنې**

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنو ته د ځواب میندلو هڅه شوې ده؛

اصلي پوښتنه: د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پالنې او پیاوړتیا لارې چارې څه دي؟

فرعي پوښتنې

۱. د لوړو زده کړو د بنسټونو څخه موخه څه ده؟

۲. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو اوسنی وضعیت څنګه ارزوئ؟

۳. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو پر وړاندې ننګونې څه دي؟

۴. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو لارې چارې څه دي؟

**د څېړنې مخینه**

په تحصیلي بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پیاوړتیا په اړه داسې کومه څېړنه زما ترسترګو نه شوله، په سیمه ییزو کتابتونونو، څېړنیزو لیکنو او د هېواد په بېلابېلو څېړنیزو مراکزو کې د پوښتنو او ګرویږنو له

لارې مې داسې څه ونه موندل، البته په انټرنیت کې مې ځینې مقالې ولیدلې چې په تحصیلي بنسټونو کې د دیني او ملي فکر پر وړاندې ننګونې، ستونزې او بېلابېلې خبرې پکې وې، لکه؛

- د مولوي عبدالهادي مجاهد لیکنه :(د ولسونو او نظامونو په جوړولو او ورانولو کې د تعلیم، فکر او فرهنګ نقش).
- د ډاکټر عبدالرحمن شهیدزاد لیکنه: (د واحد مذهبي تعلیمي نصاب اړتیا)، د رقیب سایل لیکنه(په پوهنتون کې تحصیلي نصاب).
- د مولوي عبدالهادي مجاهد لیکنه: (په دیني تعلیمي نصاب کې د معاصرې باطل پېژندنې د مضمون ضرورت).
- د ډاکټر عطاالله زیارمل لیکنه: (تعلیمي نصاب او په کې شته ستونزې).
- د محمد تمیم رحیم زی لیکنه: (د افغانستان تعلیمي نصاب بدلون ته اړتیا لري).
- د پوهندوی دکتور فضل الهادي وزین لیکنه: (د افغانستان تعلیمي نصاب کې د دیني توندلارۍ رېښو پیدا کولو په راپور لنډه کتنه!).
- د میا نور اغا لیکنه: (عصري تعلیمي نصاب مو باید څنګه وي؟).
- او همدا راز په عربي ژبه مې یوه مقاله هم ولیده چې په جامعة المعسکر کې د استاذ فتیحة صنور له خوا ترسره شوې ده.
- چې د ټولو مقالو او څېړنو انټرنیټي لینکونه او ادرسونه یې د سرچینو په فهرست کې ځای پر ځای شوي دي.

خو دا ټول معلومات د یوې اکاډمیکې مقالې او څېړنې په توګه نه دي، بلکې یوازې معلوماتي یا شخصي نظریات دي.

**څېړندود**

دا څېړنه په تحلیلي مېتود ترسره شوې ده؛ چې مواد یې په ټوله کې له انټرنټ څخه را اخیستل شوي دي.

**د تحصیلي بنسټونو او دیني او ملي ارزښتونو معنا او مفهوم**

**د تحصیلي بنسټونو مفهوم**

د لوړو زده کړو له بنسټونو څخه موخه هغه پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسې دي، چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې تحصیلي، څېړنیز او علمي خدمتونه وړاندې کوي.

**د ديني ارزښتونو مفهوم**

له ديني ارزښتونو څخه موخه د اسلام د مبارک دين هغه عام اساسات او اصول دي چې په ټوليزه توګه يې روح په ټولو شرعي حکمونو کې رعايت شوی دی او د اسلامي شريعت مقاصد چې د مصالحو د لاسته راوړنې او د ضررونو د محوه کولو غوښتنه کوي او هم د اعتدال د اصل رعايت او همدا راز د اسلامي هويت او پر دين ولاړې انګېزې درلودل (صنور،۲۰۱۷، ص۸۳).

**د ملي ارزښتونو مفهوم**

له ملي ارزښتونو څخه موخه هغه افغاني درانه منل شوي عنعنات او دودونه دي چې د اسلام له مبارک دين سره ټکر نه لري چې د نورې نړۍ په پرتله يې افغانان لري او پرې وياړي لکه هر اړخيزه خپلواکي او د ژوند په ټولو ډګرونو کې د افغانپالنې کلتور او هېوادنۍ مينه او داسې نور د افغاني کلتور او ملي ارزښتونو په توګه يادولای شو.

همدا راز د عصري علومو او ساينسي پرمختګ د لړۍ فعاله ساتل هم د ملي ارزښتونو له جملې څخه ګڼلی شو، څکه چې د هېواد د ځمکنۍ خپلواکۍ په څېر علمي او انکشافي خپلواکي هم ملي اړتيا ده.

**په افغاني تحصيلي بنسټونو کې د دين پالنې مثبتې اغېزې**

لکه چې مخکې مو يادونه وکړه، دين پالنه او ديني ارزښتونو ته ژمنتيا د اسلامي امت د هر وګړي مسؤليت دی، چې له امله يې وخت پر وخت مسلمانو دعوتګرو خپلې هڅې نه دي سپمولي چې له امله يې د لوړو زده کړو په بنسټونو کې مثبتې لاسته راوړنې هم له ځانه سره لرلي دي، چې ځينې يې په لاندې توګه وړاندې کوو:

- د تحصيلي بنسټونو څخه به مو د ديني لارښوونو په ګاڼه سمبال علمي کادرونه ټولنې ته وړاندې کېږي.
- د ټولنيزو اړتياو د پوره کولو په لاره کې به د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژوند عملي تګلاره عملي کوي.
- داسې علمي کادرونه به ټولنې ته وړاندې کېږي، چې د تحصيل سره سره به د عبادتونو او نورو الهي احکامو د حکمتونو او ګټو انګېزه له ځانه سره لري او هم به د اسلام د سپېڅلي دين سره بشپړ تړاو پالي.
- د افرادو خپل منځي کې چلن مو ځوانان پر قرآني او اسلامي اخلاقو سينګار وي، او د ناوړه اخلاقو څخه به خپل ځانونه ساتي.

- د عصري علومو ماهرین به مو د الله جل جلاله د ستر او سپېڅلي کتاب قرآن کریم څخه د حقیقي پوهې او درک په رڼا کې د هېواد د پرمختیا او سوکالي لپاره کار کوي.
- په ورځنیو مالي معاملاتو او اقتصادي ژوند کې به داسې معلومات لري چې؛ کفایي فریضه لکه؛ ساینس او ټکنالوژۍ کې تخصص او داسې نور به د دیني ارزښتونو په رڼا کې پالي.
- په دې سره به هم دنیوي اړتیاوې او هم د خپلو دیني ارزښتونو په پاللو سره د اخرت له تلپاتې ګټو څخه هم برخمن شي (عزیزي، ۱۳۹۸هـ ش، ۹۱-۹۸).

**د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پالنې او پیاوړتیا پر وړاندې ننګونې**

د کره معلوماتو او عیني واقعیتونو په رڼا کې د هر اړخیزې څېړنې پر اساس کولای شو په تحصیلي بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پالنې او پیاوړتیا پر وړاندې ځینې خنډونه، ستونزې او ننګونې په لاندې توګه په ګوته او تر څېړنې لاندې ونیسو:

- د مسجدونو د ابادۍ ستونزه: په ځینې پوهنتونونو کې مسجدونو جوړولو ته ځانګړې توجه نه ده شوې، او نه هم مسجدونه څرنګه چې لازمه ده په عبادتونو اباد نه دي، له جوماتونو سره د ځوانانو د زړونو تړل او لېوالتیا خورا اړینه ده، چې دا ستونزه په ځینو پوهنتونونو کې د جومات ببخي نشتوالي، وړوکوالي او تنګوالي، معنوي ویجاړۍ، د فکري او دیني روزنیزو دعوتي درسونو کمزوري او نورو بنو سره یادولای شو، چې دا هم د دیني ارزښتونو د پیاوړتیا پر وړاندې یوه ستره ننګونه ده.
- د نورو سره مشابهت او ړوند تقلید: زموږ په تحصیلي نهادونو کې ځینې چارې داسې هم دي، چې نه زموږ د دین او نه هم افغانیت سره اړخ لګوي، او نه هم د پرمختللې نړۍ د پرمختګ راز ګڼل کېږي، بلکې بې ځایه کړنې دي، لکه د فراغت په درشل کې په جامو لیکل کول، د هغوی د فارغانو په څېر محفلونه جوړول او د ړوند تقلید ګڼې نورې بېلګې چې یوازې له کفارو سره د مشابهت هڅه ده، چې دا په اسلامي شریعت کې یو حرام عمل دی، په یو حدیث کې راځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» (ابوداود، ب ت، ج ۴، ص ۴۴).

یعنې څوک چې له یو قوم سره ځان مشابه او ورته کوي، هغه به د هغوی له جملې څخه وی.

موږ د یو نړیوال، معقول او فطري دین او افغاني اوچت هویت په لرلو سره باید د نورو له پاره بیلګه واوسو، له بده مرغه چې زموږ په ځینې تحصیلي بنسټونو کې د نورو د لباسونو او د هغوی په څیرخوی بوی کولو هڅه کېږي، او دا لوړ او پرمختللی تهذیب ګڼل کېږي، او د خپل ملي او دیني هویت، صورت او سیرت باندې ځان برابرول وروسته پاتې والی، بنسټ پالنه او ناپوهي ګڼل کېږي، په داسې حال کې چې اصلي پوهه د خپل ځان او بیا نورو پېژندل دي، یا هم خپل کلتور او دین پېژندل او تر نورو لومړی

پرې ځېل ځان برابرول دي، يا په بل عبارت د نورو پېښې کول پرمختگ نه دی، بلکې چې نور ستا پېښې وکړي، دا پرمختگ او تهذيب دی، چې له بده مرغه دا او دې ته ورته کړنې زموږ په ځينې تحصيلي بنسټونو کې له خورا سترو ننګونو څخه شمېرل کېږي.

- د نجونو گډ تعليم: پدې کې شک نشته چې تعليم د ښځې او نارينه حق دی خو شرايط يې يوله بل سره توپير لري نو په دې اساس دولت مسئوليت لري چې د نجونو لپاره د تعليم شرايط برابر کړي او د هغوی لپاره بيل او ځانګړې مکتبونه اومدرسې جوړې کړي ترڅو هغوی زده کړې وکړي، همدارنګه په کار ده چې دښځو لپاره د لوړو زده کړو زمينه او اسانتياوې برابرې شي؛ څو هغوي له تحصيل څخه محرومې نشي او خپلې لوړې زده کړې په ښه شان سره وکړي اوپه لاره کې موانع يې له منځه يوړل شي.
- د ښځو زده کړې او تحصيل لپاره بايد ځينې اصول او مقررات شتون ولري؛ څو له زده کړو او تحصيل څخه محرومې پاتې نشي، لکه: ځانګړي تحصيلي بنسټونه جوړول، د نجونو لپاره شرعي حجاب رعايتول، د ناستې پاستې بيل چاپېريال، د عفت او حيثيت خونديتوب او نورې اسانتياوې (شرفی، (۱۳۷۸ ل)؛
- په عصري زده کړو کې د نورو د پنځونو پيروي: زموږ د هېواد پر تحصيلي او څېړنيزو بنسټونو کې يوه لويه نيمګړتيا د ساينسي څېړنو کمزوري او په دې تړاو د نورو د پنځونو او صنعتونو پيروي ده، د پرمختګ او انکشاف هغه وياړونه چې زموږ اسلافو يې د نوښت وياړ درلود، اوس د نورو په ولکه کې دی، زموږ ځوان نسل او علمي کادرونه تر نورو کم نه دي، چې ښه بېلګه يې په دې وروستيو کې د افغان انجينرانو له لوري د يو پرمختللي او ښايسته موټر جوړول دي، له بده مرغه زموږ د تخليق او پنځونې برخه ډېره کمزورې ده، چې دا زموږ د هېواد د څېړنيز او انکشافي استقلال او ملي ارزښتونو پر وړاندې ستره ننګونه ده.
- د استاذ واقعي مقام ته نه درناوی: په تحصيلي بنسټونو کې کله کله د استاذ مقام ته څرنګه چې ښايي د شاګردانو له لوري درناوی نه کېږي، مخامخ ستغې سپورې، ګواښونه، له ټولګي څخه شړل، درس ته يې نه کېناستل، د ډېرو نومرو له پاره له ګواښ څخه استفاده، د استاذ جاسوسي کول، استاذ ته اذيت رسول، د اداري له خوا له قانع کونکو دلايلو پرته د استاذانو په تعين او تبديل کې د محصلانو خبرو ته غوږ نيول او بيا يې عملي کول او نورې ګڼې تحقيرونکې کړنې دي چې زمونږ ځينې تحصيلي بنسټونه يې بد رنګه کړي، استاذ ته پکې د استاذۍ هغه سپيڅلی مقام او درنښت ندی ورپاتې، چې له امله يې زمونږ ځينې تحصيلي بنسټونو خپل کيفيت له لاسه ورکړی او د تربيې او

Teresa Nogueiro, Margarida Saraiva and Fatima Jorge. (22 November 2022). The Sustainable Development Goal 4 and the Impact Ranking: Quality Education in Portuguese Higher Education Institutions, journal of biomedical research & environmental sciences.

Maia Chankseliani & Tristan McCowan. (6 November 2020). Higher education and the Sustainable Development Goals, Springer Nature.

#ديني ضوابطو او د ټولنې اړتيا و ته په پام تحصيلي نصاب

**پوهندوی خان محمد خدرخېل**

اسلامي تعليماتو څانګه، شرعياتو پوهنځی، سيد جمال الدين افغان پوهنتون، کنړ، افغانستان
ایمیل: khanmohammad269@ymail.com

**لنډيز**

په دې مقاله کې په تحصيلي نصاب کې ديني اصولو او ټولنيزو اړتياو ته د پاملرنې ګټې او ارزښت په تحليلي بڼه تر څېړنې لاندې نيول شوې چې په تحصيلي نظام کې يې شتون ګټور او اړين دی، د څېړنې پايلې ښيي چې د ټولنيزو اړتياوو ترلاسه کولو کې ديني ضوابطو ته پاملرنه د ارزښتناکې موخې په توګه خوراګټور، اړين او په موخه او وسيله کې ګڼې مثبتې اغېزې له ځانه سره لري، نصاب به مو د ديني ارزښتونو په ګاڼه سمبال، لاسته راوړنې به مو بشري ژوند ته واقعي سوکالي بخښي، اړتياوې به مو پوره او د پرمختګ په کاروان کې به له نورو سره سيالان يو، او له پامه غورځول يې نا څرګندې موخې پسې بې ګټې هڅه او د نورو په څېر د خيالي هوساينې لټون دی، نه به مو اړتياوې پوره وي او لا به د ټولنې د غاړې بوج هم يو.

**کليدي اصطلاحات:** ارزښتونه؛ اړتيا؛ اصول؛ تحصيلي نصاب؛ ټولنه؛ دين؛ ضوابط؛ قواعد

# Development of a Curriculum Based On Religious Regulations and the Needs of Society

**Assistant Prof. Khan Mohammad Khadarkhil**

Department of Islamic studies, Faculty of Sharia, Sayed Jamaluddin Afghani University, Kunar, Afghanistan
Email: khanmohammad269@ymail.com

## Abstract

This article employs an analytical approach to assess the advantages and intrinsic worth of integrating religious principles and societal requirements into educational curricula, a practice deemed indispensable and pertinent in any educational system. The research findings underscore the profound significance of heeding religious regulations to fulfill societal needs, with far-reaching benefits in intent and implementation. This approach enriches our educational curricula with moral and religious values and substantially enhances human life. Furthermore, it equips us to effectively address our needs and compete effectively within the ever-evolving development landscape. Conversely, disregarding this pivotal aspect amounts to a futile pursuit of ill-defined objectives and the quest for temporary comforts, mirroring the actions of others. Such negligence results in unfulfilled needs and perpetuates the burden borne by society.

**Keywords:** Values; Need; Norms; Educational Curriculum; Society; Religion; Regulation; Rules

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین، و الصلاة و السلام علی رحمة للعالمین، و بعد:

تحصیلي نصاب د هر ولس د دیني، اخلاقي، اجتماعي او وجداني جوړښت لپاره قالب وي، قالب چې څنګه جوړ شوی وي او څه ډول نقش او نګار پکې کېنبل شوی وي هماغه به د هغه ولس په دیني، اخلاقي اجتماعي، ادبي او وجداني جوړښت کې څرګندېږي، که د تحصیلي نصاب مفاهیم او ارزښتونه خپل وي؛ نو پر بنسټ یې روزل شوی نسل به هم د خپل ولس ارزښتونو او د هغه ټولنیز جوړښت ته ژمن وي او که د تحصیلي نصاب مفاهم او ارزښتونه پردي وي؛ نو په رڼا کې روزل شوی نسل به هم نورو ته وفادار او د هغوی پر لاره روان وي، د هر ملت د پایښت او سرلوړۍ د خوندیتوب لاملونه د هغه ملت په دیني او کلتوري ارزښتونو کې نغښتي وي او چې کله هم دغه ډول ارزښتونه له لاسه ورکړي، خپل هویت هم له لاسه ورکوي، بیا نه له نورو ملتونو سره سیالي کولای شي او نه هم په نورو کې له منحل کېدلو څخه ځان ژغورلای شي.

**د ستونزې بیان**

د دې څېړنې ټولنیزه ستونزه په تحصیلي نصاب کې د اړتیاو او دیني ارزښتونو ترمنځ د توازن نه پامنیوی، چې له امله یې د دیني او عصري علومو د زده کړیالانو ترمنځ واټن را مینځته شوی، حال دا چې دواړه یو له بل سره تړلي او نه بېلېدونکي عناصر دي، دیني ارزښتونو کې د اسلامپالنې د فکر محدود ساتل، د دین پوهنې برخې ته لازمه پاملرنه نه کول، د ماده پرستۍ د فکر وده، ځوان نسل د نورو د ژوند او نظریاتو څخه اغېزمنېدل، او بېرته د همدې ټولنې، دیني او کلتوري ارزښتونو ته د خدمت او پیاوړتیا پر ځای یې پر وړاندې مبارزه کول، د فکري ښکېلاک په لومو کې د ځوان نسل ښکېلېدل، له دین پالنې څخه لېرې ساتل، له اصلي موخو او بوختیاو څخه ناخبري، د دې ټولو ستونزو اساسي سرچینه د پردیو په خوښه جوړ شوی نصاب دی چې په پایله کې یې ځوانان له واقعي پوهنیزو او څېړنیزو بوختیاو څخه لېرې وساتل شي، چې نه یې دیني ارزښتونو ته ژمن و، او نه یې ټولنیزې اړتیاوې پوره کړای شوې.

**د څېړنې ارزښت**

د دې څېړنې ارزښت د دیني ارزښتونو، ټولنیزو اړتیاو او تحصیلی نصاب له ارزښت څخه سرچینه اخلي، چې د دې ټولو شتون یوه دیني، او دنیوي اړینه اړتیا ده، د همدې اړتیا څخه څرګندېږي چې شتون او ترمنځ یې اړیکه او توازن ساتل له ارزښت څخه ډکه موضوع ده.

**څېړنې موخې**

په دې څېړنې کې لاندې موخو ته د رسېدلو هڅه شوې ده؛

اصلي موخه: دیني ضوابطو او ټولنیزو اړتیاو ته په پام د تحصیلي نصاب ارزښت او اغېزې روښانه کول.

فرعي موخې

۱- د دیني ضوابطو، ټولنیزو اړتیاو او تحصیلي نصاب معنا او مفهوم پېژندل.

۲- په تحصیلي نصاب کې دیني ارزښتونه او ټولنیزې اړتیاوې په پام کې نیولو ارزښت په ګوته کول.

۳- تحصیلي نصاب کې دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو ته د پاملرنې مثبتې اغېزو باندې پوهېدل.

۴- او په تحصیلي نصاب کې د دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو له پامه غورځولو ناوړې پایلو باندې رڼا اچول.

**د څېړنې پوښتنې**

په دې څېړنې کې لاندې پوښتنو ته د ځواب میندلو هڅه شوې ده:

اصلي پوښتنه: په تحصیلي نصاب کې د دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو ته پاملرنې ارزښت او پر ټولنې یې اغېزې څه دی.؟

فرعي پوښتنې

۱. د دیني ضوابطو، ټولنیزو اړتیاو او تحصیلي نصاب معنا او مفهوم څه دی؟

۲. په تحصیلي نصاب کې دیني ارزښتونه او ټولنیزې اړتیاوې په پام کې نیولو څه ارزښت لري؟

۳. تحصیلي نصاب کې دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو ته د پاملرنې مثبتې اغېزې څه دي؟

۴. او په تحصیلي نصاب کې د دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو له پامه غورځول څه ناوړې پایلې لري؟

**د څېړنې مخینه**

د تحصیلي نصاب په تړاو ښایي په نړۍ کې ګڼې لیکنې او څېړنې ترسره شوي وي، ځکه تحصیلي نصاب اوس د پرمختللې نړۍ د زده کړه ایزې پرمختیا یو راز ګڼل کېږي؛ نو ځکه به یې وخت په وخت د نویو تجربو، ارزښتونو، کړنلارو او نورو برخو کې حتما لیکل شوي وي؛ خو د افغاني ټولنې د تحصیلي نصاب په تړاو داسې لیکنې چې دیني ضوابطو او ټولنیزو اړتیاو ته په پام په پرتلیزه توګه ترسره شوي وي، زما تر سترګو نه شوه، البته په انټرنیت کې مې ځینې مقالې ولیدلې چې په تحصیلي بنسټونو کې د دیني او ملي فکر پر وړاندې ننګونې، ستونزې او بېلابېلې خبرې پکې وې، لکه:د مولوي عبدالهادي مجاهد لیکنه(د ولسونو او نظامونو په جوړولو او ورانولو کې د تعلیم، فکر او فرهنګ نقش)یا په عربي ژبه د استاذ فتیحة صنور ترسره کړې څېړنه(أثر الضوابط الدینیة علی تمثلات الطالبة الجامعیة)، خود یوې اکادمیکې څېړنې په بڼه داسې کومه مقاله ما ونه لیده.

**څېړندود**

دا څېړنه په تحلیلي بڼه ترسره شوې ده؛ چې مواد یې په ټوله کې له انټرنټ څخه را اخیستل شوي دي.

۱. د ځینو معنوي اقتباسونو په برخه کې له کتابتوني مېتود(لیکل شویو اثارو) څخه هم کار اخیستل شوی دی.

۲. د څېړنې اړوند مواد زیاتره له معاصرو تکنالوجیکي وسیلو څخه په ګټنه را ټول او څېړل شوي دي.
۳. زیاتره مواد یې د بېلابېلو څېړونکو د نظریاتو پر اساس د ذهن، نظر او د تحلیلي تبصرې حیثیت لري.
۴. مواد په علمي او موضوعي توګه په بېلابېلو عنوانونو کې ترتیب شوي، چې د شخصي نظر، تحلیل او تبصرې رنګ پکې غالب دی.

**د دیني ضوابطو، ټولنیزو اړتیاو او تحصیلي نصاب پېژندنه**

دیني ضوابط د عربي ژبې د لغت او اسلامي فقهې په قاموسونو کې په ګڼو لغوي معناو سره کارول شوی دی، لکه: ثبت، ساتنه، نیول، کلکول، لزوم، حزم، ټینګول، جدیت، شدت او داسې نور (مختار، ۲۰۰۸ م، ج ۲ ص ۱۳۴۵- ۱۳۴٦).

همدغو لغوي معناګانو ته په پام او د خپلو مترادفو اصطلاحاتو سره په لړ توپیر د اسلام په قاموس کې د اصولو، قواعدو، عمده کلیاتو، معیارونو، شرطونو، اجراءاتو، بنسټونو، حدودو او نورو ګڼو مفاهیمو باندې کارېدلی دي، چې په عامه توګه یې تعریف داسې شوی دی: ضوابط هغه ټولیز او هر اړخیز اصولو چې پر خپلو ټولو جزئیاتو او افرادو باندې تطبقیږي.(فیومي، ۱۴۱۵هـ، ج ۲ ص ۵۲۰).

په دې توګه له دیني ضوابطو څخه زموږ موخه د اسلام د مبارک دین هغه روح او هر اړخیز معیارونه او اصول دي چې د یوې ارزښتناکې موخې په ډول یې په عمومي بڼه په ټولو دیني حکمونو کې رعایت شوی دی (صنور، ۲۰۱۷م، ص ۸۱- ۹۸)

دغه ارزښتونه د بېلابېلو معیارونو له مخې ګڼ شمېر دي؛ لکه د دین، نفس، عقل، مال او ناموس د خوندیتوب پورې اړوند د اسلامي شریعت موخې، دا راز په دیني زده کړو سره داخرت او په عصري زده کړو سره د دنیا د چارو سمبالښت، اسلامي شعائر او هغه وسیلې چې دې شعائرو پورې اړوند د وسیلو یا غایو په درجه کې وي، ټول په دیني ارزښتونو کې راځي.

په تحصیلي نصاب کې د دیني ارزښتونو څخه موخه د اسلامي عقیدې، اسلامي عباداتو، اسلامي کورني او ټولنیز نظام پالنه، د نبوي سیرت، اسلامي تاریخ او اسلامي تمدن په رڼا کې خپل هویت پېژندل، د اسلامي سیاست او اقتصادي فکر درلودل، د قرآني علومو سره د مینې تړاو، او په نړیوالو اړیکو د مسلمان پالنې او کفر څخه د نفرت احساس درلودل دي.

او له ټولنیزو اړتیاو څخه هم موخه هغه غوښتني دي چې د بشري ټولنې ټول وګړي ورته په عامه یا ځانګړي ډول اړتیا ولري، د بشري ژوندانه لپاره حتمي غوښتنې وي، که د ستونزې د مخنیوي په پار وي، او که د بشپړاوي او سوکالۍ په کچه وي، اړتیاوې مادي وي که معنوي، د وسیلې په توګه وي او که هدف وي..(مدحت، ۲۰۰۹م، ص.۱۷۷)

او تحصیلي نصاب یا (curriculum)څخه موخه تدریسي او څېړنیزو ډګرونو کې د بدلونونو د ایجاد او ټاکلیو موخو ته د رسېدلو په لړ کې د هغو فعالیتونو نوم دی چې په پام کې نیولو سره یې پوهنیز او څېړنیز یون په منظمه توګه پر مخ وړل کېږي (یعقوبی، ۱۳۹۰ هـ)

یا په بل عبارت له تحصیلي نصاب څخه موخه د پوهنتونونو هغه ټاکلي روزنیز او تدریسي مهم مواد وي، له کومو څخه چې زده کړیالان په خپله تحصلي دوره کې استفاده کوي.معمولاً نصاب هغه ته ویل کېږي، چې د یو ټاکلي او معین هدف لپاره ترتیب کړل شوی وي او په هېواد کې په ټولیزه معنا سره د پلي کولو وړ هم وي (سایل، ۲۰۱۷م).

یعنې څېړنیزو موخو ته د رسېدلو له پاره په منظمه توګه د زده کړو د پیل کولو او پای ته رسولو نقشې ته تحصیلي نصاب ویلی شو؛ څکه په هر ځای کې نصاب وخت ته په کتو او د اړتیاو پر بنسټ ترتیب کېږي، په نورو هېوادونو کې هم د وخت مطابق نصاب بدلیږي را بدلیږي؛ نصاب هېڅ ثابته تحصیلي بڼه نه لري.

**په تحصیلي نصاب کې دیني ضوابطو او ټولنیزو اړتیاو ته د پاملرنې ارزښت**

تحصیلي نصاب د زده کړه ایز او روزنیز بهیر لپاره ارزښتمن او اړین دی؛ څکه چې له مخې یې موږ کولی شو، خپله تحصیلي دوره په ښه ډول سره پای ته ورسوو، او په دغه دوره کې د مسلك او علم له مهمو مسایلو او کړنو په ښه توګه خبر و اوسو، ښایي له ټاکلي نصاب پرته به موږ په لومړیو کې موخه یوه ټاکلې وي او په وروستیو کې به بیا بل څه ته رسیدلي و.

د نصاب د ترتیبولو لپاره اړتیا حتمي طرحه ده څکه چې څوك د څه لپاره نصاب غواړي نو باید د هماغې پوښتنې په ځواب نصاب هم ور برابر کړل شي.

تحصیلي نصاب په حقیقت کې د الله تعالی له خوا د پیغمبرانو او هغوی سره د کتابونو د نازولو د لړۍ سره ورته چاره ده، الله تعالی فرمایي: ﴿فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ﴾ (سورة البقرة: ۲۱۳ آیت)

ژباړه: الله تعالی انبیاء د زېري ورکوونکو او وېروونکو په توګه را ولېږل او هغوی سره یې په حقه کتاب هم را لېږلو.

له دې نه په ډاګه څرګندېږي چې الله تعالی د هرې زمانې پیغمبر ته بېل بېل کتابونه را لېږل، چې دا له نورو ډېرو حکمتونو سره سره د هرې زمانې او هر ډول حالاتو او خلکو حالت ته په پام سره را لېږل کېدل.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه اوږد حدیث کې چې ابي هریره رضي الله عنه روایت کړی دي فرمایلي دی: ﴿الإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ، وكُتُبِهِ﴾ (بخاري، ۱۴۲۲هـ، ج ۱ ص ۱۹).

یعنې ایمان دا دی چې پر الله تعالی، پر ملائکو یې او پر کتابونو یې باور ولري.

چې دا په اسلام کې د ټولنیزو اړتیاو او دیني ارزښتونو ته په پام د تحصیلي نصاب درلودلو له پاره ښکاره او څرګند دلیل کېدای شي.

چې له نیکه مرغه افغاني ټولنه هم خپلې بشری اړتیاوې د خپلو لوړو ارزښتونو چې دیني ضوابط او اسلامي فکر دی، پر اساس تنظیموي.

یا په نورو ټکو د بشریت د هر اړخیزې پرمختیا او هوساینې په موخه د مادي وسائلو د کارونې په ترځ کې د فکري او روحي غوښتنو رعایت هم کوي.

لنډه دا چې په ټوله کې د اسلامي ټولنې او په ځانګړې توګه د افغاني ټولنې د پرمختګ له پاره داسې تحصیلي نصاب اړین او له ارزښت څخه ډک دی، چې د دیني ضوابطو په پام کې نیولو سره یې ټولنیزې اړتیاوې پوره کاندي.

**په تحصیلي نصاب کې د دیني فکر او ضوابطو د پالنې موخې**

په تحصیلي نصاب کې د دیني ضوابطو د پالنې ځای پر ځای کول ګڼې موخې لري چې ځینې یې په لاندې توګه یادېږي:

۱. په مسلمانانو کې دیني لارښوونې عامول.

۲. مسلمانان او په ځانګړې توګه ځوانان د اسلام په ځانګړنو پوهول.

۳. د مسلمانانو په زړونو کې دیني رغبت او محبت پیاوړی کول، څو د هغه چا مخه ونیسي، چې د اسلام څېره د انسانانو پر وړاندې بده معرفي کوي او افراط په کې کوي.

۴. د اسلام د ژوند یو بشپړ نظام په توګه معرفي کول، چې د هر زما ن او مکان سره د تطبیق وړ دی.

۵. اسلام په داسې ډول معرفي کول چې په علمي او عملي ډګرونو کې څرګنده ونډه لري او د انسانانو بشپړه رهنمایي کوي (عزیزي، ۱۳۹۸هـ، ص ۳۰)

٦. بشریت ته د دین بشپړ انځور وړاندې کول، هغه چې د بنده او رب ترمنځ یې اړیکې پیاوړې کوي.

۷. مسلمانان له قومي، ژبني، توکمیز تعصباتو څخه را ویستل او په اسلامي ورورګلوۍ را ټولول.

۸. د مسلمان زړه ته د اسلام د هر اړخیز فکر نظریه په داسې توګه رسول، چې په دې وپوهېږي چې اسلام د ژوندانه بشپړ او کامل نظام دی چې له عقیدې را نیولې تر عباداتو، ټولنیزو اړیکو، اقتصاد او سیاست پکې شامل دی، چې د انسان له پاره دژوند په هر ډګر کې د بل هیڅ مذهب، دود، کلچر او قانون ته اړتیا نه پېښېږي.

۹. مسلمان ځوانان له هر فکري یرغل څخه ژغوري، هغه چې غواړي د اسلام څېره ورته بده معرفي او په زړونو کې یې شکونه او اندېښنې پیدا کړي دي.

۱۰. د اسلامي لارښوونو داسې ور پېژندل چې د انسان د اخلاقو، چلندونو، کړنو، او د نورو انسانانو سره د تعامل بهترینې وسیلې او بېلګې وي.

۱۱. اسلام د وسطیت او د یو داسې دین په توګه ور پېژندل، چې د انسان د دنیا او اخرت د بریا او هوساینې راز پکې نغښتی دی (فیضي، ۲۰۲۰م).

**په تحصیلي نصاب کې د دیني ارزښتونو د پیاوړتیا چارې**

څېړنو ثابته کړې ده چې دیني او ساینسي علوم، یو د بل سره څنګ په څنګ داسې اړین دي، لکه د یو بدن غړي چې یو وبل سره تړلي دي؛ ځکه چې اسلام د طبیعت او فطرت دین دی، د کلیسا خرافات او افواهات نه دي، چې خلک له عصري علومو څخه منع کوي او د علمي پرمختګ مخه یې نیسي.

پر اسلامي ارزښتونو پوهېدنه ډېرو هغو ستونزو ته د حل لاره ده چې عصري علومو او نظریاتو په مخ کې ایجاد شوي دي، مسلمانو پوهانو د اسلام د اصلي سرچینو په رڼا کې د اوسني عصر د غوښتنو سره سم اقتصادي، کورنی، اخلاقي، سیاسي نظامونه او ګڼ نور هغه علوم چې په اوسني وخت کې ورته اړتیا لیدل کېږي په داسې بڼه وړاندې کړي، چې په اوسني عصر کې د ژوند په هره برخه کې استفاده کېږي.

له همدې امله لازمه ده چې د مسلمان ځوان د دیني تندې د خړوب په خاطر په ټولو تحصیلي بنسټونو کې د مسلکي زده کړو تر څنګ دیني پوهه ترلاسه کړي، څو په دیني بڼه روزل شوي ځوان د اسلامي امت په بیا جوړونه کې رغنده رول ولوبوي او که له دیني روزنې پرته ټولنې ته وړاندې شي، او زړه یې له دیني عقیدې او الهي خوف څخه خالي وي، بیا به نو هیڅکله د ټولنې د دردونو دوا نه شي او تل به د نورو نوکر او بې مسؤلیته ژوند ترسره کوي.

د ټولنیزو اړتیاو یا عصري علومو ترڅنګ د دیني ضوابطو او ارزښتونو په ګانه سمبال نصاب کې باید لاندې موارد په پام کې ونیول شي:

دیني زده کړو ته کافي وخت ورکول: د اسلامي ضوابطو پالنه هغه وخت سمه نتیجه ورکولای شي چې کافي او مهم وخت د تدریس له پاره ورته ورکړل شي.

اسلامي عقیده زده کول: په دې سره به یو ځوان د عقیدوي اړخ د پیاوړي کولو او د عقیدې په اړه د اساسي موضوعاتو د پوهاوي په خاطر ځای پر ځای شي، چې په عام ډول د عقیدې له اساساتو، د ایمان له ارکانو او نورو اړوند موضوعاتو څخه بحث وشي، څو یو ځوان په دې پوه شي چې په کومو شیانو ایمان راوړل لازمي دي، او پر دغو شیانو ایمان راوړل ولې ضروري دي؟ کومې اغېزې او ګټې لري؟

حفظ او تجویدزده کول: په دې سره محصلان د قران کریم په صحیح توګه لفظي زده کړه ترسره او خپل ژوند ته د هغې په تلاوت سره روحي سکون ترلاسه کړي.

عبادت او حکمتونه یې پېژندل: په دې سره به د عباداتو له احکامو څخه خبر شي، څو یو مسلمان په دې پوه شي چې ولې د الله تعالی عبادت کوي؟ په دې عبادت سره الله تعالی له مسلمان نه څه هغواړي، د الله تعالی عبادت په څه ډول باید ترسره شي تر څو د قبولیت وړ وګرځي.

اسلامي اخلاق درلودل: هغه اخلاق چې د یوې انساني ټولنې او شریعت غوښتنه وي په دې سره به د اخلاقو پېژندنه او فلسفي ترڅنګ د ښو اخلاقو د خپلولو له بدو اخلاقو څخه د ځان ژغورنې عوامل او اسباب زده کړي، د ښو اخلاقو او بدو اخلاقو د نمونو څخه په تفصیلي ډول محصلان آګاه کړای شي.

**اسلامي کورنۍ او ټولنه:** محصل ته دا وښودل شي، چې په ټولنه کې د سالم عقل په رڼا کې څه ډول ژوند ترسره کړي د ټولنې ټولنیز اداب کوم دي؟ کوم کارونه دي چې زموږ د ټولنې د بربادۍ لامل ګرځي؟ د یوې مسلمانې ټولنې خصوصیات او ځانګړتیاوې کومې دی، یوه وړه ټولنه کورنۍ زموږ د اسلامي شریعت د لارښوونو په رڼا کې څه ډول جوړولی شو؟.احکام او مسائل یې ور زده کړو؟

**قرآن پېژندنه او پوهنه:** محصل ته د قران کریم په هکله بشپړ معلومات ورکړل شي، د قران کریم د نزول د اهدافو څخه نیولې د قران کریم د اعجاز او د عصري علوړمو او سائنسي فکر سره د قران کریم د تړاو موضوعات په پوره تفصیل سره ورته بیان شي.

**اسلامي اقتصاد سره اشنا کېدل:** د اسلام د اقتصادي نظام له اساساتو او ځانګړتیاو څخه خبر کړای شي، د نورو اقتصادي نظامونو سره یې پرتله او د سالم عقل په رڼا کې معاملاتو باندې رڼا واچول شي.

اسلامي سیاست زده کول: په دې سره مسلمان ته اسلام د ژوندانه د نظام په توګه ور وپېژندل شي، یو محصل ته د ورښودل کېږي چې اسلام د وسطیت او اعتدال دین دی، او په دې پوهول کېږي چې یو نظام د اسلام په رڼا کې څنګه جوړېږي؟ حکومت څه ته ویل کېږي؟ اسلامي دولت کوم خصوصیا ت لري؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم څه ډول او په کومو اصولو اسلامي دولت جوړ کړی و؟

**اسلامي اداره:** د اوسنۍ معاصرې نړۍ د اداري جوړښتونو له پاره د اسلامي تراثو څخه د فکر جوړونې له پاره معلومات وړاندې شي، څو مو اداري په اسلامي فکر او د مسلمان امت د پخوانیو مشرانو پر تګلارو روان شي.

فکري روزنه ترلاسه کول: په دې سره د محصلانو پر وړاندې د فکري استعمار او اوسني تهذیبي ښکیلاك د وسوسو او شبهاتو په ځوابولو سره ځوانانو ته د خپل اصیل سوچه اسلامي فکر او فرهنګ په اړه معلومات ورکړل شي.

**اسلامي تمدن سره اشنا کېدل:** د اسلام د تمدن تاریخ سره یو ځوان اشنا کړای شي، تر څو په دې پوه شي چې د مسلمان تمدن له کومه ځایه پیل کېږي د تمدن اسباب کوم دی، مسلمانان نن ورځ ولې

پرېوتي دي، څو د تېر برم د کیسو په ا ورېدو سره یو ځل بیا په دوی کې د نړۍ د ابادۍ او اسلامي تمدن احساس را ژوندي شي.

له نېکه مرغه د افغانستان د اسلامي امارت تر واك لاندې د افغان ولس د څرګند بري وروسته لوړو زده کړو وزارت سم له لاسه د ګټورو ګامونو په لړ کې چې د خپلو نه ستړي کیدونکو هڅو پایله کې یې د ټولو واجد شرایطو افغانانو لپاره د تحصیل او زده کړې زمینه برابره کړه، د لوړو زده کړو وزارت رهبرۍ د اړینو معیارونو په پام کې نیولو سره د داسي باکیفیته معیاري تحصیلي نصاب چمتو کړي چې له یو لوري نړیوال وضعیت او شرایطو او اوسني حالاتو سره سمون ولري او له بل اړخه د دغه نصاب څخه فارغ کسان خپلو دیني او ملي ارزښتونو ته ژمن وي؛ نو له همدې کبله نوموړی وزارت د داسې تحصیلي نصاب چمتو کول له خپلو لومړیتوبونو، مهمو دندو او مسؤولیتونو څخه ګڼي او د لوړو زده وزارت په ملي ستراتېجیك پلان کې د داسې معیاري تحصیلي نصاب چمتو کول له مهمو موخو څخه دی چې د همدې هدف د ترلاسه کولو په موخه د لوړو زده کړو وزارت په لارښوونه او سرپرستۍ د نصاب ریاست را مینځته کړ چې ستره دنده یې ټولنې اړتیاوو او نړیوالو معیارونو ته په کتو او همدارنګه د اسلامي احکامو په رڼا کې د هېواد د تحصیلي بنسټونو د تحصیلي نصاب بیاکتنه او پراختیا د دغه ریاست اساسي موخې دي، د مسلکي کمېټو، د تحصیلي نصاب ملي کمیسیون او د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د استاذانو په همکارۍ یې د تحصیلي نصاب بیا کتنه او اصلاح پیل کړې ده، چې تر ټولو د مخه یې د اسلامي ثقافت نصاب له بیا کتنې او یو شمېر اصلاحاتو سره چمتو کړ او ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو او مؤسسو ته یې وړاندې کړ، چې په دې سره به د پخواني نصاب څخه د ګڼ شمېر مخکښنیو نیمګړتیاوو لرې کولو او سموونو وروسته د نوي نصاب په پلي کولو سره د ټولنې له غوښتنو سره سم اړتیاوو ته بشپړ ځواب ویل شوی وي.

**په تحصیلي نصاب کې د دیني فکر او ضوابطو د پالنې ګټې**

په تحصیلي نصاب کې د دین پالنې پیاوړتیا او د دیني فکري روزنې مواد ځای پر ځای کول له ارزښته ډکه چاره او ګڼې ګټې لري، چې په لاندې توګه ترې یادونه کوو:

۱. د دین پر اساساتو، د عقیدې پر اصولو، د عبادت په طریقو د پوهېدو له پاره غوره وسیله ده (عزیزي، ۱۳۹۸هـ، ص ۲۸.)

۲. د هغو لارو چارو څخه د خبرداري لاره ده چې په شریعت کې منع ګرځول شوي دي.

۳. د مسلمان له پاره د فکري ژغورنې هغه وسیله ده چې د پردیو فکري یرغلونو څخه یې ساتي.

۴. په مسلمان کې ایجابي لورى پیاوړی کوی تر څو د سترو موخو له پاره د رسېدلو هوډ قوي کړو.

۵. د اسلامي فکر په زده کړې سره مسلمان کولای شي چې په نړیواله کچه د مسلمانانو هغو ستونزو له پاره د حل لارې ومومي چې نن سبا ورسره لاس و ګریوان دي.

٦. اسلامي ارزښتونو ته ژمنتیا مسلمان ته هغه ټکي ور په ګوته کوي، چې د هغه دیني رسالت ګڼل کیږي، په سلوکي او اخلاقي برخه کې یې عملي ډګر ته را وباسي.

۷. مسلمان ته د حقیقت لارې ور په ګوته کوي او د پیغمبرانو او صالحانو پیروي ته یې هڅوي.

۸. د الله تعالی په ځمکه د الهي احکامو د پلي کېدلو لارې چارې ور په ګوته کوي، او د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې د بریا زېری ورکوي، تر څو د ټولنې په رغونه او سمون کې رغنده رول ولوبوي.

۹. د اسلامي تمدن له تاریخچې څخه یې خبروي، د پیاوړتیا او کمزورۍ نکتې ور په ګوته کوي، څو د خپل راتلونکي په اړه د پیاوړتیا له نکتو څخه ګټنه او د کمزورۍ له نکتو ځانونه وساتي.

۱۰. د هغو ستونزو د حلولو لارې چارې ورښايي چې مسلمانان ورسره په نړیواله کچه مخامخ کیږي.

۱۱. اسلامي فکر نه یوازې دا چې د مسلمانې ټولنې پر کلتور مثبت اغېز کوي؛ بلکې د نورو ټولنو علمي، ادبي او دیني تېروتنې هم اصلاح کړي دي.

۱۲. د اسلامي ارزښتونو زده کړه د اسلامي امت تېر، اوسنی او راتلونکی برم خوندي ساتي.

۱۳. د اسلامي شریعت د دیني سرچینو څخه د خبریدلو غوره وسیله ده.

۱۴. مسلمان ته د ټولنې د سمون او رغون پر وړاندې مسؤلیت ور په ګوته کوي، څو هغه موخه تر لاسه کړي، د کوم له پاره چې الله تعالی انسان پیدا کړی دی (فیضي، ۲۰۲۰م).

**په تحصیلي نصاب کې د دیني فکر او ضوابطو د پالنې ګټې او مثبتې اغېزې**

که چېرته په تحصیلي نصاب کې دیني ارزښتونه او ټولنیزې اړتیاوې په پام کې ونیول شي، نو ګڼې شېګڼې او مثبتې اغېزې لري، چې زه یې ځینې په لاندې کرښو کې وړاندې کوم:

۱. راتلونکي نسلونو کې د ژوند په هر ډګر کې دیني فکر غالب وي، د ټولنیزو اړتیاو پوره کولو تر څنګ به د عصري علومو د زده کړې څخه د هغوی موخه د الله تعالی رضاء حاصلول وي، د خپل ځان، کورنۍ او د ټولنې د نورو وګړو خدمت او اړتیاوې پوره کول به یې یوازې د الله پالنې پر فکر ولاړ وي، یا په بله اصطلاح موږ به مسلمان ډاکتران، د اسلامي فکر لرونکي انجینران او پر اسلامي ګاڼه سمبال علمي کادرونه ټولنې ته وړاندې کوو.

۲. په عصري علومو سمبال راتلونکې نسلونه به د دیني زده کړو پر مټ له انحراف وژغورل شي، او ښه راتلونکې به ولري.

۳. دیني او دنیوي علومو ته متوازن رشد ورکول، د دنیا دابادۍ او آخرت فکر رامنځ ته کول، او دعلومو ترمنځ دتعصب روحیه له منځه وړل.

۴. پر ديني فکر داسې ځوان نسل روزل چې له الله تعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم، قرآن کریم او هیواد سره یې بې کچه مینه وي د جماعت پابند، په خپل وخت حریص، په خپلو چارو کې منظم، د سالم بدن او رغنده فکر څښتن، اخلاقي، ځیرکه مسلمان، د حساس ضمیر څښتن، ایمان یې پولیس او څارندوی او همدارنگه د جنت او د الهي دیدار او ملاقات شوقمن وي.

۵. دتوحید په عقیده دځوان نسل روزل، او درسول الله صلی الله علیه وسلم له سیرت سره یې اشنا کول.

٦. پر عباداتو التزام، او له حقیقي روح اوگټوسره یې بلدتیا.

۷. په انفرادي او ټولنیزو اخلاقو پوهاوې، او داسلامي تمدن په رڼا کې دغوره اسلامي سیاستونو درامنځ ته کولولپاره هڅې کول.

۸. د دیني ارزښتونو او هیوادنۍ مینې پر گاڼه سمبال ځوان نسل به ولرو.

۹. د هغو اشخاصو نیوکې او اعتراضونه چې د اسلامي ضوابطو پر زده کړو یې لري او وایي چې اسلامي فکر افراطیت خپروي، زاړه معلومات دي، په حقیقت کې پر تعصب ولاړ دي، او د یوې پروژې په توگه یې په مقابل کې دنیوي امتیازات اخلي، د یوې څېړنې له مخې چې په ننگرهار پوهنتون کې ترسره شوې ده، داسې ښکاري چې د محصلانو له مینځه د لوړ استعداد لرونکو څخه یې(۱۰۰٪)له دغسې زده کړو څخه رضایت څرگند کړی دی، او هغوی چې استعدادونه یې لږ کمزوري و، یا نورو علومو ته به زیات ارزښت قائل دي، هغوی هم(۹۸٪)فیصده رضایت ښودلی دی، او هغوی چې ښخي کمزوري او یا ښخی د نورو علومو پر اړتیا قائل دي، هغوی هم(۹۵٪)فیصدو پورې راضي ښودل شوي دی.

لنډه دا چې د اسلامي زده کړو اغېز پر ځوانانو کې زیات دی، زیاتره محصلان یې د لا زیاتوالي غوښتنه لري، او دا خبره ښخي غلطه ده، چې گویا دا مضمون په ځوانانو کې ترهگري زېږوي، او ځوانان یې افراطیت ته هڅولي دی، بلکې ځوان لا د هېوادنۍ مینې او ټولن پالنې په فکر ورسره مینه لري.

**په تحصیلي نصاب کې د دیني ضوابطو او ټولنیزو اړتیاو له پامه غورځولو ناوړې پایلې**

که چېرته په تحصیلي نصاب کې دیني ارزښتونه او ټولنیزې اړتیاوې له پامه وغورځول شي، گڼې ناوړې پایلې او اغېزې ځانه سره لرلی شي، د بېلگې په توگه:

**پردیو ارزښتونو ته ځای ورکول:** پر تحصیلي بهیر فکري یرغل سره تحصیلي نصاب د پردیو له رنگه اغېزمن کېږي، چې له امله یې د نوی نسل فکري اړیکې د پردیو له خپلو معنوي او اجتماعي ارزښتونو څخه پرې او د نورو په فکر، فرهنگ، سیاسیت او ټولنیز ژوند د پرمختگ او د مثبت بدلون یوازینۍ لاره بولي، حال دا چې حقیقي پرمختگ په علم او صنعت راځي، نه د پردي فکر او ارزښت په خپلولو، په هېواد کې مادي پرمختگ هغه وخت راځي چې د ولس اړیکې له دین او معنوي ارزښتونو سره همغږې وي، که دغه درک او روحیه ونه لري او یا د دیني ارزښتونو په اړه بې تفاوته شي نو په افراطي

کړنو سره د راتلونکي لپاره د اوږدې بې ثباتۍ او د ولس او نظام تر منځ د ټکرونو لپاره لاره هواريږي او په خوله اصلاحات په عمل کې د فساد په بڼه را څرګندېږي.

**پرديو ته ژمن نسلونه را مينځته کېدل:** د پرديو افکارو پر بنسټ روزل شويو ځوانانو کړنې داسې کيږي چې نږدې د ژوند ټولې چارې ديني لارښوونو پر ځای د نورو پر فکرونو برابروي، دوی د اسلامي امت افراد وي، خو د افکارو او کړنو ګټه يې نورو ته رسيږي، هغوی سره وفا کوي او هغوی د ځان وفادار ملګري بولي او په پوره اخلاص د هغوی په خدمت کې وي او د اسلامي نظام د راوستلو لپاره نه احساس ولري او نه توان.

**د تحصيلي ادارو اشغالول:** په تحصيلي نصابونو کې د پرديو ارزښتونو سره روزل شوي نسلونه د چارو واکمنان او د صلاحيتونو څښتنان شي، بيا نو طبعا د پردي کلتور، ارزښتونو او پرديو د ګټو له پاره کار کوي او دا د تمدن او پرمختګ لاره بولي.

**د ديني او دنيوي اړتياو ترمنځ توازن له مينځه وړل:** په تحصيلي نصاب کې د اسلامي امت د برم او يووالي او د نورو پر وړاندې د پياوړي دريځ او د ديني لارښوونو او ساينسي اکتشافاتو تر منځ د اړيکو مفاهيم حذف کول، او پر ځای يې د پرديو ارزښتونو را ژوندي کول او ورسره يو ډول سياسي، فرهنګي، اخلاقي او ټولنيزو ارزښتونو د خپلولو مفاهيم په ادبي، ټولنيزو، تاريخي، فرهنګي او د مدني زده کړو په مضامينو کې ځای پرځای کولو سره په پراخه پيمانه د نوي نسل په ذهن کې ځای ونيسي.

**د هر ډول تحصيلي نصابونو ازادي:** د تحصيلي بنسټونو د ايجاد په لړ کې به هر څوك د خپلې خوښې تحصيلي بنسټونو له پاره د نصابونو جوړولو ازادي وي چې ځينې مهال يې تر شا پردي ولاړ وي.

**د محصلانو د سويې څخه لوړ نصاب:** ډېره ځله داسې نصاب جوړ شي چې د اسلوب، تحصيلي مېتود او د معلوماتو او سويې په لحاظ د دې ټولنې د زده کړيالانو له سويې او وضعيت سره سمون نه لري، چې نه يې تدريس او نه يې هم زده کړه په سمه توګه صورت موندلی شي، تحصيلي ډګر د يو ذهني اضطراب سره مخ وي.

**د څېړنې موندنې**

د څېړنې موندنې په لاندې توګه دي:

۱. له ديني ضوابطو څخه موخه د اسلام عمده موخې او عمومي روح دی.

۲. له ټولنيزو اړتياو څخه مقصد ټولې هغه معنوي او مادي غوښتنې دي چې بشري ژوند پورې تړلي دي.

۳. له تحصيلي نصاب څخه هدف هغه زده کړه ايز مواد او مفردات دي چې ديوې مشخصې موخې په پار ترتيب کړای شوي وي.

۴. په تحصیلي نصاب کې دیني ضوابطو او ټولنیزو اړتیاوو ته پاملرنه په حقیقت کې په منظم او غوره ډول موخو ته د رسېدلو اغېزمنه لاره په ګوته کول دي، که تحصیلي نصاب نه وي، نو بې له شکه چې بې موخې او بې نظمه پروسه به وي.

۵. په تحصیلي نصاب کې ټولنیزې اړتیاوې په ګوته کول او د دیني ضوابطو په پام کې نیولو سره یې ترتیبول ګټې ګټې او مثبتې اغېزې لري، تر ټولو مهم یې ټولنیزې اړتیاوې په ارزښتمن ډول ځواب ویل دي.

۶. که په تحصیلي نصاب کې ټولنیزې اړتیاوې د دیني ارزښتونو په رڼا کې تنظیم نه شي، نو یا به اړتیاوې ترلاسه نه شي یا به یې د ترلاسه کولو انګیزه بې ارزښته او بې ګټې وي.

**مناقشه**

که پورتنۍ موندنې د پخوانیو له څېړنو سره پرتله کړای شي، څرګندېږي چې:

په تېر کې د نصاب په جوړولو کې ټولنیزو او دنیوي اړتیاو ته د وخت او حالاتو له غوښتنې سره سم پاملرنه نه ده شوې؛ دیني ضوابطو ته هم پکې لازمه پاملرنه نه ده شوې، نو ځکه یې نه ټولنیزې اړتیاوې پوره کړای شوې، او نه یې د ترلاسه کولو له پاره ژمن هوډ شتون درلود.

ټولنیزې اړتیاوې او دیني ضوابط د یو تحصیلي نصاب دوه وزرونه دي، لکه څنګه چې د دیني نظریاتو په نوم ټولنیزې اړتیاوې له پامه غورځول هم بې له شکه چې زیاتی دی.

دا چې له کړنې څخه یې انګېزه غوره وي، کومه هڅه کې چې انګیزه وي، لره پایله یې هم ډېره او اغېزمنه ګټه لرلی شي، نو ځکه وایو، چې په تحصیلي نصاب کې باید لومړیتوب دیني ضوابطو ته وشي او په رڼا کې یې ټولنیزو اړتیاو ته د ځواب میندلو هڅه وشي.

د هغو خلکو نیوکې چې د اسلامي ضوابطو او اسلامي فکر زده کړه افراطیت او زاړه معلومات ګڼي، په حقیقت کې تعصب او د امتیازاتو ترلاسه کولو یوه پروژه ده.

د اسلامي زده کړو مثبت اغېز پر ځوانانو کې زیات دی، زیاتره محصلان یې د لا زیاتوالي غوښتنه لري، او دا خبره ښېخي ناسمه ده چې ګواکې دیني روزنه په ځوانانو کې تندلاري زېږوي، او ورته یې هڅوي، بلکې ځوانانو کې لا د هېوادنی مینې او ټولن پالنې فکر غوړوي.

**پایلې**

د څېړنې پایله دا شوه چې دیني ارزښتونو او د دین روح ته په پام ټولنیزې اړتیاوې او د بشري ژوند غوښتنې ترلاسه کولو له پاره منظمه او اغېزمنه تګلاره جوړول د تحصیلي نصاب په معنا یادېږي، دیني ارزښتونه او ټولنیزې اړتیاوې په پام کې نیول د ارزښتناکو موخو په ترلاسه کولو کې ډېر اغېزمن دي، دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو ته د پاملرنې مثبتې اغېزې دا دي چې کړنې مو د هویت او فکري

ارزښتونو په ګاڼه سمبال، لاسته راوړني مو بشري ژوند ته سوکالي بخښي، اړتیاوې مو پوره او په غوره توګه د پرمختیا او له نورو سره د سیال کېدلو جوګه ګرځوی او په تحصیلي نصاب کې د دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو له پامه غورځولو ناوړې پایلې دا دي چې بې له انګیزې د یوې نا څرګندې موخې پسې تشې ورځې سبا کول او بالاخره د نورو په خیالاتو کې د هوساینې لټون دی، چې پایله کې نه خپلې اړتیاوې پوره کولی شي، بلکې د ټولنې او د حکومت د غاړې بوج هم شي.

**وړاندیزونه**

د څېړنې په پای کې غواړم ځینې لازمي سپارښتنې او وړاندیزونه ولرم:

۱. د هېواد له سیاسي مشرتابه څخه مې دا هیله ده، چې د لوړو زده کړو تحصیلي نصاب کې د ټولنیزو اړتیاو ترڅنګ دیني ضوابطو ته هم لا ځانګړې پاملرنه وکړي.

۲. د لوړو زده کړو وزارت ته مې دا پیغام دی چې د معاصرې باطل پېژندنې، او فکري ښکېلاک، استشراق، تنصیر، تبشیر او نورو فکري یرغلونو پېژندنې په اړه دې د اسلامي ثقافت په مضامینو کې مفردات ځای کړای شي.

۳. له استاذانو، څېړونکو او لیکوالانو څخه مې دا تمه ده چې په خپلو څېړنو او لیکنو کې د هېواد د ټولنیزو اړتیاو ترڅنګ د دیني ارزښتونو په رڼا کې د تحصیلي بهیر ارزونې ته ځانګړی ځای ورکړي.

۴. محصلانو ته مې دا پیغام دی چې کوښښ وکړي، په خپلو زده کړو کې ټولنیزو اړتیاو ترڅنګ دیني ارزښتونو باندې پوهېدلو ته هم وخت ورکړي.

۵. له عامو مسلمانانو څخه مې دا هیله ده، چې هم خپله او هم راتلونکي نسلونو ته د دیني فکر په رڼا کې د زده کړو لاره غوره کړي.

٦. په دې سره به مو هم ټولنیزې اړتیاوې او هم دیني ارزښتونه پاللي وي، یعنې هم به مو دنیا او هم به مو د اخرت په اړه خپل مسؤلیت ا داء کړی وی.

## سرچيني

قرآن کريم.

صنور، استاذ فتيحة. (۲۰۱۷م). أثر الضوابط الدينية على تمثلات الطالبة الجامعية، مجلة الاكادمية للدرسات الاجتماعية والانسانية، https://www.asjp.cerist.dz/en/article/73759

بخاري، محمد بن إسماعيل.(۱۴۲۲هـ).صحيح البخاري، دار طوق النجاة، لومړی چاپ

سايل، رقيب. (۲۰۱۷م). په پوهنتون کې تحصيلي نصاب، https://rohi.af/news/55600

شهيدزاد، دوکتور عبدالرحمن. (۲۰۲۲م). د واحد مذهبي تعليمي نصاب اړتيا، https://www.nunn.asia/203009/

عزيزي پوهنوال دوکتور شېرزاد. (۱۳۹۸هــ). اسلامي ثقافت ارزښت او د ننګرهار پوهنتون پر ځوانانو يې اغېزې، شريعت وړانګې، د ننګرهار پوهنتون شرعياتو پوهنځي علمي او څېړنيزه مجله، لومړی ګڼه.

عمر، دکتور أحمد مختار عبد الحميد. (۱۴۲۹ هـ ۲۰۰۸ م). معجم اللغة العربية المعاصرة: عالم الكتب.لومړی چاپ.

فيومي، أحمد بن محمد. (۱۴۱۵). المصباح المنير، دار المعارف، دويم چاپ.

مجاهد، مولوي عبدالهادي. (۲۰۱۷ م). د ولسونو او نظامونو په جوړولو او ورانولو کې د تعليم، فکر او فرهنګ نقش، نن ټکی اسيا.https://www.nunn.asia/97019/

مدحت، أبو النصر. (۲۰۰۹م).الإدارة بالحوافز أساليب التحفيز الوظيفي الفعال، المكتبة النور، https://maktbah.net/%D9%83%

مسعود، أحمد طاهر.(ــــ).المدخل إلى علم الإجتماع العام، دار جليس الزمان، http://shiabooks.net/library.php?id=11118

وزين، پوهندوی دکتور فضل الهادي. (۲۰۲۰م). د افغانستان تعليمي نصاب کې د ديني توندلارۍ ريښو پيدا کولو په راپور لنډه کتنه! ژباړه: عابد علمي، https://www.nunn.asia/168652/

يعقوبی، دوکتور محمدحيدر. (۱۳۹۰ هـ ش). نصاب تحصيلي، http://www.curriculum91.blogfa.com/post/198

# مطالعه‌ی نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار و ارائه‌ی الگوی مناسب برای پوهنتون‌های افغانستان

**پوهنمل محمد سرور حق‌پرست**

دیپارتمنت تاریخ، پوهنځی تعلیم و تربیه، پوهنتون لوگر، لوگر، افغانستان

ایمیل: Mohammad.yasar2222@gmail.com

**چکیده**

هدف از این تحقیق طراحی الگوی مناسب نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار برای پوهنتون‌های افغانستان می‌باشد. این تحقیق با روش کیفی و نوع تحلیل مضمون انجام‌شده که در آن تعدادی از مقالات و کتاب‌های علمی مرتبط با موضوع بر اساس دو ملاک، (جدید بودن و مرتبط بودن با موضوع تحقیق) انتخاب شدند؛ چنان‌چه همه‌ی منابع مذکور بر علاوه‌ی داشتن ارتباط نزدیک با موضوع تحقیق بعد از سال ۱۳۸۰ منتشر شده‌اند که در نتیجه تعدادی از مقوله‌ها دریافت شدند که بر اساس مقوله‌های فوق الگوی مناسب نصاب تحصیلی مناسب و مبتنی بر بازار کار برای پوهنتون‌های کشور پیشنهاد گردید که در آن به موضوعاتی چون: رعایت ارزش‌های دینی و ملی، توجه به ابعاد دانش، مهارت و نگرش در همه عناصر، ابعاد نظری و عملی دروس، فن‌آوری جدید، استمرار بازنگری بر اساس نیازمندی‌های بازار کار و غیره شاخص‌ها تأکید شده است.

**اصطلاحات کلیدی:** برنامه‌ی درسی؛ آموزش عالی؛ الگوی نصاب تحصیلی آموزش عالی مبتنی بر بازار کار؛ تحلیل مضمون؛ نصاب تحصیلی افغانستان

# Studying the Labor Market Based Curriculum and Providing a Suitable Model for Afghanistan Universities

**Sr. Teaching Asstt. Mohammad Sarwar Haqparest**

History Department, Education Faculty, Logar Higher Education Institute, Logar, Afghanistan

Email: Mohammad.yasar2222@gmail.com

## Abstract

This research endeavors to design a curriculum model tailored to the specific needs of Afghanistan's universities while aligning with the demands of the labor market. To achieve this, a rigorous selection process was employed, focusing on sources directly pertinent to the research topic and published after 2010. The resultant analysis yielded several key categories that form the basis for the proposed curriculum model for the country's universities. The suggested curriculum model places significant emphasis on multiple facets, including the incorporation of religious and national values, the comprehensive development of knowledge, skills, and attitudes across all educational elements, the integration of both theoretical and practical dimensions within courses, the incorporation of contemporary technology, the establishment of a continuous review process driven by the evolving requirements of the labor market, and the consideration of other relevant indicators.

**Keywords:** Curriculum; Higher Education; Higher Education Curriculum Model Based On The Labor Market; Thematic Analysis; Afghanistan Curriculum

**مقدمه**

هم‌زمان با توسعه‌ی کمی پوهنتون‌ها و افزایش تعداد داوطلبان برای تحصیلات عالی در افغانستان توجه متخصصان و طرف‌های ذی‌نفع در سطح تحصیلات عالی کشور به نصاب تحصیلی و بازنگری آن بیشتر معطوف گردید و از آغاز سال ۱۳۸٦ روند بازنگری نصاب تحصیلی کشور مورد توجه قرار گرفت و اما با وجود پیشرفت این جریان هنوز چالش‌های زیادی در نصاب تحصیلی کشور وجود دارد. از آن جمله بیکاری شدید که حتی فارغ‌التحصیلان را نیز در بر می‌گیرد و از جانب دیگر بازار کار، صنایع سبک و سنگین کشور و حتی ادارات دولتی و خصوصی به کمبود متخصصین مواجه‌اند که این عدم توازن و هماهنگی میان عرضه و تقاضا نشان می‌دهد و از جانب دیگر بازنگری و طراحی نصاب تحصیلی یک‌روند مستمر بوده و برای هر کشور مطابق با شرایط و ارزش‌های آن‌ها طراحی می‌گردد. بنابر آن لازم است تا نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار برای آموزش عالی کشور طراحی گردد.

**پیشینه‌ی تحقیق**

اگرچه در مورد نصاب تحصیلی آموزش عالی به‌خصوص نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی و بازار کار در افغانستان تا اکنون کدام مطالعه‌ی مشخصی صورت نگرفته؛ اما در سطح جهانی مطالعاتی انجام‌شده است.

واژه‌ی برنامه درسی از ریشه‌ی لاتین (Race course) گرفته‌شده که به معنی حرکت و میدان مسابقه یا فاصله یا مقدار راهی که افراد برای رسیدن به مقصد باید طی کنند می‌باشد و اصطلاح نصاب تحصیلی(Curriculum) به طرحی اشاره دارد که بر اساس آن تلاش می‌شود عناصر مختلف برنامه در تأمل باهم زمینه‌ی رسیدن به هدف را فراهم آورد و طراحی نصاب تحصیلی نقشه‌ی مفهومی برای تولیدکنندگان و از مهم‌ترین موضوع‌های نصاب تحصیلی بوده که ناظر بر تعیین منابع، شناسایی عناصر تشکیل‌دهنده‌ی برنامه‌ی درسی و چگونگی تصمیم‌گیری در مورد هر یک از آن‌ها می‌باشد( فتحی واجارگاه، ۱۳۹۵، سکوهی و حجاری(بی تا).

در یک تحقیقی که در سال ۱۳۹۹ توسط اکیدی، پارسا و الهام‌پور تحت عنوان "نقش برنامه‌های درسی در رشد مهارت‌های شغلی، انتظارهای شغلی و چانس اشتغال از دیدگاه محصلان و فارغ‌التحصیلان رشته‌های زراعت" با روش ترکیبی انجام‌شده نشان می‌دهد که ذهنیت مثبت محصلان از رشته سبب افزایش مهارت‌های آن‌ها گردیده و زمینه‌های اشتغال برای آن‌ها بیشتر میسر می‌شود.

تحقیقی که توسط هادی زاده و دیگران در سال ۱۳۹۹ با روش کیفی توصیفی تحت عنوان "نقش نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی در اشتغال‌پذیری فارغ‌التحصیلان نظام مهارتی" انجام‌شده و در نتیجه ویژگی‌های نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی را به‌دست آورده است. در همین زمینه

"برنامه‌ریزی درسی مبتنی بر شایستگی راهبردی مطلوب برای شایستگی‌های اساسی "عنوان مقاله‌ی است که توسط مهموئی، کاظم پور و تفرشی در سال ۱۳۹۰ با روش مروری در ایران انجام‌شده و نشان‌دهنده‌ی آن است که نصاب تحصیلی آموزش عالی ایران در پرورش و تقویت شایستگی‌های موردنیاز فارغ‌التحصیلان از توفیق چندانی برخوردار نبوده است و برای رفع این مشکل می‌توان از الگوی نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی سود جست. تحقیقی که تحت عنوان طراحی مدل کاهش ضایعات نصاب تحصیلی در آموزش‌های فنی و حرفه‌ای توسط طراحان و دیگران در سال ۱۳۹۶ با روش کیفی و ابزار مصاحبه مروری تحلیل مضمون در ایران انجام‌شده نشان می‌دهد که نصاب تحصیلی نامطلوب زمینه‌ی پرورش افراد باصلاحیت‌های پایین را فراهم آورده و در نتیجه ۶ مضمون را به‌دست آورده که شامل ماهیت غیر منعطف، نیازسنجی معیوب، انقباض در روش، هزینه‌های بازگشت، نیروی انسانی ناکارآمد و محیط نامناسب یادگیری می‌شود.

**اهداف تحقیق**

۱. دریافت شاخص‌ها و مؤلفه‌های نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار؛
۲. جلب توجه تصمیم‌گیرندگان و طراحان نصاب تحصیلی در مورد توجه به مهارت‌های موردنیاز بازار کار در طراحی نصاب تحصیلی برای کاهش میزان بیکاری جوانان کشور؛
۳. دریافت الگوی مناسب نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار برای پوهنتون‌های کشور.

**سؤالات تحقیق**

۱. نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار دارای کدام شاخص‌ها می‌باشد؟
۲. مدل‌های نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار چگونه است و کدام مدل برای پوهنتون‌های کشور مناسب است؟

**روش تحقیق**

در این مقاله از روش کیفی مطالعه‌ی اسناد و منابع و روش تحلیل مضمون استفاده گردیده که در این روش منابع از قبیل کتب و مقالات داخلی و خارجی مرتبط با موضوع استفاده گردیده، املاک انتخاب منابع جدید بودن و مرتبط بودن با موضوع تحقیق بود که تازه‌ترین منابع که بعد از سال ۱۳۸۰هـ.ش پیرامون موضوع به نشر رسیده‌اند. هم‌چنان نزدیک‌ترین رابطه را با موضوع مطالعه دارند انتخاب‌شده‌اند که روش تحلیل مضمون به کمک ترسیم ماتریس مورد استفاده قرار گرفت و در بخش دوم مدل‌های موجود نصاب تحصیلی آموزش عالی مبتنی بر بازار کار مورد بررسی قرار گرفته‌اند و در نتیجه‌ی تحلیل

منابع تعدادی از مقوله‌ها دریافت و با توجه به مدل‌های قبلی مدلی برای نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار افغانستان طراحی گردید.

**یافته‌ها**

در این تحقیق به تعداد ۱۲ مقاله و کتاب با توجه به سؤالات تحقیق در ماتریس تحلیل و تجزیه مضمونی شدند که ابتدا به معرفی منابع مذکور پرداخته‌شده است.

جدول۱: منابع انتخاب‌شده برای تحلیل مضمون

| نویسنده | عنوان | سال چاپ | مرجع انتشار |
|---|---|---|---|
| مالکپور، لپری و دیگران | شناسایی مؤلفه‌های برنامه درسی مبتنی بر مهارت در آموزش عالی و ارائه یک مدل: مطالعه‌ای فرا ترکیب | ۱۴۰۰ | دو فصل‌نامه‌ی مطالعات نصاب تحصیلی آموزش عالی |
| فتحی واجارگاه و دیگران | برنامه‌ریزی درسی آموزش عالی | ۱۳۹۷ | مهربان |
| کرمی مهموئی | بازار کار جهاني و تأثیر آن بر طراحي برنامه درسي | ۱۳۹۰ | فصل‌نامه‌ی مطالعات نصاب تحصیلی ایران |
| مهموئی، کاظم پور و تفرشی | برنامه‌ریزی درسی مبتنی بر شایستگی؛ راهبردی مطلوب برای توسعه شایستگی‌های اساسی. | ۱۳۹۰ | *دوماهنامه علمی-تحقیقی راهبردهای آموزش در علوم پزشکی،* |
| صالحی، رحمانی و قهدریجانی | مسئله‌ی اشتغال دانش‌آموختگان آموزش عالی و ضرورت توجه به مهارت‌های اشتغال‌زای بازار کار در طرح آمایش آموزش عالی | ۱۳۹۲ | فصل‌نامه‌ی انجمن آموزش عالی ایران |
| هادی زاده و دیگران | نقش نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی در اشتغال پذیری فارغ‌التحصیلان نظام مهارتی | ۱۳۹۹ | فصلنامه‌ی علمی -تحقیقی تحقیقات مدیریت آموزشی |
| Alpaydin, Y | شناسایی نیازهای مهارتی سطح آموزش عالی در بازارهای کار: ابزارهای اصلی قابل‌استفاده برای ترکیه | ۲۰۱۵ | Educational Sciences: Theory & Practice |
| Karseth, B | تجدید ساختار نصاب تحصیلی در آموزش عالی بعد از فرایند بولونیا: یک رژیم جدید آموزشی | ۲۰۱۶ | Curriculum Restructuring in Higher Education |
| فالوس، ستیفن | ایجاد مهارت‌های اشتغال پذیری در برنامه درسی آموزش عالی: یک ابتکار در سطح دانشگاه | ۲۰۰۰ | Education + Training |
| Cleary, J., & Van Noy, M | چارچوبی برای هم‌ترازی آموزش عالی و بازار کار | ۲۰۱۴ | Heldrich Center for Workforce Development. |
| Etshim, R | همکاری بین آموزش عالی و بازار کار در کینشاسا، DR کنگو | ۲۰۱۷ | Journal of International Education and Leadership |
| Habets Omar et all | آیا من برای بازار کار فردا مناسب هستم؟ و غیره توسعه مهارت‌های فارغ‌التحصیلان در دوره عالی آموزش برای بازار کار قرن بیست و یکم | 2020 | Sustainability |

۱. نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار دارای کدام شاخص‌ها می‌باشد؟

جدول۲: مضامین دریافتی از اثر تحلیل منابع مورد مطالعه

| مضامین مهم در مورد مؤلفه‌های نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار | استناد | شاخص‌ها |
| --- | --- | --- |
| مؤسسات آموزشی باید در تلاش ایجاد دانش و مهارت‌های لازم در افراد باشند و از آن به‌عنوان صلاحیت نام برده‌اند و نصاب تحصیلی آموزش عالی به حرفه و رابطه میان دانش تجهیز فارغ‌التحصیلان با مهارت مطابق به نیازمندی‌های بازار کار تمرکز دارد. | فتحی واجارگاه و دیگران(۱۳۹۷). | رابطه میان فارغ‌التحصیلان با مهارت های موردنیاز بازار کار |
| نصاب تحصیلی مبتنی بر مهارت شامل مقوله‌ی چون: الزامات فردی، الزامات پوهنتونی، الزامات آموزشی و تحقیقی، الزامات مهارتی و الزامات محیطی می‌باشد. | مالکپور، لیری دیگران (۱۴۰۰). | الزامات، فردی، پوهنتونی، آموزشی و تحقیقی، مهارتی و محیطی |
| فاصله میان نیازمندی‌های بازار کار و پوهنتون‌ها بسیار زیاد است. به گونه‌ی مثال بسیاری از فارغ‌التحصیلان از پوهنتون‌های ترکیه به دلیل عدم داشتن مهارت‌های لازم بیکارند، درحالی‌که بسیاری از کار فرمایان با کمبود کارگر ماهر مواجه‌اند. | ا (۲۰۱۵). | توجه به مهارت‌های مورد نیاز بازار کار در نصاب تحصیلی آموزش عالی |
| انتقال فارغ‌التحصیلان به بازار کار در کینشاسا پایتخت کانگو در بیست سال اخیر از موضوعان اصلی در مباحثات علمی بوده است. واژ روابط ناسالم میان بازار کار و نصاب تحصیلی و سیاست‌های علمی کشور حکایت دارد که در این اواخر تلاش‌های صورت می‌گیرد تا رابطه‌ی درست میان نصاب تحصیلی و بازار کار ایجاد شود. | اتشیم(۲۰۱۷).<br>کلیری ونوی(۲۰۱۴). | |
| از دهه‌های اخیر برنامه‌های درسی پوهنتون‌ها در اروپا به‌سوی تنوع و چند وجهی شدن درحرکت است. مرزبندی‌های قدیمی شکسته شده و افزایش وابستگی پیشرفت و قدرت کشورها به دانش و همچنان افزایش تعداد داوطلبان به تحصیلات عالی | بیریت کارسیت (۲۰۰٦). | رعایت تنوع و چندوجهی شدن در نصاب تحصیلی آموزش عالی |

| | | |
|---|---|---|
| نیاز نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار، کسب دانش و مهارت‌های چندگانه و چند فرهنگی، قابل پیش‌بینی، رقابت‌پذیر، انتقادی، مشارکتی و دانشجو محور را از سطح ملی به سطح اروپا و جهان با توجه به حفظ استقلال پوهنتون‌ها تقویت می‌نماید. | | |
| در بیست سال اخیر آموزش عالی ایران با مشکلاتی مواجه شده که از آن جمله افزایش کمی پوهنتون‌ها بدون در نظر داشت امکانات و شرایط اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی جوامع محلی و افزایش تعداد داوطلبان آموزش عالی به‌خصوص از جنسیت اناث و بیکاری فارغ‌التحصیلان که یکی از عوامل عمده‌ی آن نداشتن مهارت‌های مورد نیاز بازار کار در فارغ‌التحصیلان می‌باشد. بنابر آن ایجاد برنامه‌های درسی مبتنی بر مهارت‌های اشتغال‌زایی بازار کار و بر اساس مشارکت همه طرف‌ها پیشنهاد می‌گردد. | صالحی،رحمانی و قهدریجانی (۱۳۹۲). | افزایش کمی پوهنتون‌ها، عدم توجه به شرایط و نیازمندی‌های محلی، عدم توجه به مهارت‌های موردنیاز در بازار کار سبب بیکاری شده است. تقویت کاره‌ای گروهی و حل مسئله، مهارت ارتباطی برنامه‌ی مشارکتی |
| نصاب تحصیلی ایران بیشتر موضوع محور بوده و توجه به نیازمندی‌های بازار کار سبب تحول در این برنامه می‌شود و برنامه‌ی فوق را از رویکرد موضوع محور به رویکرد شایستگی محور می‌چرخاند و امروزه در برنامه‌های درسی پوهنتون‌ها باید با شایستگی‌ها و مهارت‌های موردنیاز بازار کار در سطح ملی و جهانی توجه شود که در ابتدا باید نیازمندی‌ها و فرصت‌ها شناسایی گردد. | کرمی مهموئی (۱۳۹۰). | توجه به شایستگی محوری شروع طراحی با نیازسنجی و فرصت سنجی |
| تحقیقات نشان می‌دهد که میزان بیکاری در سطح دانش‌آموختگان کشور ایران بسیار بلند بوده و یکی از دلایل اصلی آن را در ضعف مهارت‌های موردنیاز صنایع کشور دانسته‌اند و برای رفع بیکاری این قشر دانش‌آموخته لازم است تا در برنامه‌های | مهموئی، کاظم پور و تفرشی(۱۳۹۰). | بیکاری دانش‌آموختگان و ارتباط آن با ضعف مهارت موردنیاز بازار و صنعت |

| | | |
|---|---|---|
| درسی تجدیدنظر شده و مهارت‌های لازم و موردنیاز بازار کار و صنایع مورد توجه قرار گیرد. | | |
| برای یک فارغ‌التحصیل کافی نیست که تنها از یک موضوع دانشگاهی اطلاع داشته باشد، بلکه دانشجو باید مهارت‌های را کسب کند تا به‌طور فزاینده‌ی زمینه‌های اشتغال را به ایشان افزایش دهد و این مهارت‌ها شامل موضوعات چون بازاریابی و مدیریت اطلاعات، ارتباط و ارائه، برنامه‌ریزی و حل مسئله، توسعه‌ی اجتماعی و تعامل و غیره باشد. | فالوس و ستیفن (۲۰۰۰). | توجه به کسب مهارت‌های مختلف در نصاب تحصیلی از جمله مهارت‌های بازاریابی و مدیریت، اطلاعات و ارتباط |
| برنامه‌های درسی برای تناسب با نیازمندی‌های روز افزون نیازمندی‌های بازار کار در قرن ۲۱ نیاز به بررسی مداوم دارند. به همین دلیل مدارس و مراکز آموزش عالی به‌شدت تحت‌فشار قرارگرفته اند تا این مهارت‌ها را به‌طور فزاینده‌ای در برنامه‌های درسی خود بپذیرند. | هبیت عمر و دیگران(۲۰۲۰). | بازنگری دوام‌دار نصاب تحصیلی آموزش عالی و نیازمندی‌های بازار کار توسط ذینفعان |
| ایجاد زمینه‌ی مناسب آموزشی بر مبنای نیازهای مهارتی، مشاغل، همسویی با تغییرات سریع فنّاورانه، داشتن انعطاف، سنجش صلاحیت حرفه‌ای فارغ‌التحصیلان قبل از اشتغال، آموزش خلاقیت و کارآفرینی از ویژگی‌های نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی می‌باشد. | هادی زاده و دیگران (۱۳۹۹). | ویژگی‌های نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی |

با توجه به تحقیقات انجام‌شده در کشورهای مختلف پیرامون موضوع نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار مؤلفه‌های چون رابطه‌ی فارغ‌التحصیلان با بازار کار، الزامات نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار (فردی، سازمانی، آموزشی – تحقیقی، مهارتی و محیطی) توجه به نیازمندی‌های بازار کار در نصاب تحصیلی، تنوع و چندوجهی شدن دانش در نصاب تحصیلی، در نظرداشت نیازمندی‌های محلی بازار کار، رابطه‌ی بیکاری فارغ‌التحصیلان با ضعف‌های مهارتی موردنیاز بازار کار در فارغ‌التحصیلان، تقویت آموزش‌های گروهی، مشارکتی، حل مسئله و مهارت‌های ارتباطی، مشارکت تمامی ذی‌نفعان در طراحی نصاب تحصیلی، شروع طراحی نصاب تحصیلی با نیازسنجی و فرصت سنجی، بازنگری نصاب تحصیلی و نیازمندی‌های بازار کار به‌صورت مداوم و مستمر حاصل گردید.

۲. مدل‌های نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار چگونه است و کدام مدل برای پوهنتون‌های کشور مناسب است؟

**الگوهای نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی و بازار کار**

با مطالعه‌ی تحقیقات قبلی به تعدادی از مدل‌ها و الگوهای نصاب تحصیلی مواجه می‌شویم که مبتنی بر نیازمندی‌های بازار کار و شایستگی‌ها انجام‌شده است که در ذیل تعدادی از آن‌ها توضیح گردیده‌اند:

**۱. مدل شبکه‌ای تحلیل مولّفه‌های شایستگی‌های راهبردی(نوری، یارمحمدیان و نادی)**




شکل ۱: مدل شبکه‌ای تحلیل مؤلفه‌های شایستگی‌های راهبردی (نوری، یارمحمد یان ونادی، ۱۳۹۸)

مطابق مدل فوق شایستگی‌های راهبردی دارایی ابعاد شایستگی‌های سازمانی و شایستگی‌های مدیریتی می‌باشد که شایستگی سازمانی شامل شاخص‌های ایجاد تعاملات کاری سازنده و شایستگی‌های کاری و شایستگی‌های مدیریتی می‌باشد. الگوی نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی در مقطع لیسانس را که مهوئی با استفاده از الگوی نصاب تحصیلی ارنست و دمیلواس جی(۲۰۰۱) در سال ۱۳۸۷ تهیه نموده در ذیل نشان داده‌شده است:

**۲. مدل یا الگوی نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی**

در این الگو دانش ، نگرش و مهارت‌ها در ابعاد فردی، اجتماعی و سازمانی مورد توجه قرارگرفته است و در آن بر علاوه‌ی تأکید بر مشاغل مرتبط با رشته و دانش تخصصی به پیشرفت‌های تکنالوژی نیز توجه شد ه است.




شکل ۲: الگوی نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی ایران

## ۳. مدل نصاب تحصیلی رشته‌ی نصاب برای دوره‌ی ماستری




شکل ۳: الگوی نصاب تحصیلی برای دوره‌ی ماستری رشته‌ی نصاب تحصیلی (هدایتی و دیگران)

مطابق این الگو برنامه‌ی در تمامی عناصر نصاب تحصیلی (هدف، محتوا، فعالیت‌های یادگیری، روش‌های تدریس، اجرا و ارزش‌یابی باید بر علاوه‌ی دروس نظری به ابعاد عملی تدریس نیز توجه شده است که بر علاوه‌ی دانش کسب مهارت‌ها و تغییر در نگرش محصلان را نیز مهم تلقی می‌نماید و آن را لازمه‌ی تمامی مراحل و عناصر نصاب تحصیلی خوانده است.

**۴. الگوی نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی کوپر و پالته**

هنریک کوپر و دلفین پالته الگوی ویژه‌ی را در عرصه‌ی مدیریت کشاورزی اجرا نمودند که مشهور به برنامه‌ریزی درسی شایستگی محور است. به عقیده این دو دانشمند مؤسسات آموزشی باید در تلاش ایجاد دانش و مهارت‌های لازم در افراد باشند و از آن به‌عنوان صلاحیت نام برده‌اند و این الگو به حرفه و رابطه میان دانش تجهیز فارغ‌التحصیلان با مهارت مطابق به نیازمندی‌های بازار کار تمرکز دارد.

این الگو متمرکز بر شایستگی‌های عمدتاً حرفه‌گرا بوده که قرار است برنامه درسی، در یادگیرندگان ایجاد کند و در واقع این الگوها و الگوهای مشابه نگران خروجی‌های برنامه درسی هستند که در شکل ذیل نشان داده‌شده است:




شکل ۴: الگوی نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی کوپر و پالته (فتحی واجارگاه و دیگران۱۳۹۷)

## ۵. الگوی کارورزی مبتنی بر خود شرح‌حال‌نویسی




شکل ۵: الگوی کارورزی مبتنی بر خود شرح‌حال‌نویسی

این الگو بر علاوه‌ی داشتن بنیادهای علمی قابلیت‌های عملی برای تحقق اهداف واحدهای درسی کارورزی مانند تحقیق‌گری، مشارکت‌جویی، روایت نگاری، مشاهده‌ی تأملی و تعامل حرفه‌ای دارد و دارای بنیادهای فلسفی، روان‌شناختی، جامعه‌شناختی، دانشی و ادبی است. در این الگو تجارب محصلان در طول زندگی‌شان به‌عنوان بستر یادگیری در نظر گرفته شده که با کمک روش‌های مشارکتی و مباحثات گروهی تعمیم می‌یابد.

### الگوی نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار پیشنهاد شده برای پوهنتون‌های کشور

با توجه بر مطالعات و بررسی‌های منابع مورد استفاده در این تحقیق الگوی مناسب نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار برای پوهنتون‌های کشور شامل شاخص‌ها و ابعادی چون: (رابطه‌ی فارغ‌التحصیلان با بازار کار، الزامات نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار (فردی، سازمانی، آموزشی – تحقیقی، مهارتی و محیطی) توجه به نیازمندی‌های بازار کار در نصاب تحصیلی، تنوع و چندوجهی شدن دانش در نصاب تحصیلی، با درنظرداشت نیازمندی‌های محلی بازار کار، رابطه‌ی بیکاری فارغ‌التحصیلان با

ضعف‌های مهارتی موردنیاز بازار کار در فارغ‌التحصیلان، تقویت آموزش‌های گروهی و مشارکتی و حل مسئله و مهارت‌های ارتباطی.




شکل٦: الگوی پیشنهادی نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار برای پوهنتون‌های افغانستان

**مناقشه**

با توجه به این‌که در مورد طراحی نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار تا اکنون در افغانستان کدام تحقیقی صورت نگرفته است و این نخستین تحقیقی در این مورد می‌باشد. اما تحقیقاتی در این رابطه در سایر کشورها انجام‌شده است و در تعدادی از این منابع شاخص‌های نصاب تحصیلی مبتنی بر شایستگی و بازار کار مطرح گردیده‌اند و تعدادی از منابع هم تنها با تذکراتی در مورد اهمیت چنین برنامه‌ی اکتفا کرده‌اند و در برخی از منابع الگوهای مشخصی در مورد پیشنهاد کرده‌اند و در همه منابع فوق‌الذکر تقریباً بر یک موضوع توافق نظر به چشم می‌خورد و آن این‌که رابطه میان بازار کار و فارغ‌التحصیلان ضعیف بوده و نهادهای تحصیلات عالی نتوانسته متخصصین واجد شرایط و ماهر را به بازار کار عرضه کنند و در نتیجه فاصله میان پوهنتون‌ها و بازار کار زیاد بوده و بیکاری در تمام سطوح و اقشار جامعه به‌ویژه فارغ‌التحصیلان روزبه‌روز در حال افزایش است.

اگر به الگوهای که در این تحقیق به آن‌ها پرداخته شده و مورد بررسی قرارگرفته‌اند، نگاه کنیم می‌بینیم که این الگوهای نصاب تحصیلی بیشتر مختص به کشورهای مشخص و مقطع تحصیلی مشخص طراحی گردیده‌اند و باوجود داشتن موضوعات مشترک نمی‌توان آن‌ها را بدون تغییرات در کشورهای دیگر مانند افغانستان تجویز کرد. زیرا هر کشور با توجه به شرایط و امکانات و ارزش‌های خود شان الگوهای نصاب تحصیلی مشخص و مربوط به خود آن جامعه را می‌طلبد. به‌گونه‌ی مثال الگوی نصاب تحصیلی مدل شبکه‌ای تحلیل مؤلفه‌های شایستگی‌های راهبردی(نوری، یارمحمد یان ونادی، ۱۳۹۸). به شایستگی‌های راهبردی در ابعاد سازمانی و مدیریتی تمرکز نموده و این‌که عناصر نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار چگونه باید باشد. هم‌چنان چه کسانی باید در طراحی و بازنگری نصاب تحصیلی تصمیم بگیرند و طراحی برنامه چگونه شروع شود تذکراتی ارائه نکرده است. بنابرآن الگوی پیشنهادی نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار برای پوهنتون‌های افغانستان یک الگوی جامع است. چنان‌چه بر علاوه‌ی توجه به تمامی عناصر نصاب تحصیلی، توجه به ابعاد نظری و عملی در طراحی نصاب تحصیلی، نقش مشارکت‌کنندگان و مراحل طراحی شرایط محلی و ارزش‌های دینی و ملی کشور را نیز مورد تأکید قرار داده است. هم‌چنان الزامات نصاب تحصیلی در ابعاد فردی و اجتماعی، سازمانی و آموزشی و تحقیقی مورد توجه قرار داده شده و یک نصاب تحصیلی همه‌جانبه را مطرح نموده است.

## نتیجه‌گیری

نتایج این تحقیق نشان می‌دهد که در مورد نصاب تحصیلی در سطح جهانی کمتر پرداخته‌شده است و در مورد برنامه‌های درسی به‌ویژه نصاب تحصیلی مبتنی بر بازار کار در سطح کشور افغانستان کدام تحقیق خاصی صورت نگرفته و مطالعات منابع در سایر کشورها نشان می‌دهد که نصاب‌های تحصیلی در سطح تحصیلات عالی کشورها در حال حاضر با چالش‌های جدی به‌ویژه در مورد مهارت‌های لازم در بازار کار مواجه است. چنان‌چه فاصله میان فارغ‌التحصیلان و بازار کار به‌شدت زیاد می‌باشد و سطح بیکاری به‌خصوص در میان اقشار تحصیل‌کرده‌ی جامعه در حال افزایش است و امروزه نصاب‌های تحصیلی برای رفع این معضل دست به کار شده و در حال تحول از تخصص‌گرایی به بین‌الرشته‌ای شدن و ایجاد توازن میان دانش نظری عملی به‌منظور تجهیز محصلان و فارغ‌التحصیلان به مهارت‌های لازم مطابق با نیازمندی‌های بازار کار، صنعت و جامعه می‌باشد.

## منابع


پارسا، عبداله، اکیدی، الهامپور. (۲۰۲۰). نقش برنامه های درسی در رشد مهارت‌های شغلی، انتظارهای شغلی و چانس اشتغال از دیدگاه محصلان و دانش آموختگان رشته‌های کشاورزی. تحقیق مدیریت آموزش کشاورزی، ۱۲(۵۳)، ۱۶۲-۱۸۳.

صالحی عمران و رحمانی قهدریجانی، الاهه. (۱۳۹۲). مسألهٔ اشتغال دانش آموختگان آموزش عالی و ضرورت توجه به مهارت‌های اشتغال زائی بازار کار در طرح آمایش آموزش عالی. فصل‌نامه‌ی آموزش عالی ایران، سال پنجم .شماره ی سوم. صص۲۸-۵۷.

فتحی واجارگاه، کورش. (۱۴۰۰). برنامه‌ی درسی چیست، تهران، انتشارات مهربان.

طرخان، رضاعلی، حکیم زاده، رضوان، دهقانی، صالحی. (۲۰۱۷). طراحی مدل کاهش ضایعات برنامه درسی در آموزش‌های فنی و حرفه‌ای. فصل‌نامه تحقیقات کاربردی روانشناختی، ۸(۲)، ۱۴۵-۱۶۵.

هادی‌زاده، خسروی، عصاره، نوروززاده. (۲۰۲۰). نقش برنامه درسی مبتنی بر شایستگی در اشتغال‌پذیری فارغ‌التحصیلان نظام‌های مهارتی (مطالعه موردی: پوهنتون جامع علمی کاربردی). *تحقیقات مدیریت آموزشی*، *۱۱* (٤٤)، ۱۰۳-۱۲۸.

مالکپور لپری، کامران، منتظری، مسلمی. (۲۰۲۲). شناسایی مولفه‌های برنامه درسی مبتنی بر مهارت در آموزش عالی و ارائه یک مدل: مطالعه‌ای فراترکیب. دو فصل‌نامه مطالعات برنامه درسی آموزش عالی، *۱۲* (۲٤)، ۱۰۳-۱۳۷.

مومنی مهموئی، کاظم پور، تفرشی، محمد. (۲۰۱۱). برنامه‌ریزی درسی مبتنی بر شایستگی؛ راهبردی مطلوب برای توسعه شایستگی‌های اساسی، دوماهنامه علمی-تحقیقی راهبـردهای آموزش در علوم پزشکی، ٤(۳)، ۱٤۳-۱٤۹.

هدایتی، ملکی، حسن، صادقی، سعدی پور. (۲۰۱٦). طراحی و اعتباریابی الگوی برنامه درسی مبتنی بر شایستگی برای دوره کارشناسی ارشد رشته برنامه درسی، تحقیق‌های کیفی در برنامه درسی، ۱(٤)، ۲۱-٤۰.

عزيزي نعمت اله. (بی تا) اشتغال و آموزش عالي: راهبردهاي پيوند آموزش عالي با نيازهاي بازاركار.

قربانی، میرشاه جعفری، نصر، نیستانی. (۲۰۱۹). طراحی و اعتباربخشی الگوی برنامهٔ درسی کارورزی مبتنی بر خود شرح حال نویسی مشارکتی در پوهنتون فرهنگیان. دوفصل‌نامه نظریه و عمل در برنامه درسی، ۷(۱٤)، ۳۹۵-٤٤۲.

Fallows, S., & Steven, C. (2000). Building employability skills into the higher education curriculum: a university-wide initiative. *Education+ training*.

Alpaydin, Y. (2015). Identifying Higher-Education Level Skill Needs in Labor Markets: The Main Tools Usable for Turkey. *Educational Sciences: Theory and Practice*, *15*(4), 945-967.

Etshim, R. (2017). Collaboration between Higher Education and Labor Market in Kinshasa, DR Congo. *Journal of International Education and Leadership*, *7*(1), n1.

Cleary, J., & Van Noy, M. (2014). A Framework for Higher Education Labor Market Alignment: Lessons and Future Directions in the Development of Jobs--Driven Strategies. Working Paper. *John J. Heldrich Center for Workforce Development*.

Karseth, B. (2006). Curriculum restructuring in higher education after the Bologna Process: A new pedagogic regime?.

Habets Omar et all (2020) Am I Fit for Tomorrow’s Labor Market? The Effect of Graduates’ skills Development during Higher education for the 21st Century’s Labor market.sustainability.12.7746.8.

O'Neill, G. (2015). Curriculum design in higher education: Theory to practice.

# د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې د اهمیت او پیاوړتیا کړنلارې


**پوهنیارحکیم خان حقیار[۱]، پوهنمل احسان الله حامد[۲]**

[۱]پیداګوژي او روانشناسي څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، جلال آباد، افغانستان
[۲] ریاضي څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، جلال آباد، افغانستان
ایمیل: hakimhaqyar@gmail.com



**لنډیز**

په لوړو زده کړو کې څېړنه د هېواد لپاره د ملا د تیر حیثیت لري، ځکه چې د هېواد په علمي، اقتصادي، ټولنیز او تاریخي پرمختګونو کې فعاله ونډه لري، خو د افغانستان په لوړو زده کړو کې څېړنه کم رنګه ده. د دې څېړنې موخه د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې د اهمیت او تقویت لارې چارې په ګوته کول دي. په دې څېړنه کې د ننګرهار پوهنتون له ۱۵ استادانو سره مرکې او د افغانستان بېلابېلو پوهنتونو ۱۶۳استادانو آنلاین پوښتنپاڼو ته ځوابونه ویلي دي. د کمي او کیفي میتودونو پایلې ښيي چې څېړنه د شته ستونزو د حل او پرمختګ وسیله ده. همدارنګه د تقویت لارې چارې په پنځه ډوله ډلبندي کوي، چې عبارت دي له ظرفیت لوړونه، کیفیت لوړونه، د امکاناتو زمینه برابرول، هڅونه او له پایلو څخه ګټه اخېستنه چې د دې په پلي کولو به د افغانستان لوړو زده کړو کې څېړنه پیاوړې شي.



**کلیدي اصطلاحات:** لوړو زده کړو کې څېړنه؛ د څېړنې اهمیت؛ ظرفیت لوړونه؛ کیفیت لوړونه؛ امکانات؛ هڅونه


# The Importance and Strengthening Methods of Research in Afghanistan's Higher Education


**Jr. Teaching Asstt. Hakim Khan, Haqyar[1], Sr. Teaching Asstt. Ihsanullah, Hamid[2]**

[1]Department of Psychology, Faculty of Education, Nangarhar University, Jalalabad, Afghanistan.
[2]Department of mathematics Faculty of Education, Nangarhar University, Jalalabad, Afghanistan.
Email: hakimhaqyar@gmail.com



## Abstract

Research is pivotal in a nation's scientific, economic, social, and historical advancement, serving as the cornerstone of higher education. However, research in Afghanistan's higher education sector remains underdeveloped. This study seeks to underscore the paramount importance of research and explore avenues for its enhancement within Afghanistan's higher education landscape. The research methodology involves interviews with 15 faculty members from Nangarhar University and collecting responses to online questionnaires from 163 educators across various universities. The combined quantitative and qualitative findings accentuate the potential of research as a catalyst for improvement and problem-solving. Moreover, the study categorizes strengthening methods into five distinct types: capacity building, quality enhancement, creating opportunities, fostering motivation, and effectively implementing research outcomes.



**Keywords**: Higher Education Research; Importance of Research; Increasing Capacity; Quality Improvement; Possibilities; Motivation

**سریزه**

څېړنه د شواهدو پر بنسټ د حقایقو او پوهې لټون ته ویل کیږي او نړۍ کې څېړنه د علمي پوهې او نظریاتو د تولید لپاره بنسټي حیثیت لري. څېړنه یوه داسې پروسه ده چې په ټولنه کې شته ستونزو ته حل لارې په ګوته کوي. د څېړنې هدف د پېښو ترمنځ د اړیکو موندل دي. په هره برخه کې بې له څېړنې پرمختګ او مثبت بدلون راوستل ناشونی کار دی(کازوکا او ویما، ۲۰۲۰). د چیکو (۲۰۱۵) په وینا، په ټوله نړۍ کې پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسې د پوهې راټولونې او لیږد د مرکزونو په توګه پیژندل شوي. په حقیقت کې، د پوهنتونو دوديز رول تدریس، څېړنه او ټولنيز خدمت دی چې په ټولیزه توګه د هېواد پرمختګ اړینو برخو لپاره د روزل شوي انساني ځواک چمتو کول دي (هیل، ۲۰۰۶). دا باید په پام کې ونیول شي چې د لوړو زده کړو ترچتر لاندې واحدونه په هغه صورت کې ټولنې ته رڼا ورکوي چې دوی څیړنې د ټولنیزو او اقتصادي ستونزو د حل په موخه ترسره کړي (کازوکا او ویما،۲۰۲۰). د لوړو زده کړو واحدونو څخه ډیره تمه کېږي چې په څېړنیزو فعالیتونو کې برخه واخلي او د دولت ټولنیز-اقتصادي پرمختګ و هڅوي (ګورانسون او برنهډینیوس، ۲۰۱۰).

په پوهنتونو کې علمي څېړنه د اکاډمیکو فعالیتونو یوه مهمه برخه ده، د هېواد پر اقتصادي ودي او علمي هویت ساتلو کې د څېړنو اغيزې په پام کې نېولو سره د افغانستان لوړو زده کړو وزارت په دې وروستیو کې د څېړنې، تألیف او ترجمې ریاست جوړ او په رسمي ډول یې په سیستم کې شامل کړ (عظیمي او بالاکرزي،۲۰۲۰). د علمي چارو د تقویې لپاره په ډېری پوهنتونو کې د علمي څېړنې مرکز او کمېټې شته، ډیری پوهنتونونه علمي مجلې لري، استادان د خپل علمي ترفیعاتو په موخه او محصلین د علمي سند د ترلاسې په موخه څېړنې کوي او پایلې یې د علمي مقالې، مونوګراف، علمي رسالې او تیزس په بڼه خپروي، د ډېرو پوهنځیو په کریکولم کې د څېړنې مضمون هم شته. پاتې دې نه وي چې په دې وروستیو کې یواځې دکابل پولیتخنیک او ننګرهار پوهنتونو کې آنلاین ژورنالونو خپرونې پیل کړې.

له پورته ټولو هڅو سره بیا هم د افغانستان په لوړو زده کړو کې څېړنه هغه ډول نه ده تقویت شوې څرنګه چې لازمه ده. ځکه چې پوهنتونونه څېړنې غواړي نه د څېړنو پایلې، زیاتره څېړنې یواځې د شخصي موخو تر لاسه کولو پر بنسټ ترسره کیږي. د افغانستان پوهنتونو ژورنالونه آنلاین نه دي، ځکه نو اغېز یې کم او د ادبي غلا چانس پکې ډېر دی. عظیمي او بالاکرزي(۲۰۲۰) په یوه علمي څېړنه کې بیان کړي چې څېړنه او تألیفات د لوړو زده کړو د سیستم یو له پاموړ محصولاتو څخه دي، چې په افغانستان کې تر ټولو مهم ډګر دی. افغانستان د یو مخ پر ودې هېواد په توګه له ۲۰۰۲ میلادي کال راهیسې په سیستم کې ډېر زیات د کیفیت له مخې تغیرات راغلي اما د څېړنې کیفیت ته پاملرنه نه ده شوې، په نړیوال ډګر کې د هېواد ټولیزه څېړنیزه ونډه ٪ ۰,۰۱۹ ده چې تقریباً صفر ده.

زمونږ د تجربو په اساس د افغانستان لوړو زده کړو اړوند په دولتي او خصوصي پوهنتونوکې د استادانو او محصلینو د علمي څېړنو د میتودولوژي او احصائیوي سافټویرونو سره نه بلدتیا، د څېړنې لپاره د ځانګړی بودجې نشت، ساینسي علومو کې د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره مجهزو لابراتوارونو کموالی، د لوړو زده کړو په چوکاټ کې ګڼ شمیر ترسره کیدونکي څېړنې یواځې او یواځې د کاغذ پر مخ پاتې کیدل، د هیواد په داخل او حتی د نورو هېوادونو د یو شمیر پوهنتونو سره د علمي څېړنو په برخه کې د لازمو همکاریو نشتوالی او څېړونکو ته د مادي او معنوي امتیازونو نشتوالی ټولې هغه ستونزې دي چې د افغانستان په لوړو زده کړو کې یې د څېړنې تقویت له صفر سره برابر کړی. پورته ستونزو ته په کتو د دې څېړنې موخه په لوړو زده کړو کې د څېړنې اهمیت او د تقویت لارې چارې یې روښانه کول دي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. په لوړو زده کړو کې د څېړنې اهمیت څه دی؟

۲. څرنګه کولای شو د نړیوالو معیارونو سره سم په څېړنه کې د علمي کادرونو ظرفیتونه لوړ کړو؟

۳. د لوړو زده کړو په واحدونو کې د باکیفیته علمي څېړنو ترسره کولو لپاره څه کول پکار دي؟

۴. د لوړو زده کړو په واحدونو کې د علمي څېړنو ترسره کولو لپاره څېړونکوته څه ډول اسانتیاوي برابرې کړو؟

۵. څرنګه کولای شو چې څېړونکي علمي څېړنو ته وهڅوو؟

۶. څرنګه کولای شو د علمي څېړنو له پایلو څخه ګټه واخلو؟

**د څېړنې مخینه**

څېړنیز پرمختګ د علمي پرمختګ بنسټ دی او پوهنتونونه د علمي څېړنو او د ټولنې د پرمختګ او هوساینې اصلي مرکزونه دي. د پوهنتونو علمي کادرونه دعلمي څېړنو په وسیله په خپلو ځانګو کې ځانګړي بدلونونه را منځ ته کوي (نورین او آدیب، ۲۰۱۴).

**د څېړنې اهمیت**

د نړۍ پر مخ تللو هېوادونو کې څېړنې ته په کافي اندازه بودجه ځانګړې کیږي او ډیری کارپوهان او مفکرین څېړنو ته ډیراهمیت ورکوي. له همدې امله ډیری څېړنیزو بنسټونو، پوهنتونو، مؤسسو او اشخاصو په بېلابېلو تخصصي برخو لکه تعلیم، ساینس، سوداګرۍ، طبیعي زیرمو او چاپیریال، د بشري سرچینو پراختیا، ساختماني او روغتیا پورې اړوند برخو کې څېړنې ترسره کړي دي ترڅو د زده کړې کیفیت لوړ او د وګړو ژوند ښه والی پیداکړي (چیکو او ملګري، ۲۰۱۵). د ساکران (۲۰۰۰) په آند، څېړنه یوه داسې منظمه پروسه ده، چې په کمي او یا کیفي توګه د یوې مشخصې موضوع لپاره د میتودونو

ډیزاینول، د معلوماتو راټولول، تحلیلول، تفسیرول او د معلوماتو راپور ورکول شامل دي څو ستونزې ته ښکاره ځوابونه وموندل شي. له همدې امله، د تدریس تر څنګ د علمي کادرونو لپاره څېړنه یوه مهمه دنده ده چې په شته پوهه نوي اوتازه علمي معلومات ور زیات کړي. دراهیم او ملګري (۲۰۱۹) استدلال کوي چې څېړنه او پراختیا نه جلا کیدونکي دي ځکه چې څېړنه د اقتصادي پراختیا لپاره ترټولو دوامداره او اغېزمنه وسیله ده او په نړۍ کې د هېوادونو او خلکو ترمنځ د چټکې ودې په وړاندې د سیالۍ وړتیا پیاوړې کوي چې دلوړو زده کړو واحدونه یې د اصلي بنسټګرو په توګه پېژندل کېږي او په ډېری ملي سیستمونو کې د څېړنې په وسیله نوښت را منځ ته کوي (هیل، ۲۰۰۶). د ټولنیزو شبکو تیوری ښیي چې په څېړنه کې د نوښت رامینځته کول متضاد نظریاتو ته اړتیا لري چې په بشپړه توګه د همکارۍ په شبکو کې لیدل کېږي (پیرسون، ۲۰۱۸).

**د څېړنې پر وړاندې ننګونې او د تقویت لارې چارې**

داچې ولې څېړنه د افغانستان لوړو زده کړو تر رهبرۍ لاندې واحدونو کې کم رنګه ده لامل یې ځینې ستونزې او ننګونې دي چې له منځه وړلو سره یې څېړنه تقویت پیدا کوي. د څېړنې ترسره کولو پروړاندې ستونزې او ننګونې هغه څه ته ویل کېږي چې د څېړنېزو فعالیتونو په ترسره کولو کې خنډ ګرځي (حضرتي ، ۱۳۹۵). د بیلګې په ډول، د علمي کادر غړو لپاره، د کافي وخت نشتوالی، د څېړنیزو میتودونو په برخه کې دظرفیت ټیټوالی، څېړنه کې د همکارۍ کلتور نشتوالی او د څېړنې واضح اجنډا نشتوالی (حماد او العنی،۲۰۲۱). یوازې د ترفیع (علمي رتبې) لپاره د څېړنې ترسره کول او د څېړنې سره د لیوالتیا نشتوالی (سلامی او ملګري، ۲۰۲۲). د څېړنیزو پروژو لپاره د مادي ملاتړ نشتوالی، د څېړنیزو فعالیتونو ارزولو لپاره د ځانګړو مقررو نشتوالی، د څېړنو پایلې نه کارول (قمشاهي او اخوت، ۱۳۹۵). مون (۲۰۰۸) استدلال کوي چې د څېړونکو ظرفیت لوړول یوازې د میتودولوژیکي مهارتونو لاسته راوړل ندي بلکې د څیړنې پروسې باندې هر اړخیزه پوهه او د هغې پلي کولو وړتیا پیداکول دي. ظرفیت لوړونه یوه پروسه ده چې موخه یې د څېړونکو د څېړنې مهارتونو او د څېړنې میتودولوژۍ ته وده ورکول دي چې دوی د لوړ کیفیت څیړنې ترسره کولو او پایلو ترلاسه کولو توان پر ځان کې پیدا کړي (باریت او ملګري، ۲۰۱۱؛ لیچ، ۲۰۰۹؛ ریس او ملګري، ۲۰۰۷). د لوړ کیفیت څېړنه د مطالعې ټول اړخونه په سیستماتیک ډول په ځان کې شاملوي چې د څېړنو اصول، علمي نظریات او فلسفي بنسټونه پکې کارول کېږي( اکسینس، ۲۰۰۳؛ لوهر، ۲۰۰۴؛ شاولسن او ټونی، ۲۰۰۲). همدارنګه، د څېړنې تقویت لپاره د څېړونکو انګېزه او هڅونه مهمه ګڼل کېږي چې ژانګ (۲۰۱۴) په خپلو څېړنو کې دې پایلې ته ورسید چې د شخصي هڅونې عوامل چې علمي څېړنې پرمخ وړي په دوو کټګوریو ویشل کیدای شي:

خارجي عوامل (لکه د عايد زياتوالی، د دندې موده، د مسلک وده) او داخلي فکتورونه (لکه رضايت، وياړ، مرسته کوونکی).

**دڅېړنې ميتود**

دغه څېړنه چې د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې اهميت او د تقويت لارو چارو تشريح کولو هڅه کوي، د افغانستان له بېلابېلو دولتي پوهنتونو هغه استادانو څخه چې په آنلاين بڼه د لاسرسي وړ وه، معلومات په کمي او کيفي ډول راټول او تحليل شوي.

کمي معلوماتو راټولولو لپاره د څېړونکو په لاس دوه برخې لرونکی پوښتنليک په ګوګل فارم کې ډيزاين شو، لومړۍ برخه يې د ګډونوالو ځينې عمومي معلوماتو غوښتنه کوي او دويمه برخه يې د څېړنې موخو پورې اړوند دي چې ټولې، ۲۴ تړلې پوښتنې او ۲ ازادې پوښتنې لري. له دې جملې څخه يې ۸ تړلې پوښتنې او ۱ ازاده پوښتنه د څېړنې اهميت لپاره او ۱۶ تړلې پوښتنې او ۱ ازاده پوښتنه د څېړنې تقويت لارو چارو په ګوته کولو لپاره په ۴-پوائنټ ليکرټ (بشپړ موافق- بشپړ مخالف) بڼه ترتيب شوي. د پوښتنليک په پيل کې يادونه شوې چې ټول معلومات به يوازې د څېړنې موخو لپاره په پټ ډول سره کارول کېږي او برخه اخيستونکي چې هرکله وغواړي د مطالعې څخه د وتلو حق لري. دغه پوښتنليک په آنلاين بڼه د افغانستان دولتي پوهنتونو علمي کادرونو غړو عمومي ګروپ او نورو بېلابېلو د لاس رسي وړ پوهنتونو ګروپونو ته د درې اونيو لپاره ويشل شوی وو.

په پوښتنليک کې د پوښتنو د منځپانګې اعتبار او د پوښتنو شمېر د پښتو ژبې او ادب څانګې همدارنګه د څېړنې کمېټې غړو نظرونو په کارولو سره تاييد شوی. راټول شوي معلومات د تحليل لپاره SPSS ته انتقال شول او الفا کرونباخ يې ۹۳ محاسبه شوی چې د يو باوري پوښتنليک استازيتوب کوي. کمي معلومات په احصايوي ډول (شمېر او سلنې) په کارولو سره تجزيه او تحليل شوي او د جدولونو او ګرافونو په بڼه وړاندې شوي.

کيفي معلومات د نيمه جوړښتيزو مرکو له لارې را ټول شوي. د مرکو لپاره ۱۵ تنه د ننګرهار پوهنتون د دکتورا سکالران او د څېړنې کميټې غړي په هدفمند ډول د دريو معيارونو پراساس غوره شوي دي: دوی د څېړنې کميټې مسؤل وه، په څېړنه کې تجربه لرونکي او د نورو په پرتله لوړې وړتياوې درلودې. ټولې مرکې آنلاين ترسره شوې وې او د څېړنې موخو لپاره ثبت او ليکل شوې. د معلوماتو راټولولو وروسته، څېړونکو د څېړنې موخو ته په کتو د ګډونوالو له ټولو نظرونو څخه ليدنه وکړه. ټول موضوعات په دقيق ډول د څېړنو پوښتنو او موخو مطابق په نښه او کوډ شول. کيفي معلومات د لنډيزونو، محتوياتو تحليل او مستقيمو نقلونو چې د مطالعې موخو سره سمون لرلو انتخاب شوي. همدارنګه، راټول شوي

معلومات د موضوعي طریقې په پلي کولو سره په مختلفو ګروپونو ویشل شوي او د راپور په ترتیبولو کې کیفي موندنې د کمي موندنو بشپړولو لپاره کارول شوي.

**ګډونوال**

په دې څېړنه کې ۱۶۳ علمي کادر غړو پوښتنپاڼو ته ځوابونه ویلي چې ډیری یې ماستر (۱۰۳) کمترین لیسناس (۲۶) او ۳۴ تنه دکتوران دي. ۷۵ تنه پوهنیار، ۵۸ تنه پوهنمل، ۱۰ تنه پوهندوي، ۱۲ تنه پوهنوال او ۸ تنه پوهاند علمي رتبو لرونکي دي. له یو څخه تر پنځو پوري مقالې ۸۳ تنو په ملي ژونالونو او ۹۸ تنو په نړیوالو ژورنالونو کې خپرې کړي چې په لاندې لمړی جدول کې ښودل شوي. همدارنګه، د ننګرهار پوهنتون ۱۵ تنو د دکتورا سکالرانو او د څېړنې کمیټو غړو سره مرکې شوي. د څېړنې ټوله نمونه ۱۷۸ تنه علمي کادر غړي دي.

لومړی جدول: د ګډونوالو عمومي معلومات

| تحصیل | شمېر | سلنه | علمي رتبه | شمېر | سلنه | ملي مقالې | شمېر | سلنه | نړیوالې مقالې | شمېر | سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لېسانس | ۲۶ | ۱۶ | پوهنیار | ۷۵ | ۴۶ | هیڅ | ۵۰ | ۳۰,۷ | هیڅ | ۴۴ | ۲۷ |
| ماستر | ۱۰۳ | ۶۳,۲ | پوهنمل | ۵۸ | ۳۵,۶ | ۱-۵ | ۸۳ | ۵۰,۹ | ۱-۵ | ۹۸ | ۶۰,۱ |
| دکتور | ۳۴ | ۲۰,۹ | پوهندوی | ۱۰ | ۶,۱ | ۶-۱۰ | ۱۵ | ۹,۲ | ۶-۱۰ | ۱۶ | ۹,۸ |
| | | | پوهنوال | ۱۲ | ۷,۴ | >۱۰ | ۱۵ | ۹,۲ | >۱۰ | ۵ | ۳,۱ |
| **ټول** | **۱۶۳** | **۱۰۰** | پوهاند | ۸ | ۴,۹ | **ټول** | **۱۶۳** | **۱۰۰** | **ټول** | **۱۶۳** | **۱۰۰** |
| | | | **ټول** | **۱۶۳** | **۱۰۰** | | | | | | |

**موندنې او مناقشه**

**د څېړنې اهمیت**

څرنګه چې په لمړی جدول کې د څېړنې اهمیت په باره کې په ډاګه معلومېږي چې ۹۸ سلنه د علمي کادر غړي په دې باور دي چې څېړنه یوه داسې پروسه ده چې په ټولنه کې شته ستونزو ته د باور وړ حل لارې چارې په ګوته کوي، د زده کړې کیفیت،علمي پوهې او نظریاتو د تولید لپاره بنسټي حیثیت لري، د یو هېواد پایداره اقتصادي پراختیا د ښه والي لپاره اغېزمنه سرچینه ده، په نړېواله کچه د خلکو ترمنځ د چټکې علمي ودې په وړاندې د سیالۍ وړتیا پیاوړې کوي. په ملي او نړېواله کچه د پوهنتونو په ډلبندۍ کې رغنده رول لري. د لوړو زده کړو وزارت تر رهبرۍ لاندې واحدونو کې څېړنه هغه وخت د اهمیت وړ ګرځي چې د ستونزو د حل په موخه ترسره شي. په زړه پورې موندنه داده چې یوه جمله د ګډونوالو دقت او ریښتیني پوهې معلومولو په موخه سر چپه ځاي پرځاي شوې وه (چې پرته له څېړنې یو هیواد کولای شي چې په هر ډګر کې د پرمختګ او مثبتو بدلونونو شاهد اووسي) او ۸۲ سلنه ګډونوالو خپل مخالفت له دغه جملې سره ښودلی. دغه موندنې د کازوکا او ویما (۲۰۲۰)، چیکو (۲۰۱۵)، (ګورانسون او برنډینیوس (۲۰۱۰) موندنو سره ورته والی لري.

د دې څېړنې لاسته راوړنې ښیي چې د افغانستان دولتي پوهنتونو استادان په نظري ډول دڅېړنې پر اهمیت پوهېږي. ځکه چې، په دې څېړنه کې د مرکو او آزادو پوښتنو لنډیز هم ښیي چې څېړنه دیو هېواد علمي او اقتصادي پرمختګ، خودکفاکېدو، نوښت، په هره برخه کې دشته ستونزو حل، د انساني ژوند سهولیتونو زیاتوالي لپاره غوره ګام او د نړیوالو سره د مثبتې سیالۍ یوازینۍ لار ده.

دویم جدول: د څېړنې اهمیت د شمېر او سلنې پراساس ښیي

| پوښتنې | بشپړ موافق | | موافق | | مخالف | | بشپړ مخالف | | ټول | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر |
| څېړنه یوه داسې پروسه ده چې په ټولنه کې شته ستونزو ته د باور وړ حل لارې په ګوته کوي. | ٦٦،٩ | ١٠٩ | ٣١،٣ | ٥١ | ٠،٦ | ١ | ١،٢ | ٢ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| پرته له څېړنې یو هیواد کولای شي چې په هر ډګر کې د پرمختګ او مثبتو بدلونونو شاهد اووسي. | ٦،١ | ١٠ | ١١،٧ | ١٩ | ٣٧،٤ | ٦١ | ٤٤،٨ | ٧٣ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| په نړېواله کچه د پوهنتونو په ډلبندۍ کې یو له اصلي او مهمو لاملونه څخه یې څېړنه ده. | ٦٩،٣ | ١١٣ | ٢٩،٤ | ٤٨ | ٠ | ٠ | ١،٢ | ٢ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| څېړنه د زده کړې کیفیت،عملي پوهې او نظریاتو د تولید لپاره بنسټي حیثیت لري. | ٦٣،٨ | ١٠٤ | ٣٥ | ٥٧ | ٠،٦ | ١ | ٠،٦ | ١ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| څېړنه د یو هیواد پایداره اقتصادي پراختیا د ښه والي لپاره اغېزمنه سرچینه ده. | ٥٢،٨ | ٨٦ | ٤٥،٤ | ٧٤ | ١،٢ | ٢ | ٠،٦ | ١ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| د لوړو زده کړو تر رهبري لاندې واحدونو کې څېړنه هغه وخت د اهمیت وړ وي چې د ستونزو د حل په موخه ترسره شي. | ٥٠،٩ | ٨٣ | ٤٣،٦ | ٧١ | ٣،٧ | ٦ | ١،٨ | ٣ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| څېړنه په نړېواله کچه د خلکو ترمنځ د چټکې علمي ودې په وړاندې د سیالۍ وړتیا پیاوړې کوي. | ٥٥،٦ | ٩٠ | ٤٢،٦ | ٦٩ | ٠،٦ | ١ | ١،٢ | ٢ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| په لوړو زده کړو کې څېړنې یواځې د شخصي موخو (علمي رتبې) لپاره ترسره کیږي. | ٢٣،٣ | ٣٨ | ٤١،٧ | ٦٨ | ٢٦،٤ | ٤٣ | ٨،٦ | ١٤ | ١٠٠ | ١٦٣ |

د یو ګڼونوال په وینا څېړنه «د ناروغیو د عواملو پر وړاندې مبارزه او د هغوی د مخنیوي او له منځه وړلو لپاره د واکسین او درمل جوړول دي چې ټولنه د مختلفو امراضو د سرایت او پرې د اخته کیدو مخه ونیول شي». بل ګډونوال ویلي څېړنه «د نویو معلوماتو راسپړل دي چې پخوا پټ وو، پخواني معلومات رد او یا تاییدوي او پټ اړخونه یې روښانه کوي».

همدارنګه په دې څېړنه کې ٦٥ سلنه ګډونوال په دې باور دي چې په لوړو زده کړو کې څېړنې یواځې د شخصي موخو (علمي رتبې/علمي سند) ترلاسه کولو لپاره ترسره کیږي. چې دا لاسته راوړنې د (سلامي او ملګري، ۲۰۲۲) موندنو سره ورته والي لري. د ګډونوالو په وینا افغانستان کې ډیری تش په نامه څېړنې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره ترسره کېږي چې هغه نه عملي دتطبیقولو وړ دي او نه هم په نظري ډول د پوهې په زیاتوالي کې کومه مرسته کوي. د دې له اصلي لاملونو څخه ممکن د ظرفیت ټیټوالی وي چې دوي د څیړنې له اهمیت څخه په نظري ډول خبر دي، مګر په عملي ډول د علمي څېړنو ترسره کولو کې کمزورتیا شته، یا د څېړنې ترسره کولو لپاره په کافي اندازه د وخت او سهولیتونو نشتوالی ، استادانو ته د څېړنې لپاره ځانګړې بودیجې نه ورکول، شاید هغه لاملونه وي چې استادان د علمي رتبې او محصلین د علمي سند تر لاسه کولو لپاره په یوه او بله طریقه لکه ادبي غلا، له بلې ژبې څخه ژباړه د څېړنو په نوم خپروي. د څېړنیزو فعالیتونو لپاره د بودجې تخصیص او با کیفیته څېړونکو ته مادي او معنوي امتیاز ورکول به د با کیفیته څېړنیزو فعالیتونو د کمښت په حل کې اغیزمن ګام وي. د اونۍ په اوږدو کې د استادانو د درسي ساعتونو حجم راکمول او استادان په دې مکلفول چې علمي څېړنې وکړي. د ریښتیني او علمي څېړنو تر سره کولو لپاره اړینه ده چې په څېړنه پانګونې ته زیاته پاملرنه وشي او استادان وهڅول شي.

**د تقویت لارې چارې**

په دې څېړنه کې د څېړنې تقویت لارې چارې په پنځه ډوله ډلبندي او په لاندې ډول روښانه شوي؛

**ظرفیت لوړونه**

څرنګه چې په لمړی ګراف کې په ډاګه معلومېږي چې ۹۹,۴ فیصده استادان باوري دي چې علمي کادرونو ته په مختلفو ځانګو کې د ماستری او دکتورا پروګرامونو جوړول او د داخلي اوخارجي پوهنتونو تر منځ د څېړنو په برخه کې د لازمو همکاریو زمینه برابرول د ظرفیت لوړونې لپاره یو بهترین ګام دی. همدارنګه، ۹۵,٦ سلنه استادان په دې باور دي چې استادانو او محصلینو ته د څېړنو میتودولوژي او تحلیلي سافټویرونو دوامداره ورکشاپونو زمینه برابرول او ۹۳,۲ سلنه استادان په نصاب کې د څېړنې میتودولوژي او تحلیلي سافټویرونو کریدیتونه زیاتول په ظرفیت لوړونه کې مهم بولي. دغه ذکرشوې موندنې د (باریت او ملګري، ۲۰۱۱؛ لیچ، ۲۰۰۹؛ ریس او ملګري، ۲۰۰۷) موندنو سره سمون لري.




لومړی ګراف: د څېړنې تقویت لارو چارو کې ظرفیت لوړنې سلنه را په ګوته کوي

یو ګډونوال ویلي «ما په څو ورکشاپونو کې ګډون کړی چې یوازې په نظري زده کړه یې تاکید کاوه او د سافټویرونو په پوهېدلو مې هیڅ ندي لیدلي... اصلي علت دا دی چې مونږ د څېړنې متخصصین نلرو». د یادولو وړ ده چې یواځې په نظري او تیوریکي ډول استادانو او محصلینو ته د څېړنې میتودولوژۍ ښوونه او روزنه بسنه نه کوي، بلکې په عملي ډول د احصایوي سافټویرونو کارول مهم دي. بهتره ده چې د څېړنیزو پروګرامونو تدریس او زده کړې تر څنګ عملي میدان کې د څېړنیزو پروژو پلي کولو لپاره هم زمینه برابره شي. د بېلګې په توګه د عنوان اړوند د اندازې وړ څېړنیزې موخې او پوښتنې جوړول، د معلوماتو راټولولو وسایل برابرول او په عملي توګه تحلیل او تجزیه کول. د ظرفیتونو لوړونې لپاره باید د څېړنې هغه متخصصین ورکشاپونه وراندې کړي، چې د څېړنې په ټولو اصولو او معیارونو بلد وي او د معلوماتو تحلیل او تجزیه کولو کې عملي تجربه ولري. ځکه په عملي ډول د علمي څېړنو مهارتونو پلي کولو لپاره د څېړونکو ورتیا پیداکول مهم دي نه یوازې په نظري توګه د میتودولوژیکي مهارتونو لاسته راوړل.

بل ګډونوال ویلي «پوهنتونونه باید له نړیوالو پوهنتونو او ژورنالونو سره توافقنامې ولري». نړیوالو کانفرانسونو کې ګډون کولای شي د علمي کادرونو ظرفیتونه په کافي اندازه لوړ کړي. ځکه د نورو څېړونکو سره اړیکه د متضادو نظریاتو او څېړنې اړوند نوې تجربو تر لاسه کولو زمینه برابروي. په دې توګه، د څېړنې همکارۍ شبکې ممکن د پوهې جریان اسانه کړي او د څېړنې خلاقیت او نوښت لپاره شرایط رامینځته کړي.

**کیفیت لوړونه**

په دویم ګراف کې په ښکاره ډول معلومېږي چې سل په سلو کې استادان په دې باور لري چې په څېړنه کې د ادبي غلا مخنیوي لپاره جدي اقدام وشي. د لوړو زده کړو تر رهبري لاندې واحدونو کې څېړنه باید د نوښت، خلاقیت، علمي پرمختګونو او د ستونزو حل په موخه تعریف او د نړیوالو معیارونوپه پام کې نیولو سره ترسره شي. د علمي کادرونو تر منځ په ملي او یا نړیواله کچه د ښه همغږۍ، ګډ کار او د پروژو د ترسره کولو لپاره د ګروپونو جوړول د څېړنو کیفیت لوړولو کې مهم بولي. چې دغه موندنې د (بوز او آشبی، ۲۰۰۳؛ لوهر، ۲۰۰۴؛ شاولسن او ټونی، ۲۰۰۲؛ داویس او ملګري ، ۲۰۰۴) موندنو سره ورته والی لري.




دویم ګراف: د څېړنې تقویت لارو چارو کې کیفیت لوړنې سلنه را په ګوته کوي

دا چې د افغانستان په ملي ژبو کې تر اوسه داسې څه نلرو چې د ادبي غلا مخه پرې ونیول شي او سرقت معلوم شي نو دا ستونزمنه ده چې د یوې څېړنې اصلیت معلوم شي. نو د دې لپاره باید خپاره شوي اثار په آنلاین بڼه ثبت شي او د ادبي غلا مخنیوي لپاره ځانګړي سافټویرونه رامنځته شي، دې ته ورته په هر پوهنتون کې په څېړنه له پوهو او متخصصو شخصیتونو څخه د څېړنیزو مرکزونو او کمیټو جوړول تر څو د اړوند پوهنتون استادانو او محصلینو سره د لوړ کیفیت څېړنو تر سره کولو کې مرسته وکړي. همدارنګه یو ګڼ‌شمېر نوال ویلي چې د لوړ کیفیت څېړنو تر سره کولو لپاره «په انګلیسی ژبې حاکمیت مهم فکتور دی» دا چې د ډېرو علومو تیوریانې غربي دي او په غربي هېوادونو کې رامنځته شوي دي او له بلې خوا انګلیسی نړیواله ژبه ده، چې ټولې علمي سرچینې په کې موندلای شو.

**د امکاناتو او اسانتیاوو زمینه برابرول**

له دریيم ګراف څخه په ښکاره ډول معلومېږي چې سل په سلو کې استادان په دې باور دي چې په لوړو زده کړو کې به څېړنه هغه وخت ښه تقویت شي چې د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره مجهز لابراتوارونه

او مواد شتون ولري، په استادانو تدريسي مکلفيتونه کم شي، د علمي څېړنو لپاره ځانګړې بودجه شتون ولري او معتبرو آنلاين کتابخانو ته څېړونکي وړيا لاسرسی ولري. دغه لاسته راوړنې د (حماد او العنی، ۲۰۲۱) موندنو سره ورته دي چې د علمي کادرونو لپاره د تدريس تر څنګ بايد کافي وخت د څېړنو لپاره هم په نظر کې ونيول شي.




درېم ګراف: د څېړنه تقويت لارو چارو کې د امکاناتو او سهولتونو سلنه را په ګوته کوي

د ګډونوالو په وينا د پوهنتونو استادان د څېړنو لپاره کافي وخت نلري ځکه خپل ټول وخت په تدريس، ازموينو او زده کړيالانو سره د مونوګرافونو په لارښود کې مصرفوي چې ممکن دا د معياري څېړنو ترسره کولو لپاره يو لوی خنډ وي.

يو ګډونوال ويلي چې «محصلينو او استادانو ته د څېړنې لپاره بودجه، لابراتوار، انترنيټ، اړونده سافټويرونه برابر شي». يو بل ګډونوال بيا په ملي ژبو د مجهزو کتابتونونو، لابراتوارونو، ښو او پرمختللو ټکنالوژيکي وسايلو تر څنګ «له نړيوالو علمي مؤسسو او پوهنتونو سره علمي اړيکه، په نړيواله کچه په علمي څېړنو کې د برياليو څېړونکو له تجربو څخه ګټه اخيستل...» هم مهم بولي. په دوامداره توګه په څېړنو پانګونه کول او د څېړنې لوازم برابرول ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې علمي کادر غړي او محصلين د دې وړتيا لري چې خپل نظرونه تعقيب کړي، څېړنه وکړي او خپلې پوهې ليږدولو لپاره د پام وړ نړيوال ډاډ ترلاسه کړي.

**هڅونه**

په څلورم ګراف کې ځای پر ځای شوي معلومات ښيي چې ۹۲،۶ سلنه استادان څېړنه د عايداتو لپاره يوه ښه منبع بولي. همدارنګه تقريبا ۹۹ سلنه استادان په لوړو زده کړو کې د څېړنې تقويت لپاره د نړيوالو

معیارونو سره سم د مقالو خپرول او وړاندې کولو لپاره یې په ملي کچه دوامداره علمي کنفرانسونه دایرول او څېړونکو ته د سالم رقابت زمینې برابرولو په موخه مادي او معنوي امتیاز ورکول مهم بولي. دغه لاسته راوړنې د (ژانګ، ۲۰۱۴) موندنو سره ورته والی لري.




څلورم ګراف: د څېړنې تقویت لارو چارو کې څېړنې ته هڅونې سلنه را په ګوته کوي

د ګډونوالو په وینا، هڅونه د دې لامل کیږي چې څېړونکي په فعاله توګه خپلې څېړنې وکړي. د بېلګې په توګه، د شهرت، امتیاز او ستاینې تر لاسه کولو لپاره په ملي او نړیوالو کنفرانسونو کې خپلې مقالې وړاندې کول. همدارنګه د پوهنتونو او استادانو ترمنځ حتی د زده کړیالانو ترمنځ د باکیفیته څېړنو سیالي رامنځ ته کول او هر کال د څېړنو پر بنسټ غوره پوهنتون، بریالی استاد او ممتاز زده کړیال اعلانول او هغوی ته مادي امتیاز ورکول ممکن د څېړنې په تقویت کې تر زیاتې اندازې مرسته وکړي.

**د څېړنو له پایلو څخه ګټه اخیستنه**

په پنځم ګراف کې ځای پر ځای شوي معلومات ښیي چې ۹۹ سلنه استادان په دې باور دي چې په لوړو زده کړو کې څېړنه هغه وخت تقویت پیدا کوي چې د ترسره شویو څېړنو پایلو ته پوره پاملرنه وشي او یوازې د کاغذ پر مخ پاتې نه شي. همدا رنګه، ۹۷ سلنه استادان په ملي او نړیوالو ژبو د آنلاین ژورنالونو را منځ ته کول خو له تر سره شوي څېړنو څخه خلک په هر ځای کې ګټه واخلي د څېړنې په تقویت کې اړین بولي. دغه موندنې د (قمشاهي او اخوت، ۱۳۹۵) سره ورته والی لري.

د ګډونوالو په وینا هر کال په زرهاوو محصلین فارغیږي او د څېړنې په نوم مونوګرافونه لیکي او هیڅ ګټه ورڅخه نه اخیستل کیږي. همدارنګه استادان د علمي رتبې لپاره مقالې په هارډ شکل خپروي چې د ګټې اخیستنې څرک په کې ډېر کم لیدل کیږي. یو ګډونوال ویلي «دعلمي څېړنو څخه دګټې اخیستنې

لپاره باید دمارکیټ، کمپنیو او پوهنتونو ترمینځ قوي اړیکې واوسي تر څو عملي بڼه ولري او که داسې ونشي نو شوی تحقیق به یواځې د کاغذ پرمخ پاتې وي».




پنځم گراف: د څېړنې تقویت لارو چارو کې د څېړنې له پایلو څخه د گټې اخېستنې سلنه را په گوته کوي

**پایلې**

د دې څېړنې موخه د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې اهمیت او تقویت لارې چارې په گوته کول دي. د معلوماتو را جمع کولو، تحلیل او تجزیه کولو لپاره له کیفي او کمي میتودونو څخه کار اخیستل شوی. د څېړنې اهمیت په اړه پایلې ښیي چې څېړنه د تېرو تجربو په رڼا کې د نوي پوهې او نظریې تولید، دیو هېواد د ستونزو حل، اقتصادي، ټولنیز، فرهنگي، تاریخي، سیاسي، علمي، ساینسي او ټیکنالوژي پرمختگونو یواځنۍ لاره ده، په هغه صورت کې چې په معیاري او علمي ډول ترسره شي. نو په همدې اساس په پوهنتونو کې نه یوازې څېړنه باید ترسره شي بلکې پایلې یې د هېواد په کچه په پلان او پالیسې جوړولو کې تطبیق شي. همدا رنگه په لوړو زده کړو کې د څېړنې تقویت لارې چارې په پنځه ډوله ډلبندي شوي چې عبارت دي له: ظرفیت لوړونه، د څېړنې په ترسره کولو کې د علمي کادر غړو ظرفیت لوړونې لپاره په دوامداره توگه د ورکشاپونو، تدریس او زده کړې تر څنگ عملي میدان کې د څېړنیزو پروژو پلي کولو او گډ کار کولو لپاره هم زمینه برابرول مهم دي. کیفیت لوړونه، د ادبي غلا د مخنیوي لپاره جدي اقدام، د لوړو زده کړو تر رهبرې لاندې واحدونو کې څېړنه د نوښت، خلاقیت، علمي پرمختگونو او د ستونزو حل په موخه تعریفول او د علمي څېړنو اصولو په پام کې نیول مهم دي. د اسانتیاوو زمینه برابرول، د څېړنو تر سره کولو لپاره د سهولیتونو او امکاناتو برابرول، ځانگړې بودجه او استادانو ته د څېړنې کافي وخت په پام کې نیول ترڅو داډ ترلاسه شي چې علمي کادر غړي

او محصلین د دې وړتیا لري چې خپل نظرونه تعقیب کړي او په مختلفو برخو کې علمي نوښتونه او پرمختګونه رامنځ ته کړي. *هڅونه*، څېړنو ته د څېړونکو هڅونې لپاره د سالم رقابت زمینې برابرولو په موخه مادي او معنوي امتیاز ورکول. د کال غوره څېړونکی اعلانول. د څېړونکو لپاره د پروژو اعلانول چې په دې سره هم اړونده څېړنه ترسره کیږي او په عیني وخت کې دا د څېړونکو لپاره یو ډول مادي ملاتړ دی، او محصلینو ته د کوچنیو څېړنیزو پروژو ورکول چې له یوې خوا زده کړیالانو پوهه په څېړنه زیاتیږي، او له بلې خوا د زده کړیالانو تر منځ څېړنیزه سیالي رامینځ ته کیږي، چې د څېړنې د تقویت لپاره تر ټولو ښه لاره کیدای شي. له پایلو څخه ګټه اخېستنه، په هر پوهنتون کې د څېړنو لپاره آنلاین ژورنالونه را منځ ته کول تر څو د څېړنو له پایلو څخه ګټه واخیستل شي او یواځې د کاغذ پرمخ پاتې نه شي.

**وړاندیزونه**

۱. د لوړو زده کړو واحدونو کې څېړنې باید په هیواد کې د شته ستونزو د حل، علمي او اقتصادی ودې په موخه ترسره شي.
۲. د لوړو زده کړو وزارت په څېړنه د ظرفیت لوړولو لپاره جدي اقدام تر سره کړي.
۳. د لوړو زده کړو وزارت په څېړنو کې د کیفیت لوړولو لپاره جدي اقدام تر سره کړي.
٤. د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې تر سره کولو لپاره د امکاناتو او سهولتونو زمینه برابره کړي.
۵. د لوړو زده کړو وزارت د څېړنو ترسره کولو لپاره د څېړونکو هڅونې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.
٦. د څېړنې څخه لاس ته راغلو پایلو څخه باید ګټه واخیستل شي، او د څېړنې وړاندیزونه باید تعقیب شي.

## سرچینې


حضرتی، عباس. (۱۳۹۵). واکاوی موانع و راهکارهای توسعه فرهنگ پژوهش در آموزش و پرورش ایران. کنفرانس بین المللی نوآوری و تحقیق در علوم انسانی مدیریت و معارف اسلامی، قم. مرکز مطالعات و تحقیقات اسلامی سروش حکمت مرتضوی - انجمن علمی ارتباطات و تبلیغ حوزه علمیه.

قمشاهی، مژگان. اخوت، محمدعلی. (۱۳۹۵). شناسایی موانع و مشکلات انجام پژوهش در آموزش و پرورش و ارائه راهکار نخستین همایش ملی تازه های تعلیم و تربیت در نظام آموزشی ایران. دانشگاه آزاد اسلامی واحد اردکان.

Azimi, M. N., & Balakarzai, A. T. (2020). Nation Building through Higher Education System Resurgence in Afghanistan. Handbook of Education Systems in South Asia, 1-22.

Aksnes, D. W., Langfeldt, L., & Wouters, P. (2019). Citations, citation indicators, and research quality: An overview of basic concepts and theories. Sage Open, 9(1), 2158244019829575.

Barrett, A. M., Crossley, M., & Dachi, H. A. (2011). International collaboration and research capacity building: Learning from the EdQual experience. Comparative Education, 47(1), 25-43.

Chikwe, C. K., Ogidi, R. C., & Nwachukwu, K. (2015). Challenges of Research and Human Capital Development in Nigeria. Journal of Education and Practice, 6(28), 44-47.

Davis, D., Davis, M. E., Jadad, A., Perrier, L., Rath, D., Ryan, D., ... & Zwarenstein, M. (2003). The case for knowledge translation: shortening the journey from evidence to effect. Bmj, 327(7405), 33-35.

Draheim, C., Mashburn, C. A., Martin, J. D., & Engle, R. W. (2019). Reaction time in differential and developmental research: A review and commentary on the problems and alternatives. Psychological Bulletin, 145(5), 508.

Göransson, B., & Brundenius, C. (Eds.). (2010). Universities in transition: The changing role and challenges for academic institutions. Springer Science & Business Media.

Hammad, W., & Al-Ani, W. (2021). Building educational research capacity: challenges and opportunities from the perspectives of faculty members at a national university in Oman. SAGE Open, 11(3), 21582440211032668.

Huenneke, L. F., Stearns, D. M., Martinez, J. D., & Laurila, K. (2017). Key strategies for building research capacity of university faculty members. Innovative higher education, 42(5), 421-435.

Kazoka, J. E., & Wema, E. F. (2020). An analysis of the factors influencing research capacity developments in higher education institutions in Tanzania. University of Dar es Salaam Library Journal, 15(1), 45-66.

Hill, J. K. (2006). University research and local economic development (pp. 7-36). Center for Competitiveness and Prosperity Research, L. William Seidman Research Institute, WP Carey School of Business, Arizona State University.

Leitch, R. (2009). Harnessing the slipstream: Building educational research capacity in Northern Ireland. Size matters. Journal of Education for Teaching, 35(4), 355–371.

Lohr, K. N. (2004). Rating the strength of scientific evidence: Relevance for quality improvement programs. International Journal for Quality in Health Care, 16(1), 9–18.

Munn, P. (2008). Building research capacity collaboratively: Can we take ownership of our future? British Educational Research Journal, 34(4), 413–430.

Naoreen, B., & Adeeb, M. A. (2014).Investigating Academic Research Culture in Public Sector Universities of Pakistan. Social & Behavioral Sciences, 116(21), 3010-3015.

Persson, J. (2018). Talking collaboration: Conceptualizing collaborative research for sustainable development in theory and practice.

Rees, G., Baronb, S., Boyaskc, R., & Taylora, C. (2007). Research capacity building, professional learning and the social practices of educational research. British Educational Research Journal, 33(5), 761–779.

Sakran, M. (2010, April 20–April 21). Educational research from a critical perspective [Paper presentation]. 10th Scientific

Saunders, M., Lewis, P., & Thornhill, A. (2009). Research methods for business students. Pearson education.

Sellami, A., Arar, K., & Sawalhi, R. (2022). Higher Education and Scientific Research in the Arabian Gulf States: Opportunities, Aspirations, and Challenges. Taylor & Francis.

Shavelson, R. J., & Towne, L. (Eds.). (2002). Scientific research in education. Washington, DC: National Research Council, National Academy Press.

Zhang, X. (2014). Factors that motivate academic staff to conduct research and influence research productivity in Chinese project 211 universities (Doctoral dissertation, University of Canberra).

# تطبیقي څېړنه، اهمیت، خصوصیات او اغیز یې

**پوهندوی محمدحسن محمدی**

کرنیز اقتصاد او توسعې څانګه، کرنې پوهنځی، سید جمال الدین افغان پوهنتون، کنړ، افغانستان
ایمیل: mhassan7878@yahoo.com

**لنډیز**

څېړنه د بشري پوهې په وده او پرمختیا کې ستر رول لري، انسانان دخپل استعداد او فکري ځواک پرمټ دخپلو تجربو او څېړنو په پایله کې د پرمختګ اوسني پړاو ته را رسیدلي او ورځ تر بلې مخ په وړاندې روان دي. څېړنه هغه ستونزو ته د حل نوي لارې پیدا کوي چې ټولنه او خلک ورسره لاس او ګریوان دي. په ټولنیزو علومو کې اکثره څېړنې تطبیقي دي، په هر حالت کې، دواړه ډوله (اساسي او تطبیقي) څېړنې اړینې دي او په حقیقت کې یو له بل پرته شتون نلري، عملي څېړنه په بنسټیزې څېړنې ولاړه ده، د تطبیقي څېړنې عملي کولو سره ستونزې حل کیږي او له مالي پلوه ګټورې دي. د پوهېدو لپاره د پوهې راټولول د "خالص" یا "بنسټیزو" څېړنو په نوم یادیږي. عملي څېړنه د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي ستونزو د پېژندلو او حل کولو لپاره ترسره کیدای شي، د بازار موندنې څېړنه یا د ارزونې څېړنه د تطبیقي څېړنې بیلګې دي. د عملي څېړنې په پایله کې ټولنیزه هوساینه او ټولنیزه وده رامنځته کیږي.

**کلیدي اصطلاحات:** څېړنه؛ تطبیقي؛ بنسټیز؛ څېړنې میتود؛ څېړنې اهمیت

# A Study of the Importance, Characteristics, and Effects of Applied Research

**Assistant Prof. Muhammad Hassan Mohammadi**

Department of Agricultural Economics and Extension, Faculty of Agriculture, Sayed Jamal Uddin Afghani University
Email: mhassan7878@yahoo.com

**Abstract**

Research is pivotal in advancing human knowledge and driving societal growth and development. The culmination of human achievement and progress often stems from the outcomes of experiments and research endeavors, showcasing the depth of human talent and intellectual prowess. Research endeavors catalyze discovering novel solutions to society and individuals' multifaceted challenges. In the realm of social sciences, research typically falls into two categories: basic and applied research. Both categories are indispensable. Basic research forms the foundation upon which applied research builds, as it seeks to answer fundamental questions and lay the groundwork for practical applications. Applied research, on the other hand, brings these insights to life by addressing real-world problems across various domains, such as social, economic, and political issues. Examples of applied research include marketing research and evaluation research. These practical research efforts yield tangible benefits, fostering social welfare and catalyzing societal development.

**Keywords:** Research; Applied; Fundamentals; Research Method; Research Importance

**سریزه**

انسانان د خپل پیدایښت سره سم د پټو پدیدو دکشف او د زیاتې پوهې په لټه کې شوي، همېشه یې په طبیعت کې د تغییر او تحول په هکله له خپل ځان څخه سوال کړی؛ د وخت په تیریدو سره دغه پوښتنې زیاتې شوي او انسانان د هغه پوهې په اساس چې د طبیعت په اړه یې درلودې، د ځواب پیدا کولو په هڅه کې شوي دي، دغه پوښتنو ته به یې حل لارې کله له یوې لارې او کله به د بلې لارې لټولې. په اوږد مهال کې پوه شوول چې د حل لارې د پیدا کولو له پاره باید یو ځانګړی لاره تعقیب شي ترڅو هدف په اسانۍ سره ترلاسه شي چې، دغه مسیر د څیړنې د روش په نوم سره یاد شوی(حسیني، ۱۳۹۴هـ. ش).

څېړنه د پلټنې یوه سیستماتیکه پروسه ده، چې د ډیټا د راټولونې، د حساسو معلوماتو ثبت او دوسیه کولو، او د مناسبو میتودولوژیو په مرسته د ډیټا یا معلوماتو تحلیل او وړاندې کولو برخې په کې شاملې دي. محمد نبي صلاحي په خپله مقاله کې لیکي، چې څېړنه په مسایلو د ژورې پوهیدنې او د ریښتیا موندلو له پاره یو پلان شوی، هوښیارانه، منظم او د باور وړ بهیر دی یا څېړنه د پلټنې، بیا ترلاسه کولو علمي ارزونې او په اصطلاح کې دنه سترې کیدونکو هڅو نوم دی(هاشمي،۱۳۹۷). د کارا له نظره څېړنه د علمي پلټنې یو هنر دی. د څیړنې ماهر ډاکتر ګیان چند د څیړنې په هکله داسې وایي: څیړنه د یو پټ او مبهم حقیقت د څرګندولو یو اساسي عامل دی. ورسته لیکي په نامعلومو حقایقو او معلوماتو باندې ځان پوهولو ته څیړنه وایي، یعنې کوم حقیقتونه چې زموږ د نظر په وړاندې نه وي څرګند ددغه حقیقتونو ښکاره کولو ته څېړنه وایي (هاشمي،۱۳۹۷).

د C.C. Crawford له نظره "څېړنه په ساده ډول د فکر کولو یو منظم او اصلاح شوی تخنیک دی، چې د ځانګړو وسایلو او طرزالعملونو په کارولو سره د یوې ستونزې د حل لپاره د عادي وسیلو په پرتله خورا مناسبه حل لاره پیدا کوي. څېړنه د یوې ستونزې سره پیل کیږي، ډیټا یا حقایق راټولوي، دا په دقیقه توګه تحلیلوی او د حقیقي شواهدو پر بنسټ پریکړې ته رسیږي .W.S. Monroe، د الینوس پوهنتون استاد وایي"څېړنه د ستونزو د مطالعې د یو میتود په توګه تعریف کیدای شي، چې حل یې په جزوي ډول یا په بشپړه توګه د حقایقو څخه اخیستل کیږي. څېړنه هغه سیستماتیک میتود ته ویل کیږي، چې د ستونزې تشریح کول، د فرضیې جوړول، د حقایقو راټولول، د حقایقو تحلیل او د اړونده ستونزې له پاره د حل په بڼه یا د ځینو تیوریکي جوړښتونو د عمومي کولو له پاره پایلو ته رسیدل په کې شامل دي(kothari and Garg,2014). ساینسي څېړنه د مختلفو پېښو په اړه د اټکل شویو اړیکو یوه سیستماتیکه، کنټرول شوې تجربه او د قضیو یا موضوعاتو حساسه پلټنه ده. یا څېړنه یوه منظمه پلټنه ده

چې د ستونزې د حل له پاره د معلوماتو چمتو کولو لپاره ډيزاين او ترسره کيږي (کرلينجر، ۱۹۸۶). څېړنه د معلوماتو د راټولولو، تحليل او ارايه کولو د پروسې څخه عبارت ده، چې پوښتنې ځواب کړي (kumar,2011 ).

په عمومي ډول څېړنې د نويو تيوريو، اصولو يا قوانينو جوړولو له پاره په مختلفو ډسپلينونو ( فزيک، کيميا، رياضي او داسې نورو) کې کارول کيږي، چې اهداف يې تيوريکي دي او توضيحي بڼه لري، همدارنگه څېړنې د نويو حقيقتونو يا واقيعتونو د پيدا کولو له پاره هم کارول کيږي. پاتې دې نه وي، چې ځينې څېړنې تطبيقي هدف لري او د نوې پوهې په رامنځته کولو کې ونډه نه لري؛ ليکن د نويو تطبيقاتو سپارښتنې کوي. ددې ډول څېړنو کارولو سره په عمل کې اصلاح او ښه والی راوستل دي (Singh,2006).

تطبيقي څېړنه د ستونزې يا ځانگړې علمي يا ټولنيزې مسلې د حل له پاره تر سره کيږي او په واضح او مشخص توگه په ټولنه کې د کارولو وړ ده (تولائی،۱۳۹۴ هـ ش).

په ټولنيزو علومو کې ډيری څېړنې تطبيقي دي. تطبيقي څېړنه د مشخصو ستونزو له پاره د حل تشخيص يا د مشخص پوښتنو له پاره دځواب موندلو له پاره ترسره کيږي. هغه کسان چې د سوداگرۍ، دولتي ادارو او ټولنيزو خدماتو وړاندې کولو په برخو کې په کار مصروف دي، د تطبيقي څېړنې له ميتود څخه کار اخلي، همدارنگه د بازارموندنې د شروع له پاره تصميم نيونه، د پروگرام دوام يا پای ته رسول، د تطبيقي څېړنې له لارې تر سره کيدای شي(رمضان، ۲۰۲۲).

د يو ځانگړي فرد، گروپ يا حالت د خصوصياتو په ريښتني توگه تشريح کول، د تشريحي څېړنې پورې اړه لري. په اوسني وخت کې د ژوند ټول اسانتياوې د څېړنو په وسيله برابرې شوي دي( بهرام، ۱۳۸۸ هـ ش).

**څېړنې موخې**

- د تطبيقي څېړنې پيژندل؛
- د تطبيقي څېړنې خصوصياتو پيژندل؛
- د تطبيقي څېړنې په اغيزو پوهيدل.

**د څېړنې پوښتنه**

- تطبيقي څېړنه څه ته وايې او په کومو برخو کې کارول کيږي؟

**نتایج او مناقشه**

دا چې د روزمره ژوند په مختلفو برخو کې انسانان د ستونزو سره مخ دي او د هرې ستونزې جوړښت، چاپیریال او شرایط له بلې ستونزې سره توپیر لري؛ نو هغه کړنلارې چې د ستونزو د حل له پاره ور څخه ګټه اخیستل کیږي، هغه هم یو له بل څخه توپیر لري. دغه توپیرونه ددې باعث شوي چې د څیړنې ډلبندي یو څه پیچلی شي. د څیړنې د ډلبندئ په اړه د علماوو ترمنځ د نظر یوالي وجود نه لري. رنجیت کومار په ۲۰۱۱ م کال کې څیړنې د ماهیت، هدف، او معلوماتو په اساس په مختلفو ګروپونو ویشلي دي. په ټولنیزو علومو کې ماهیت یا د څیړنې د پایلو تطبیق ته په کتو څیړنې په دوه ډولونو، بنسټیزو او تطبیقي ویشل شوي دي. د څیړنې یو اړخ نشي کولی چې د نورو اړخونو مخه ونیسي. د مثال په ډول یو څېړنه کیدای شي د تطبیق له مخې خالصه وي ، د هدف له مخې توضیحي وي او د پلټنې د طرز له مخې کیفي وي.

تطبیقي څیړنې په ارزیابي څیړنې، توسعه محوره څیړنې او عملیاتي څیړنې په کټه ګوریو ویشل شوي دي. ارزیابي څیړنې د تطبیقي څیړنې یو ډول دی، چې د یوې موضوع په اړه موجوده معلومات تجزیه او تحلیل کوي، ترڅو عیني نتایجو ته ورسیږي یا آګاهانه تصامیم ونیول شي. دغه ډول څیړنې اکثره په تجارت کې په کاروړل کیږي. توسعه محوره څیړنې د تطبیقي څیړنو هغه ډول دی، چې مارکیټ د ضرورت په اساس په نویو محصولاتو او خدماتو متمرکز وي. دغه برنامه د بازار د ضرورتونو په اړه د معلوماتو د راټولو او د موجوده اجناسو د ښه والي یا نوي جنس رامنځته کولو په اساس وي. عملیاتي څیړنې په تجارت کې د ټارګیټ شوي بازار د ضرورتونو تشخیص کول او همدارنګه د تجارت د مختلفو ستراتیژیو جوړولو کې استفاده کیږي (خسرواني، ۱۴۰۰ هـ ش).

د عملي یا تطبیقي  څیړنې مفهوم ډیر زوړ دی او د عملي څیړنې مفهوم له (۱۹۲٦) راهیسې په ټولنیزو مطالعاتو کې کارول کیږي. بیکنګهم دا مفهوم لومړی په خپل کتاب "د ښوونکو لپاره څېړنه" کې ذکر کړی دی، خو Stephen M. Corey د لومړي ځل لپاره د ټولنیزو مطالعاتو د ستونزو د حل لپاره دا مفهوم وکاراو. د کوري په وینا - " تطبیقي څېړنه د متخصصینو لخوا د ساینسي پلوه د خپلو اوسنیو کړنو د اصلاح کولو د پریکړې له پاره د ستونزو د مطالعه کولو پروسه ده. د Mc.Threte په وینا. "عملي څېړنه منظم پلټوونکی فعالیت دی، چې موخه یې د ورکړل شویو هڅو مطالعه او رغنده بدلون دی،  چې د فرد یا ډلې لخوا د بدلون او پرمختګ سره تړاو لري (Kothari,2004).

د تطبیقي څیړنې اساس د ارواپوهنې یا ټولنیزې اروا پوهنې له ساحې څخه ګڼل کیږي. تطبیقي څیړنې علمي مطالعې او هغه څیړنو ته چې هڅه یې د عملي ستونزو حل کول وي، راجع کیږي. تطبیقي څېړنه

د روزمره ستونزو دحل د پیدا کولو له پاره کارول کیږي. همدارنګه عملي څېړنه د مسایلو یا د ستونزو د حل په نوم سره یادیږي، چې پایلې یې مستقیما د ځانګړې مسلې د حل له پاره په کار وړل کیږي. عملي څیړنې محلي او موضعي خصلت لري او معمولا زیات تعمیم پذیره خاصیت نه لري.

تطبیقي څېړنه د خالصو یا اساسي څېړنو په اساس د ځانګړو، عملي پوښتنو د حل لپاره؛ د پالیسۍ جوړولو، اداره کولو او د یوې پیښې د درک لپاره ترسره کیږي. دا کیدای شي سپړنه وي، خو معمولا تشریحي وي. د دې ډول څېړنو موخه د یوې سمدستي مسلې حل کول، د یوې ځانګړې ستونزې حل کول، د نوي ټیکنالوژۍ پراختیا او راتلونکو پرمختګونو ته کتنه او داسې نور وي. د بنسټیزو څېړنو د موندنو لپاره د ممکنه کارونې یا د ځانګړو او له مخکې ټاکل شویو اهدافو د ترلاسه کولو نویو میتودونو یا لارې ټاکلو لپاره ترسره کیږي. پدې کې د ځانګړو ستونزو د حل کولو لپاره د موجوده پوهې پام کې نیول شامل دي( Frascati Manual, 2002)

په ټوله نړۍ کې هغه څیړونکو ته چې عملي څیړنې کوي او تمرکز یې د حقیقي ژوند مسلو او ستونزو په مطالعه وي، زیاته اړتیا لیدل کیږي. په تیرو وختونو کې، په عملي څېړنه کې د دقت نشتوالي، د ناخوښۍ میتودولوژیو، او په سخته توګه د پایلو ترلاسه کولو باندې انتقاد وو. سره له دې، موږ لاهم اړتیا لرو چې پالیسي ډیزاین کړو. د مؤثره پالیسۍ ډیزاین کولو او د غوره کړنلارو پیژندلو او انتخاب د عملي څیړنو په اساس کیدای شي (Oxburgh et al, 2011).

بنسټیزه څېړنه د تطبیقي څیړنې لپاره بنسټیز اړخ لري، خو د وخت له نظره تطبیقي څېړنه لومړیتوب لري او لنډ مهاله او تر ډیره پریکړه نیوونکي ده او د متعددو پوښتنو له پاره د چټک او په موقع ځواب په لټه کې ده، دغه څیړنې غالبا لارښوونکي لري او په عمده توګه د دولتي او خصوصي اجرایوي موسسو، سازمانونو، ارګانونو او شرکتونو له خوا ترسره کیږي (فرجي، ۱۳۹۰).

د تطبیقي څیړنې موخه د میتود، محصول یا فعالیت وده ده. ډیری څیړنې، چې د صنعتي ډیزاین په ډګر کې ترسره کیږي د عملي کولو هدف په پام کې نیولو سره تر سره کیږي، د پایلې په توګه دا ادعا کیدای شي چې ډیری د صنعتي ډیزاین څیړنې عملي څیړنې دي (تیموری،۱۳۹۲ هـ ش). تطبیقي څېړنه د یو ځانګړې پوښتنې د ځواب موندلو له پاره کوم چې حل یې ضروري وي، ترسره کیږي. د تطبیقی څیړنې عمده هدف د پروګرامونو، پروژو، پروسیجرونو یا ادارو د عملي او مفیدو پوښتنو له پاره د ځواب پیدا کول دي (pant, 2009).

## د تطبیقي څېړنې اهمیت

څېړنه نه یوازې په علمي ساحو کې اهمیت لري، بلکې په ورځني ژوند کې هم خپل ځانګړی اهمیت لري. زمونږ په ژوند کې هره ورځ نوې ستونزې اوپېدېږي رامنځته کیږي. په عملي ژوند کې دغو ستونزو ته ځواب ویل یو اساسي ضرورت دی. څېړنې د کلتوري، اجتماعي، اقتصادي، طبیعي، علمي او نورو برخو د دوامداره توسعې محرکه قوه ده. څېړنه د انسان د نجات عامل ده. تطبیقي څېړنه د ټولنې په هره برخه کې د پراختیا، ښه والي او اغیزمنتوب سبب ګرځي (شینواری، ۱۳۹۵).

د اساسي څېړنې برعکس تطبیقي څېړنې په مستقیمه توګه د عملي ستونزو د حل سره دلچسپي لري. په دې ډول څېړنو کې زیات تاکید د عملي ستونزو په حل کولو دی او په ځانګړې توګه د عمومي تیورۍ په عملي کولو تمرکز کوي، ترڅو د انسانانو د ژوند کیفیت ښه والی ومومي. د تطبیقي څېړنې پرته د انسانانو عملي ستونزې نشي حل کیدای. په عمومي ډول په دې څېړنو کې د نوې پوهې تولید او د نوې ټیکنالوژیو د پراختیا پروسې شاملې دي.

د بېلګې په توګه د دولت د بودیجې سنجس د خلکو د اړتیاوو او غوښتنو د تحلیل او د عایداتو په شتون پورې اړه لري. د اړتیا وړ لګښت باید د احتمالي عوایدو سره مساوي وي، په دغه برخه کې څېړنې خورا اړینې دي. تصمیم نیونه ممکن د څېړنې برخه نه وي، خو څېړنه یقینا د پالیسي جوړونکي له پاره تصمیم نیونه اسانه کوي.د بزګرانو حالت، د لویو او کوچنیو سوداګریو او صنعتونو ستونزې، کاري شرایط، د سوداګرۍ د اتحادیې فعالیتونه، د ویش ستونزې، حتی د دفاعي خدماتو اندازه او ماهیت هغه مسایل دي، چې څېړنې ته اړتیا لري. په دې توګه، د هېواد د سرچینو د تخصیص په اړه څېړنه اړینه ګڼل کیږي. په حکومت کې بله برخه، چیرې چې څېړنه اړینه ده، د ملت د اقتصادي او ټولنیز جوړښت په اړه د معلوماتو راټولول دي. دا ډول معلومات په ګوته کوي چې په اقتصاد کې څه پیښیږي او کوم بدلونونه رامنځته کیږي. د دې ډول احصایوي معلوماتو راټولول یو معمولي کار نه دی. نن ورځ نږدې ټول حکومتونه د دې کار د ترسره کولو لپاره د څېړنې تخنیکي یا متخصصینو لویه ډله له ځان سره لري. په اخر کې ویلی شو چې څېړنې د انسان د ژوند په هره برخه کې یوه اړتیا ده.

## د تطبیقي څېړنې ځانګړتیاوې

په تطبیقي څېړنو کې اکثره وختونه د ساینسي میتودونو د کارولو او د معلوماتو د راټولولو او تحلیلي تخنیکونو څخه کار اخیستل کیږي. تطبیقي څېړنه تر ډېره د صنعت، حکومت او نورو سازمانونو سره د عملي ستونزو په حل کې همکاري کوي او زیات تمرکز یې د عملي ستونزو او د حقیقي نړۍ د مسایلو په حل کولو وي. تطبیقي څېړنه د یوې ځانګړې ستونزې یا اړتیا په ځواب کې ترسره کیږي، او روښانه موخې او فرضیې لري. تطبیقي څېړنه کې په عمومي ډول د معلوماتو د راټولولو او تحلیل لپاره د کنټرولي

تجربو، سروې ګانو، یا نورو تجربوي میتودونو کارول شامل دي. د تطبیقي څېړنې پایلې د پالیسي یا تصمیم نیولو، د نویو محصولاتو، او خدماتو د پراختیا لپاره کارول کیږي.

عملي یا تطبیقي څېړنه د ستونزې انتخاب، دفرضیې جوړول، د څېړنې ډیزاین، د ډیټا راټولول، د ډیټا تحلیل او د پایلو لیکلو مراحل لري. تطبیقي څېړنه باید کنټرولیدونکې، هدف لرونکې، دقیقه، ازمایښت کیدونکې، حساسه، ریښتینې، سیستماتیکه، د تحلیل وړ او اعتباري وي.

### د عملي څېړنې اغیزې

څېړنې په بیلابیلو برخو (په اقتصاد، کاروبار، دولت داری، تعلیم، صحت او داسې نورو کې) کې خپله ونډه لرلې ده. د انسانانو د ژوند د چاپیریال په بیلابیلو برخو کې پرمختګ د څېړنو په پایله کې رامنځته شوی. په مختلفو سکتورونو کې پرمختګونه د څېړنو پایله ده او څېړنه د مختلفو سکتورونو سره په تصمیم نیونه کې مرسته کوي. د ټولنیزو څېړنو په وسیله ټولنیزه هوساینه، کنټرول، پیوستون، وړاندوینې او ټولنیزه وده رامنځته کیږي.

د پیرودلو، تولید او پلور لپاره د اغیزمنو پالیسیو د جوړولو په موخه د بازار څېړنه ترسره کیږي. عملي څېړنه د محاسبې منطقي او تحلیلي تخنیکونو پلي کولو ته اشاره کوي، ترڅو د سوداګرۍ د لګښت کمولو یا د ګټې اعظمي کولو ستونزې حل کړي.

عملي څېړنې د صحت په سکتور کې هم خپلې مثبتې اغیزې لرلي دي. د مثال په ډول د کوید نولس ویروس مخنیوي لپاره واکسین د تطبیقي څېړنې په واسطه رامنځته شو. د تطبیقي څېړنې ښه مثال د مختلفو پوهنتونو او د دوا د تولید د کمپینو لخوا د کرونا یا کوید نولس له پاره د واکسین رامنځته کول دي. همدارنګه برقي موټر، انټرنټ، ځیرک مبایل او داسې نور په زرګونه نوښتونه، چې انسانان یې په روزمره ژوند کې کاروي د تطبیقي څېړنې په واسطه رامنځته شوي دي. د کرنې په برخه کې پرمختګ د عملي څېړنو پایله ده. د بیلګې په ډول د نایتروجن، فاسفورس او پوتاشیم څخه د یوریا او ډي اي پي سرو د جوړولو پروسه، همدارنګه په یاد سکتور کې د کیمیاوي درملو رامنځته کولو پروسه او داسې نور. ویلي شو چې اصلاح شوي تخمونه هم د نوموړو څېړنو پایله کې رامنځته شوي دي.(Ray, 2014).

بالاخره څېړنې د ټولنیزو اړیکو د مطالعې او د ټولنې د ټولو ټولنیزو ستونزو په حل کې مهم رول لوبوي .(Bist,2014).

**پایلې**

ددې څېړنې د پایلو څخه پوهیږو چې د ټولنې ټول پرمختګونه عمدتا د څېړنو د پایلو په اساس رامنځته شوي دي. په عمومي توګه د څېړنې اصطلاح څخه زموږ هدف په اجتماعي او ساینسي علومو کې د تجاربو سرته رسول دي. څېړنه که د علومو په هره برخه کې وي، کار یې د حقیقت موندل دي. د مسلکي پوښتو د ځواب پیدا کولو له پاره څېړنې یو له هغه لارو څخه دی، چې اکثره خلك یې د استعمال سره اشنایي لري.

ټول پرمختګونه د پوښتنو څخه زیږیدلي دي. ګمان ډیری وخت د ډیر باور څخه غوره دی، ځکه چې د څېړنو لامل کیږي، او څېړنې د اختراع لامل ګرځي. تطبیقي څېړنې د حقیقي نړۍ ستونزو ته عملي حل لارې وړاندې کوي، اقتصادي ودې لامل کیږي، په ځانګړو برخو کې پوهه زیاتوي، دپالیسیو د جوړولو او تصمیم نیونې اساس جوړه وي او همدارنګه د افرادو او ټولنو د ژوند په ښه والي کې مرسته کوي.دڅېړنې د ترسره کولو له پاره باید د پروژې په ماهیت پریکړه وشي، پلټوونکي باید په مستقیم ډول د ستونزې سره رابطه ولري، د ستونزې بڼه باید حقیقي وي، د عمل فرضیه باید د ستونزې د لاملونو په پام کې نیولو سره جوړه شي، د عملي څېړنې پروژې ډیزاین باید د مصارفو، وخت او انرژۍ له نظره اقتصادي وي.

## سرچينې

بهرام، غلام محمد او عربو، ساره توخی. (۱۳۹۴هـ ش). د څېړنې میتودولوژي او د پروژو تحليل او تجزيه :کابل پوهنتون، کرنې پوهنځی. کرنيز اقتصاد او توسعې څانگه.کابل: قرطبه خپرندويه ټولنه. صص ۱۱-۱۲ .

تولائی، روح الله. (۱۳۹۴هـ ش). روش تحقیق در مدیریت. پوهنتون شهید بهشتی.

تیموری، شراره . (۱۳۹۲). تبیین وبررسی شاخص های روش های تحقیق کاربردی در طراحی صنعتی. نشریه هنرهای زیبا- هنرهای تجسمی, دانشگاه ازاد اسلامی، واحد زنجان، زنجان. صص ۶۷-۷۴.

حسيني، حمید مستخدمین.(۱۳۹۴هـ ش). "مقدمه ای بر روش تحقیق در علوم انسانی". ماهنامه اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی کاروجامعه. صص ۵۵-۶۹.

شینواری، عزت الله. (۱۳۹۸هـ ش). په کرنه کې دڅېړنې میتود، اړتيا او اهمیت. د پوهنیار علمي رتبې څېړنېزه رساله. سيد جمال الدين افغانی پوهنتون، کرنې پوهنځي کرنيز اقتصاد او توسعې څانگه. ص ۱۰.

فرجي، نصرالله. (۱۳۹۰ هـش). روش های تحقیق در روانشناسی وعلم تربیتی، بوران پژوهش تهران ایران.

هاشمي، سيد اصغر. (۱۳۹۷). د څېړنې بنسټونه. دريم چاپ، جلال اباد: هاشمي خپرندیه ټولنه، ص:۹-۱۰.

Bist,R.B.(2014). Research procedure: an introduction, Journal of NELTA surKhet. Nepal valuem;4.Pp34-40..

Frascati manual.(2002). The measurement of Scientific and technological Activities. Frascati manual 2002: proposed Standard practice for surveys on research and experimental development. Paris, france: OECD.

Kerlinger, F. N. (1986). Foundation of behavioral research. New York: Halt, Rimehartamd Winstorn

Kothari, C. R., & Garg, G. (2014). Research methodology methods and techniques (3rded.). New Dellhi: New Age International Pbulication, Ltd.

Kothari, C.R.(2004). Research Methodology: Methods and Technique, New Delhi: New Age International Publishers,Pp1-10.

Kumar, R. (2011). *Research methodology: A step-by-step guide for beginners*.3rd edition Sage Publication Ltd.Pp31-32.

Oxburgh, G. E., Walsh, D., & Milne, B. (2011). The importance of applied research in investigative interviewing: A real life perspective. *Journal of Investigative Psychology and Offender Profiling*, *8*(2), 105-109.

Pant, P. R. (2009). Social science research and thesis writing. Kathmandu: Buddha Academic Enterprise Pvt. Ltd.p:6.

Ray, G.L. and mondal, S.(2014). Research Methods in Social Sciences and Extension Education. Kalyani Publishers, New Delhi :P 5.

Singh, Y.K.(2006). Fundamental of research Methodology and Statistics. first Edition. New Age International Publisher.Pp.1-4.

# په پوهنتونونو کې د علمي، فرهنګي او ادبي غونډو اغېزمنتیا

**پوهنمل رحمت الله حکیمي**

پښتو ژبې او ادب څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځي، پکتیکا پوهنتون، پکتیکا، افغانستان
ایمیل: rahmatullah.hakime@gmail.com

**لنډیز**

د علومو پرمختګ او ښکلا د افکارو په تبادلو او مباحثو کې نغښتې، په پوهنتونونو کې دا ډول غونډې استاد او محصل ته د نوښت، ځانباورۍ او پراخې مطالعې لرلو وس ورکوي، له چېټرې زده کړو څخه یې باهدفه او په پایلو ولاړو زده کړو ته رابولي، یو بل ته د وړ او پر کار پوه کسانو د علمي تجربو، افکارو او مشاهدو لېږد ترسره کېږي. د کره کتنې له اړخه په پنځونو او څېړنو تاوده بحثونه رامنځته کېږي، د استاد او محصل د استعداد پوښلې جزیرې پرانیستل کېږي او په دوی کې د جرأت، فصاحت او منطق قوه پیاوړې کېږي، همدا راز د زده کړې پروسه ګټوره کېږي او بالاخره د یوې ژبې پر علمي، فرهنګي او ادبي بډاینې سربېره، پیاوړی او بسیا تحصیلي نظام رامنځته کېږي. په پوهنتونونو کې د دې ډول غونډو په مؤثریت منظمه څېړنه نه وه شوې، چې دلته د کمپوزیټ میتود په څېړنیز ډول د دې ډول غونډو مؤثریت ښه روښانه شوی.

**کلیدي اصطلاحات:** علمي او ادبي بحث؛ د علمي او ادبي بحثونو مؤثریت؛ د عالم ارزښ؛ اکاډمیک مسئولیت

# The Effectiveness of Academic, Cultural, and Literary Meetings at Universities

**Sr. Teaching Assistant. Rahmatullah Hakimi**

Paktika Higher Education Institute, Education Faculty, Pashto and Language Department
Email: rahmatullah.hakime@gmail.com

**Abstract**

The development and enrichment of scientific knowledge thrive on exchanging ideas and discussions. Such academic interactions within university settings catalyze creativity, self-confidence, and comprehensive learning experiences for educators and students. These forums facilitate the transfer of scientific expertise, ideas, and observations among talented and knowledgeable individuals. Through keen observation and rigorous debates on research findings, the latent talents of educators and students are unveiled, enhancing their capacities for courage, eloquence, and logical reasoning. This, in turn, enriches the learning process and contributes to the establishment of a robust educational system encompassing scientific, cultural, and literary dimensions. Surprisingly, there has been a lack of systematic research assessing the effectiveness of such academic gatherings within universities. Therefore, this research employs a comprehensive methodological approach to elucidate the efficacy of these academic meetings.

**Keywords:** Scientific and Literary Discussion; the Efficiency of Scientific and Literary Discussion;L Scholarly Value; and Academic Responsibility

**سریزه**

هغه ناستې چې د پوهـ، روڼ اندو او تخصصي کسانو له خوا د یوې ځانګړې موضوع په تحلیل، کره کونه او سپړنه جوړېږي او د بېلا بېلو کسانو نظرونه او افکار پکې تبادله کېږي علمي، ادبي او فرهنګي ناستې ګڼل کېږي. د علمي او اکاډمیکو مرکزونو په رغښت، نوښت او پایښت کې دا ډول ناستې ځکه اساسي رول لري، چې هم پکې علم زده کېږي او هم پکې د علم د وړاندې کولو هنر.

د علومو د نننې پرمختګ تر شا همداسې علمي بحثونه، مناظرې، کره کتنې او تحلیلونه پراته دي. دا څېړنیزه مقاله په اکاډمیکو مرکزونو کې د همدې ډول ناستو په مؤثریت لیکل شوې ده، چې د علمي، ادبي او فرهنګي ناستو په مؤثریت، د علم او عالم په ارزښت خبري لري، پر دې سربېره د پوښتنپاڼې په اساس د کادري غړیو د نظرونو تحلیل، پایله او ددې څېړنېزې مقالې دویمه برخه جوړوي چې د نوموړیو ناستو د مؤثریت په اړه ګټور معلومات لري.

**د مسالې بیان**

په ټولنه؛ په تېره اکاډمیکو مرکزونو کې د علمي افکارو او نظریاتو د اورېدو او تبادلې فرهنګ ته تر ممکنه حده، په سیستماتیک ډول د یوه ځانګړي میکانېزم په اساس کار نه دی شوی. که څه هم په پوهنتونونو کې علمي، ادبي او فرهنګي ناستې کېږي ؛ خو د مؤثریت د څرنګوالي په اړه یې پاموړ څېړنه نه ده شوې، همدا علت دی چې موږ د علومو په بېلا بېلو برخو کې د نوښت او پرمختګ زیري نه لرو. همدې ته په پام مې غوره وګڼله، چې په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو په موثریت څېړنېزه مقاله ولیکم.

**د څېړنې پوښتنې**

- په اکاډمیک چاپېریال کې علمي، ادبي او فرهنګي ناستې څومره اغېزناکې دي ؟
- علمي او ادبي ناستې د استاد او محصل د فکري نبوغ، علمي پیاوړتیا، منطق، جرأت او فصاحت لپاره څومره اغېزناکې دي ؟
- علمي، ادبي او فرهنګي غونډې باید پر کوم میکانیزم جوړې شي ؟

**د څېړنې فرضیه**

اکاډمیک موثریت او اعتبار ترلاسه کولو لپاره په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي ناستو جوړول خورا مؤثر دي.

**د څېړنې مخینه او نظري بنسټونه**

په افغانستان کې د ګڼو علمي، ادبي او فرهنګي بحثونو مرکزونه شته، چې له امله ډېری ګډونوال په تخصصي ډول روزل شوي دي، ښه بېلګه یې افغان ادبي بهیر او دې ته ورته نور مرکزونه ښودلای شو؛

خو د دې ډول غونډو په ارزښت او موثريت له شفاهي خبرو ورهاخوا تر دې دمه کومه څېړنيزه مقاله یا یو اثر زما تر سترګو شوی نه دی، که وي هغه به يوازې د وينا کولو په هنر، فصاحت او بلاغت لنډې لنډې ليکنې وي. دا مقاله په ځانګړي ډول په اکاډميکو مرکزونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي بحثونو مؤثريت ته ځانګړې شوې، چې تر دې وړاندې پرې ځانګړې څېړنه نه ده شوې.

**څېړندود**

دا څېړنه د مختلط ميتود په واسطه په تحليلي او تشريحي بڼه شوې، چې له بېلا بېلو کتابونو، پوهنتپاڼې، خپلو نظرونو او تحليلونو سره مله ده. په کومو برخو کې چې کتابونو ته اړتيا پيښه شوې هلته له کتابونو او په کوم ځای کې چې د نظرياتو راټولونې او د هغې تحليل ته اړتيا پيښه شوې هلته له پوهنتپاڼې څخه کار اخيستل شوی، چې د هېوادګنو کادري غړو ځواب کړې او له تحليل څخه يې توحيدي نظر او طرحې را اخيستل شوې دي. په ټوله کې د نورو نظرونه، کتابتوني مواد د څېړنې د تحقق لپاره د خپل تحليل او پرتلې سره مله څېړل شوي دي.

**اصلي متن**

په نړۍ کې د پوهنتون او اکاډميکو مرکزونو د جوړېدو فکر او طرح د علمي بحثونو او ناستو برکت دی. د يونان سترو فلاسفه وو به په باغونو او دېرو کې علمي مباحثې، مناظرې او کره کتنې کولې. د اکاډمۍ بنسټګرهم دوی دي، چې تر ننه يې له علمي او ادبي نظرونو څخه استفاده کېږي. پکار ده، چې د علمي بحثونو لپاره پراخه حوصله ولرو، ښه اورېدونکی او ويونکی اووسو. له بده مرغه زموږ په ټولنه کې دې برخې ته په سيستماتيک ډول کار نه دی شوی، يو بل ته د غوږ نيونې، متقابل علمي احترام او د يوه کس نظر ته د درانه کتلو سبک نه لرو. همدا علت دی، چې تاريخي ادوارو ته په پام هر وخت د فکر او نظر خښتن راڅخه خفه شوي دي، برعکس نورې نړۍ يې له فکري نبوغ او علمي وړتيا څخه ګټه اخيستې ده. ښه بېلګه يې علامه سيدجمال الدين افغان (رح) دی، چې زموږ ټولنې يې د فکر او نظر د تحمل او هضم توان نه درلود، دوه ځله د پرديو په توطيو تبعيد شو. په نورو هېوادونو کې يې په علمي، سياسي او تاريخي لحاظ ګټور تحول رامنځته کړ، چې تر ننه يې شرقي نړۍ منندويه ده. محمد صديق روهي د افغاني سيدجمال الدين د اتيايم تلين د افتتاح په غونډه کې ويلي وو: ((دغه لوی تاريخي شخصيت سيدجمال الدين افغانی د دين جمال او د ختيځ د نهضت جلال و. عربي هېوادونه يې د (عربي انقلاب معنوي پلار) بولي)) (کابل مجله، ۱۳۵۶ل: ۴ــ ۷). علامه افغاني مفتي محمد عبده، اديب اسحاق، عبدالله نعيم، يعقوب سنا، عبدالسلام مويلحي او نور روڼ اندي پوهان او اسلامپال ځوانان روزلي. شاهد حسين رازقي يې د شاګرد محمد عبده په اړه ليکي: ((سيد جمال الدين افغاني

دده په افکارو، عقیدې او نظریو کې یو اوښتون راوستی، د هغه د زړه او لید نړۍ یې روښانه کړه. دی د سیدجمال الدین افغان تر لیدلو وړاندې داسې وو لکه سترګې یې چې ړندې، غوږونه یې کاڼه او ژبه یې ګونګې وي)) (رازقي، ۱۳۸۸: ۷۱).

## د علمي او ادبي ناستو د جوړېدلو ګټورتوب

علمي، ادبي او فرهنګي ناستو د ټولنو په جوړښت او علمي ارتقا کې مهم نقش لوبولی دی. د علامه افغاني له خبرو اترو او علمي لیکنو څخه ټول شرق رڼا شو. رازقي یې په اړه لیکي: ((کله چې علامه افغاني حیدر اباد ته لاړ، نو د افغاني په کور کې به ډېر علمي بحثونه کیدل، چې ښه بېلګه یې د ښوونیز او تحصیلي نظام د پایښت او رغښت لپاره په حیدراباد کې د مسلمانانو لپاره په مورنۍ ژبه د جامعه عثمانیه (عثمانیه پوهنتون) د جوړېدلو طرح وه، چې څلویښت کاله وروسته دوی د افغاني سپارښتنه او وړاندوینه پر ځای کړه. افغاني دا ستره ولسي اړتیا څه نا څه نیمه پېړۍ مخکې په ګوته کړې وه.)) (درسوال،۱۳۸۹: ۹۸).

د علمي بحثونو بله ګټه د علمي منطق پیاوړي کېدل او جرأت پیدا کول دي، چې د علومو په انتقال او رسالت کې ستره ونډه لري. همدا د منطق کمال دی، چې په وسیله یې انسان د حق او باطل، سم او ناسم بېلولو ځواک پیداکوي، لوړ او علمي فکر د انسان په شخصیت او جوړونه کې ستر نقش لري. د ټولنې فکري لوړتیا په علم او پوهه پورې اړه لري مترلینګ وایي: ((ستاسې فکر چې هر څه وي تاسې هماغه یاست، هیڅ امکان نه لري، چې څوک له خپل فکره لوی شي یا د خپل فکر له حدودو څخه تجاوز وکړي)) (الفت،۱۳۸۷: ۵۰۲).

په پوهنتونو کې علمي، ادبي او فرهنګي غونډې جوړول محصل او استاد پراخې مطالعې کولو ته رابولي. د زده کړو له پټ سترګي مسیر څخه یې ژغوري. د ځراغ اثر لیکوال لیکي: ((که موږ ددې لپاره په معلوماتو پسې ګرځو، چې د خپلې خوښې نظریاتو ته نوي دلیلونه پیدا کړو، دا د معرفت لار نه ده، واقعي معرفت هغه څوک حاصلولای شي چې د خپلې خوښې نظریاتو یې سترګې نه وي پټې کړې)) (غضنفر، ۱۳۹۸: ۳۰۵).

د علمي بحثونو او مناظرو ستره ګټه داده، چې د عالمانو له تجربو، افکارو او مشاهدو څخه خبرېږو، غوره علم همدا دی چې نورو ته یې ګټه ورسېږي، نورو ته د پوهې او تجربو انتقال د بحثونو او افکارو په تبادلو کې نغښتی، علم د خزانې غوندې له ځان سره باید پټ ونه ساتل شي. د کلتور او ټولنې اثر لیکوال لیکي: ((د علم سره زموږ چلن او تعامل د خزانې په څېر دی، څه چې مو زده وي هغه پټ ساتو

چې هسې نه تاوان وکړو او خزانه تمامه شي، علم اوس خزانه نه ده بلکې د هوا او رڼا غوندې ټول بشريت ورڅخه د استفادې حق لري)) (غضنفر،۱۳۹۳: ۲۱۹-۲۲۰).

مهمه دا چې علمي او ادبي مناظرې او ناستې وېناوال په خپل استعداد متکي کوي، بالاخر خبرې يې د فصاحت او بلاغت تومنه پيداکوي. څومره چې يوه وينا فصيحه او بليغه وي دومره جذابه او د لوستونکي د خوښې وړ ګرځي. استاد ناګار د (معاني) اثر د فصاحت برخه کې ليکي: ((فصاحت د بيان او خبرو د اظهار، اغېزمنې او زړه راښکون يوه وسيله ده. د فصاحت نيمګړتيا په يوه مهذبه ټولنه کې عيب شمېرل کېږي)) (ناګار، ۱۳۹۷: ۴۴).

پورته څرګندونو ته په پام علمي او ادبي غونډې په نننی عصر کې د علم په وړاندې زموږ د ټولنې د خزانې تصور له مينځه وړي. د فکر او نظر تبادلي جريان رامنځته کېږي. پر دې سربېره محصل ته د پراخه مطالعې، علمي استدلال، جرأت او خپل نظر وړاندې کولو توان ورکوي. حکيمي د زړه خبرې اثر کې د استاد او محصل تر سرليک لاندې ليکي: ((د محصل د دروني دنيا، تفکر، تخيل او علمي نبوغ د جزيرو سرپټي پرېښول لوی ظلم دی. يوازې په چپېټري لکه محصل تر منزله نشو رسولای. د محصل ستره تېروتنه داده، چې نومرې مهمې ګڼي، حال دا چې نومرې يوازې چوکاټ جوړوي، نه استعداد)) (حکيمي، ۱۴۰۰: ۳۵).

په پوهنتونونو کې د علمي او فرهنګي غونډو جوړېدل مو د علومو د پرمختللو زيګنالونو سره اشنا کوي. همدا د نظرياتو، تجربو او افکارو د تبادلو ډګر دی. په عملي ناستو کې بايد په داسې نويو، ګټورو او اغېزناکو څېړنو او ليکنو خبرې وشي، چې د افغانستان علمي او اکاډميکه برخه ورسره قوي پرمختګ وکړي. پوهانو، ليکوالو او فرهنګيانو ته پکار ده، چې د اسلامي او ټولنيزو ارزښتونو تر سيوري لاندې په خپله برخه کې لوی لوی کارونه وکړي. د اتل غازي ميرويس خان نيکه د مور خبره چې زوی ته يې کړې وه د يادونې وړ ده: ((ته خدای (ج) ددې لپاره پيدا کړی يې، چې لوی کارونه ترسره کړې او د خدای مخلوق ستا په خدمت هوسا او ارام شي، نو د مور له مړينې وروسته به يې تل دا وصيت تکراراوه او ويل به يې: زما مور ماته د لويو کارونو د تر سره کولو وصيت کړی، زه بايد همغسې کارونه وکړم)) (رفيع،۱۳۹۱: ۱۹۶-۱۹۷).

همدې ته په پام پر موږ هم لازمه ده، چې په اکاډميکو برخه کې د خپلو اسلافو پر پله پل کېږدو.

علمي، ادبي او فرهنګي ناستې بايد نه يوازې د علمي او فرهنګي غنا او پرمختګ باعث بلکې له بايد د اخلاقو، علمي سلوک او روشونو د زده کړې تربيوي مرکزونه هم شي. حضرت عمرالفاروق (رض)

فرمایلي دي: ((تَعلَمُو العِلمَ وَ تَعلَمُو لِلعِلمُ السَکِینَة وَ الحِلمَ)) ژباړه: علم زده کړئ او د علم (د ښکلا او ګټورتیا) لپاره ارامي او حلم (نرمي او زغم) زده کړئ. (درسوال، ۱۴۰۰: ۲۵۳)

بل ځای په یوه موقوف حدیث کې راځي: ((تادبو ثم تعلمو)). لومړی ادب زده کړئ، بیا علم تر لاسه کړئ. له دې څخه هدف دادی چې انسان باید د علم، علم زده کړې تر څنګ باید په اخلاقي لحاظ هم لوړ وي، تر څو په پایلو ولاړې زده کړې رامنځته شي.

له دې ورهاخوا د ادبي او علمي ناستې بله ښېګڼه دا ده، چې انسان ته د وینا کولو، فصاحت او بلاغت ځواک ورکوي. که د پوهې لرلو سربېره یو کس په دې برخه کې هم پیاوړی وي، ډېره نتیجه پرې مرتبه کېږي. د فصیحې او بلیغې وینا کولو ارزښت خورا زیات دی، په اورېدونکي ښه اغیز ښندي. د افهام او تفهیم پروسه پیاوړی کېږي. په اسلامي ارشاداتو کې یې هم ارزښت په ډاګه دی. حضرت عایشې صدیقه (رضی الله تعالی عنها) فرمایي: ((کَانَ کَلامُ رَسُول الله (صلی الله علیه وسلم) کَلاماً فَصلاً یَفهُمهُ کُلُّ مَن سَمِعَهُ)). ژباړه: د حضرت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کلام (د خبرو الفاظ) داسې جلا جلا وو، چې هر اورېدونکی به پرې پوهیده. (درسوال، ۱۳۸۹ ل: ۲۴۲)

**د عالم ارزښت او مسئولیت**

په اکاډمیکو مرکزونو کې عالمانو او پوهانو ته پکار ده، چې د محصل په علمي او فکري سپېڅلتیا او روزنه کې مؤثر نقش ولوبوي. د علمي بحثونو او نظریو په برکت سره د محصل فکر او علمي لیدلوری لا وړانګن کړي. علامه افغاني علم له ډیوې او عالم له پانوس (شیشې) سره ورته ګڼلی او لیکي: ((ښاغلو! زه هغه وګړو ته هک پک یم، چې شپه تر سهاره ډیوې ته (شمس بازغه) لولي او هېڅکله یې پر دې خبره غور نه دی کړی چې له ډیوې څخه ښیښه وکاږي، نو له ډیوې څله لوګی پورته کېږي او په ډیوه کې د ښیښې اېښودلو څخه څنګه لوګی ورکېږي)) (رازقي، ۱۳۸۸: ۱۰۱)

عالم چې د ټولنې د خیر او فلاح لپاره کار وکړي، په علم عمل وکړي، نورو ته یې ور وښیي الله (ج) ته خورا محبوب وي، همدا علت دی چې په قران عظیم الشان کې یې ستر صفتونه شوي دي. د المجادلې سورت د (۱۱) ایت شریف کې فرمایي: ((یَرفَعِ اللهُ الّذین ءآمَنُو مِنکُم وَالّذِینَ اُوتُو العِلمَ دَرَجْت)) ژباړه: الله (ج) له تاسو څخه د خپلو هغو بندګانو درجې چې ایمان یې راوړی او د هغه کسانو چې پوهه ورته ورکړل شوې ده پورته کوي. یعنې د مومنانو او عالمانو درجې یې پورته کړې دي)) (درسوال، ۱۳۸۹: ۲۶۰)

د ترمذی شریف دویم ټوک کې یې په اړه راغلي: ((فَضلُ العْالِم عَلَى العَابِد كَفَضلِي عَلى اَدنَاكُم)) ژباړه: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د عالم فضلیت په عابد باندې داسې دی لکه زما فضلیت ستاسو په یو ادنی شخص باندې. (درسوال،۱۳۸۹: ۲۶۰)

د علمي استغنا لپاره لازمه ده، چې عالم هیڅ وخت له علمي حقایقو څخه سترګې پټې نه کړي. مترلینګ وایي: ((که زه د حقیقت په اظهار کې زیان ووینم پروا نشته، خو چې حقیقت زما د چوپوالي په وجه زیانمن نشي)) (الفت،۱۳۸۷: ۴۷۴)

**ادب او فرهنګ**

ادب له لویه سره د ژوند مهذبه ژباړه ده، چې په اغېزناکو کلمو او الفاظو تر سره کېږي. ادب او فرهنګ د ټولنې په جوړښت، پایښت، نوښت او پرمختګ کې رغنده رول او درونډ رسالت لري، چې انسان او انساني ژوند ته ښکلا ورکوي. ولټېر لیکي: ((تر څو چې د ادب قلم زما په لاس کې دی، هیڅکله به ونه وایم، چې ولې مې شاهي تاج په سر باندې نشته)) (الفت،۱۳۸۷: ۵۱۰).

د هرې ټولنې ادبیات له خپلو ټولنیزو ارزښتونو څخه راټوکېدلي وي، ددې لپاره چې ادب او فرهنګ د ټولنې لپاره موثر واقع شي، پکار ده چې ادبي او فرهنګي ناستې مو له اسلامي، ټولنیزو او کلتوري ارزښتونوسره ملې وي. په ټوله کې ادبي او فرهنګي ناستې د یوې ټولنې تاریخ، کلتور او ژبه ساتي او ټولنه متمدنوي. د فرهنګونو وده، پرمختګ او ساتل د علومو په ترقی کې نغښتې، کله چې کوم هېواد کلتوري او فرهنګي یرغل ته زړه ښه کوي، علت یې دادی چې هلته د پوهې ګراف راټیټ وي. افغانان داسې اصیل فرهنګ او تمدن لري، چې نورې نړۍ ته یې د متمدنوالي الهام ورکړ. همدا فرهنګي او ادبي ناستې دي، چې له نورو ښېګڼو سربېره د فرهنګ، ویاړلواسلافو د یاد او لرغوني تاریخ د ساتنې او ودې بهترین مرکزونه دي، حبیب الله رفیع لیکي: ((د افغانستان ملي کلتور د پنځو زرو کلونو په اوږدو کې تشکل کړی، رنګ یې اخستی او د افغان ملت د ټولو جوړونکو قومونو معنوي میراثونه په کې را غونډ شوي دي)) (رفیع ،۱۳۹۶: ۱۵۱)

فرهنګ د یوې ټولنې هغه هینداره ده، چې ټول کړه وړه یې ترې معلومېږي. همدا فرهنګي ناستې او غونډې دي، چې په وسیله یې خپل فرهنګ نورو ته منعکس کېدلای شي. لازمه ده چې فرهنګي برخې ته کار وشي، همدا ارزښتناکه برخه ده، چې د یوې ټولنې کړه وړه ترې لا ښه معلومېږي. استاد سید اصغر هاشمي یې په اړه لیکي: ((د ملتونو په فرهنګي موضوع کې د یادونې وړ خبره د خلکو اخلاقي معیار معلومول دي)) (هاشمي، ۱۳۹۸: ۲۸۰)

د استاد خبره دقیقه ده فرهنګي ناستې زموږ د ټولنې اخلاقي معیارونه لا پسې لوړوي. په ټوله کې ادب او فرهنګ ته وده ورکول، فکري پوخوالی او د ولسونو اصیل فرهنګ پیاوړي کول، د همدې ډول ناستو محصول دی، چې د روڼ اندو پوهانو او ځیرکو محصلانو له خوا په پوهنتونونو کې جوړېږي او په پایله کې د علم په وړاندې د ټولنې د عام ذهنیت ګراف لا لوړېږي.

**د پوښتنپاڼې پر اساس د څېړنې موندنې**

پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړېدل په اکاډمیکو مرکزونو پورې تړلې موضوع ده. همدې ته په پام مې غوره وګڼله، چې په اړه یې د کادري غړو او مسلکي کسانو نظر له ځانه سره ولرم، چې په خپله څېړنه کې لا غوره او موثرې پایلې ته ورسېږم. د یوولسوپوښتنو پوښتنپاڼه د(خورا زیات، زیات، لږ او بیخي لږ) معیار په درجه بندۍ سره (٦٢) تنو مسلکي او کادري غړو په پوره ډاډ او اطمینان سره راته راځواب کړې، چې (SPSS) پروګرام په واسطه یې تحلیل، تر لاسه شوې پایله او مؤثر نظرونه په لاندې ډول دي:

## د ډیټا پوښتني

۱ ـ په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول د اکاډمیکې ارتقا لپاره خومره مؤثر دي؟
۲ ـ په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول د محصل له فکري نبوغ سره څومره مرسته کوي؟
۳ ـ په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول د ځانګړي میکانیزم په اساس څومره مؤثریت لري؟
۴ ـ په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول د کادري غړو او محصلانو په جرأت، منطق او استدلال کې څومره پوخوالی راولي.
۵ ـ د اسلامي، ملي، ټولنیزو او اکاډمیکو ارزښتونو تر سیوري لاندې دا ډول غونډې جوړول د عامه ذهنیت جوړولو لپاره څومره مؤثریت لري؟
۶ ـ څومره موافق یاست، چې په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول کادري غړو او محصلانو ته پراخې مطالعې ورکولو توان ورکوي؟
۷ ـ څومره موافق یاست، چې یادې غونډې جوړول استاد او محصل له چېپتړي زده کړو څخه با هدفه، تطبیقي او په پایلو ولاړو زده کړو ته رابولي؟
۸ ـ څومره موافق یاست، چې د ټولني په رغښت، فکري ودې، علمي استغنا او پرمختګ کې د علم، ادب او فرهنګ دري بعدي مثلث مبرمه ونډه لري؟
۹ ـ څومره موافق یاست، چې ددې غونډو د جوړولو لپاره د لوړو زده کړو وزارت له لوري متداومه کړنلاره جوړول مهم دي؟
۱۰ ـ تجربو ثابته کړې، چې په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول مؤثر او مُثمر تمامیدای شي څومره موافق یاست؟
۱۱ ـ څومره موافق یاست چې د علمي بحثونو، مناظرو او کره کتنو له اړخه علوم، فنون او کلتورونه د نوښت او رغښت په په لور ګام اخلي.




لومړی انځور: د فیصدۍ په اساس تحلیل شوې ډیټا




دویم انځور: د ګراف په واسطه تحلیل شوې ډیټا

**د تحلیل شوې پوښتنپاڼې پایله**

د پوښتنپاڼې له ځوابولو څخه معلومه شوه، چې په لوړې فیصدۍ سره په پوهنتو نونو کې علمي، ادبي او فرهنګي غونډې جوړول مؤثرګنل شوي دي. دا يې د تحصيلي نظام او اکاډميکي ارتقاء لپاره غوره او پر ځای اقدام ګڼلی. روښانه شوې چې دا ډول غونډې د فکري نبوغ، خلاق ذهن، علمي منطق، جرأت او د تدریس پروسې له کیفیت سره بشپړه همکاري کولای شي.

د پوښتنپاڼې له ځوابولو وروسته د ګډونوالو ځینې نظرونه چې د دا ډول غونډو د جوړېدو لپاره لا موثر ګڼل شوي په لاندې ډول دي:

**د ګډونوالو اغېزناک نظرونه**

ددې ډول ناستو لپاره بايد په پوهنتونو نوکې د استادانو او محصلانو د مشاوري ځانګړی دفتر موجود وي، چې دا ډول ناستې د وخت اړتیاوو، د محصلانو اولیتونو او علاقې ته په پام ترتیب کړي. له دې سربېره دې ډول غونډو ته باید د لوړو زه کړو وزرات له لوري ځانګړی طرزالعمل جوړل شي، چې قانوني صبغه پیدا کړي او د تضمین کیفیت په پروسه کې ځانګړی معيار او نومره ورکړل شي.

**د څېړنې موندنې**

د موضوع تحلیل، سپړنې او تحلیل شوې ډېټا ته ارقام ن په پام ویلای شو، چې په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو مؤثریت شتون، دې ډول ناستو ته ځانګړی میکانیزم او قانوني طرزالعمل جوړول اود تضمین کیفیت پروسه ورسره لا پیاوړي کېدل ددې څېړنې مهمې موندنې دي. په پوهنتونونو او نورو اکاډمیکو مرکزونو کې ممکن ادبي ناستې تر سره شوې وي او یوازې په شفاهي ډول د یوه نظر په بڼه غوره ښودل شوې وي ؛ ولې دلته روښانه شوه چې په پوهنتونونو کې دا ډول غونډې جوړول هم مؤثریت لري هم ګټوریت.

**مناقشه**

متمدنه او بسیا ټولنه په لوړو علمي، ادبي او فرهنګي افکارو ښکلي وي. هغه چې وایي عالمان د ټولنې ستوري او لیکوال یې سترګي دي پر ځای خبره ده. علوم او فنون باید د انسان او ټولنیز ژوند د ښېګڼې او ښکلا لپاره لوړو ارزښتونو ته په پام زده کړل شي، نورو ته وروښودل شي. همدا د افکارو او نظریاتو ډګر دی، چې علوم ورسره ورځ په ورځ د ارتقاء په لور ګامونه اخلي. د عالي او علمي افکارو د اورېدلو، وړاندې کولو، نقد کولو او تحلیل حوصله ولرو ؛ نو پوه شئ، چې اکاډمیک او تحصیلي بهیر مو د مؤثریت او ګټوریت تومنه پیدا کولای شي.

**پایلې**

د یوه ځانګړي میکانیزم په لرلو سره پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول څو اړخیزې ګټې لري. د علومو او فنونو نني پرمختللي مزل سره مو روانوي، د پراخه مطالعې کولو، زیاتو معلوماتو لرلو، قوي علمي منطق پیداکولو، علمي او عالي افکارو د اورېدلو او وړاندې کولو، جرأت، فصاحت او بلاغت پیداکولو توان راکوي. له دې سره اکاډمیک مرکزونه د کیفیت له اړخه پرمختګ کوي، زده کړې ورسره متداومې، ګټورې او تطبیقي کېږي، بالاخره د لوړو زده کړو له اړخه یوه بسیا او متمدنه ټولنه رامنځته کېږي.

**سرچینې**

الفت، گل پاچاه. (۱۳۸۷). د الفت نثري کلیات، د محمد اسماعیل یون سریزه او راټولونه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
حکیمي، رحمت الله. (۱۴۰۰). د زړه خبرې، کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
درسوال، مولوي محمود. (۱۳۸۹ ل). اسلامي اخلاق: د پوهنې مطبعه.
رازقی، شاهد حسن. (۱۳۸۸). د سیدجماالدین افغان اند او ژوند، د عبدالمالک همت ژباړه، کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۱). د زمانې پلونه، پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.
رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۶ل). ملي کرښه، کابل: امان خپرندویه ټولنه.
غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۸). څراغ، دویم چاپ، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۳). کلتور او ټولنه، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
کابل مجله. (۱۳۵۶). علمي، ادبي، اجتماعي، فلسفي او هنري میاشتنۍ مجله، لومړی گڼه، (د افغاني سیدجمال الدین د اتیاتیم تلین افتتاح غونډه کې د محمد صدیق روهي وینا)، پښتو ټولنه، کابل: افغانستان.
ناگار، فضل ولي. (۱۳۹۷). معاني، پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.
هاشمي، سید اصغر. (۱۳۹۸). ژبنۍ او ادبي څېړنې (د کابل پوهنتون د Ph. D سکالروانو مقالې)، ننگرهار: هاشمي خپرندویه ټولنه.

# اخلاق تحقیق و اهمیت رعایت آن در بهبود تحصیلات عالی

**پوهندوی دکتور سید ابراهیم فرخاری**

دیپارتمنت پرورش حیوانات، پوهنځی علوم وترنری، پوهنتون کابل، کابل، افغانستان

ایمیل: sifarkhary@gmail.com

**چکیده**

همان‌گونه‌که رعایت قوانین، مقررات، ارزش‌ها و رفتارهای قابل توقع در هر بخشی از زندگی لازم و ضروری می‌باشد، در فرایند کار تحقیقی نیز باید دسته‌یی از ارزش‌ها، اصول و قواعد رعایت گردد که تحت عنوان اخلاق تحقیقی پیشکش می‌گردد. اصول اخلاق تحقیقی مشمول صداقت و امانت‌داری، واقع‌گرایی و بی‌طرف بودن، احترام به افراد و اشخاص شامل در تحقیق، فایده‌رسانی و عدم سوءاستفاده، محرم نگهداشتن راز افراد و اطلاعات موجود، عدم تبعیض و در نظرداشت منافع ملی، نقدپذیری، احترام به مالکیت معنوی و استناد درست، عدالت و قواعد استفاده از حیوانات در تحقیق می‌گردد که دانستن و در نظر گرفتن آن‌ها برای اعضای کادر علمی تحصیلات عالی و محصلین الزامی می‌باشد. نتیجهٔ رعایت این موازین اخلاقی در تحقیق، سبب افزایش اعتماد و اعتبار محقق و تحقیق، افزایش مؤثریت تحقیق، رفاه مردم و مملکت، ترویج اخلاق اجتماعی و احترام متقابل، و ایجاد روابط و همکاری میان محققین و مردم و در نهایت بلند رفتن کیفیت تحصیلات عالی می‌گردد.

**اصطلاحات کلیدی:** اخلاق؛ اخلاق تحقیقی؛ اصول اخلاق تحقیقی؛ مزایای اخلاق تحقیقی؛ تحصیلات عالی؛ محقق

# Research Ethics and Its Importance in Improving Higher Education

**Assistant Prof. Sayed Ibrahim Farkhary**

Department of Animal Production, Faculty of Veterinary Sciences, Kabul University, Kabul, Afghanistan

Email: sifarkhary@gmail.com

**Abstract**

As compliance with laws, regulations, values, and expected behaviors is necessary for every part of life, in the process of research work, a set of values, principles, and rules should be followed, which are offered under the title of research ethics. The principles of research ethics include honesty and trustworthiness, realism and impartiality, respect for individuals and persons included in the research, usefulness and non-abuse, keeping confidential the secrets of individuals and available information, non-discrimination and taking into account national interests, criticism, respect for intellectual property and Correct citation, justice and the rules of using animals in research are mandatory for all researchers, university staff and students to know and consider. Observing these ethical standards in research increases the trust and credibility of researchers and analysis, increases the effectiveness of research, the well-being of people and the country, promotes social ethics and mutual respect, creates relationships and cooperation between researchers and the public, and ultimately increases the quality of higher education.

**Keywords**: Ethics; Research Ethics; Principles of Research Ethics; Benefits of Research Ethics; Higher Education; Researcher

**مقدمه**

واژه اخلاق جمع خُلق بوده و معنی آن خوی، رفتار و عادت می‌باشد. به مجموعۀ از اعمال و رفتاری اخلاق گفته می‌شود که از سرشت درونی و روحی ناشی می‌گردد. اخلاق یعنی تفکیک درست از نادرست و رفتن بسوی یک راهکار درست می‌باشد. مسئولیت‌پذیری و رفتار اخلاقی یکی از تفاوتهای اساسی انسان با سایر مخلوقات خداوند "ج" است (منجیری، ۱۳۹۴). در قرآن عظیم‌الشان حضرت رسول الله "ص" نیز نسبت داشتن اخلاق پسندیده مورد توصیف قرار گرفته است (سوره قلم: ۴).

اخلاق، مجموعۀ از قواعد رفتاری را به ما عرضه می‌دارد و با این ویژگی که تخطی از آن معمولاً نتایج ناراحت‌کننده‌یی برای شخص خطاکار به همراه دارد. با این حال، اوامر اخلاقی مجموعۀ از ارزش‌ها و اصولی است که در یک جامعه معتبر شناخته می‌شود و سرپیچی از آن با اجبار اجتماعی مواجه می‌گردد (منجیری، ۱۳۹۴).

اخلاق کاری یا حرفه‌یی بخشی از اخلاق است که مشمول بایدها و نبایدها و درست و نادرست‌ها در فعالیت‌ها و مشاغل روزمره می‌گردد. هر فعالیت و شغل دارای اصول اخلاقی می‌باشد که باید توسط افراد شاغل عملی گردد. یکی از فعالیت‌های اساسی روزمره کادر علمی تحصیلات عالی، استادان و محصلین پوهنتون‌ها انجام تحقیق می‌باشد و تحقیق دارای موازین اخلاقی است که رعایت آن منجر به بهبود کیفیت و اعتبار تحصیلات عالی در کشور می‌شود (منجیری، ۱۳۹۴؛ Rahimi and Babayi, 2013; Abbasi, 2018). بنابراین، در مقاله حاضر معرفی اخلاق تحقیقی، اصول اخلاق تحقیقی و اهمیت و فوایید رعایت این اصول اخلاقی در تحصیلات عالی به بحث گرفته شده است تا استادان و محققین توجه خویش را به آن مبذول گردانیده و در نظر بگیرند.

**تعریف اخلاق تحقیقی**

اخلاق تحقیقی مجموعۀ از قواعد، ارزش‌ها و دستورالعمل‌های اخلاقی است که ما را در مورد چگونگی انجام و انتشار تحقیقات علمی راهنمایی می‌کند. اخلاق تحقیقی بر معیارهای رفتار محققان حاکم بوده و این دستورالعمل‌ها برای انجام مسئولانه‌ی تحقیق ضروری پنداشته می‌شود (شروانی، ۱۳۸٦؛ تابعی و محمودیان، ۱۳۸٦؛ Israel and Hay, 2006).

تحقیقاتی که به موضوعات انسانی یا مشارکت‌کنندگان مربوط می‌شود، نگرانی‌های اخلاقی مشروع اجتماعی و اداری متمایز را مطرح می‌کند و اخلاق تحقیقی بدون ابهام در بررسی مسایل اخلاقی مورد توجه قرار می‌گیرد (زاهدپاشا و همکاران،۱۳۸۲؛ Israel and Hay, 2006).

## اصول کلی اخلاق تحقیقی

### ۱. صداقت و امانت‌داری

علما هیچ اخلاق و نیکی را به اندازهٔ صداقت خوب و پسندیده و هیچ بدکاری را به اندازه دروغ برای افراد و جامعه خطرناک و زیان‌بار نمی‌دانند و از ویژگی‌های اخلاقی جامعهٔ سالم و رشدیافته گسترش خوی امانت‌داری در میان افراد آن است (سباعی، ۱۳۹۴).

یکی از اصل‌های مهم اصول اخلاق تحقیقی، صادق بودن و عدم کذب با کسانی می‌باشد که از تحقیق نفع می‌برند و به شکل مستقیم و غیر مستقیم در تحقیق شرکت کرده اند. جز اصلی دیگر، صداقت در مورد نتایج بدست آمده و عدم تقلب در روش انجام تحقیق می‌باشد. تضمین صداقت و خلوص نیت، عمل به توافقات و وعده‌ها، عدم ایجاد توقعات و وعده‌های نادرست خیلی مهم است. نمونه‌هایی از اقدامات غیرقابل قبول عبارتند از: جعل با ایجاد نتایج نادرست، جعل با دستکاری و یا انتخاب نامناسب معلومات، سرقت ادبی با سوء استفاده یا استفاده از عقاید و ارایه نادرست معلومات (Pimple, 2002; Henry, 2009).

امانت‌داری عبارت از ادای مسئولیت و پرداخت حقوق می‌باشد. محقق آن‌چنان‌که تحقیق تنظیم شده است و دقیقاً روشی که برای بدست آوردن نتایج انتخاب شده است بدون کدام کمی و کاستی و تغییرات سلیقوی انجام دهد. هم‌چنان هرچیزی‌که به حیث نتیجه بعد از انجام تحقیق بدست می‌آید، بدون دستکاری و تقلب گزارش دهد، در صورتی‌که نتایج حاصله تغییر داده شود، در حقیقت خیانت تحقیق صورت گرفته است (Ahearne, 2011).

### ۲. واقع‌گرایی، بی‌طرف بودن، عدم تبعیض و در نظر گرفتن منافع ملی

اجتناب از جهت‌گیری در طرح تحقیق، تجزیه و تحلیل ارقام بدست آمده، تفسیر نتایج، در نظر گرفتن قرابت فامیلی و عواطف انسانی برای یک محقق لازم و ضروری است و هر چیزی‌که بدست می‌آید، باید ارایه گردد. از تبعیض بر اساس سن، جنس، نژاد، قومیت یا سایر عواملی که منجر به تحقیر و توهین افراد و گروهای انسانی می‌شود، خودداری گردد (Navalta, et al., 2019; Demuijnck, 2009).

استقلال تحقیق باید روشن باشد و هرگونه تضاد منافع یا جانب‌داری باید صریح باشد. تضاد منافع زمانی به وجود می‌آید که تعهد محقق توسط تأمین‌کننده مالی برای انجام تحقیقات مستقل به خطر بیفتد یا ممکن است به نظر برسد که به خطر افتاده است. تضاد منافع می‌تواند طور زیر باشد (Oliver, 2010):

- بدست آوردن منفعت شخصی یا منفعتی برای یکی از اعضای خانواده خود یا شخص دیگری که با آن‌ها رابطه شخصی نزدیک ناشی از تحقیق دارند.

- ممکن است مالی یا غیر مالی باشد و یا تعهداتی در قبال شخص یا ارگانی دارد که به نظر می‌رسد به عنوان تأثیر باالقوه از طرف آن‌ها بر انجام مستقل و آزادانه تحقیق اعمال نفوذ کند.

در هر مرحله‌ی از تحقیق در نظر گرفتن منافع ملی و ارزش‌های اسلامی برای یک محقق لازم و ضروری است. در وقت آماده کردن طرح تحقیق، محقق باید منافع مملکت و مردم و اصول و قواعد اسلامی را مدنظر بگیرد. رعایت اصول اسلامی و منافع ملی سبب خوشنودی الله "ج" و مردم می‌گردد (سوره آل‌عمران: ۱۳۳-۱۳۴، سوره فصلت: ۳۴).

### ۳. احترام به افراد و اشخاص شامل در تحقیق

همه شرکت‌کنندگان در تحقیق باید داوطلبانه و بدون هرگونه اجبار یا اعمال نفوذ شرکت کنند و حقوق، حیثیت و استقلال آن‌ها باید محترم شمرده شود. فرد خودمختار قادر به مشوره در مورد اهداف شخصی خود بوده و تحت هدایت چنین مشورتی عمل کند. احترام گذاشتن به خودمختاری به معنای اهمیت دادن به نظریات و انتخاب‌های مورد توجه افراد خودمختار است و در عین حال از ایجاد ممانعت در اعمال آن‌ها خودداری می‌کند. اما، زمانی‌که یک شرکت‌کننده‌ی باالقوه در تحقیق اگر فاقد ظرفیت برای تصمیم‌گیری مستقل باشد، احترام به آن مستلزم محافظت از آن در برابر آسیب‌های باالقوه است. ظرفیت تعیین سرنوشت در طول زندگی تنها در فرد بالغ، کاملاً از نظر جسمی و روحی سالم، وجود دارد و برخی از افراد به دلیل بیماری، ناتوانی ذهنی یا شرایطی که به شدت آزادی را محدود می‌کند، این ظرفیت را به طور کامل یا تا حدودی از دست می‌دهند. احترام به افراد نابالغ و ناتوان ممکن است مستلزم محافظت از آن‌ها در زمان بلوغ یا زمانی باشد که ناتوان هستند. برخی از افراد نیاز به حمایت گسترده دارند، حتی تا اندازۀ که آن‌ها را از تحقیقات خطرزا باید کنار گذاشت (Lawrence et al., 2013).

### ۴. فایده‌رسانی و عدم سوءاستفاده

تعهد اخلاقی برای به حداکثر رساندن منافع ممکن و به حداقل رساندن آسیب‌های احتمالی برای پاسخ‌دهندگان باید در اولویت کاری یک محقق باشد. تحقیق باید مفید باشد و ارزش آن نسبت به هر خطر یا آسیبی بیشتر باشد. هدف اساسی محققین باید به حداکثر رساندن منفعت تحقیق و به حداقل رساندن خطر احتمالی آسیب برای شرکت‌کنندگان و محققین باشد. تمام خطرات و آسیب‌های احتمالی باید با اقدامات احتیاطی قوی کاهش یابد (Edwards, 2004).

در طرح تحقیق، نیاز به ارزیابی مطلوب خطر/ منفعت، مستلزم ارزیابی احتمالات مضرات و منافعی است که ممکن است به وجود بیاید. اصطلاح "ریسک" به طور کلی برای اضرار استفاده می‌شود؛ اما

احتمال منافع نیز باید در نظر گرفته شود. بسیاری از اضرار و فواید احتمالی باید در نظر گرفته شود. به عنوان مثال، خطرات آسیب روانی، آسیب جسمی، آسیب قانونی، آسیب اجتماعی و آسیب اقتصادی و مزایای مربوطه وجود دارد، در حالی‌که محتمل‌ترین انواع آسیب‌ها برای شرکت‌کنندگان در تحقیق، آسیب‌های روانی یا فزیکی یا اجتماعی و مالی است (Walton and Hassreiter, 2015).

کشف این‌که چه چیزی در واقع منفعت دارد، ممکن مستلزم در معرض خطر قرار دادن افراد باشد. انجام تحقیقات بدون خطر، سبب پیشرفت و رفاه انسان و جوامع انسانی می‌شود. با این حال، در مواردی که پروژه تحقیقاتی مستقیماً به نفع شرکت‌کنندگان نباشد، در صورتی‌که مزایای گسترده‌تری برای دیگران در آینده داشته، خطرات را پس از ارزیابی دقیق توجیه کرده می‌توانیم (Zhong, 2011).

**۵. محرمانه بودن و حفاظت از رازهای مهم**

یکی از رویکردهای مهم اخلاقی، ناشناس نگهداشتن شرکت‌کننده‌هایی است که نمی‌خواهند افشا شوند. این کار شامل عدم افشای نام، مشخصات شخصی، آدرس و یا هر گونه اطلاعات دیگری در مورد شرکت‌کنندگان است که ممکن است هویت او را فاش کند.

در طراحی پروژه تحقیقاتی، محققان در نظر خواهند داشت که آیا معلومات شخصی، از جمله مصاحبه با شرکت‌کنندگان، مورد مطالعه قرار می‌گیرند یا خیر. در این صورت، کسب رضایت آگاهانه مستلزم رعایت محرمانه بودن شرکت‌کنندگان می‌باشد. طیف وسیعی از گزینه‌ها برای کسب رضایت شرکت‌کنندگان وجود دارد که شامل استفاده از نقل قول با یا بدون ذکر منبع و ناشناس ماندن کامل است. معلومات تولید شده توسط تحقیق باید به طور ایمن و مطابق با قوانین مربوطه و سیاست‌های سازمانی ذخیره شوند. بعضی از روش‌های تحقیق و نتایج آن‌ها ممکن است به دست سوءاستفاده‌کنندگان رسیده و منجر به استفاده از روش‌ها و نتایج بر علیه جوامع انسانی گردد. از دادن جزییات روش‌های تحقیقی که امکان ایجاد خطر به جوامع انسانی می‌رود، باید اجتناب به عمل آید. این سوءاستفاده‌ها اکثراً در تحقیقات مایکروبیولوژیکی صورت می‌گیرند. بعضی اوقات عوامل میکروبی کشنده توسط سازمان‌های مخرب به شکل انبوه تولید شده و برای ازبین بردن انسان‌ها استفاده می‌شود که اصطلاح بیوتروریزم به آن اطلاق می‌گردد (Baez, 2002; Bos, 2015).

**٦. موافقت آگاهانه**

رضایت آگاهانه به این معناست که شخص آگاهانه، داوطلبانه و هوشمندانه برای شرکت در یک تحقیق رضایت می‌دهد. رضایت آگاهانه مستلزم آن است که کارکنان در تحقیق و شرکت‌کنندگان باید در مورد تحقیق به شیوۀ قابل فهم و بدون اصرار یا انگیزه‌های نامناسب مطلع گردند. اطلاعات باید شامل روش

تحقیق، اهداف، خطرات و مزایای پیش‌بینی‌شده و گفتگویی باشد که به شرکت‌کننده این فرصت را می‌دهد تا سوال بپرسد و در هر زمان از تحقیق کناره‌گیری کند. ماهیت اطلاعات باید به گونهٔ باشد که افراد با علم خویش بتوانند تصمیم بگیرند که آیا مایل به مشارکت در ارتقاء دانش هستند یا خیر. حتی زمانی‌که منافع مستقیمی برای آن‌ها پیش‌بینی می‌شود، شرکت‌کنندگان باید به وضوح دامنه خطر و ماهیت داوطلبانه مشارکت را درک کنند (Steinke, 2004).

درک مستلزم این است که نحوه و زمینهٔ که در آن اطلاعات منتقل می‌شود، به اندازهٔ خود اطلاعات مهم است. به عنوان مثال، ارایه اطلاعات به شکل خیلی سریع یا گیج‌کننده ممکن است بر توانایی شرکت‌کننده برای انتخاب آگاهانه تأثیر منفی بگذارد. از آن‌جایی‌که توانایی درک یک شرکت‌کننده تابعی از هوش، عقلانیت، بلوغ و زبان است، لازم است ارایه اطلاعات نظر به قابلیت درک شرکت‌کننده باشد. محققین مکلف اند تا اطمینان حاصل کنند که شرکت‌کننده اطلاعات را درک کرده است (Crow, et al., 2006).

زمانی‌که درک به شدت محدود شده باشد، ممکن است نیاز به تدارک ویژهٔ باشد. برای مثال، در شرایط بالغ نبودن یا ناتوانی ذهنی (مثلاً، نوزادان و کودکان خوردسال یا آن‌هایی که دارای معلولیت ذهنی هستند). شرکت‌کنندگان باید این فرصت را داشته باشند که تا اندازه توان انتخاب کنند، آیا در تحقیق شرکت کنند یا نه. این وضعیت هم‌چنین مستلزم کسب اجازه از طرف‌های دیگر به منظور محافظت از شرکت‌کنندگان در برابر آسیب و ارایه منفعت به آن‌ها است (Steinke, 2004).

شرکت داوطلبانه مستلزم آن است که یک شرکت‌کننده تصمیم خود را بدون اجبار یا فشار اتخاذ کند. اجبار زمانی اتفاق می‌افتد که یک تهدید آشکار به ضرر، عمداً از سوی یک شخص به دیگری ارایه شود تا متابعت کند. در مقابل، نفوذ نامناسب از طریق پیشنهاد پاداش بیش از حد، ناموجه، نامناسب یا سایر موارد به منظور دست‌یابی به رضایت اتفاق می‌افتد. هم‌چنین، اگر شرکت‌کننده آسیب‌پذیر باشد، پاداش‌هایی‌که معمولاً قابل قبول هستند، ممکن است به تأثیرات نامناسب تبدیل شوند. فشارهای غیر قابل توجیه معمولاً زمانی اتفاق می‌افتد که افراد در موقعیت‌های اقتدار یا نفوذ قرار دارند (Demuijnck, 2009).

### ۷. نقدپذیری و سپاس‌گزاری

یکی از بخش‌های اخلاق تحقیقی نقدپذیری است. بسیاری از محققین در برابر هرگونه نقد (منطقی و غیر منطقی) حساسیت شدید نشان می‌دهند. روحیه نقدپذیری یکی از مهارت‌های اخلاق تحقیقی است. نقد صحیح در یک تحقیق از تکرار دوباره و اجتناب از اشتباه بسیار مهم است، چه از جانب

اساتید و چه از جانب همکاران باید به شیوه صحیح مطرح شود و نقد نباید منجر به تقابل و پرخاش گردد (Carroll, 2000; Israel and Hay, 2006).

در انجام تحقیق، همیشه گروهی از افراد و اشخاصی هستند که به محققین در رسیدن به هدف شان کمک می‌کنند. این اشخاص مشمول استاد رهنما، مشاور، خانواده، دوستان و همکاران شده می‌تواند، هریکی از آن‌ها نقش خویش را در موفقیت تحقیق ادا می‌کنند و سپاس‌گزاری و تقدیر از این افراد یکی از موارد مهم در اخلاق تحقیقی است. در بخشی از رساله باید از این افراد تشکری و قدردانی صورت گیرد (Kamat, 2006).

**۸. احترام به مالکیت معنوی و استناد**

یکی از مهم‌ترین بخش‌های اخلاق تحقیقی، رعایت استناد مقالات علمی می‌باشد. محققین با استفاده از مقالات و نوشته‌های علمی دیگران، می‌توانند مقالات تحقیقی خویش را غنی بسازند؛ اما سهم نویسندگان این منابع چگونه ادا می‌شود؟ این‌جاست که بحث استناد و ارجاع به عنوان یک بخش مهمی از اخلاق تحقیقی مطرح می‌شود. هر جمله و مطلبی که از مطالب دیگران وارد نوشته خود می‌کنیم، با ذکر نام نویسنده سهم آن‌ها را ادا کرده و از ایشان قدردانی می‌نماییم. به کار بردن مطلب بدون ذکر منبع و یا تغییر مطلب و به نام خود زدن، سرقت علمی بوده و عدم رعایت اخلاق تحقیقی محسوب می‌شود (Mundava and Chaudhuri, 2007; Navalta, et al., 2019).

**۹. عدالت**

اصل اساسی عدالت در تحقیق، رفتار برابر است و یا هم می‌توان گفت که اصل احترام به افراد است. بی‌عدالتی زمانی رخ می‌دهد که برخی از منفعت‌های اشخاص مستحق بدون دلیل موجه از آن‌ها سلب شود یا ملامتی نکات منفی تحقیق بر آن‌ها تحمیل گردد. محققان باید به تأثیر اجتماعی کلی تحقیق خویش هم در انتخاب شرکت‌کنندگان و هم در فوایید و نواقص ناشی از آن توجه دقیق داشته باشند (Greaney et al., 2012).

**۱۰. استفاده از حیوانات در تحقیق**

استفاده از حیوانات در تحقیقات مستلزم مسئولیت نگه‌داری درست آن‌ها و داشتن نهایت احترام و مهربانی در قبال آن‌ها است. سرپرستی حیوانات یک مسئولیت عمومی فراتر از استفاده فوری آن‌ها در تحقیق است و شامل مراقبت و نگهداری آن‌ها می‌شود؛ اما در تحقیق درک مناسب نیاز و حساسیت و نگرش جامعه نسبت به استفاده از حیوانات می‌باشد. سه اصل با اخلاق استفاده از حیوانات در تحقیق مهم است:

**احترام به زندگی:** حیواناتی که در تحقیقات مورد استفاده قرار می‌گیرند، باید از سلامت مناسب برخوردار باشند و حداقل تعدادی مورد نیاز برای به دست آوردن نتایج علمی معتبر شامل شوند. استفاده از انواع متفاوت شرایط اخلاقی متفاوتی دارد. شرایط انتخاب نوع مناسب و سایر عوامل اخلاقی مرتبط باید در نظر گرفته شود. علاوه براین، روش‌هایی مانند تصحیح ریاضیکی ارقام، شبیه‌سازی کمپیوتری و سیستم‌های آزمایش‌گاهی باید در نظر گرفته شوند و در صورت امکان از آن‌ها استفاده به عمل آید.

**منفعت اجتماعی:** پیشرفت دانش بیولوژیکی و بهبود در حفاظت از سلامت و رفاه انسان و حیوانات، دلیل عمده استفاده از حیوانات در تحقیق می‌باشد. در هر جایی‌که از حیوانات استفاده می‌شود، ارزیابی ارزش کلی اخلاقی کاربرد آن‌ها در تحقیق باید شامل در نظر گرفتن جمعیت‌های تحت تأثیر و خساراتی باشد که انتظار می‌رود حیوانات مورد تحقیق متحمل شوند.

**عدم سوءاستفاده:** حیوانات نیز مثل انسان‌ها دارای احساس می‌باشند. به حداقل رساندن پریشانی، درد و رنج یک امر اخلاقی مهمی در هنگام استفاده از آن‌ها است. محققین باید در نظر داشته باشند که رویه‌هایی‌که باعث درد یا ناراحتی در انسان می‌شود، ممکن است باعث درد یا ناراحتی در سایر حیوانات نیز گردد (Bishop and Nolen, 2001, Baumans, 2004).

**اهمیت رعایت اخلاق تحقیقی در بهبود تحصیلات عالی**

تحصیلات عالی بنیهٔ رشد و ترقی جامعه برای رسیدن به خودکفایی، رفاه و آبادی بوده و یکی از بخش‌های اساسی در تحصیلات عالی عبارت از تحقیق و نوآوری در رشته‌های مختلف می‌باشد. تحقیق خود دارای اصول اخلاقی است که رعایت اصول اخلاقی تحقیق تأثیرات مستقیمی بالای بلند رفتن کیفیت و اعتبار تحصیلات عالی دارد.

رعایت اصول اخلاقی سبب بهبود اهداف تحقیق، حقیقت‌گرایی و اجتناب از خطا می‌گردد. به گونه مثال، ممنوعیت دستکاری، جعل یا ارایه نادرست نتایج تحقیق، حقیقت را ترویج می‌کند و خطا را به حداقل می‌رساند. نشر مقالات و رساله‌های علمی واقعی و بدون خطا توسط کادر علمی تحصیلات عالی مورد توجه همگانی قرار گرفته و اعتماد مردم، مؤسسات دولتی و غیر دولتی، رهبری و ادارات حکومتی و جوامع بین‌المللی را نسبت به ارایه نتایج تحقیقی تحصیلات عالی بیشتر می‌کند.

از این‌که در تحقیق همکاری و هماهنگی زیادی میان افراد مختلف در رشته‌ها و ارگان‌های مختلف وجود دارد، در نظر گرفتن معیارات اخلاقی ارزش‌هایی را که برای کار مشترک ضروری هستند، ارتقا می‌دهند. در نهایت هماهنگی و همکاری میان کارمندان تحقیقی تحصیلات عالی و مردم و ادارات مختلف بهبود یافته و اعتبار تحصیلات عالی را نسبت به پاسخگو بودنش در قبال تحقیات مربوطه

افزایش می‌دهد. بسیاری از موازین اخلاقی کمک می‌کنند تا اطمینان حاصل شود که محققان تحصیلات عالی می‌توانند در برابر مردم و حکومت پاسخگو بوده و تمام کارهای تحقیقی با درنظرداشت منافع ملی و ارزش‌های اسلامی به پیش می‌روند.

رعایت اصول اخلاق تحقیقی در ایجاد حمایت عمومی از تحقیق کمک می‌کند. اگر مردم و مؤسسات مرتبط بتوانند به کیفیت و یک‌پارچگی تحقیق اعتماد کنند، احتمال بیشتری برای تأمین مالی یک پروژه تحقیقاتی وجود دارد.

بسیاری از مسایل اخلاقی تحقیق، ارزش‌های اخلاقی و اجتماعی مهم دیگری، مانند مسئولیت اجتماعی، حفظ حقوق مردم، رفاه حیوانات، رعایت قانون اسلامی و سلامت و امنیت را بهبود می‌بخشند. خطاهای اخلاقی در تحقیقات می‌تواند به طور قابل توجهی به علم، اعتماد انسان‌ها، سلامت انسان‌ها و حیوانات آسیب برساند.

تحصیلات عالی پیشگام هرگونه تغییر و تحول علمی و اخلاقی در جامعه است؛ پس نهادینه کردن رفتارهای اخلاقی در تحقیق از اساسی‌ترین مسئولیت اعضای آن خصوصاً کادر علمی پوهنتون‌ها می‌باشد (Parsell et al., 2014; McAreavey and Muir, 2011; Scott, 2004).

**نتیجه‌گیری**

اساسی‌ترین رسالت کادر علمی تحصیلات عالی و پوهنتون‌ها تحقیق و نوآوری به شکل دقیق و عاری از هر گونه تخطی و تقلب می‌باشد. پیشکش رساله‌های تحقیقی معتبر و عاری از هرگونه تخطی و تقلب نیاز به رعایت موازین اخلاقی تحقیق از سوی محققین دارد. نشر نتایج واقعی از جانب کادر علمی تحصیلات عالی منجر به بیشتر شدن توجه و اعتماد مردم، مؤسسات دولتی و غیر دولتی، و جوامع بین‌المللی نسبت به تحصیلات عالی افغانستان شده و تحصیلات عالی را قادر می‌سازد تا درامد کسب کرده و بودیجه بیشتر بدست بیاورد. در نهایت، برای بلند رفتن اعتبار و کیفیت تحصیلات عالی در سطح ملی و بین‌المللی در تمام تحقیقاتی که از جانب کادر علمی آن صورت می‌گیرد، اصول اخلاقی تحقیق در نظر گرفته شود و نیاز به ایجاد یک کمیته اخلاقی در چوکات وزارت تحصیلات عالی می‌باشد.

اخلاق تحقیقی و اهمیت رعایت آن برای تحصیلات عالی در شکل ۱ خلاصه‌سازی گردیده است.




شکل ۱: اخلاق تحقیقی و اهمیت رعایت آن در تحصیلات عالی

**منابع**

القرآن الکریم: سوره آل عمران، ۱۳۳- ۱۳۴، سوره فصلت: ۳۴، سوره قلم: ۴.

تابعی، ض.، و محمودیان، ف. (۱۳۸۶). "اخلاق در پژوهشگری". اخلاق در علوم و فناوری، شماره ۲: ۴۹–۵۶.

زاهدپاشا، ی.، حسنجانی، ر.، و ریاحی، ح. ر. (۱۳۸۲). "میزان رعایت اخلاق پزشکی در پایان نامه‌ها و کارآزمایی‌های بالینی در دانشگاه علوم پزشکی بابل". مجله علمی پزشکی بابل، شماره ۳، دوره ۵: ۴۵–۵۱.

سایت نوار اسلام. (۱۳۹۴). "اخلاق اسلامی". کتابخانه عقیده www.aqeedeh.com.

سباعی، م. (۱۳۹۴). "اخلاق اجتماعی برای همه". ترجمه‌ی عبدالعزیز سلیمی، کتابخانه عقیده www.aqeedeh.com.

شروانی، ا. (۱۳۸۶). "رعایت اخلاق در نگارش مقالات علمی". مجله روان‌پزشکی و روانشناسی بالینی ایران، شماره ۱۳، دوره ۲: ۸۷–۸۸.

منجیری، ه. (۱۳۹۴). "رابطه بین جو اخلاقی سازمان و رفتار اخلاقی مدیران". مدیریت دولتی. دانشگاه آزاد اسلامی.

Abbasi, R., Taheri, G., & Babashahi, J. (2018). Investigating Faculty Member's Professional Ethics in View of Students. Ethics in Science & Technology. 12

Ahearne, J. F. (2011). Honesty. American Scientist, 2: 120-123.

Baez, B. (2002). Confidentiality in qualitative research: Reflections on secrets, power and agency. Qualitative research, 1: 35-58.

Baumans, V. (2004). Use of animals in experimental research: an ethical dilemma?. Gene therapy, 1: S64-S66.

Bishop, L. J., & Nolen, A. L. (2001). Animals in research and education: Ethical issues. Kennedy Institute of Ethics Journal, 1: 91-112.

Bos, B., Broekhuizen, T. L., & de Faria, P. (2015). A dynamic view on secrecy management. Journal of Business Research, 12: 2619-2627.

Carroll, N. (2000). Art and ethical criticism: An overview of recent directions of research. Ethics, 2: 350-387.

Crow, G., Wiles, R., Heath, S., & Charles, V. (2006). Research ethics and data quality: The implications of informed consent. International Journal of Social Research Methodology, 2: 83-95.

Demuijnck, G. (2009). Non-discrimination in human resources management as a moral obligation. Journal of Business Ethics, 1: 83-101.

Edwards, S. J., Ashcroft, R., & Kirchin, S. (2004). Research ethics committees: differences and moral judgement. Bioethics, 5: 408-427.

Greaney, A. M., Sheehy, A., Heffernan, C., Murphy, J., Mhaolrúnaigh, S. N., Heffernan, E., & Brown, G. (2012). Research ethics application: A guide for the novice researcher. British Journal of Nursing, 1: 38-43.

Henry, E. (2009). Strategic disclosure of research results: The cost of proving your honesty. The Economic Journal, 1036-1064.

Israel, M., & Hay, I. (2006). Research ethics for social scientists. Sage.

Kamat, P. V. (2006). Research ethics. In Symp Sci Publ ACS Natl Meet, 49.

Lawrence, J. A., Kaplan, I., & McFarlane, C. (2013). The role of respect in research interactions with refugee children and young people. Values and vulnerabilities: The ethics of research with refugees and asylum seekers, 103-126.

McAreavey, R., & Muir, J. (2011). Research ethics committees: Values and power in higher education. International Journal of Social Research Methodology, 5: 391-405.

Mundava, M., & Chaudhuri, J. (2007). Understanding plagiarism: The role of librarians at the University of Tennessee in assisting students to practice fair use of information. College & Research Libraries News, 3: 170-173.

Navalta, J. W., Stone, W. J., & Lyons, S. (2019). Ethical issues relating to scientific discovery in exercise science. International journal of exercise science, 1: 1.

Oliver, P. (2010). The student's guide to research ethics. McGraw-Hill Education (UK).

Parsell, M., Ambler, T., & Jacenyik-Trawoger, C. (2014). Ethics in higher education research. Studies in Higher Education, 1: 166-179.

Pimple, K. D. (2002). Six domains of research ethics. Science and engineering ethics, 8: 191-205.

Rahimi, H., & Agha Babayi, R. (2013). Relationship between organizational culture and professional ethic faculty members of Kashan University. Education Strategies in Medical Sciences, 2: 61-67.

Scott, P. (2004). Ethics ‘in’and ‘for’higher education. Higher Education in Europe, 4: 439-450.

Steinke, E. E. (2004). Research ethics, informed consent, and participant recruitment. Clinical Nurse Specialist, 2: 88-97.

Walton, M., & Hassreiter, S. (2015). Real friends and fake friends: Research relationships in an era of global social media. In Ethical Quandaries in Social Research.. Cape Town: Human Sciences Research Council.

Zhong, C. B. (2011). The ethical dangers of deliberative decision making. Administrative Science Quarterly, 1: 1-25.

# د افغانستان د لوړو زده کړو په پیاوړتیا کې د OBE رول او اوسنی حالت یې

**پوهنیار عبدالنعیم نعیم**

پښتو ادبیات څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځي، د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې، پکتیکا، افغانستان
ایمیل: abdulnaeembasheer@gmail.com

**لنډیز**

پر پایله ولاړې زده کړې چې په انګزیزې کې ورته Outcome Based Education (OBE) وایی، د ډېرو پرمختللیو هېوادونو په پوهنتونو کې ترې د تحصیلي سیستم په حیث کار اخیستل کېږي. د دې څېړنې موخه دا ده چې د OBE ښوونیز سیستم تشریح او په پوهنتونونو کې د OBE په اړه د استادانو نظر او عمل معلوم کړي. پدې څېړنه کې د څېړنې ګډه(کمي او کیفي) تګلار کارول شوي چې د معلوماتو د راټولونې لپاره د پوښتنپاڼې او اسنادو (کورس پالیسیو) له تحلیل او تجزیې څخه کار اخیستل شوی. د څېړنې له موندنو څخه څرګندېږي چې د OBE په اړه د پوهنتونو ډېری استادان مثبت نظر لري، مګر د ځینو ستونزو لکه: د مناسبو امکاناتو کمی، په ټولګیو کې د محصلینو د شمېر زیاتوالی، OBE ته د لوړو زده کړو وزارت نه پاملرنه او له OBE سره د استادانو نابلدتیا له کبله یې په خپلو پوهنتونو کې نشي پلې کولای.

**کلیدي اصطلاحات**: پر پایله ولاړې زده کړې(OBE)؛ زده کړه ییزې پایلې؛ د استادانو نظر؛ د استادانو عمل؛ د OBE پر وړاندې خنډونه

# The Role of OBE in Strengthening the Education System of Afghanistan and Its Current Situation

**Jr. Teaching Asstt. Abdul Naeem Naeem**

Department of Pashto, Faculty of Education, Paktika Higher Education Institute, Paktika, Afghanistan
Email: abdulnaeembasheer@gmail.com

## Abstract

Outcome-based education (OBE) is a prevalent educational system in many developed countries' universities. This study aims to elucidate the principles of OBE and examine the perceptions and practices of Afghan university lecturers regarding its implementation. Utilizing a mixed research approach, this study employed questionnaires and document analysis (course policies) as data collection tools. The research findings reveal that most university lecturers harbor a positive view of OBE, acknowledging its efficacy as an educational system within their institutions. However, several challenges hinder its seamless adoption, including inadequate facilities, overcrowded classrooms, limited attention to OBE by the Ministry of Higher Education, lecturers' unfamiliarity with OBE principles, and other factors. These impediments pose significant obstacles to the full realization of OBE in the Afghan higher education landscape.

**Keywords**: Outcome Based Education (OBE); Learning Outcome; Lecturers' Perception; Practice; OBE Challenges

**سریزه**

پر پایله ولاړه زده کړه یو داسي ښوونیز سیستم دی چې د نړۍ په زیاتره پرمختللو هېوادونو کې عملي کېږي او ښه پایله یې لرلې ده. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت هڅه کړې ده چې د هېواد په پوهنتونونو کې د مسلکي پرمختیا د مرکزونو په جوړولو سره د استادانو او اداري کارکوونکو مسلکي وړتیاوې لوړې کړي. یوه له دغو مسلکي وړتیاوو څخه د OBE سیستم عملي کول دي، چې د افغانستان لوړې زده کړې پیاوړې شي. دې ټکي ته د لوړو زده کړو وزارت په خپل ستراتیژیک پلان کې داسې اشاره کړې ده: "د لوړو زده کړو مؤسسو د مسلکي پراختیا مرکزونه کولای شي د استادانو او اداري کارمندانو لپاره د پرله پسې مسلکي پرمختګ په چمتو کولو کې مهم رول ولوبوي لکه د پایلو پر بنسټ زده کړې، محصل چورلیزې(محصل محورې) زده کړې، په لوړو زده کړو کې د معلوماتي ټکنالوجۍ کارونه، محصلانو ته مشوره ورکول، نرم مهارتونه (بشري اړیکې، ټیم جوړوونه، د نظرونو څرګندول...) ارزونې او څېړنچارې(څېړنې میتودونه)" (NHESP, 2016. P: 21).

OBE یو داسي ښوونیز سیستم دی چې، لومړی د هغه څه یو روښانه انځور کاږي چې محصلین یې باید د یوې زده کړه ییزې پروسې په پای کې په سر ته رسولو قادر شي، بیا د دې انځور په رڼا کې د تدریس او زده کړو طریقې ټاکل کېږي او په پای کې ټاکل شوی تصویر په مناسبه طریقه ارزوي او ګوري چې زده کړه شوې که نه. پدې سیستم کې درې بنسټي عنصرونه په نظر کې نیول کېږي: زده کړه ییزه پایله (نتیجه)، د زده کړې او تدریس طریقه او ارزونه (Spady, 1994) اوسمهال نوموړی ښوونیز سیستم په امریکا، برېتانیا، استرالیا، نوی زیلاند، مالیزیا، سویلي افریقا، فلیپین او تقریباً له (۴۷) څخه په زیاتو هېوادو کې پلي کېږي(Tam, 2014).

که څه هم چې، د لوړو زده کړو وزارت غواړي په پوهنتونو کې OBE عملي شي مګر تر دې مهاله د افغانستان په تحصلي مرکزونو کې OBE سیستم په لومړنیو پړاوونو کې دی، نو ځکه مې مناسبه وګڼله چې د افغانستان د لوړو زده کړو په پیاوړتیا کې د OBE رول او اوسنی حالت یې پدې مقاله کې ځای پر ځای او وښایم چې د افغانستان د پوهنتونونو استادان د OBE په اړه څه نظر لري او تر کومې کچې یې په خپل تدریس کې عملي کوي. همدارنګه، پدې څېړنه کې دا هم معلومېږي چې استادان د OBE د عملي کولو په وخت کې له کومو خنډونو او ګواښونو سره مخ دي. د دې خنډونو پېژندنه به له پالیسي جوړوونکو سره مرسته وکړي چې په راتلونکي کې یې له منځه یوسي او د OBE د عملي کېدلو لپاره لار هواره شي. په پایله کې به ټول محصلین په خپلو رشتو او څانګو کې داسي پوهه او مهارت ترلاسه

کړای شي چې په ورځني ژوند کې خپلې تولنې او خلکو ته د خدمت جوګه شي. د دې څېړنې ارزښت پدې کې دی چې د افغانستان د پوهنتونونو د ښوونیز سیستم د کیفیت له ښه کېدو سره مرسته کوي.

پدې څېړنیزه مقاله کې به دې څېړنیزو پوښتنو ته ځوابونه پیدا شي: ۱. د OBE ښوونیز سیستم په اړه د پوهنتونونو استادان څه نظر لري او تر کومې کچې يې په خپلو پوهنتونو کې عملي کوي؟ ۲. د استادانو له نظره څه شی د OBE د عملي کېدو پر وړاندې خنډونه څه دي؟

## د څېړنې شالید

د ښوونې او روزنې پوهانو OBE سیستم په مختلفو شکلونو تعریف کړې دی. ویلیم سپیډي چې د OBE پلار بلل کیږي OBE داسي تعریفوي «د ښوونې او روزنې د تنظیم لپاره یو داسي شامل او هر اړخیز ښوونیز سیستم دی چې له هر زده کوونکي څخه د زده کړییزو غوښتونو بریالی څرګندونه غواړي» (Spady, 1994). په OBE ښوونیز سیستم کې درې موارد مخکې له مخکې ټاکل کېږي: ۱. هغه کړنې چې تمه يې کېږي- هغه څه چې زده کوونکي يې په پای کې د ترسره کولو وړتیا پیدا کوي، ۲. هغه شرطونه چې متوقعه کړنې پکې ترسره کېږي. پدې برخه کې تدریسي ستراتیژۍ او د تدریس فعالیتونه شاملېږي او ۳. د کیفیت ارزونې لپاره معیارونه. په OBE کې د زده کړه ییز پروګرام ارزونه او د زده کوونکو لاسته راوړنې له ټاکل شویو معیارونو سره مقایسه کیږي (Killen, 2000).

## د OBE څلور بنسټی اصول

دا اصول د OBE زړه بلل کیږي او هغه شرطونه غښتلي کوي چې استاد او محصل بري ته رسوي؛

۱. د تمرکز څرګندوالی، تمرکز پر هغو پایلو وي چې محصلان يې د تحصیلي دورې په پای کې په کولو قادر کېږي.

۲. ډېر فرصتونه، محصلانو ته د زده کړې له یوه څخه زیات‌فرصتونه ورکړل شي، چې بریا ته ورسېږي.

۳ . لوړ توقعات، چېلنجونه هغې درجې ته لوړ کړل شي چې په ترسره کولو سره يې محصلین د منلو وړ معیارونو ته ورسول شي.

۴. نصاب جوړوونه، نصاب او ښوونیزو فعالیتونه د محصلانو د متوقعه چلن پر بنسټ جوړ شي (Spady, 1994).

## په OBE کې زده کړه ییزې پایلې

زده کړه ییزه پایله هغه بیانیه ده چې د زده کوونکو پکې هغه پوهه یا عمل، چې د یوې زده کړه ییزې پروسې په پای کې يې په څرګندولو قادر کېږي؛ واضح شوي وي (Spady, 1994). لیکي: پایلې د زده کوونکو باورونه، احساسات، یاد ته سپارل، پوهه، پوهېدل او داسي نور نه دي، البته دا هرڅه ذهني

جریانونه دي او د زده کړې ښکاره څرګندونه نشي کولای. بلکې، پایلې هغه څه دي چې زده کوونکي یې د خپلې پوهې او پوهېدلو په رڼا کې په عمل کې ترسره کړای شي.

زده کړه ییزې پایلېد یوې زده کړه ییزې پروسې په مختلفو برخو کې ټاکل کیږي(Shuaib, et.al, 2009).

د له نظره په OBE ښوونیز سیستم کې درې ډوله پایلې ټاکل کېږي: ۱. د برنامې ښوونیزه پایله، ۲. د پروګرام پایلې او ۳. د کورس/ مضمون پایلې. په لاندې برخه کې یې هره یوه واضح کوو:

۱. د پروګرام ښوونیزه پایله (Program Educational Outcome)

د پروګرام ښوونیزه پایله چې په ځینو کتابونو کې یې د پروګرام د ښوونیزو موخو (Program Educational Objective) په نوم هم لیکي د پروګرام هغه پایلې یا موخې دي چې د اوږد مهال لپاره ټاکل کېږي. یا په بل عبارت د یو پروګرام ښوونیزه پایله د پروګرام هغه عمومي او اوږد مهاله پایلې دي چې فارغان یې له فارغیدو څخه څلور یا پنځه کاله وروسته په ټولنیز ژوند کې ښکاره کوي.

۲. د پروګرام پایله یا د لیسانس دورې پایله (Program Outcome)

د پروګرام پایله دیوې زده کړه ییزې دورې په بشپړیدو سره هغه وړتیاوې/ ځانګړتیاوې او کوایف (پوهه، مهارتونه او ځانګړنې) راښیي چې فارغان د نوموړې دورې د بشپړولو په وخت کې ترلاسه کوي.

۳. د مضمون زده کړه ییزه پایله (Course Learning Outcome)

د دې لپاره چې محصل په OBE کې یو کورس په بري سره بشپړ کړي، هغه باید دکورس اړونده ټاکل شوي زده کړه ییزه پایله ترلاسه کړي. په همدې اساس ټول کورسونه باید روښانه او واضح زده کړه ییزې پایلې ولري.

**د OBE د عملي کېدو مراحل**

د OBE د عملي کېدو د مراحلو له توضیحاتو تېرېږو، یوازې یې په شکل کې ښیو.




لومړی انځور: د OBE د عملي کولو تګلاره

## پخوانۍ څېړنې او موندنې يې

که څه هم چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په ټولو تحصيلي مرکزونو کې د OBE تطبيق ته ژمن دی او د تحصيلي مرکزونو زياتره استادانو ته يې د OBE روزنيز ورکشاپونه دائر کړي دي. له دې هځو سره، سره په افغانستان کې تر اوسه پورې د OBE اړوند يوازې درې علمي څېړنې ترسره شوې دي. لومړی يوه يې عليميار په (۲۰۲۰) ميلادي کال کې ترسره کړې ده، دويمه يې په (۲۰۲۱) کال کې سيد اسيف اکرمي ترسره کړې ده، درېيمه يې هم رحمت الله کټوازي په ( ۲۰۲۱) کال کې د لوړو زده کړو پراختيايي پروګرام (HEDP) په مالي مرسته ترسره کړې ده. د OBE په اړه د استادانو نظر او عمل تر سرليک لاندې تر دې مهاله په افغانستان کې هيڅ علمي څېړنه نه ده شوې.

پدې برخه کې يوازې د رحمت الله کټوازي څېړنه يوڅه تشريح کوم. نوموړې خپله څېړنه کې د بېلابېلو پوهنتونونو له (۱۲۰) استادانو څخه د پوښتنپاڼې پواسطه د نظر اخيستنې او له اووه تنو د OBE ماهرو استادانو سره د مرکو له لارې کړې ده. د دې څېړنې عنوان "په افغان پوهنتونو کې د OBE-SCL تطبيق: اوسنی عمل او ګواښونه" دی. پدې څېړنه کې د څېړونکي موخه دا وه چې په وروستيو کې د افغانستان په ښوونيز سيستم کې د تحولاتو په برخه کې د پوهنتونو د استادانو انګېرنه معلومه کړي. پدې څېړنه کې څېړونکی دې پايلې ته رسېدلی ده چې استادان د OBE تطبيقولو لپاره مثبت نظر لري او ان تر دې چې د نوموړي سيستم عملي کېدو ته لېوال دي. مګر ځيني داسې استادان هم شته چې د OBE د عملي

کولو په برخه کې منفي نظر لري او د OBE عملي کېدل ورته یوه افسانه ښکاري. د څېړونکي په وینا دوی کېدای شي هغه استادان وي چې د OBE اړوند کوم روزنیز ورکشاپ یې ندی اخیستی. له بل پلوه، څېړونکی دې پایلې ته هم رسېدلی چې د OBE د عملي کولو په برخه کې استادان په ډېره ټیټه کچه کې قرار لري. همدارنګه، څېړونکی د خپلو موندنو پر بنسټ لیکي چې په اوسني وضعیت کې د منځپانګې پر بنسټ نصاب، د تدریس، زده کړې او ارزونې پالیسیانې، د ودانیو او علمي سرچینو کمبود، د امکاناتو کمبود او په استادانو زیات کاري فشار هغه کلیدي ګواښونه دي چې د OBE د عملي کېدو مخنیوی کوي.

**څېړندود**

د دې څېړنې تګلاره ګډه(کمي او کیفي) ده. د Creswell (2014) له نظره که غواړو چې یوه څېړنیزه موضوع په ژوره توګه تر مطالعې لاندې ونیسو باید مختلطه تګلاره وکاروو. دا څېړنه د سروې په شکل ترسره شوې ده، چې سروې پخپله د کمي تګلارې یو ډول ده او د یوې ټولنیزې پېښې مختلف اړخونه اندازه کوي (Cohen, et.al, 2012). دې څېړنې ته د معلوماتو د راټولولو لپاره د پوښتنپاڼې او اسنادو د تحلیل مېتودونه کارول شوي دي. د پکتیا او پکتیکا پوهنتونونو د مختلفو پوهنځیو څخه یې (۷۱) تنه استادانو پوښتنپاڼې ځواب کړې دي او نورو یې د پوښتنپاڼو ځوابولو ته لېوالتیا نه ده ښودلې. د پوښتنپاڼو ترڅنګ، د اسنادو تحلیل چې د کیفي څېړنې یوه تګلاره ده او په هغه کې یو څېړونکی د اسنادو د ارزونې موضوع ته مانا ورکوي؛ کارول شوې ده او (Bowen, 2009) لیکي چې د اسنادو تحلیل په کیفي څېړنه کې ترسره کېږي. د استادانو (۲۹) کورس پالیسیانې تحلیل او تجزیه شوې دي. پوښتنپاڼه ځکه انتخاب شوې ده چې د دې په واسطه به له استادانو څخه زیات معلومات په کم وخت کې راټول شي. د دې ترڅنګ، د کورس پالیسیو تحلیل او تجزیه ځکه انتخاب شوی چې د OBE په اړه د استادانو عملي کړنې معلومي کړای شي.

د دې څېړنې لپاره د پکتیا او پکتیکا پوهنتونونه ځکه انتخاب شوي دي چې څېړونکې ته تر نورو ټولو پوهنتونونو نژدې او پدې دواړو پوهنتونونو کې تقریباً هر ډول پوهنځي شته چې، د څېړنې نتیجې ته د افغانستان د پوهنتونو په کچه نسبتاً تعمیم ورکولای شو. د دې څېړنې لپاره معلومات د (۱۴۰۰) کال د ژمي په دریو میاشتو کې راټول شوي دي.

**د څېړنې موندنې او مناقشه**

دا برخه په دوو فرعي برخو وېشل شوې ده. په لومړۍ برخه کې ټول هغه معلومات چې له پوښتنپاڼو څخه ترلاسه شوي دي ذکر کېږي او په دویمه برخه کې د استادانو د کورس پالیسیو له تحلیل او تجزیې څخه د OBE اړوند عملي کړنو معلومات راخیستل شوي دي ځای پرځای کېږي.

## لومړی برخه، د پوښتنپاڼو پواسطه راټول شوي معلومات-کمي موندنې

لومړی جدول: د OBE د بنسټیزو څلورو اصولو په اړه د استادانو نظر

| د OBEد بنسټیزو څلورو اصولو په اړه د استادانو نظر (٪) | | | |
|---|---|---|---|
| | **پوښتنې** | **ځوابونه** | |
| ۱ | د تدریس په وخت کې ستاسو او ستاسو د محصلینو اصلي تمرکز پر څه شي وي؟ | پر محتوا (۲۸) | پر زده کړه ییزه پایله(۷۲) |
| ۲ | د تدریس لپاره کوم ډول تگلاره کاروئ! | د ټولو محصلینو لپاره یو ډول تدریس (۳۹) | د محصلینو سویې ته په کتو له هغوی سره ځانگړې مرسته کېږي (۶۱) |
| ۳ | له خپلو محصلانو څخه څه ډول توقع لرئ؟ | ټول به متوقعه پایلو ته ونشي رسېدلای (۳۱) | ټول به متوقعه پایلو ته ورسېږي (۶۹) |
| ۴ | د مضمون د تدریسي کتاب یا چپټر د مفرداتو ترتیبولو لپاره څه شی معیار کنئ؟ | د وزارت د نصاب مفردات (۹۲) | ټاکل شوې زده کړه ییزې پایلې (۸) |
| | **ټوله فیصدي** | **۴۸** | **۵۲** |

دویم جدول: د ارزونې د عملي کولو په اړه د استادانو نظر

| د ارزونې د عملي کولو په اړه د استادانو نظر (٪) | | |
|---|---|---|
| د محصلینو د ارزونې په برخه کې د هغوی د کامیابي لپاره څه شی معیار او شرایط گنئ؟ | د محتوا او مفرداتو زده کړه (۳۸) | د زده کړه ییزو پایلو لاسته راوړل (۶۲) |
| د محصلینو د ارزونې لپاره نمرې د کوم معیار پواسطه ورکوئ؟ | د وزارت د لایحې مطابق (۷۰) | د لایحې خلاف د دوی کارونو ته هم نمرې ورکوم (۳۰) |
| د محصلینو د ارزونې په وخت کې څه شي په نظر کې نیسئ؟ | پوهه او مهارت (۷۷) | پوهه، مهارت او اخلاق (۲۳) |
| **ټوله فیصدي** | **۶۲** | **۳۸** |




لومړی ګراف: د استادانو له نظره د OBE د عملي کېدو پر وړاندې خنډونه

**د OBE د بیلابیلو عناصرو سره د استادانو د نظر د موافقې کچه**

په لاندې برخه کې د OBE له مختلفو عناصرو سره د استادانو د نظر د موافقې کچه په پنځو درجو کې ښودل شوې ده چې د هرې درجې (بشپړ مخالف، مخالف، نظر نه لرم، موافق او بشپړ موافق) اړوند د استادانو د نظر فیصدي په اړوند خانو کې ځای پر ځای شوې ده.

له ۳ جدول څخه څرګندیږي چې، د OBE له کلیاتو او بېلابېلو عناصرو سره له (۸۰٪) څخه زیات استادان د موافقې نظر لري، (۱۱٪) استادان د دې مواردو په اړه هېڅ نظر نه لري او یوازې (٦٪) استادان د دې مواردو په اړه منفي نظر لري. پدې ټولو مواردو کې له شپږم او اووم مورد سره د استادانو د نظر د موافقې کچه تر (۵۰٪) پورې رسېږي او په نورو ټولو مواردو کې د استادانو د نظر د موافقې کچه له (۸۰٪) څخه پورته ده.

درېم جدول: د OBE د کلیاتو په اړه د استادانو د نظر د موافقې کچه

| شمیره | موارد | بشپړ مخالف | مخالف | نظر نه لرم | موافق | بشپړ موافق |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | **د OBE د کلیاتو په اړه د استادانو نظر (٪)** | | | | | |
| ۱ | د OBE په عملي کولو سره کولای شو محصلان د کاري ساحې لپاره ښه چمتو کړو. | ۰ | ۱ | ٦ | ۵۸ | ۳۵ |
| ۲ | د زده کړې لپاره د OBE په تګلاره کې د محصلینو د کامیابي چانس زیاتیږي. | ۰ | ۱ | ٦ | ۵۲ | ۴۱ |
| ۳ | OBE عملي کول د محصلینو ظرفیت او مهارتونه قوي کوي. | ۰ | ۰ | ۸ | ۴۲ | ۴۹ |
| ۴ | په OBE کې استاد باید اسانچاری وي نه لکچر ورکوونکی. | ۳ | ۳ | ۱۴ | ۳۲ | ۴۸ |
| ۵ | د OBE په عملي کېدلو کې له ګډونوالوسره اړیکه او معلومات شریکول اړین دي. | ۰ | ۰ | ۲۱ | ۵۹ | ۲۰ |
| ٦ | زمونږ په پوهنتون کې د OBE تطبیقول ډېر سخت او مشکل کار دی. | ۱ | ۲۷ | ۲۱ | ۳۷ | ۱۴ |
| ۷ | محصلین کولای شي په نصاب کې موجود ټول مفردات زده کړي. | ۷ | ۲۷ | ۱۸ | ۴۵ | ۳ |
| ۸ | په نصاب کې باید د محصلینو لپاره متوقعه زده کړه ییزې پایلې(محصل دې په اخر کې د څه شي په کولو قادر شي) مشخصې شوې وي. | ۰ | ۱ | ۱۷ | ۵۹ | ۲۳ |
| ۹ | د نصاب لپاره د زده کړه ییزو موخو بنسټ او اساس باید د ټولنې اړتیاوې و اوسي. | ۱ | ۰ | ۳ | ۴۹ | ۴٦ |
| ۱۰ | د نصاب پراختیا باید یوه روانه او جاري پروسه و اوسي. | ۰ | ۱ | ۴ | ۳۲ | ٦۲ |
| ۱۱ | هر مضمون باید د نصاب لارښود ولري چې په هغه کې د مضمون زده کړه ییزې پایلې(محصل دې د څه شي په کولو قادر شي) مشخصې شوي وي. | ۰ | ۱ | ۷ | ۵۱ | ۴۱ |
| | **ټوله فیصدي** | **۱** | **٦** | **۱۱** | **۴۷** | **۳۵** |

## دویمه برخه، له کورس پالیسیو څخه راټول شوي معلومات –کیفي موندنې

د استادانو په (۲۹) کورس پالیسیو کې د OBE بنسټیز عناصر، د تدریس کړنلاره او د ارزونې میتودونه کتل شوي دي.

لومړی، د OBE بنسټیز عناصر

څلورم جدول: په کورس پالیسیو کې د OBE د بنسټیزو عناصرو موجودیت

| شماره | بنسټیز عناصر | شتون (٪) | لري | شتون نه لري (٪) |
|---|---|---|---|---|
| | د لیسانس دورې زده کړه ییزې پایلې (POs) | ۱۰ | | ۹۰ |
| | د مضمون زده کړه ییزې پایلې (COs) | ۷۹ | | ۲۱ |
| | د لیسانس دورې زده کړه ییزو پایلو او مضمون زده کړه ییزو پایلو ترمنځ تړاو په نظر کې نیول | ۱۰ | | ۹۰ |

پنځم جدول: په کورس پالیسیو کې د مضمون د زده کړه ییزو پایلو ډولونه

| د مضمون د زده کړه ییزو پایلو ډول | کمزوري(٪) | ښه (٪) | ډېره ښه(٪) |
|---|---|---|---|
| د مضمون د پایلو د ډولونو فیصدي | ۸۱ | ۱۴ | ۵ |

دویمه، د تدریس تګلاره او د تدریس میتودونه

شپږم جدول: په کورس پالیسیو کې د تدریس میتودونه

| د تدریس میتودونه | لکچر | ګروپي کار | سوال- ځواب | عملي کار | جوړه یي کار | موضوع ارایه کول | مناقشه | د موضوع لنډیز | TPS |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د موجودیت فیصدي | ۱۰۰ | ۸۳ | ۴۸ | ۳۸ | ۳۸ | ۳۴ | ۳۱ | ۱۴ | ۷ |

دریم، د محصلینو ارزونه

اووم جدول: محصلینو ته د نمرو ورکول تګلاره

| محصلینو ته د نمرو ورکولو طریقه چې آیا د وزارت د لایحې مطابق دی او که د OBE له اصولو سره سم؟ | د وزارت د لایحې مطابق | د OBEله اصولو سره سم |
|---|---|---|
| | ۸۶ | ۱۴ |

**مناقشه**

د څېړنې پوښتنو په نظر کې نیولو سره د دې څېړنې موندنې په لاندې دریو برخو کې بحث او مناقشه شوې دي:

۱. د OBE په اړه د پکتیا او پکتیکا پوهنتونو استادان څه نظر لري؟

د دې څېړنې له موندنو څخه څرګندېږي چې د پکتیا او پکتیکا پوهنتونو ډېری استادان د OBE د بنسټیزو عناصرو څخه ځان خبر بولي، د دوی له جملې څخه یې نیمایي پدې نظر دي چې باید د OBE څلور بنسټیز اصول په پام کې ونیول شي. د استادانو له جملې څخه یې له (۸۰٪) څخه زیات په ښوونیز سیستم کې د OBE د بنسټیزو عناصرو او کلیاتو په اړه مثبت نظر لري. لدې موندنو څخه معلومېږي چې په عمومي ډول اکثره استادان د OBE د ټولو عناصرو او کړنلارو په اړه مثبت نظر لري او OBE په خپلو پوهنتونو کې د یوه مؤثر ښوونیز سیستم په حیث قبلوي. دا موندنې له دوو هغو څېړنو سره چې په دې

برخه کې د (Alimyar, 2020) او (Katawazai, 2021) له لوري ترسره شوې دي همغږې دي. دوی هم په خپلو څېړنو کې دې نتيجې ته رسېدلي وو چې عموماً استادان د OBE د پلي کولو لپاره خوشبينه دي او په اړه يې مثبت نظر لري.

۲. استادان تر کومې کچې OBE په خپلو پوهنتونو کې عملي کوي؟

د استادانو له کورس پاليسيو څخه د راټول شويو معلوماتو څخه څرګندېږي چې د پکتيا او پکتيکا پوهنتونو استادان تر اوسه پورې د OBE د عملي کولو په برخه کې په ټيټه کټګورۍ کې قرار لري. د (Spady, 1994) له نظره چې د OBE د عملي کولو لپاره له ماموريت څخه وروسته دويم مهم عنصر د زده کړه ييزې دورې لپاره د روښانه پايلو درلودل دي. مګر د دې څېړنې له موندنو څخه څرګندېږي چې، (۹۰٪) استادان په خپلو کورس پاليسيو کې د ليسانس دورې زده کړه ييزې پايلې نه لري. همدارنګه ليدل کېږي چې يوازې (۱۰٪) استادان د زده کړه ييزې دورې زده کړه ييزو پايلو او د مضمون د زده کړه ييزو پايلو ترمنځ تړاو په پام کې نيسي. دې ستونزې ته (Katawazai, 2021) هم په خپله څېړنه کې اشاره کړې ده او ليکي چې ډېر کم شمېر استادان د زده کړه ييزو پايلو (د پروګرام زده کړه ييزو پايلو او د مضمون زده کړه ييزو پايلو) ترمنځ تړاو په نظر کې نيسي. (Tshai et al, 2014) په خپله څېړنه کې ليکي چې د OBE د عملي کولو لپاره د زده کړه ييزې دورې پايلې ټاکل، په نظر کې نيول او په هغو پوهېدل يو مهم اصل دی. مګر ډېر کم استادان دا اصل په نظر کې نيسي. دا پدې معنی ده چې ډېری استادان تر اوسه پورې د OBE بنسټيز عناصر هم په کمه اندازه عملي کوي.

ډېری استادان (۷۹٪) که څه هم د مضمون زده کړه ييزې پايلې په خپلو کورس پاليسيو کې ځای پرځای کوي. مګر، د دغو پايلو له جملې څخه يې زياتره (۸۱٪) زده کړه ييزې پايلې په غير معياري ډول ټاکل شوې دي. غير معياري پدې معنی چې پدې زده کړه ييزو پايلو کې هېڅ رفتاري فعل وجود نه لري. مثلاً، محصلين به پدې موضوع وپوهېږي. پدې پايله کې وپوهېږي فعل کارول شوی چې رفتاري فعل نه دی. (۱۴٪) استادانو په کمزوري شکل پايلې ټاکلې دي. کمزوري پدې معنا چې پدې ډول زده کړه ييزو پايلو کې رفتاري فعل موجود دی مګر شرايط او د زده کړې درجه پکې موجوده نه ده. مثلاً، محصلين به موضوع تشريح کړای شي. پدې پايله کې (تشريح کړای شي) يو چلني فعل دی، مګر پدې پايله کې دا ندي ذکر شوی چې محصلين به د کومو شرايطو په پوره کولو سره موضوع څه ډول تشريح کړای شي. د زده کړه ييزو پايلو له جملې څخه يوازې (۵٪) يې له څلورو معيارونو سره سمې پايلې ټاکل شوې دي.

د تدریس استراتیژي او میتودونو په برخه کې معلومېږي چې، تراوسه پوري د استادانو په منځ کې د لیکچر میتود تر نورو ټولو میتودونو زیات کارول کېږي. حال دا چې محصل-محوري میتودونه لکه: جوړه یي کار، موضوع ارایه کول، مناقشه، موضوع لنډیز کول باید د پایلو د لاسته راوړلو او محصلانو د ارزولو لپاره تر ټولو زیات کارول شوي وای.

۳. د OBE پر وړاندې کوم خنډونه وجود لري؟

د OBE د ممانعتونو په برخه کې لومړۍ ستونزه د مناسبو امکاناتو کموالي دی چې (Katawazai, 2021) هم ورته اشاره کړې ده او په خپله څېړنه کې دې پایلې ته رسېدلی ده چې د افغانستان په پوهنتونو کې د زیربنا (درسي ټولګیو) او معلوماتي لوازمو (انټرنیټ) کموالی هغه جدي ستونزې دي چې په پوهنتونو کې یې د OBE د عملي کېدو مخه نیولې ده.

دویمه ستونزه، په ټولګیو کې د محصلینو د شمیر زیاتوالی دی. د دې څېړنې موندنې ښیي چې یوازي (۵٪) استادان هغو ټولګیو ته تدریس کوي چې د محصلینو شمیر یې له (۳۰) تنه څخه کم وي. همدارنګه Jansen (1998) په ټولګیو کې د محصلینو د شمیر زیاتوالی د OBE د عملي کېدو په برخه کې یو لوی ممانعت ګڼي. مګر پدې وروستیو کې د افغانستان په سطحه پوهنتون ته شاملېدونکو محصلینو شمیر کم شوی او دا ستونزه به په راتلونکي کې وجود ونلري.

د OBE د عملي کېدلو په برخه کې درېمه ستونزه، دې سیستم ته د لوړو زده کړو وزارت نه پاملرنه ده. کله، کله ځیني استادان مجبوریږي چې له (۵- ۷) مضامینو پوري په یوه سمستر کې تدریس وکړي او دوی د دې وخت نشي پیدا کولای چې خپل تدرس د OBE له اصولو سره سم عیار کړي. همدارنګه، (Damit et al., 2021) لیکي چې د رهبري له لوري لږ ملاتړ د دې لامل کېږي چې د نوموړي سیستم د عملي کولو په برخه کې ستونزې رامنځته شي.

د OBE د عملي کولو په برخه کې څلورمه ستونزه له دې سیستم سره د استادانو نابلدتیا ده. پدې اړه (Damit et al., 2021) لیکي: استادان چې د دې سیستم اصلي عملي کوونکي دي زیاتره یې له دې سیستم سره بلدتیا نه لري. Rao (2020) په خپله څېړنه کې د زده کړه ییزو پایلو اهمیت ته اشاره کړې ده او لیکي چې د زده کړه ییزو پایلو تړاو د کورس له زده کړه ییزو پایلو سره او بیا په پورته کې د لیسانس دورې له زده کړه ییزو پایلو سره ډېر مهم دي، مګر د دې څېړنې له موندنو څخه څرګندېږي چې یوازي د (۱۰٪) استادانو په کورس پالیسیو کې د زده کړه ییزو پایلو تړاو د کورس له زده کړه ییزو پایلو سره او په پورته کې د لیسانس دورې له زده کړه ییزو پایلو سره په نظر کې نیول شوی دی.

يوه بله لويه ستونزه دا ده چې د لوړو زده کړو وزارت د نمرو ورکولو لايحې د OBE سيستم سره په ټکر کې دي. د کريډيټ سيستم لايحه کې په صراحت سره ليکل شوي چې د محصلانو د ارزولو په وخت کې بايد (۸۰٪) نمرې د دوی وروستی ازموينې ته ورکړل شي. دې ستونزې ته (Katawazai, 2021) هم په خپله څېړنه کې اشاره کړې ده. هغه د استادانو له قوله ليکي: د لوړو زده کړو وزارت تراوسه پوري په هغو قوانينو او پاليسيو ټينګار کوي چې هغه پر محتوا ولاړ ښوونيز سيستم تقويه کوي. مثلاً، د محصلينو د ارزونې په برخه کې استادان بايد (۶۰-۸۰٪) نمرې وروستی او منځنی ازموينې ته ورکړي، (۱۰٪) د محصلينو حاضري ته ورکړل شي او يوازي (۱۰٪) يې د دوی عملي کار او کورنی دندې ته ورکړل شي. دا پدې معنا ده چې له يو طرفه د لوړو زده کړو وزارت پدې ټينګار کوي چې په پوهنتونو کې د OBE سيستم عملي کړي او له بله طرفه د لوړو زده کړو وزارت د نمرو ورکولو لايحه بيا د ياد سيستم له کړنلارو سره په ټکر کې دي.

**پايلې**

د دې څېړنې له موندنو څخه دې پايلې ته رسيږو چې، د پکتيا او پکتيکا پوهنتونو ډېری استادان د OBE ښوونيز سيستم د ټولو عناصرو، اصولو او کړنلارو په اړه مثبت نظر لري او په خپلو پوهنتونو کې يې د يوه ګټور ښوونيز سيستم په حيث قبلوي. ډېری استادان د ياد ښوونيز سيستم ټول عناصر لکه د لرليد او ماموريت لرل، د ليسانس دورې لپاره د مشخصو پايلو درلودل، د هر مضمون لپاره د ځانګړو پايلو درلودل، په تدريس کې په محصل چورليزو(محصل محوري) زده کړو تمرکز کول او د محصلينو د ارزونې په وخت کې زده کړه ييزو پايلو ته پام کول د محصلينو د ښې زده کړې لامل کېږي او د پوهنتونو د پرمختګ لامل يې بولي.

له بلې خوا، د دې ښوونيز سيستم د عملي کولو په برخه کې تر اوسه پوري ډېری استادان په ټيټه کچه کې قرار لري. د ياد ښوونيز سيستم لومړی اصل پر زده کړه ييزو پايلو تمرکز دی. مګر، ډېری استادان د ليسانس دورې زده کړه ييزې پايلې په پام کې نه نيسي، ډېر کم استادان د ليسانس دورې زده کړه ييزو پايلو او مضمون زده کړه ييزو پايلو ترمنځ تړاو په نظر کې نيسي. زياتره استادان د مضامينو زده کړه ييزې پايلې په معياري ډول نه جوړوي. د ياد ښوونيز سيستم له تقاضا سره سم استادان بايد په ټولګيو کې محصل محوري تدريسي ميتودونه وکاروي، مګر استادان زياتره وخت استادمحوري ميتودونو څخه ګټه اخلي. د محصلينو د ارزولو او نمرو ورکولو په برخه کې ډېری استادان د لوړو زده کړو وزارت لايحې ته په کتو له وسطي او وروستی ازموينو څخه کار اخلي. بناءً، ياد ښوونيز سيستم په ډېره ټيټه کچه په پوهنتونو کې تطبيق کېږي.

په پوهنتون کې د مناسبو امکاناتو کموالی، د OBE سیستم ته د لوړو زده کړو وزارت نه پاملرنه، له یاد ښوونیز سیستم سره د استادانو نابلدتیا، د یاد ښوونیز سیستم سره د لوړو زده کړو وزارت د نمرو ورکولولایحې ټکر د درسي میتودونو دودیزوالی او د وزارت له لوري ناسم نظارت هغه خنډونه دي چې په پوهنتونو کې د یاد ښوونیز سیستم د نه عملي کېدو سبب کېږي.

زمونږ د ګران هېواد افغانستان د لوړو زده کړو پیاوړتیا د OBE سیستم په ښه تطبیق پوري تړلې ده. اوسمهال د دې سیستم عملي کول ډېر اسان کار دی ځکه چې د پوهنتونونو استادان د یاد ښوونیز سیستم په اړه مثبت نظر لري. که چېري د لوړو زده کړو وزارت محترم مسؤلین د یاد سیستم پر وړاندې پراته خنډونه له منځه یوسي، دا سیستم په ډېره اساني سره په پوهنتونونو کې عملي کېدای شي. د دې سیستم په تطبیق سره به فارغ التحصیل محصلان په هغو وړتیاوو سمبال شي چې د ټولنې موجوده ستونزو ته د حل لارې پیدا او له نورې نړۍ سره په ښوونیز ډګر کې سیال و اوسي.

## سرچيني

Alimyar, Z. (2020). Outcome-based education training workshops: A study to explore their effectiveness on Afghan EFL instructors' teaching methods. *International Journal of Education and Culture*, *9*(1-2), 18-30.

Akramy, S. A. (2021). IMPLEMENTATION OF OUTCOME-BASED EDUCATION (OBE) IN AFGHAN UNIVERSITIES: LECTURERS' VOICES. *International Journal of Quality in Education, 5*(2), 27-47.

Cohen, L., Manion, L. & Morrison, K. (2012) *Research Methods in Education* London: Routledge.

Creswell, J. W. (2014). Educational research: Planning, conducting, and evaluating qualitativeand qualitative research.

Damit, M. A. A., Omar, M. K., & Puad, M. H. M. (2021). Issues and Challenges of Outcome-based Education (OBE) Implementation among Malaysian Vocational College Teachers. International Journal of Academic Research in Business and Social Sciences, 11(3), 197-211.

Jansen, J. D. (1998). Curriculum reform in South Africa: A critical analysis of outcomes-based education. *Cambridge journal of education*, *28*(3), 321-331.

Katawazai, R. (2021). Implementing outcome-based education and student-centered learning in Afghan public universities: the current practices and challenges. *Heliyon*, *7*(5), e07076.

Killen, R. (2000). *Outcome-based education: Principles and possibilities.* Unpublished manuscript, University of Newcastle, Faculty of Education.

MoHE, 2016. National Higher Education Startegic Plan 1395 -1399 (2016-2020).

Rao, N. J. (2020). Outcome-based education: An outline. *Higher Education for the Future*, *7*(1), 5-21.

Shuaib, N. H., Anuar, A., Singh, R., & Yusoff, M. Z. (2009, November). Implementing continual quality improvement (CQI) process in an outcome-based education (OBE) approach. In *International Conference of Teaching and Learning*.

Spady, W. G. (1994). *Outcome-Based Education: Critical Issues and Answers*. Arling-ton, VA: American Association of School Administration.

Tam, M., 2014. Outcomes-based approach to quality assessment and curriculum improvement in higher education. Qual. Assur. Educ. 22 (2), 158–168.

Tshai, K. Y., Ho, J. H., Yap, E. H., & Ng, H. K. (2014). Outcome-based education–the assessment of programme educational objectives for an engineering undergraduate degree. *Engineering Education*, *9*(1), 74-85.

## References

Agamy, E. (2007). The Impact of Quality Assurance on Enhancing . *Institutional Research Unit, University of Sharjah, UAE*.

Agamy, E. (2015). How to Manage Quality Assurance in a Comprehensive University with a Wide Variety of Programs and Different Instruction Systems . *University of Sharjah, UAE*, 1-14.

BILLING, D. (2003). Higher Education Quality Assurance Organisations in Central and Eastern Europe. *ResearchGate*, 243-258.

Manghani, K. (2011). Quality assurance: Importance of. *Perspectives in Clinical Research*, 34-37; DOI:10.4103/2229-3485.76288Corpus ID: 5201640.

Manghani, K. (2011). Quality assurance: Importance of systems and standard operating . *Perspectives in Clinical Research*.

OFA, C. J. (2016). Instructional supervision and quality assurance in schools in Nigeria. *ResearchGate*, DOI: 10.21859/eulawrev-08013.

P. Eya, a. L. (2012). EFFECTIVE SUPERVISION OF INSTRUCTION IN NIGERIAN SECONDARY SCHOOLS: ISSUES IN QUALITY ASSURANCE. *Journal of Qualitative Education*, 1-6; Corpus ID: 55603011.

QAAD. (2023, 01 Thursday). *QAAD*. Retrieved from qaad.edu.af: https://qaad.edu.af/en/

Vidovich, L. (2001). A Conceptual Framework for Analysis of Education Policy and Practices. *The University of Western Australia*, 22.

Wonah, A. F. (2020). Quality assurance practices and effectiveness of public universities in cross river state,Nigeria. *Research Gate* .

Ziarati, N. G. (2002). Developing a Quality Criteria for Applications in the Higher Education Sector in Turkey. *ResearchGate*, 20-38 DOI: 10.1080/0954412022000017021.

## Conclusion

The result indicated that their significant relationship was based on the data observed. A Likert item in this survey was used as the type of question required to measure the variables of teaching, learning, and research with a value of 1 to 5, considering 1 for strongly agree and 5 for strongly disagree. The Likert scale presents the item in a statement, followed by options indicating varying degrees of agreement. Similar items would be developed to assess the theme further. The quantitative data was analyzed statistically to determine significance. It was followed by a scale from 1= *strongly agree, 2=agree, 3=neutral, 4=disagree, and 5=strongly disagree.*

It is necessary to acknowledge and consider the result of the means measured 2.66, while the median calculated 2, and similarly, the mode calculated 2 for indicating the relationship between effective teaching, learning, and research, which are adequate to show the positive conditions falling under highly relevant values. Likewise, based on the data, all the tables emphasize the positive relationship between the teaching, learning, and research effectiveness and quality assurance framework application in the higher education system of Afghanistan.

Mean, median, and mode statistical analysis was used to test if there was a significant relationship between the quality assurance framework applied and teaching, learning, and research effectiveness; as calculated, surprisingly, the result indicated that a significant relationship exists between the quality assurance framework implemented and teaching, learning and research effectiveness, which is on the contrary of the null hypothesis stating that “there is no significant relationship available between quality assurance framework applied in Afghanistan and the effective teaching, learning, and research.”

The mean is very close to 4. However, the mean, median, and mode above the score 3 show a negative relationship between research effectiveness and Afghanistan's quality assurance framework cycle. The research table shows four cases that had missing values for research effectiveness and quality assurance framework cycle. Because of this exclusion, there are now 76 valid cases. As mentioned above, among all valid cases (n =76), the average mean was 2.58, the median was two, and the mode was 2 for the relationship between research and quality assurance applied in the universities. As a result, it shows a positive tendency.

**Table 8: Research Effectiveness Variable**

| | | Enhancing Research | University Research | Research Process | Institutional accreditation | The QA process in 3 different stages | Research Training | Research quality improvement |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 76 | 76 | 76 | 76 | 76 | 76 | 76 |
| | Missing | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 |
| Mean | | 2.76 | 2.68 | 2.64 | 2.47 | 2.59 | 2.47 | 2.41 |
| Median | | 3.00 | 2.50 | 2.00 | 2.00 | 2.00 | 2.00 | 2.00 |
| Mode | | 2 | 2 | 2 | 2 | 2 | 2 | 2 |

**Table 8** of the Research variable includes the observation we can make about the mean of effective research considering the quality assurance framework in Afghanistan. This table had the opinion of participant cases (n = 80), with 7 items, while the average (Mean= 2.58), (Median=2), and (Mode=2). The mean is very close to 4. However, the mean, median, and mode above the score 3 show a negative relationship between research effectiveness and Afghanistan's quality assurance framework cycle. The research table shows four cases that had missing values for research effectiveness and quality assurance framework cycle. Because of this exclusion, there are now 76 valid cases. As mentioned above, among all valid cases (n = 76), the average mean was 2.58, the median was 2, and the mode was 2 for the relationship between research and quality assurance applied in the universities. As a result, it shows a positive tendency.

**Table5: Education Country**

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | Abroad | 45 | 56.3 | 59.2 | 59.2 |
| | In the country | 31 | 38.8 | 40.8 | 100.0 |
| | Total | 76 | 95.0 | 100.0 | |
| Missing | System | 4 | 5.0 | | |
| Total | | 80 | 100.0 | | |

The Education Country Table 5 shows the country where the participants pursued their higher education. There are two levels for *Education country* (Abroad 45 making 59.2 percent and in the country 31 with 40.8 percent), while all the participant cases (n=80), out of which four cases are missing. Total makes 95.0 percent of all participants.

**Table 6: Learning Effectiveness Variable**

| | | QA and Learning | QA Evidences | Practicing QA | QA & Ins. accreditation | TheQA3 different stages | (APQN) | Learning Imp. &QA |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 76 | 76 | 76 | 76 | 76 | 76 | 76 |
| | Missing | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 |
| Mean | | 2.45 | 2.67 | 2.25 | 2.17 | 2.42 | 2.05 | 2.20 |
| Median | | 2.00 | 2.00 | 2.00 | 2.00 | 2.00 | 2.00 | 2.00 |
| Mode | | 2 | 2 | 2 | 2 | 2 | 2 | 2 |

**Table 7: Teaching Effectiveness Variable**

| | | (OBE) teaching system | (SCL) method | Main&sub-criteria | Effectively Teaching | The QAA in 3 different stages | Establishing quality Teaching |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 76 | 76 | 76 | 76 | 76 | 76 |
| | Missing | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 |
| Mean | | 2.75 | 2.50 | 2.25 | 2.34 | 2.41 | 2.32 |
| Median | | 3.00 | 2.00 | 2.00 | 2.00 | 2.00 | 2.00 |
| Mode | | 3 | 2 | 2 | 2 | 2 | 2 |

**Table 7** of the Teaching variable includes the observation we can make about the mean of effective teaching considering the quality assurance framework in Afghanistan. This table had the opinion of participant cases (n = 80), with six items, while the average (Mean= 2.83), and (Median=2), with (Mode =2).

The Age Table 2 indicates the average age of all participants. Based on the table above, there are three categories for age (25-35 makes 35.5 percent, 36-45 makes 30.3 percent, and 46 and above makes 34.2 percent), and with participants (n=80), four cases are missing. Total makes 95.0 percent of all participants.

**Table3: Degree**

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | Bachelor | 4 | 5.0 | 5.3 | 5.3 |
| | Masters | 60 | 75.0 | 78.9 | 84.2 |
| | PhD | 12 | 15.0 | 15.8 | 100.0 |
| | Total | 76 | 95.0 | 100.0 | |
| Missing | System | 4 | 5.0 | | |
| Total | | 80 | 100.0 | | |

The Degree Table 3 is concerning the degree of the participants. The table shows that the participants are holding three different educational degrees. There are four bachelor's degree holder participants, making 5.3 percent, 60 master’s degree holders, 78.9 percent, and 12 Ph.D. degree holders, completing 15 percent of all the participants with participant cases (n=80), of which four cases are missing; total makes 95.0 percent of all participants.

**Table 4: University Title**

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | Pohanyar | 25 | 31.3 | 32.9 | 32.9 |
| | Pohanmal | 19 | 23.8 | 25.0 | 57.9 |
| | Pohandoy | 7 | 8.8 | 9.2 | 67.1 |
| | Pohanwal | 21 | 26.3 | 27.6 | 94.7 |
| | Pohand | 4 | 5.0 | 5.3 | 100.0 |
| | Total | 76 | 95.0 | 100.0 | |
| Missing | System | 4 | 5.0 | | |
| Total | | 80 | 100.0 | | |

The University Table 4 includes the university titles. In the table, there are five usual titles given by Afghanistan's higher education ministry, including Pohand (Professor), Pohanwal, Pohandoy (Associate professor), Pohanmal and Pohanyar (Assistant professor). While professor participants make up 5.3 percent, Associate professors make up 36.8 percent, and assistant professors make up 57.9 percent of all the participants—the participant cases (n=80), out of which four cases are missing. Total makes 95.0 percent of all participants.

## The teaching-learning-research in the QA cycle

Teaching = a process of transferring knowledge

Learning = an opportunity offered for gaining knowledge over a course of time.

Research = knowledge output from teaching and learning to seek ways for an academic and/or social issue.




## Mean for Teaching, Learning, and Research Effectiveness in QA cycle

**Tables analyses.**

The Case Processing Summary tables show four cases with missing values for all the teaching, learning, and research indicator variables. The Report table has the descriptive statistics concerning each group and the overall average mean of the valid cases (*n* = 80).

**Table1: Gender**

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | Male | 73 | 91.3 | 96.1 | 96.1 |
| | Female | 3 | 3.8 | 3.9 | 100.0 |
| | Total | 76 | 95.0 | 100.0 | |
| Missing | System | 4 | 5.0 | | |
| Total | | 80 | 100.0 | | |

The Gender Table 1 shows that there are two levels for *Gender* (Male 91.3 percent and Female 3.8 percent) and with the participant (n=80), out of which four cases are missing. Total makes 95.0 percent of all participants.

**Table2: Age**

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | 25-35 | 27 | 33.8 | 35.5 | 35.5 |
| | 36-45 | 23 | 28.8 | 30.3 | 65.8 |
| | 46- over | 26 | 32.5 | 34.2 | 100.0 |
| | Total | 76 | 95.0 | 100.0 | |
| Missing | System | 4 | 5.0 | | |
| Total | | 80 | 100.0 | | |

Based on this, quality assurance and accreditation (QAA) may be improved and strengthened to mirror international standards and their utilization. Nationally, the Quality Assurance and Accreditation Directorate (QAAD) of the Ministry of Higher Education (MoHE) takes this initiative to provide the service and supervise the process (QAAD, 2023).

Quality Assurance and Accreditation Processes and Procedures in Afghanistan started the interest in 2012. It was modified and formally released in 1389 (2009). British Council, The University Support and Workforce Development Program (USWDP), which is a five-year program funded by the U.S. Agency for International Development (USAID), and the Higher Education Development Program (HEDP), funded the Quality Assurance program in Afghanistan. Initially, 12 main criteria and sixty-three sub-criteria (without indicators) were suggested to apply and ensure better education. Since then, there has been confusion and duplications in the framework. Thus, the revision of the framework has been made. The chaos was averted, and repetitions were removed inside the teams running collectively; simultaneously, eleven most important and fifty-eight sub-criteria have been suggested. The Framework was piloted in five state and private educational institutes and successfully applied in July 2017 (QAAD, 2023). Then, 11 main and forty-nine sub-criteria were advised, which will be applicable for ten years as decided by the Quality Assurance and Accreditation Directorate (QAAD) board of the Ministry of Higher Education. The accreditation Framework may be used as a road map for institutional development.

**Result and Discussion**

To know how to measure the effectiveness of the Quality Assurance framework in Afghanistan's educational setup, the following model helps to be kept in mind and applied, as it is the effective local model. The below-drawn model results from the data gathered and analyzed through qualitative interviews collected in writing.

**Quality Assurance and Accreditation (QAA) Framework Cycle in Afghanistan**

Afghan policymakers perceive QA for the higher education of Afghanistan as necessary for the educational system to increase the quality and develop the country. The higher education system is a pool of excessively educated human assets, including policymakers, certified instructors, and lecturers, which are essential for the future and development. Based on this fact, the Government of Afghanistan and the World Bank (WB) have agreed to help higher education through Higher Education Operations to prevail over the previous Strengthening Higher Education Project (SHEP). The new Higher Education Development Project (HEDP) will support the general Government's attempt to expand and reinforce its higher training area (QAAD, 2023).

These initiatives help modernize and enhance the exceptional relevance of teaching and learning, stimulating improvement-orientated research. The Director of the Operations and Monitoring Support Team (OMST) inside the Ministry of Higher Education (MoHE) will coordinate and facilitate the implementation of HEDP in close collaboration with its affiliated departments.

د کابل پوهنتون رئیس ډاکټر اسامه عزیز؛ چې د لوړو زده کړو د پیاوړتیا د ملي کنفرانس د بورډ رییس هم و، د پرانیستغونډې په وینا کې ګډونوالو ته پر هرکلي سربېره نوموړی کنفرانس د علمي لاسته راوړنو خپراوي او وړاندې کونې یو ښه فرصت وباله او له ټولو ګډونوالو یې وغوښتل چې خپلې هڅې، بحثونه او د کنفرانس پر وروستۍ ورځ ترلاسه کېدونکې پایلې د لوړو زده کړو له پیاوړتیا سره پر مرسته رامتمرکز کړي. ورپسې د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستیال ډاکټر لطف الله خیرخواه د هېواد په پرمختګ کې د لوړو زده کړو پر ارزښت هر اړخیزه وینا وکړه او زیاته یې کړه چې که غونډې او کنفرانسونه هرو مرو جوړیږي نو غوره ده چې علمي وي.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت معین مولوي عتیق الله عزیزي، د کورنیو چارو وزارت معین مولوي محمد نبی عمر، د افغانستان د اسلامي امارت د چارو ادارې عمومي رئیس مولوي نورالحق انور، د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکټر قلندرعباد هم د کنفرانس پربېلابېلو اړخو ویناوې وکړې. هر یوه د کنفرانس د جوړېدو پر اهمیت خبرې وکړې او د لوړو زده کړو په پیاوړتیا کې یې د استادانو اغېز او د ځوان نسل پر زیار د ټینګار ترڅنګ له کنفرانسه د ګټورو پایلو د ترلاسي هیله څرګنده کړه.

د پرانیستې د برخې وروستی ویناوال د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر ښاغلی مولوي شیخ ندا محمد ندیم و چې له ګډونوالو سره یې د څېړنو پیاوړې کولو، د ځوانو کادرونو د روزنې په لارو چارو او د پوهنتونونو د سمبالونې په برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه. د لوړو زده کړو وزیر دا هم وویل چې د لوړو زده کړو د پیاوړتیا لپاره به د هر ډول مالي امکاناتو د برابرونې هڅه کوي.

د کنفرانس پرانیستغونډه د روغتیا وزیر، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د چارو د ادارې لوی رییس ته د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو پوهنځي د محصلینو لخوا د چمتو شویو لاسی صنایعو په ورکړې پای ته ورسېده.

**دویمه برخه: د کنفرانس د علمي مقالو وړاندې کول**

په کنفرانس کې د علمي مقالو وړاندې کول څلور برخې درلودې، د مقالو لومړۍ برخه چې پر لومړۍ ورځې د غرمې وروسته پیل شوه، چې بېلا بېلې مقالې پکې شاملې وې چې په لاندې ډول معرفي کیږي؛

## د کنفرانس د لومړۍ ورځې علمي مقالې

د علمي غونډې لومړۍ برخه د کابل پوهنتون استاد پوهاند ډاکټر عبدالقيوم کريم لخوا پرانيستل شوه او د کنفرانس لومړۍ علمي مقاله د ښاغلي پوهاند محمد شفيع شريفي او پوهنوال اسدالله صمدي ګډه مقاله «د کابل پوهنتون د علمي څېړنو پر وړاندې خنډونه او ننګونې» وه چې د ښاغلي پوهاند محمد شفيع شريفي لخوا وړاندې شوه.

په پيل کې پکې د لوړو زده کړو څو نسلونه معرفي شوي وو او وروسته يې د هيواد د هر ميليون نفوس په تناسب د څېړونکيو شمېر، د خپرو شويو مقالو شمېر، او په ناخالص عايد کې د علمي څېړنو ونډې اړين شاخصونه بيان کړل. نوموړي ټينګار وکړو چې د تحصيلي بنسټونو يوه اساسي وظيفه د علمي څېړنو له لارې د علم توليد دی. په نوموړې مقاله کې د کابل پوهنتون د علمي څېړنو پر وړاندې پر پرتو خنډونو (اداري، قانوني او مالي چارې، وسايل او اسانتياوې، ټولنيز او کلتور لاملونه، علمي مسايل، شخصي او کورنۍ ستونزې) بحث شوی و. په اخر کې د علمي څېړنو د ښه کولو، پراخولو او د خنډونو د لرې کولو لپاره يو لړ وړانديزونه وکړل چې په لاندې ډول دي؛

۱. د علمي څېړنو مقرره بايد تدوين او تر ټاکليو پړاوونو وروسته نافذه شي.
۲. په ناخالص عوايدو کې د څېړنې سهم دې مشخص او په ملي بوديجه کې دې ځای ورکړ شي او د ماليې وزارت دې ورته ځانګړی کوډ پرانيزي.
۳. وزارتونه او خپلواکې ادارې دې ځانګړې څېړنيزه بوديجه او مشخص کود ولري او حداقل ۰،۱٪ بوديجه په لومړي کال کې علمي څېړنو ته ځانګړې او هر کال ۰،۰۵٪ بوديجه اضافه شي چې اړونده څانګې او پوهنځي ترې ګټه واخلي.
۴. هر وزارت او مستقله اداره دې د څېړنې لومړيتوبونه مشخص او د خپلو نشراتو له لارې دې يې له څېړونکيو سره شريک کړي.
۵. د علمي څېړنو د پلي کولو او د ښه چاپيريال د رامنځته کولو لپاره بايد د استادانو تدريسي مکلفيتونه راکم کړی شي.
۶. د لابراتواري، تجربوي او ساحوي څېړنو د تطبيق لپاره بايد لازمې اسانتياوې برابرې شي.
۷. د علمي څېړنو لپاره دې کادرونو ته انګېزه او هڅوونکي امکانات برابر شي.
۸. د علمي څېړنو لپاره د د قناعت وړ معاشونه مشخص شي او په معتبرو نړيوالو ژورنالونو کې د مقالو د خپراوي لپاره دې تشويقي پيسې ورکړل شي.
۹. د ځوانو استادانو د ظرفيت لوړونې لپاره دې بېلابېل څېړنيز پروګرامونه جوړ کړی شي.

۱۰. په پای کې، د علمي څېړنو پایلې باید تل د اړوندو ادارو سره شریکې شي.
د دویمې مقالې وړاندې کوونکی د ښوونې او روزنې پوهنتون استاد ښاغلی پوهنوال ډاکټر محمد مزمل اسلامي و. نوموړي خپله مقاله «د شرعیاتو پوهنځیو په درسي منهج کې د متونو ارزښت، ځانګړتیاوې او غوښتنې» ترسرلیک لاندې ګډونوالو ته وړاندې کړه او ویې ویل چې متونونه نېغ په نېغه تر درسي منهج (نصاب) پورې کوم چې د تحصیلي نظام د ملا تیر جوړوي تړلي او د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو د درسي منهج منځپانګه جوړوي. ښاغلي اسلامي زیاته کړه چې متونه یو لړ علمي ځانګړنې لري چې په درسي منهج کې یې د هغو اړتیا ته خورا ځانګړی ارزښت ورکړی دي. د الفاظو پوخوالی او ایجاز، علمي عمق او ژورتیا، د افکارو ځنځیري تسلسل، د ژبې اصالت او د دیني علومو اصلي سرچینو سره د هغوی تړلی قدامت د متونو له مهمو ځانګړتیاوو څخه دي چې ځانته ځانګړې او مشخصې غوښتنې او مقتضیات لري چې خپلو موخو ته په رسیدو کې د تدریس له پروسې سره مرسته کوي.
ښاغلي پوهاند ډاکټر اسدالله حامد د کابل پوهنتون استاد د دغه کنفرانس دریېمه مقاله "په لوړو زده کړو کې د علمي ژورنالونو رول" تر سرلیک لاندې ولوستله او ګډونوالو ته یې واضح کړه، علمي مجلې د خپرونو(نشر) لړۍ څخه عبارت ده، چې د پوهنتونونو، تحصیلي بنسټونو او څېړنیزو بنسټونو څېړنیز او علمي لاسته راوړنې خپروي، چې د لوړو زده کړو اعتبار، ارزښت او رول څرګندوي او دا د یوه هیواد د لوړو زده کړو او پوهنتونونو په ملي او نړیواله درجه بندي کې لوی رول لوبوي. پوهنوال حامد وړاندیز وکړ، چې ټول دولتي او خصوصي پوهنتونونه دې د لوړو زده کړو په برخه کې د ګاونډیو هېوادونو سره د سیالۍ په موخه ملي او نړیوال علمي مجلې جوړې کړي.
ډاکټر چارلس ایم رامسي د امریکا متحده ایالاتو د تکزاس ایالت د بایلر پوهنتون څخه د " د موخه لرونکو جامعو په اړه د پوهنتونونو نظریات" تر سرلیک لاندې یوه څېړنیزه مقاله د ویډیویي پریزنټیشن په شکل وړاندې شوه، چې د غونډې ګډونوال یې لیدو ته دعوت شوي وو، ډاکټر چارلس یو ځل بیا د لوړو زده کړو د موخې په تړاو د پوهنتون پر مفکوره بحث وکړ او په ډاګه یې کړه، چې ډېری استادان داسې احساس کوي، چې د دوی څېړنې د موضوع له اړتیا سره تړاو نه لري او ډېری محصلین دا احساس لري چې کوم معلومات په پوهنتونونو کې ترلاسه کوي دوی کولی شي دا په اسانۍ سره د انټرنیټ او درسي کتابونو څخه ترلاسه کړي. د علمي او څېړنیزو چارو تر منځ د تړاو نشتوالي د لوړو زده کړو مؤسسو لومړیتوبونه تر پوښتنې لاندې راوستي او د دې لامل شوي چې پوهنتونونه پر خپلو موخو له سره غور وکړي. ډاکټر چارلس په خپله مقاله کې، د پوهنتونونو هغه موارد وړاندې کړل چې د علمي بنسټونو په توګه د دوی ځواک په ښه توګه کارولو لپاره یې د پام وړ جوړښتي اصلاحات کړي دي. ډاکټر چارلس

په خپله مقاله کې د یوې متعهدې او انعطاف منونکې ټولنې د رامنځته کولو لپاره د پوهنتون د استادانو په ملاتړ او روزنې ټینګار وکړ چې په پایله کې یې محصلینو سره مرسته کولی شي په ټولنه کې اړونده اړتیاوې په داسې طریقه پوره کړي چې سیمه ایز پوهه، شخصیت جوړونه او خدمتونه وده وکړي. او همدارنګه د زده کړې سره علاقه او مینه ترویج او هڅول کیږي.
د مقالو لومړۍ برخه او د افغانستان د لوړو زده کړو د پیاوړتیا په اړه د ملي کنفرانس لومړۍ ورځ د پورتنۍ مقالې په ویډیویي نشر سره پای ته ورسېده.

### د کنفرانس د دویمې ورځې علمي مقالې

د کنفرانس پر دویمه ورځ د علمي مقالو د وړاندې کولو دویمه برخه د ننګرهار پوهنتون استاد پوهنیارحکیم خان حقیار په واسطه "د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې اهمیت او تقویت لارې چارې" تر سرلیک لاندې د یوې مقالې په وړاندې کولو سره چې د ننګرهار پوهنتون د استاد ښاغلي پوهنمل احسان الله حامد سره یې په ګډه لیکلې وه پیل شوه. ښاغلی حقیار په خپله مقاله کې په ډاګه کړه چې څېړنه په لوړو زده کړو کې د ملا د تیر حیثیت لري او د هیواد په علمي، اقتصادي، ټولنیز او تاریخي پرمختګونو کې فعاله ونډه لري، اما د افغانستان په لوړو زده کړو کې څېړنه تته ده. ده زیاته کړه چې د هغه د څېړنې موخه د افغانستان په لوړو زده کړو کې دڅېړنې اهمیت او تقویت لارې چارې په ګوته کول دي او ویې ویل چې د دغې مقالې پایلې څرګندوي چې څېړنه د شته ستونزو د حل وسیله ده، او د څېړنې د تقویت لارې چارې په پنځه ډوله دي چې د ظرفیت لوړونه، کیفیت لوړونه، د امکاناتو برابرول، هڅونه او له پایلو څخه ګټه اخېستنه په کې شاملیږي. د ښاغلي حقیار د مقالې وړاندیز دا و چې له دغو مهمو لارو چارو څخه دې باید د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې د تقویت په لاره کې ګټه واخیستل شي.
ورپسې د کابل پوهنتون استاد ښاغلي پوهاند ډاکټر سید حسن عدلیار "په لوړو زده کړو کې د برېښنایي زده کړو لپاره د ستراتیژیک پلان د پراختیا چوکاټ مطالعه" تر سرلیک لاندې خپله څېړنیزه مقاله وړاندې کړه او یادونه یې وکړه چې له معلوماتي تکنالوجۍ څخه استفاده په تدریس او زده کړو کې د برېښنایي زده کړو په نوم یادولی شو، د علمي څېړنو پایلې ښيي چې برېښنایي زده کړې د زده کونکو لپاره نوي تعلیمي فرصتونه برابروي. که برېښنایي زده کړې د هېواد په پوهنتونونو کې له اړتیا سره سمې تطبیق شي، د تدریس او تدریس په کیفیت کې به مثبتې پایلې ولري. استاد عدلیار وړاندیز وکړ چې د هیواد په پوهنتونونو کې د برېښنایي زده کړو د تطبیق پروسې د ستونزو د حل په موخه باید د برېښنایي زده کړو د تطبیق لپاره منظم پلان جوړ او د انکشافي چوکاټ طرحې ته یې لومړیتوب ورکړو.

د کابل پوهنتون استاد پوهنوال اسدالله صمدي "سازماني څېړنې او د لوړو زده کړو په وده کې د هغې رول" تر سرليک لاندې خپله علمي څېړنيزه مقاله وړاندې کړه، پوهنوال صمدي ټينګار وکړ چې د لوړو زده کړو معاصرې مؤسسې له نويو ننګونو سره مخ دي لکه اقتصادي ستونزې، د اکاډميکو جوړښتونو بدلون، د تکنالوژۍ چټک بدلون، د اعتبار ورکولو د اړتياوو زياتوالی او د تدريسي، څېړنيزو او خدماتي ماموريتونو د انډول کولو څرنګوالی. له همدې امله، ډېری پوهانو سازماني څېړنه د سازماني استخباراتو او پريکړې ملاتړ مرکز ګڼلی دی. سازماني څېړنه د ټولو فعاليتونو مجموعه ده چې د ادارې د نورمال فعاليتونو ارزولو سربيره د اغېزمن پلان جوړونې، پاليسيو رامنځته کولو او سمې پريکړو لپاره د يوې ادارې او چاپېريال ترمينځ اړيکې مطالعه کوي. د ټولو تعليمي مؤسسو لپاره اړينه ده چې يو مرکز يا سازماني څېړنيز دفتر جوړ کړي او د دې دفتر د پايلو سره سم خپل ټول فعاليتونه ډيزاين او ترسره کړي.
ورپسې د پوهنوال اقا محمد ژکفر او پوهنمل احمد تميم غفاري لخوا "د فارمسي څانګو د نصاب په پراختيا کې د فارم ډي پروګرام رول ته کتنه " تر سرليک لاندې يوه څېړنه د استاد اقا محمد لخوا د غونډې ګډونوالو ته وړاندې شوه، ژکفر زياته کړه چې د لوړو زده کړو د نصاب يوه مهمه برخه مسلکي پروګرامونه دي، چې په کې تخصصي او مسلکي څانګې شاملې دي او محصلين د عملي زده کړو په برخه کې د اړتيا وړ پوهه او مهارتونه باندې سمباليږي .PharmD يا د فارمسي ډاکټر يو له دې مسلکي برخو څخه دي چې د کلينيکي پوهې او مهارتونو سره زده کونکي چمتو کوي او د درملو معقول کارونې لپاره د ناروغ متمرکز خدمتونه چمتو کوي. په دې ليکنه کې پوهنوال ژکفر د PharmD پروګرام او د هېواد د فارمسي نصاب په پراختيا کې د هغې اهميت اوPharmD پروګرام پلي کولو باندې ټينګار وکړو چې په نړيواله کچه وده کړې او د نړۍ اکثره هېوادونه د PharmD پروګرامونه لري.
ښاغلي پوهندوی خان محمد خدرخېل دسيد جمال الدين افغان پوهنتون استاد د کنفرانس بل څېړونکی و چې خپله مقاله يې "د ديني ضوابطو او د ټولنې اړتياو ته په پام تحصيلي نصاب" تر سر ليک لاندې وړاندې کړه. ښاغلي پوهندوی خدرخيل په دې مقاله کې په تحصيلي نصاب کې ديني اصولو او ټولنيزو اړتياو ته د پاملرنې ګټې او ارزښت په تحليلي بڼه څېړلې و چې په تحصيلي نظام کې يې شتون ګټور او اړين دي. ښاغلي خدرخيل دخپلې څېړنې په پای کې څرګنده کړه چې د ټولنيزو اړتياوو ترلاسه کولو کې ديني ضوابطو ته پاملرنه د ارزښتناکې موخې په توګه خورا ګټور، اړين او په موخه او وسيله کې ګڼې مثبتې اغېزې له ځانه سره لري، په دې صورت کې به نصاب مو د ديني ارزښتونو په ګانه سمبال، لاسته راوړنې مو بشري ژوند ته واقعي سوکالي ببښي.

له دې وروسته د " څېړنيز اخلاق او د لوړو زده کړو په وده کې يې ارزښت " تر سرليک لاندې يوه بله څېړنه د کابل پوهنتون د ښاغلي استاد سيد ابراهيم فرخاري له خوا وړاندې شوه چې د څېړنيزو اخلاقو رعايت يې د څېړنيزو کارونو په بهير کې ارزښتناکه وبلله. هغه زياته کړه، د څېړنې د اخلاقو اصول د ايمانداري او امانتداري، رښتينولي او بې پرېتوب، په څېړنه کې د شاملو اشخاصو او اشخاصو ته درناوی، د ګټې او ناوړه ګټې اخيستنې نشت، د اشخاصو رازونه او شته معلوماتو محرم ساتل، تبعيض نه کول او د ملي ګټو په پام کې نيولو سره، نيوکه منل، د معنوي ملکيت درناوی، عدالت او په څېړنه کې د څارويو کارولو قواعد، او نور. د ټولو لوړو زده کړو کارمندانو او زده کونکو لپاره اړين دي چې پوه شي او په پام کې ونيسي. ښاغلي فرخاري ټينګار وکړ چې په څېړنه کې د دغو اخلاقي معيارونو د رعايت په پايله کې د څېړونکو باور او اعتبار زياتېږي، د څېړنې اغېز زياتېږي، د خلکو او هېوادوالو هوساينه، ټولنيز اخلاق او متقابل درناوي ته وده ورکوي او د څېړونکو او خلکو ترمنځ اړيکې او همکارۍ رامنځته کېږي، او په پای کې د لوړو زده کړو کيفيت لوړولو سبب ګرځي.

«د افغانستان د لوړو زده کړو په پياوړتيا کې د OBE رول او اوسنی حالت يې » د کنفرانس د بلې څېړنيزې مقالې سرليک و چې د پکتيکا لوړو زده کړو مؤسسې د علمي کادر غړي ښاغلي پوهنيار عبدالنعيم نعيم په واسطه ګډونوالو ته وړاندې شوه. ښاغلي نعيم څرګنده کړه چې پر پايله ولاړه ښوونه او روزنه چې په انګلېسي ژبه کې ورته Outcome Based Education (OBE) وايي، د ډېرو پرمختللو هيوادونو په پوهنتونو کې ورڅخه د ښوونيز سيستم په حيث کار اخيستل کېږي. د دې څېړنې موخه داده چې د OBE بنسټيز سيستم تشريح او په پوهنتونونو کې د OBE په اړه د استادانو نظر او عمل معلوم کړي. د څېړنې له موندنو څخه څرګندېږي چې د OBE په اړه د پوهنتونو ډېری استادان مثبت نظر لري، محترم پوهنيار نعيم OBE ته د لوړو زده کړو وزارت پر پاملرنه او له OBE سره د استادانو پر بلدتيا او په پوهنتونو کې د هغه پر پلي کولو تأکيد وکړ.

د کابل پوهنتون استاد ښاغلي پوهنيار زبير خليل الرحمن ازرمي د "د کابل پوهنتون د استادانو له نظره د افغانستان په لوړو زده کړو کې د تضمين کيفيت د چوکاټ موثريت" تر سرليک لاندې خپله څېړنه وړاندې کړه، په افغانستان کې د تضمين کيفيت چوکاټ د هيواد د لوړو زده کړو په سيستم کې د غوره تعليمي کړنو د ودې لپاره يو مهم بهير دی، هغه د افغانستان د لوړو زده کړو په سيستم کې د تضمين کيفيت(QA) چوکاټ اغيزمنتوب مهم وباله او د دې مسلې اړوند مهمو مفاهيمو ته په کتو سره يې د کيفيت، تضمين کيفيت، ښوونه او روزنه، زده کړه او د غوره څېړنې په نوم پنځه مهم مفاهيم په ګوته کړل. چې دا هر يو يې په تفصيل سره څېړل شوي دي، کوم چې د افغانستان د لوړو زده کړو په سيستم

کې د تضمين کيفيت چوکاټ اغيزمنتوب توجيه کوي. تر لاسه شويو څېړنې څخه د ذکر شويو مفاهيمو (په ځانګړې توګه تدريس، زده کړه او څېړنه) او په افغانستان کې د تضمين کيفيت د چوکاټ پلي کولو ترمنځ د اړيکو ملاتړ کوي. د دې دريو برخو پياوړتيا د ټول هيواد په پوهنتونونو کې د علمي او اکاډميک فعاليتونو د اصلي محور په توګه د تضمين پروسې په رڼا کې پلي کيږي. په دې وروستيو کې په افغانستان کې د تضمين کيفيت د چوکاټ مطالعې اهميت او اړتيا ته په پام سره، لاندې وړانديزونه هم وړاندې کړل:

۱. د تضمين کيفيت پروسه په مستقيم ډول د هيواد په پوهنتونونو کې د څېړنې په وده کې مرسته کوي. دا پروسه بايد د هيواد په سطح پياوړې شي.

۲. د تضمين کيفيت معيارونه د زده کړې پروسې ته وده ورکوي، اړينه بوديجه بايد په ملي کچه د هغې د ودې او پوهاوي لپاره ځانګړې شي.

۳. د تضمين کيفيت د منظمو او مشخصو پلانونو او پروګرامونو په رڼا کې د تدريس او زده کړې بهير پياوړی کوي. دا بايد په ټول هيواد کې د تضمين کيفيت رياست د اعتبار لوړولو لپاره د منظم پلان پراساس پلي شي.

۴. دا پروسه په دوريي ډول کلنی نظارت او ارزيابي په پلي کولو سره د ظرفيت لوړولو کې مرسته کوي. او د لوړو زده کړو له محترم وزارت څخه غوښتنه کيږي چې دغه بهير پياوړی کړي.

۵. دې پروسې ته بايد د دولت د ځانګړي مالي کوډ له لارې ځانګړې بوديجه ځانګړې شي.

۶. په پوهنتونونو کې د پروګرامونو د ارزونې لپاره د لازياتو متخصصينو روزل بايد د لوړو زده کړو وزارت د پياوړتيا په لومړيو پروګرامونو کې شامل شي.

۷. دا پروسه او د هغې فعاليتونه بايد د يوې خپلواکې ادارې له لارې اداره شي.

"کانکور ازموينه، ستونزې او حل لارې" د هغې څېړنيزې مقالې سرليك و چې د کابل پوهنتون استاد ښاغلي پوهندوی عبدالرحمن عثماني په واسطه د کنفرانس برخوالو ته وړاندې شو. هغه زياته کړه چې کانکور ازموينه چې له ۱۳۴۰ لمريز کال راهيسې د هيواد په کچه د ۱۲ ټولګيو فارغانو څخه اخيستل کيږي، په دې وروستيو کې يې د ښه والي او روڼتيا په موخه رغنده ګامونه پورته شوي، خو لا هم يو لړ ستونزې لري، چې بايد څرګندې او حل لارې يې په ګوته شي. ښاغلي عثمانی د کانکور ازموينې د پوښتنو پر کيفيت، د تعليمي نصاب د يو شمېر مضامينو د پوښتنو پر پوره کولو، د پوښتنو د شمېر پر محدود ساتلو، د وخت پر زياتوالي باندې د کانکور ازموينې د پرمختيا د عواملو په توګه ټينګار وکړ. هغوی وړانديز وکړ چې کانکور ازموينه بايد په ټولنيزو او ساينسي برخو وويشل شي، د تعليمي نصاب

ټولو مضامینو ته په کې ځای ورکړل شي، د پوښتنو شمېر یې راکم او وخت یې زیات شي او د ازموینو بهیر د لا ښه والي لپاره اړین تقنیني اسناد رامنځته او د ازموینو سیستم پر نویو تخنیکي وسایلو سمبال شي. ښاغلي عثماني زیاته کړه چې اوسنی کانکور ازموینه معیاری نده او داسی وړاندیزونه وړاندې کړل:

- کانکور باید په ساینسی او اجتماعی برخو وویشل شي؛
- د ازموینو د ملي اداري د پښتنو بانک باید په پر مختللو وسایلو سمبال شي یعنی هر مضمون باید د موضوعاتو ته په پام کې نیولو سره په ټمپلټونو وویشل شي؛
- د کانکور اداره باید آنلاین سرورونه ولري ترڅو معلوم کړی چې کوم برحال محصل د کوم زده کوونکي پرځای امتحان ورنکړي؛
- د لوړو زده کړو وزارت خپلې ټولې ځانګې تعریف او په اړونده سایتونو او ټولنیزمو رسنیو کې خپرې کړي او کار او ټولنیزو وزارت سره به همغږی د پوهنتونونو ظرفیت لوړ شي.

ورپسې "د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پیاوړتیا ځرنګوالی" تر سرلیک لاندې د سید جمال الدین افغان پوهنتون استاد ښاغلي پوهندوی میرویس ستانکزی خپله څېړنیزه مقاله وړاندې کړه چې په تحصیلي بنسټونو کې یې د دیني او ملي ارزښتونو ځرنګوالی او د پیاوړتیا لارې چارې په تحلیلي مېتود څېړلې، د افغاني ټولنې له پاره د دیني او ملي ارزښتونو پالنه یوه اړینه اړتیا ګڼي. هغه زیاته کړه چې په تحصیلي بنسټونو کې له دیني او ملي ارزښتونو څخه موخه د دین په رڼا کې دنیوي اړتیاوې په معقول ډول تنظیمول او پیاوړي کولو غوره لاره یي په زده کړه ییز نصاب کې د دیني لارښوونو ځای پر ځای کول دي تر څو د دیني او ملي ارزښتونو په پیاوړي کولو سره د ژمنو او وړ کادرونو روزنه وشي او راتلونکي نسلونه به د دیني فکر او ملي هویت په ګاڼه سمبال وي، دا راز په متوازن ډول ورته پاملرنه نه کول ناخوالې له ځانه سره لري.

د پکتیکا پوهنتون استاد ښاغلي پوهنمل رحمت الله حکیمی "پوهنتونونو کې د علمي، فرهنګي او ادبي غونډو مؤثریت" تر سرلیک لاندې خپله څېړنیزه مقاله د کنفرانس له ګډونوالو سره شریکه کړه او ویې ویل چې ژوند په ځانګړي ډول د علومو پرمختګ او ښکلا د افکارو په تبادلو او مباحثو کې نغښتې. همدې ته په پام په پوهنتونونو کې دا ډول غونډې استاد او محصل ته د خلاقیت، ځانباوری، پنځوونو او پراخې مطالعې لرلو توان ورکوي. له چېتري زده کړو څخه یې باهدفه او په پایلو ولاړو زده کړو ته رابولي. یو بل ته د مستعدو او په کار پوه کسانو د علمي تجربو، افکارو او مشاهدو لېږد ترسره کېږي. د کره کتنې له اړخه په پنځونو او څېړنو تاوده بحثونه رامنځته کېږي، د استاد او محصل د استعداد سرپټې جزیرې پرانیستل کېږي، په دوی کې د جرأت، فصاحت او منطق قوه پیاوړې کېږي، د زده کړې او

تدریس پروسه مثمره کیږي باالآخره د یوې ژبې د علمي، فرهنگي او ادبي استغنا سربېره پیاوړی او په ځان متکي تحصیلي نظام رامنځته کیږي.

د کابل پوهنتون ښاغلي استاد پوهندوی داکټر احمدمسعود منصوري خپله څېړنیزه مقاله د " د دوامدار پرمختګ اهدافو په ترلاسه کولو کې د لوړو زده کړو رول "تر سرلیک لاندې وړاندې کړه. هغه زیاته کړه چې د دوامداره پراختیا د اهدافو اجنډا د معاصر تاریخ په یوه حساسه دوره کې په داسې حال کې مطرح کیږي چې نړۍ له ډیرو خنډونو سره مخامخ ده. فقر او لوږه، بې روزګاري او نابرابري، ناوتریخوالی او بې عدالتي، ناامني او بې ثباتي نن ورځ د نړۍ له سترو ننگونو څخه شمېرل کیږي. د دې ترڅنګ د ښې حکومتولۍ کمزورتیا او پراخ فساد، د روڼتیا او حساب ورکونې نشتوالی، د نفوسو د زیاتوالي او اقتصاد نشتوالی، دوامداره انرژۍ او د څښاك پاکو اوبو ته نه لاس رسی د نړۍ په ځانګړې توګه د افغانستان لپاره د اندېښنې وړ لاملونه دي. استاد منصوري زیاته کړه چې پایداره پراختیا د هرې ټولنې له بنسټیې اړتیاوو څخه ده چې په بشري او سازماني پوهه تکیه کوي او د حکومت د پالیسۍ او ستراتیژۍ پر بنسټ ترلاسه کیږي، چې بیلابیل ابعاد لکه اقتصاد، امنیت، کلتور، پوهه، چاپېریال، حکومتداري او په لسګونو نور نور انکشافي موارد دي. لوړې زده کړې د انسان د پوهې او شعور تر ټولو اړین او کلیدي مظهر په توګه د دوامدار انکشافي اهدافو په ترلاسه کولو کې مثبت او مهم رول لوبوي. دوامداره انکشاف د انسان د ژوند مختلف اړخونو ته شاملیږي، په شمول د اقتصادي وده، د کرنې پراختیا، د کلیو پراختیا او د فقر سره مبارزه.

**دریمه ورځ: د کب څلورمه**

د کنفرانس دریمه ورځ د هرات پوهنتون استاد ډاکټرعصمت الله محمدي لخوا " د افغانستان د لوړو زده کړو رول په اقتصادي، ټولنیزه پراختیا کې ننګونې او حل لارې یې" تر سرلیک لاندې د خپلې څېړنې د مقالې په وړاندې کولو سره پیل کړه، پوهاند محمدي د لوړو زده کړو د پیاوړتیا او د هېواد په ټولنیز او اقتصادي پرمختګ کې د هغې د رول په اړه د کار کولو وړاندیز وکړ.

وروسته د کابل پوهنتون استاد پوهنوال احمد رسول رسولي د «د افغانستان په ټولنیز او اقتصادي پرمختګ کې د لوړو زده کړو رول» تر سرلیک لاندې مقاله وړاندې کړه هغه زیاته کړه، یوه ټولنه د لوړ کیفیت لرونکي ښوونیز سیستم له لرلو پرته نه شي پېژندلی، چې د پرمختګ او ټولنیزې پرمختیا لاره یې خپله کړې وي.ځکه د پرمختګ اساس په علم او څېړنې ولاړ دي، په افغانستان کې د لوړو زده کړو نظام له یوې خوا د انساني او ټولنیزې پانګې د تولید په روزلو او له بلې خوا د ټولنیز عدالت، ټولنیزې هماهنګۍ او پیوستون په شان د ارزښتونو په وده او پیاوړتیا سره، د ټولنې باور او اعتماد رامنځته کوي. په افغانستان

کې د ټولنیزو مسلو او ستونزو په ګوته کول د څېړنو په پیل کولو سره کولی شي د هیواد په ټولنیز پرمختګ کې رغنده رول ولوبوي. په افغانستان کې د لوړو زده کړو نظام په اسلامي لارښوونو او علمي لاسته راوړنو د تکیه کولو د روحیې په پیاوړي کولو سره د ټولنې د پرمختګ او ټولنیز پرمختګ په لاره کې ظرفیت او وړتیا لوړوي. له همدې امله د افغانستان راتلونکی تر ډېره حده د هغه ښوونیز او روزنیز نظام په حالت پورې اړه لري. ښاغلي رسولي د هېواد په ټولنیز پرمختګ کې د لوړو زده کړو د رول پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

د کابل پوهنتون استاد پوهندوی ډاکټر محمد ولی سالاری د "څېړنه او د عملي څېړنې ډولونه" تر سرلیک لاندې خپله څېړنیزه مقاله د کنفرانس له ګډونوالو سره شریکه کړه او په خپله مقاله کې یې د څېړنې بیلابیل ډولونه او د هغوی ځانګړتیاوې حاضرینو ته په ګوته کړې. محترم سالاري څرګنده کړه چې څېړنه یوه منظمه او سیستماتیکه پروسه ده چې د نامعلومو مسئلو د موندلو او یا د مسئلو د ژور درک کولو لپاره تر سره کیږي. څېړنه د ساینسي پرمختګ لپاره حیاتي وسیله ده ځکه چې دا څېړونکي ته اجازه ورکوي چې د روښانه تعریف شویو پارامترونو، چاپېریالونو او انګېرنو په بنسټ فرضیه قبوله او یا رد کړي. د څېړنې د ډولونو په اړه پوهېدل به له څېړونکو سره مرسته وکړي تر څو خپلې څېړنیزې پروژې په ښه توګه پلان کړي. ښاغلي سالاري څرګنده کړه چې ددې څېړنې په پایله کې علمي څېړنې د هغوی د موخو، د معلوماتو را ټولولو او د معلوماتو د څرنګوالي (د ارقامو ماهیت) په بنسټ په څو برخو ویشل شوې دي.

"د پوهنتونونو زیانپېژندنه او په افغانستان کې د هغې د پرمختګ ننګونې" د بلې څېړنیزې مقالې سرلیک و چې د هرات د خواجه عبدالله انصاري پوهنتون استاد ډاکټر اسدالله رادمند وړاندې کړه. پوهاند رادمن څرګنده کړه، چې د پوهنتونونو رنځپوهنه او د هغې د پرمختګ پر وړاندې ننګونې مهم او عملي مسایل دي، چې پاملرنه ورته د پوهنتونونو د پرمختګ او ودې لامل کېږي. د پوهنتونونو اغېزمن رول او په پرمختیایي سکټور کې د هغو زیانونو په پام کې نیولو سره؛ اصلي پوښتنه دا ده چې په هېواد کې د پوهنتونونو پر وړاندې کوم زیانونه او ننګونې شته؟ د دې څېړنې موندنې او پایلې ښیي چې پوهنتونونه له زیاتو ننګونو او زیانونو سره مخ دي لکه د پوهې تولید نه کول، د څېړنې نه پلي کول، د صنعت او بازار سره منطقي اړیکه نه درلودل او د متشبثینو نشتوالی.

"په دولتی پوهنتونونو کی علمي شفافیت ستونزی او حل لاری" د هغې څېړنیزې مقالې سرلیک و چې د کابل پوهنتون استاد پوهنمل محمدحسین احمدزي له خوا له ګډونوالو سره شریکه شوه. محترم احمدزي څرګنده کړه چې په پوهنتونونو کې علمي شفافیت هغه مهم اصل دی، چې د فساد د مخنیوي سربېره، د علمي- څېړنیزو چارو کیفیت هم تضمینوي. د هېواد په پوهنتونونو کې علمي- څېړنیزې چارې په

پراخه توګه ترسره کېږي، خو د شفافيت څرک پکې ډېر نه ترسترګو کېږي، چې له همدې امله يې د علم په توليد کې ونډه کمه او پرېوتلنه يې اغېز خورا پيکه دی. ښاغلي احمدزي څرګنده کړه د هېواد په پوهنتونونو کې د علمي شفافيت د څرنګوالي په اړه تر دې مهاله کومه علمي څېړنه نه ده شوې؛ نو ځکه د څېړنې لپاره ياده موضوع غوره شوې ده.

د کنفرانس بله مقاله د "په افغانستان کې د انلاين لوړو زده کړو د طرحې په توليد کې د Web3.O ،PR3.O او نويو ټکنالوژيو د غاړه غړی کولو طرح» " ترسرليک لاندې د کابل پوهنتون د استاد پوهنيار محمد ابراهيم درويش لخوا وړاندې شوه . دا څېړنه په افغانستان کې د مؤثره آنلاين متقابلو لوړو زده کړو (OHE) درلودلو لپاره د نوي ټيکنالوژيو سره واضح کوي. څېړونکي په دې څېړنه کې د افغانستان په وضعيت کې د دريو مفکورو د مطابقت ارزولو په هدف په هيواد کې د OHE په ساحه کې د جلا تعامل، ټول شموله او خوځښت ځانګړتياوې تحليل کړې وي.

د کنفرانس وروستۍ څېړنيزه مقاله چې د " افغانستان لپاره د پرانستې پوهنتونونو د رامنځته کېدو په اړه بررسي او مطالعه" تر سرليک لاندې د کابل پوهنتون د استاد ډاکټر عبدالقيوم کريم له خوا د کنفرانس ګډونوالو ته وړاندې شوه. ډاکټر کريم څرګنده کړه، د هر هېواد له شرايطو سره په مطابقت کې د لوړو زده کړو پراختيا د ټولنې يوه ضروري اړتيا ده، ترڅو د ځوان نسل د ورځنيو اړتياوو سره سم د اړتيا وړ پوهه ترلاسه شي او د ټولنيزو، اقتصادي او سياسي اړتياوو د پوره کولو لپاره لازمې اسانتياوې برابرې شي، ډاکټر کريم په دې څېړنه کې د هېواد شرايطو ته په کتو، د پرانستې پوهنتونونو ډولونه په پام کې نيولو سره د تعليمي او تحصيلي ستراتيژيو په برخه کې د افغانستان په لوړو زده کړو کې د آنلاين او لرې واټن څخه د زده کړو فرصتونو په اړه بحث وشو او د هغې د تطبيق امکانات څېړي او په هيواد کې د لوړو زده کړو په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د پرانستې پوهنتونونو اهميت معرفي کوي او تشريح کوي او د ورځنې اړتياو پوره کولو او د زده کړې د ودې په هدف د هغې بيلابيل تعليمي ميتودونه په ګوته کوي. ډاکټر کريم خپله مقاله په لاندې وړانديزونو پای ته ورسوله:

- د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو د معين تر مشرۍ لاندې دې د کابل او ولايتونو د دولتي او خصوصي پوهنتونونو له متخصصو او تجربه لرونکو استادانو څخه يوه کمېټه جوړه شي تر څو د پرانستې پوهنتونونو د پېژندنې په برخه کې کار وکړي. په بحثونو کې د متخصصينو او د نظرلرنکو کسانو شاملول او د آنلاين او ليرې زده کړې ستراتيژيو سره د خلاص پوهنتونونو د زده کړې سيستم رامينځته کولو او تطبيق کولو ساحو لټون کول او د عامه او خصوصي خلاص پوهنتونونو جوړولو ته اجازه ورکول.
- د مربوطه قوانينو او لوايحو ترتيب او طی مراحل کول.
- د لوړو زده کړو وزارت د انلاين او ليرې زده کړو اسنادو په رسميت پېژندل.

د يادونې وړ ده چې د هر پريزنټيشن په پای کې د پوښتنو او ځوابونو لپاره لس دقيقې ځانګړې شوې وې. ګډونوالو له دې فرصت څخه د هغو ګونګو موضوعاتو په تشريح کې ګټه واخيسته، چې د دوی د پوهې د زياتولو په موخه وړاندې شوې، بلکې تشريح، نقد، بحث او وړانديزونه يې هم وکړل، چې د موضوعاتو په بډاينه کې يې مرسته وکړه. حتی په ډېرو مواردو کې، دا وليدل شو چې پوښتنې ډېرې ستراتيژيکې او لارښودې وې. په هره برخه کې، د وړاندې کوونکي لخوا د ځواب ورکولو سربيره، يادښتونه اخيستل چې د مقالې بياکتنې په وخت کې ورته پاملرنه وشي. د دې ترڅنګ د کنفرانس علمي کمېټې د راتلونکيو علمي کنفرانسونو د تنظيم لپاره د نظرياتو او وړانديزونو راټولولو ته هم پاملرنه وکړه. لومړني تاثرات ښيي چې د دې کنفرانس تنظيم ژورې اغيزې درلودې او لږ تر لږه د دې اغيزو لومړنۍ نښې د دولتي پوهنتونونو لخوا د علمي کنفرانسونو جوړولو د لړۍ پيل نيک فال نيسو. دويمه نښه د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د استادانو ترمنځ د تجربو، زيرمو او تعليمي موادو د تبادلې لپاره د انلاين ګروپونو رامنځته کول دي چې په اوږد مهال کې د لوړو زده کړو په پياوړتيا او کيفيت لوړولو کې مرسته کولی شي.

څومره چې د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو څخه طمع کېده له بده مرغه هغسې ونه ځليدل او د ۱۳۱ خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو څخه يوازې يوه مقاله کنفرانس ته را ليږل شوې وه. فکرکيږي چې بايد مختلفې لارې چارې وپلټل شي ترڅو خلک علمي محافلوکې د ګډون لپاره وهڅول شي.

سربيره پردې، د چای او ډوډۍ خوړلو په وخت کې د څېړونکيو او ګډونوالو ترمنځ پوښتنې او ځوابونه يو له بله سره تبادله شول او همدارنګه د کنفرانس د ګډونوالو په غوښتنه ټول پريزنټشنونه په سافټ بڼه ددوی سره شريک شول. علاوه له دې د کنفرانس د ګډونوالو د نظرياتو، وړانديزونو شريک کولو په موخه يو انلاين فورم هم جوړ شو، ترڅو هغه کسان چې مخامخ د نظر شريکولو فرصت نه لري، د لوړو زده کړو د پياوړتيا په موخه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي.

**د کنفرانس ارزونه**

د کنفرانس د ارزونې او په راتلونکي کې د کنفرانسونو د پياوړتيا لپاره د نظرياتو او وړانديزونو راټولولو لپاره، آنلاين فورم ډيزاين شو او د هغې لينک د ګډونوالو سره شريک شو چې په ازاده توګه له موږ سره د ارزونو په برخه کې مرسته وکړي. ارزونې دوه برخې درلودې: تړلې پوښتنې او بله پرانيستې پوښتنې. ټولټال ۱۹۵ ګډونوال چې انټرنيټ ته لاسرسی درلودو آنلاين فورمې يې ډکه کړې چې پايلې يې اوس په ګرافيک ډول وړاندې کيږي.

د پوښتنې ځواب: په اوسنيو حالاتو کې د دې کنفرانس جوړيدو اړتيا




د ورانديې شوي مقالو کيفيت ته ځواب




د وړاندې کونکو لخوا د مقالو د وړاندې کولو کيفيت ته ځواب




په وړاندې شويو مقالو کې نويو مطالبو او ټکيو ته ځواب




په کنفرانس کې د ګډون کوونکو شمېر ته ځواب




د کنفرانس د جوړېدو وخت ته ځواب




د کنفرانس د موخو او وړاندې شويو مقالو ترمنځ د تړاو په اړه ځواب




د لوړو زده کړو د ستونزو د حل په اړه د کنفرانس د بریالیتوب کچه ته ځواب



همدارنګه د پرانیستو پوښتنو په برخه کې ګډونوالو خپل یو لړ عمومي نظریات هم وړاندې کړل.

د کنفرانس په پای کې د ټولو څېړونکو د وړاندېزونو او د ترسره شوو علمي مناقشو او بحثونو په رڼا کې د کنفرانس ګډونوالو خپل وړاندیزونه چاپ کړل چې په پایله کې د کابل پوهنتون د ښاغلي رییس ډاکټر اسامه عزیز په واسطه په لاندې بڼه ولوستل شول:

**لوړو زده کړو وزارت ته د کنفرانس د ګډونوالو وړاندیزونه**

د لوړو زده کړو د پیاوړتیا ملي کنفرانس د کابل پوهنتون په نوښت، د لوړو زده کړو وزارت په ملاتړ او د هیواد د دولتي او نادولتي پوهنتونونو د استاذانو او د علومو اکاډمۍ او نورو ادارو د مېلمنو په ګډون د کابل پوهنتون د کنفرانسونو په نړیوال تالار کې د ۱۴۰۱ لمریز کال د کب له دویمې تر څلورمې نیټې پورې دایر شو.

په دې کنفرانس کې څېړنیزې مقالې پر دې محورونو تمرکز درلود:

- په لوړو زده کړو کې د څېړنیزو فعالیتونو ارزښت.
- د لوړو زده کړو په پیاوړتیا کې د برېښنایي زده کړو برخه.
- په پوهنتونونو او لوړو زده کړو په عالي مؤسسو کې د سازماني څېړنو له لارې د لوړو زده کړو پیاوړتیا.
- د فارمسي په برخه کې فارم ډی په نظر کې نیولو سره او شرعیاتو پوهنځیو د نصاب متنونو او همدارنګه د دیني ظوابطو او ټولنیزو اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د نصابونو بیا کتنه.
- په لوړو زده کړو کې د تضمین کیفیت د فعالیتونو او تدریسي ستراتیژیو پیاوړتیا.
- د کانکور د ازموینو رغونه.
- په لوړو زده کړو کې د علمي، فرهنګي او ادبي غونډو موثریت.
- د پایداره پرمختیا د موخو پلي کولو، او اقتصادي او ټولنیزې پراختیا او پرمختیا کې د لوړو زده کړو د رول پیاوړتیا.
- د آزادو پوهنتونونو، لیرې اوآنلاین زده کړو پیاوړتیا.
- په لوړو زده کړو کې د شفافیت ټینګښت.

په دغو ډګرونو کې د څېړنیزو مقالو د ارایې او وروسته پوښتنو او ځوابونو په ترڅ کې یو لوړ ګټور معلومات تر بحث لاندې راغلل چې د هغو په نتیجه کې د دغه کنفرانس ګډونوال په ټوله کې توافق وکړ چې لاندې وړاندیزونه د لوړو زده کړو وزارت محترم مقام ته د لوړو زده کړو د پیاوړتیا په موخه وړاندې

کړي څو د عملي کولو د پاره يې کوټلي ګامونه پورته کړي، بوديجوی امکانات ورته برابر کړي او د خپل اړوندو رياستونو او ادارو له لارې دې پرې کار پيل کړي:

١. د لوړو وزارت په چوکاټ کې د علمي معينيت تر رياست لاندې دې يوه کمېټه جوړه شي چې د دې ملي کنفرانس د ګډونوالو د وړانديزونو له مخې د لوړو زده کړو پر پياوړتيا عملي کار پيل کړي، د پلي کولو د پاره دې پلانونه جوړ، د پلي کولو لارې چارې دې ولټوي، تمويل او پلي دې کړي.

٢. په دې کمېټه کې دې يو شمېر دولتي او نادولتي پوهنتونونو وړ مسلکي استازو استادانو ته غړيتوب ورکړ شي. د دولتي او نادولتي پوهنتونونو د استادانو د څېړنيزو زده کړو پياوړتيا د پاره دې د ښوونيزو پرګرامونو د پاره عملي پلان جوړ کړي چې لانديني مفردات دې په کې شامل وي:

- د څېړنو کړنلاره؛
- د څېړنو د راپور علمي ليکنه؛
- د څېړنې اخلاقي ضوابط؛
- له نورو دولتي ادارو او وزارتونو سره هغوی پر ستونزو او چارو باندې د څېړنو په برخه کې د دوه اړخيزو همکاريو رامنځته کول.

١. د تضمين کيفيت د فعاليتونو پر پياوړي کولو باندې د لاندې مسايلو په نظر کې نيولو سره دې کار وکړي:

- د OBL او SCL د درسي سيستمونو په برخه کې د استادانو د روزنې پياوړتيا.
- د OBL او SCL د درسي سيستمونو پلي کول او جدي څارنه.
- د پوهنځيو د موجودو لابراتوارونو تجهيزول او د اړتيا وړ نوو لابراتوارونو رامنځته کول.
- په پوهنتونونو کې د علمي او فرهنګي غونډو د دايرولو د فرهنګ پياوړتيا.
- په لوړو زده کړو، په تيره بيا په نصاب کې پر ملي ارزښتونو باندې د تمرکز پياوړي کول.
- په پوهنتونونو کې د تضمين کيفيت د ټولو اړوندو پلانونو – د هر نوي تعليمي کال له پيل څخه لېترلږه يو مياشت مخکې جوړول او د کال په اوږدو کې د اړوندو فعاليتونو په خپل وخت پلي کول.
- په پوهنتونونو او پوهنځيو کې د تضمين کيفيت د په خپل وخت پلانونو د جوړولو او پلي کولو په برخه کې د پوهنځيو د کمېټو، استادانو، ډيپارټمنټونو، لابرانتانو يا تکنيشنانو، تدريسي او اداري مديرانو او رييسانو د پاملرنو د اړولو او پلي کولو د لاروچارو لټول.
- د تضمين کيفيت د اسنادو د پاره په ملي کچه د يو واحد فارمت جوړول.

۲. د نصاب د پیاوړتیا په برخه کې دې لاندې فعالیتونه سرته ورسوی:

- د فارمسي په برخه کې د فارم ډی په نظر کې نیولو سره د نصاب پراختیا.
- د شرعیاتو پوهنځیو په نصاب کې د متنونو ځانګړي کول.
- د پوهنتونونو په نصاب کې د دیني ظوابطو او ټولنیزو اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د اسلامي ثقافت د مضمونونو د مفرداتو بیا کتنه.

۳. د څېړنیزو ژورنالونو د ایجاد په برخه کې دې لاندیني فعالیتونو د چارو پلانول:

- د ملي ژورنالونو پیاوړتیا.
- د پایتخت او سیمه ایزو ولایتونو په کچه د طبیعي او ټولنیزو علومو په ډګرونو کې د نړیوالو ژورنالونو رامنځته کول.
- د نړیوالو ژورنالونو سره د اړیکو ټینګول.
- په هر پوهنځي او هر پوهنتون کې د ډیجیټال کتابتونونو ایجاد او پیاوړي کول.
- په پوهنتونونو کې د چاپ د وسایلو برابرول.
- د استادانو د نړیوالو څېړنیزو مقالو د خپرولو د پاره بودیجوي امکانات برابرول.
- په نړیوالو کنفرانسونو کې د استادانو د ګډون او د مقالو د ارایه کولو مالي او معنوي ملاتړ.
- په افغانستان کې پر بیلابیلو موضوعاتو باندې د کلني نړیوالو کنفرانسونو دایرول.
- محققینو، تقریظ ورکوونکیو، د علمي آثارو لاربنود استادانو، ژباړونکو او مؤلفینو د پاره د حق الزحمو د لایحې جوړول.

د نړیوالو پیژندل شویو ژورنالونو په ځانګه کې باید یو جلا ریاست جوړ شي او د اجعلي ژورنالونو د جوړولو مخه ونیول شي. وړ بیاکتونکي باید وپیژندل شي او د ټولو پوهنتونونو څخه غوره شي. مقالې باید دوه رونده وکتل شي. د دوو تر دریو کلونو په موده کې باید دغه ریاست په یوه خپلواکه ریاست بدل شي چې د پوهنتونونو او یا د لوړو زده کړو وزارت تر اغیزې لاندې نه وي. نو ځکه علمي مقالې یوازې د اصلیت، کیفیت، علمیت او اصلیت پر بنسټ غوره شوي او خپرېږي. پدې توګه د علمي مقالو کیفیت لوړیږي او سیالي رامینځته کولی شي.

۴. د کانکور او وړ محصلینو د جذب په برخه کې دې پر لاندې چارو تمرکز وکړي:

- د پوهنې له وزارت سره پوهنتونونو ته د وړ محصلینو د تیارولو په موخه د لسم، یوولسم او دولسمو ټولګیو د زده کوونکو د پاره د طبیعي او ټولنیزو علومو پر جداکولو او د نوموړو ټولګیو پر درسي نصاب باندې د ګډ کار د امکاناتو لټون.

- د کار او ټولنيزو چارو له وزارت سره د بازار د اړتيا سره سم د محصلينو په تشخيص او جذب کې د ګډې همکارۍ او کار کولو د امکاناتو لټون.
- د کانکور د ازموينو، د پوښتنو د کيفيت د لوړتيا په شمول بيارغونه.
- کانکور بايد په ساينسي او اجتماعي برخو وويشل شي؛
- د ازموينو د ملي ادارې د پښتنو بانک بايد په پر مختللو وسايلو سمبال شي؛ يعنی هر مضمون بايد د موضوعاتو ته په پام کې نيولو سره په ټمپلټونو وويشل شي؛

۵. د لوړو زده کړو د پياوړتيا په لړ کې دې د برېښنايي زده کړو برخه کې لاندې فعاليتونه سرته ورسوي؛

- په پوهنتونونو کې د برېښنايي زده کړو د چوکاټ د جوړولو د رواجولو د امکاناتو لټول
- د پرائيستو دولتي او نادولتي پوهنتونونو ايجادول.
- د انلاين زده کړو د په رسميت پېژندلو د لايحې يا قانون جوړول.
- په لوړو زده کړو کې د الکترونيکي لوړو زده کړو، او ورچوال زده کړو د فعاليتونو ځايول او پياوړتيا

٦. د پوهنتونونو مالي، اداري او علمي استقلاليت ترلاسه کولو په موخه له ټولو ذې ربطو ادارو او جبهاتو سره اړيکه نيول.

د لوړو زده کړو د پياوړتيا د کنفرانس ګډونوال د پورتنيو فعاليتونو په عملي کولو او د لوړو زده کړو د پياوړي کولو په بهير کې د لوړو زده کړو وزارت د زياتو برياليتوبونو هيله کوي.

د لوړو زده کړو د پياوړتيا ملي کنفرانس وروستۍ وينا د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستيال ډاکټر لطف الله خيرخواه وکړه او د کنفرانس د ګډونوالو سره يې د وړاندې شويو وړانديزونه اړوند د لوړو زده کړو وزارت د هر اړخيزې همکارۍ ژمنه يې وکړه.

د کنفرانس ګډونوالو ته تصديق پاڼې، د مقالو د وړاندې کونکو ته سندونه، د علمي کمېټې غړو او اجرائيوي کمېټې او هغه پوهنتونونو ته چې له دريو څخه زيات مقالې يې رالېږلې وې،همدارنګه د کابل پوهنتون کتلاک هم وويشل شو، او په پای کې کنفرانس د افغانستان د علومو اکاډمۍ د مرستيال له خوا په دعا سره پای ته ورسيده.

پای